# سیګار

د افغانستان د بیار غونې له
پاره ځانګړی عمومي مفتش

اپریل 30
2015



## د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون (Pub. L. No. 110-181) د افغانستان د بیارغونې له پاره د ځانګړي عمومي مفتش اداره (سیګار) رامنځته کړه.

د سیګار د څارنې ماموریت، لکه څنګه چې د قانون له مخې تعریف شوی دی، دا دی چې

- د هغو پروګرامونو او څېړنو د بازرسي او تفتیش د مستقلي او ناپېیلي اجرا له پاره لارې برابرې کړي چې د افغانستان د بیارغونې له پاره د تخصیص شویو یا په بل ډول چمتو کړای شویو پیسو په واسطه تمویل شوي وي.
- د پروګرامونو او عملیاتو د مدیریت په برخه کې د اقتصاد، کفایت، او مؤثریت د انکشاف له پاره د پالیسیو سپارښتنه او همغږي برابره کړي، او په دغه ډول پروګرامونو او عملیاتو کې د ضیاع، تقلب، او بدې استفادې مخه ونیسي.
- د دغه ډول پروګرامونو او عملیاتو د مدیریت د ستونزو او کمیو او د سموونکیو اقداماتو د ضرورت او پرمختګ په هکله د بهرنیو چارو وزیر او د دفاع وزیر په بشپړ او تازه ډول خبر وساتي.

د افغانستان په بیارغونه کې هرهغه غټ قرارداد، بلاعوضه مرسته، موافقه، یا د تمویل بل میکانیزم شامل دی چې د متحده ایالاتو د حکومت له خوا شوی وي او هغه مبلغونه نغاړي چې د افغانستان د بیارغونې له پاره تخصیص شوي یا په بل ډول برابر کړای شوي وي.

سرچینه Pub. L. No. 110-181، "د 2008 د مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ قانون،" 1/28/2008.

(د دغه راپور د هغو محتویاتو د یوه لست له پاره چې د کانګرس له خوا منظور شوي دي، 3 برخه وګورئ.)

**د پوښ تصویر:**
د متحده ایالاتو د دفاع وزیر اشتون کارټر او افغان ولسمشر اشرف غني له واشنګټن ډي سي څخه د ولمسشرغني د 2015 د مارچ د لیدنې پر وخت د تشریفاتو قطعه ګوري. (DOD عکس د دویم بریدمن سین هرټ له خوا اخیستل شوی)

**د افغانستان بیا رغوني لپاره ځانګړی عمومي مفتش**

خوښ یم چې کانګرس او د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ته په افغانستان کې د متحده ایالاتو د بیارغونې د چارو د څرنګوالي په اړه د سیګار اوه ویشتم درې میاشتنی راپور وړاندې کوم. په داسې حال کې چې ننګونې شتون لري، خو پدې ربع کې په ځوبرخو کې چېرې چې سیګار د بیارغونې د چارو د ښه والي لپاره کار کړیدی، مثبت پرمختګونه شویدي.

د سیګار د هغو پلټنو په پایله کې چې په ترڅ کې یې د افغانستان د دفاع وزارت د تیلو په څو کلنې نېږدې یو ملیارد ډالري قرارداد کې فساد بربنډ شو، د افغانستان د ملي یووالي د نوي حکومت سره چې د فساد په وړاندې زمونږ لخوا د هغوی سره د مبارزې په برخه کې د مرستې په موخه د بې ځانګړو فرصتونو د رامنځ ته کولو ژمنه کړې، اړیکې ټینګې شویدي. دا بریا وروسته له هغې ترلاسه شوه چې سیګار او په افغانستان کې د امنیتي چارو د لېږد د ګډې قومندانی (CSTC-A) لخوا ولسمشر غني ته د 2015 زیږدیز کال د فبروري په میاشت کې معلومات ورکړل شول چې څلور قراردادیان د دفاع وزارت د تیلو د قرارداد د ورکولو څخه د مخه د قرارداد په قیمت او داوطلبۍ کې په درغلۍ او بډو کې ښکیل وو، او په مجرمانه توګه یې افغان حکومت او امریکایي مالیه ورکوونکو ته د قرارداد قیمت له خپل اصلي ارزښت څخه د 214 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات لوړ کړی وو.

ولسمشر غني ته پدې اړه له معلوماتو ورکولو وروسته نوموړي سملاسي د تیلو په قرارداد کې د دفاع وزارت د ښکیلو چارواکو دندې وځنډولې، ټول قرارداد یې لغوه کړ، ښکیلو قراردادیانو ته یې په قراردادونو کې د هغوی د ګډون د ممکنه مخنیوي ګواښ وکړ، او یوه افغان خپلواک پلټونکي ته یې دنده وسپارله ترڅو د دفاع وزارت د تیلو قرارداد او همدارنګه د نوموړي وزارت د تدارکاتو 11 نور قراردادونه وڅیړي. د ولسمشر دا چټک او هوډمن اقدام په داسې یوه هیواد کې چې معمولاً د نړۍ یو له تر ټولو فساده ډک هیواد ګڼل کېږي، یو پیاوړی پیغام لیږدوي. له هغې وروسته، د سیګار کارکوونکو او ما د ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله سره کتلي ترڅو د هغو لارو چارو په اړه وغږېږو، چې پر مټ یې سیګار کولای شي د افغان حکومت سره د امریکا د متحده ایالاتو د بیارغونې د پیسو، په ځانګړې توګه هغو پیسو د څارنې چارې لاښې کړي، چې په مستقیم ډول د افغانستان وزارتونو ته په واک کې ورکړل شوې او یا لیږدول شوې ("یعنې د افغانستان ملي بودجې ته ورکړل شوېدي"). دا له هغې وروسته چې متحده ایالاتو او د هغه متحدینو ژمنه وکړه چې د توکیو د دوه اړخیزې حساب ورکونې د چوکاټ له لارې یوه زیاته اندازه پیسې د افغانستان ملي بودجې ته ورکړي، یو مهم ګام ګڼل کېږي.

د سیګار پلټونکي او په افغانستان کې د امنیتي چارو د لېږد ګډه قومانداني اوس د ولسمشر غني د سلاکارانو سره له نږدې کار کوي ترڅو د غیرقانوني کړنو ټول تورونه وڅېړي. سیګار همدارنګه د ولسمشر غني په غوښتنه د تفتیش د عالي ادارو د نړیوال سازمان سره په ګډه کار کوي ترڅو افغان مفتشینو ته روزنه ورکړل شي. سربېره پردې، د سیګار پلټونکي د حکومت د تدارکاتو د نوي ملي کمیسیون کارکوونکو ته د فساد په اړه د پوهاوي د ناستو پر جوړولو باندې بوخت دي، ترڅو هغوی وکولای شي په آسانۍ سره په قرارداد کې د درغلۍ او فساد معمول شاخصونه و پېژني. دا ټول ګامونه هڅوونکي دي.

پدې درې میاشتنې راپور کې په مستقیمو مرستو کې د ستونزو د مهم رول له کبله هغه ننګونې ارزول کېږي چې د امریکا د دفاع وزارت ورسره د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ټولټال قوت چې دمګړۍ یې شمېر 328805 تنه دی، د معلوملو د هڅو په لړ کې مخ دی. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د نهایي قوت شمیر باید د دې ارزونې چې آیا پر افغان امنیتي ځواکونو د امریکا د متحده ایالاتو 65.2 میلیارده ډالره پانګونه د ملي اردو او پولیسو د یوه داسې ځواک په جوړولو بریالۍ شوې چې په هیواد کې د امنیت د ټینګښت او د تروریستانو د مخنیوي وړتیا ولري، یو مهم مقیاس وي. د افغان ملي پوځ د پرسونلو او معاشونو په اړه پدې ربع کې د سیګار د تفتیش د خپور شوي راپور، او همدارنګه د افغان ملي پولیسو د پرسونلو او معاشونو په اړه د جنوري په میاشت کې د خپور شوي راپور په پایله کې هیڅ داسې کوم ډاډ و نه موندل شو چې وښیي دا معلومات سم دي.

مونږ پدې خوښ یو چې په افغانستان کې د امنیتي چارو د لېږد ګډې قومندانۍ زمونږ سپارښتنو ته مثبت ځواب راکړ. که څه هم، زمونږ په آند د امریکا د دفاع وزارت باید ډاډ ترلاسه کړي چې د ناټو د قاطع ملاتړ د ماموریت قومندان جنرال جان ایف کمپبیل او په افغانستان کې د امنیتي چارو د لېږد د ګډې قومندانۍ مشر تورن جنرال ټاډ ټي سیمونایټ ددې ډول متمرکزې او مصممې څارنې د دوام په صورت کې، کافي سرچینې په واک کې لري.

همداراز، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت باید ډاډ ترلاسه کړي چې په افغانستان کې د امریکا سفیر پي مایکل مکینلي او د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره د عین کار د ترسره کولو لپاره اړینې سرچینې په واک کې لري.

سیګار پدې ربع کې د یوه بل ګام په ترڅ کې د بیارغونې د چارو د ارزولو په موخه 26 د مالي تفتیش، اجراآتو تفتیش، بازرسي، مکتوبونه او نور راپورونه خپاره کړل.

یوه مالي تفتیش د شاوخوا 135 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت هغه لګښتونه چې د Legacy East پروژې د پلي کولو له درکه د جورج د نظامي علمي کمپنۍ (Jorge Scientific Corporation) لخوا (چې اوس د امپیریټس کمپنۍ (Imperatis Corporation) په نوم فعالیت کوي)، د متحده ایالاتو په حکومت پسې حساب شوي وو. ددې پروژې موخه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې او سلامشورې لپاره د یاغیانو ضد استخباراتي کارپوهانو برابرول وو. د سیګار د مالي تفتیشونو په پایله کې تراوسه پورې نږدې 8.241 میلیونه ډالره ترپوښتنې لاندې لګښتونه، او 287163 امریکایي ډالره په پیشکي فدرالي پیسو او دولت ته د تادیې وړ نورو پیسو کې د نااستول شوې ګټې شکل پېژندل شویدي.

د اجراآتو په اړه د یوه تفتیش په پایله کې وموندل شوه، چې د متحده ایالاتو حکومت د افغانستان دمنرالونو، تیلو او طبعي ګاز د صنایعو د پراختیا لپاره یوه واحده ستراتیژي نلري. د امریکا د دفاع وزارت د ټیکاو او سوداګرۍ د چارو (TFBSO) کاري ډله او د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره خپلې هڅې له یوبل سره همغږې نکړې. همدارنګه، د متحده ایالاتو د پروژو د بقاء لپاره د پلان نشتوالی پدې مانا دی چې د افغانستان استخراجي صنایع به په لنډ وخت کې د بشپړ اقتصادي ظرفیت کچې ته و نه رسیږي.

سیګار همدارنګه د بازرسي دری راپورونه خپاره کړل. د 7.7 میلیونه ډالرو په ارزښت د ګوریمار په صنعتي پارک کې چې د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې لخوا جوړ شوی، د بریښنا نشتوالي او د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي ادارې د قرارداد ورکو شوو دوسیو د سیګار د بشپړې ارزونې مخه ونیوله ترڅو معلومه کړي چې آیا د نوموړي پارک ساختماني چارې د قرارداد د شرایطو او تخنیکي مشخصاتو سره سمې ترسره شوې او کنه. د شوراندام د صنعتي پارک په بازرسي کې هم عین ستونزو شتون درلود، او د بازرسي پرمهال د متحده ایالاتو د پوځ د شتون له کبله په نوموړي صنعتي پارک کې چې پکې 48 تشبثات په پام کې نیول شوي وو، یوازې یو تشبث فعال وو. د راپورونو پربنسټ له نوموړې ساحې څخه د امریکا د پوځ د وتلو څخه وروسته د 13 تشبثاتو د پیل ژمنه شوې، چې د فبروري تر میاشتې پورې یې 4 فعال شوي وو. د دریم بازرسي په پایله کې وموندل شوه چې د کابل په پل چرخي کې د افغان ملي پوځ لپاره د مسلخ پروژه هم هیڅ په بشپړه توګه نده جوړه شوې، او قرارداد یې د قراردادي د ضعیف کار او لدې کبله لغوه شو چې موجوده مسلخ کولای شول چې د ملي پوځ اړتیاوې پوره کړي.

د سیګار د پلټنو ریاست د جریمو، د پیسو د بیرته اخیستو او ضبط له لارې د امریکا حکومت ته 1.1 میلیون امریکایي ډالره بېرته ترلاسه کړل. د سیګار پلټنې همدارنګه د دریو کسانو د نیولو، د پنځو جرمي قضیو په اړه د اطلاعاتو د ترلاسه کولو، اوو کسانو د محکومیت، څلورو کسانو ته د جزاء د ورکړې او په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تآسیساتو ته د دوو کسانو د لاسرسي د ممنوعیت لامل شوې. سیګار د 29 نوو قضیو په اړه پلټنې پیل کړې او 36 نورې یې بندې کړې، چې پدې سره د روانو دوسیو شمېره 324 ته رسیږي. د سیګار د پلټنو په پایله کې تراوسه ټولټال څخه باندې 4.571 میلیونه ډالر سپمېدلي.

یو بل مثبت پرمختګ په داسې یوه برخه کې راغلی چې ما یې په اړه په خپلو تیرو اتو دری میاشتنیو راپورونو کې بحث کړی دی: د قراردادونو د ترلاسه کولو څخه د دولت ضد وسلوالو یاغیانو د ملاتړو د منع کولو یا ځنډولو اړتیا ترڅو د افغانستان دلازیاتې بې ثباتۍ لپاره د امریکا د متحده ایالاتو د بیارغونې د پیسو له کارولو مخنیوی وشي. ددې ربع له پیل څخه د هغو 43 کسانو او ادارو اکثریت چې د سیګار لخوا د امریکا پوځ ته راجع شوي، د قراردادونو د مدیریت د عمومي خدمتونو د ادارې په سیستم کې شامل شوي، چې په ترڅ کې یې د قراردادونو مسؤلینو او اصلي قراردادیانو ته د سملاسي لاسرسي وړ خبرتیا ورکول کیږي، چې په لست کې شامل کسان او ادارې د پروژو د تړونونو او موافقه لیکونو د ترلاسه کولو څخه منع کړي. دا بدلون پدې وروستیو کې د کانګریس لخوا د تصویب شوي قانون، د سیګار د تفتیش د سپارښتنو، او د قراردادونو د ترلاسه کولو په برخه کې د سیګار لخوا د قراردادیانو د منع کولو او ځنډولو د پروګرام او د امریکا د دفاع وزارت ترمنځ د همغږۍ پایله ده. دا پایله داسې یو اغیزمن بهیر دی چې د یاغیانو او تروریستانو څخه د ملاتړ پر بنسټ د قراردادونو د ترلاسه کولو د پروسې څخه د مطلوبو لوریو د اخراج په اړه خبرتیا ورکوي. پداسې حال کې چې دا بدلون د پرمختګ ښکارندویي کوي، خو تر اوسه هم د هغو کسانو او ادارو د پام وړ برخه پرخپل ځای پاتې ده، چې د سیګار د پلټنو د پایلو پربنسټ باید د حکومتي قراردادونو دترلاسه کولو څخه منع یا وځنډول شي. سیګار به د بندیزونو په نوموړي لست (GSA's list) کې ددې ډول ټولو کسانو یا ادارو د شاملیدو لپاره خپل فشار ته دوام ورکړي.

د راپور پدې موده کې د افغانستان د بیارغونې لپاره د امریکا د متحده ایالاتو مجموعي تخصیصات له 3.2 څخه نږدې 8.109 میلیارده ډالرو ته پورته شول. پدې ټولټال مبلغ (8.109 میلیاردو) کې د افغانستان لپاره د امریکا او د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د 2015 مالي کال د تخصیصونو مسودې چې پدې وروستیو کې کانګریس ته د تصویب لپاره وړاندې شوې، هم شاملې دي. په عین وخت کې، په پلان کې دي چې 9.14 میلیارده ډالر ولګول شي، او هغه نوې پروژې لکه د 216 میلیونه ډالرو په ارزښت د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د افغان میرمنو د پیاوړتیا لپاره د پروموټ پروګرام او همدارنګه د امریکا لخوا د 800 میلیونه ډالرو په ارزښت "نوې پرمختیایي مرسته"، چې پدې وروستیو کې اعلان شوې. دا یوه خورا زیاته اندازه پیسې دي، او تر پخوا په زیاتو خطرناکو شرایطو کې یو شمیر نهایت مهم او پیچلي نوي پروګرامونه چې اغیزمن مدیریت او څارنې ته اړتیا ولري.

پداسې حال کې چې له افغانستان څخه د امریکا د پرسونلو د کمولو بهیر روان دی، سیګار د 42 امریکایي کارکوونکو په درلودلو سره چې د افغان کارکوونکو لخوا یې ملاتړ کیږي، په نوموړي هیواد کې د امریکا د متحده ایالاتو د یوازنۍ ترټولو لوی قانون پلې کونکي او څارونکي ادارې په توګه حضور لري. په افغانستان او همدارنګه دلته د امریکا په ارلینګټون کې مونږ ټول د امریکا د بیارغونې په پیسو کې د ضیاع، فساد او ناوړه ګټې اخیستنې د کشف او مخنیوي، او همدارنګه د بیارغونې د پروګرامونو او چارو په مدیریت کې مفیدیت او اغیزمنتیا د زیاتولو په برخه کې ژمن یو. مونږ به له کانګریس او خپلو نورو همکارانو سره ګډ کار ته دوام ورکړو ترڅو د امریکا د مالیه ورکوونکو پیسې خوندي، او ډاډ ترلاسه کړو چې په افغانستان کې زمونږ د 14 کلونو د کار پدې ترټولو مهم وخت کې زمونږ د بیارغونې هڅې بریالۍ دي.

په درناوي،



جان اف ساپکو
د افغانستان د بیارغونې لپاره ځانګړی عمومي مفتش

2530 CRYSTAL DRIVE ARLINGTON, VIRGINIA 22202

**دا راپور د 2015 کال د جنوري د لومړۍ څخه د مارچ د میاشتي تر 31 مي نېټي پورې د سيګارد څارنې د هڅو لنډيز او د افغانستان د بيارغونې د چارو په دريو مهمو برخو کې د پرمختګونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي*. پدې راپور کې همداراز د افغان ملي امنيتي ځواکونو په اړه د شمېرو د اعتبار د زياتولو د اړتيا په هلکه يوه تبصره شامله ده. سيګار د راپور په دې موده کې د افغان امنيتي ځواکونو د جوړولو، حکومتوالۍ د ښه کولو او د اقتصادي او ټولنيزې پراختيا د تسهيل په برخه کې د امريکا د متحده ايالاتو د هڅو د ارزولو په موخه 26 تفتيشونه، بازرسي مکتوبونه او نور راپورونه خپاره کړل. پدې راپورونو کې د حساب ورکونې د نه شتون، د پلان جوړولو په برخه کې د پاتې راتلو او ساختماني نواقصو په ګډون، يو شمېر ستونزې په ګوته شوېدي. د سيګار د روانو پلټنو په پايله کې د جريمو، د پيسو د بيرته اخيستو او ضبط له لارې په ټولټال ډول د 1.1 ميليونو ډالرو څخه زياتې پيسې بيرته ترلاسه شويدي. د سيګار پلټنې همدارنګه د دريو کسانو د نيولو، د پنځو جرمي قضيو په اړه د اطلاعاتو د ترلاسه کولو، څلورو کسانو ته د جزاء د ورکړې او په افغانستان کې د متحده ايالاتو نظامي تآسيساتو ته د دوو کسانو د لاسرسي د ممنوعيت لامل شوې. د قراردادونو د ترلاسه کولو په برخه کې د سيګار لخوا د قرارداديانو د منع کولو او ځنډولو پروګرام هم پدې ربع کې مهمه بريا ترلاسه کړې، چې په ترڅ کې يې د هغو 43 کسانو او ادارو اکثريت چې د سيګار لخوا د امريکا پوځ ته راجع شوي، د قراردادونو د مديريت د عمومي خدمتونو د ادارې په سيستم کې شامل شوي، چې په ترڅ کې يې د قراردادونو مسؤولينو او اصلي قرارديانو ته د سملاسي لاسرسي وړ خبرتيا ورکول کيږي، چې په لست کې شامل کسان او ادارې د پروژو د تړونونو او موافقه ليکونو د ترلاسه کولو څخه منع کړي. سربېره پردې، سيګار 22 کسان او 22 کمپنۍ د هغو تړونونو پر بنسټ چې ګواکي په قراردادونو کې په فساد او عدم اجراآتو کې ښکيل وو، د ځنډيدو او مخنيوي لور ته راجع کړي.**

# د سيګار عمومي کتنه

## تفتيشونه

سيګار يو د تفتيش مکتوب، دوه د اجراآتو د تفتيش راپورونه، پنځه د مالي تفتيش راپورونه او درې بازرسۍ خپرې کړې.

د **تفتيش په مکتوب کې په افغانستان کې د** کورې:

- او په آزاده هوا کې د سون ځايونو د کارولو په اړه د سيګار د وروستۍ ارزونې په اړه بحث شوی.

د **اجراآتو د تفتيش په پايله کې وموندل شوه** چې:

- هغه پروسې چې افغان ملي پوځ او د دفاع وزارت يې د خپلو پرسونلو او معاشونو د معلوماتو د راټولولو او راپور ورکولو لپاره کاروي، نواقص لري او په کافي اندازه يې څارنه نه کيږي، چې په پايله کې يې پدې اړه چې آيا د امريکا مستقيمې مرستې وړ پرسونلو ته د هغوی د معاشونو د ورکړې لپاره کارول کيږي، د ډاډ ترلاسه کول ستونزمن کيږي.
- د متحده ايالاتو حکومت د افغانستان د بالقوه څو ميليارد ډالري استخراجي صنايعو د پراختيا لپاره چې په کابل کې د امريکا سفارت هم د مختلفو ادارو د هغو چارو د همغږي کولو په برخه کې لږ څه ترسره کړي چې موخه يې د افغانستان د استخراجي صنايعو پراختيا ده، يوه واحده ستراتيژي نلري، او که څه هم چې د کانونو او پتروليم وزارت چارواکو پدې اړه تر يوې کچې تخنيکي، حقوقي او سوداګريزه پوهه زياته کړې، خو تراوسه هم نوموړی وزارت له بهرني ملاتړ څخه پرته د نوو قراردادونو د څېړلو، ترسره کولو او مديريت کولو لپاره اړينه تخنيکي وړتيا نلري.

د **مالي تفتيشونو** په پايله کې د داخلي کنټرول د نواقصو او قوانينو د نه رعايت له کبله د څه باندې 1.135 ميليونه امريکايي ډالرو مشکوک مصارف په ګوته کړل. پدې نواقصو او د قوانينو په نه رعايت کې د نورو شيانو ترڅنګ، د يوه فرعي قراردادي د نږدې 130 ميليونه ډالرو په اړه د اړوندو اسنادو نه ساتل، د همکاريو د يوه تړون د مودې د ختم څخه وروسته د اضافي پيسو ساتل، د کارکوونکو د مسلح کولو په برخو کې د امريکا د دفاع وزارت د مقرراتو نه رعايت، د تدارکاتو د رقابتي طرز العملونو نه تعقيب، د يوه قرارداد د اجراآتو د مودې د ختم څخه وروسته مصارف، د غيررقابتي منبع پر بنسټ د تدارکاتو لپاره ناکافي موجه دلايل، د سفر غيرمجاز مصارف، او د ممکنه غيرضروري او غيرقابل اجراء دفاعي قانون (DBA) د بيمې اخيستل شامل دي. (د يو لړ ځانګړو حالاتو پرته، د بلاعوضه مرستو او همکاريو د قراردادونو ترلاسه کوونکي د DBA په بيمه کې نه شامليږي).

د **متحده ايالاتو** لخوا د تمويل شوو تآسيساتو په اړه د بازرسي د راپورونو په پايله کې و موندل شوه چې:

- د 7.7 ميليونه ډالرو په ارزښت د ګوريمار په صنعتي پارک کې د برېښنا نشتوالي او د امريکا د متحده ايالاتو د پرمختيايي ادارې د قرارداد ورکو شوو دوسيو د سيګار د بشپړې ارزونې مخه ونيوله ترڅو معلومه کړي چې آيا د نوموړي پارک ساختماني چارې د قرارداد د شرايطو او تخنيکي مشخصاتو سره سمې ترسره شوې او کنه.

* کېدای شي سيګار به د 2015 کال د مارچ له 31 مې څخه وروسته د څېړولو تر نيټې پورې د لاس ته راوړنو او واقعاتو رپورت هم ورکړي.

# اجرایي لنډیز

- په همدې ډول، د شوراندام په صنعتي پارک کې هم د بریښنا نشتوالي او د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي اداري د قرارداد ورکو شوو دوسیو د سیګار د بازرسي مخه ونیوله. د بازرسۍ پرمهال د متحده ایالاتو د پوځ د شتون له کبله په نوموړي صنعتي پارک کې چې پکې 48 تشبثات په پام کې نیول شوي وو، یوازې یو تشبث فعال وو. له نوموړي ساحې څخه د امریکا د پوځ د وتلو څخه وروسته د راپورونو پربنسټ د 13 تشبثاتو د پیل ژمنه شوې، چې د فبروري تر میاشتې پورې یې 4 فعال شویدي.
- د کابل په پل چرخي کې د افغان ملي پوځ لپاره د مسلخ پروژه هم هیڅ په بشپړه توګه نده جوړه شوې، او د قراردادي د ضعیف کار او لدې کبله چې موجوده مسلخ کولای شول چې د ملي پوځ اړتیاوې پوره کړي، په لومړي سر کې دا قرارداد وځنډول او بیا وروسته لغوه شو.

## نوی تفتیشونه او بازرسۍ

په دې ربع کې سیګار د اجراآتو دوه نور تفتیشونه پیل کړي چې د افغانستان د روغتیا سکتور، د دفاع وزارت د تدارکاتو چارو روانولو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو سمبالول او کالي باندې نظارت د ښه کیدلو د USAID هسې وارزوي. همدا راز سیګار دوه نور بازرسۍ د هرات پوهنتون د نجونو د لیلیې او د بګرامي صنعتي پارک څخه پیل کړي دي.

## ځانګړې پروژې

د رپوړټ ورکولو په دې دوره کې د ځانګړو پروژو دفتر راجع کولو لیکونو په شمول، معلوماتی پاڼی او پوښتنلیکونه، 14 لیکلی اسناد برابر کړي دي چې لاندې موضوعات په کې هم شامل دي:

- د سیګار د پانګې اچونې او ثبات عملیاتو د کاري ډلې یا TFBSO څخه روانه کتنه.
- د افغان امنیتي ځواکونو د اوس مهال او راتلونکي کې د اندازې او جوړښت ارزونه.
- په افغانستان کې د متحده ایالاتو موجوده نظامي مرکزونو کې د چټلواوبو د تشولو لپاره د ودانیو جوړول.
- د افغانستان د مالیاتو د عوایدو ارزولو او راټولو ظرفیت.
- د سیګار د دفاع وزارت د قراردادونو د الزاماتو د معلوماتو سپارلو څېرنه چې یواځې د 21 میلیاردو ډالرو حسابی ورکولی شي (په داسي حال کې چې ملي دفاع وزارت 65 میلیارده ډالرو تخصیص تر لاسه کړي دي).
- د پانګه اچونی او ثبات عملیاتو د کار ي ډلي یا TFBSO د اسنادو یا ریکارډونو ساتني وضعیت.
- د USAID د ارتقاء پروګرام.
- د افغانستان د بودیجې کموالی
- د هوډمن حمایت ماموریت هڅې د افغان ملي امنیتي ځواکونو مؤثریت او د ثبات دوامنول.
- د کندهار ښار لپاره د اعتبار وړ او دوامداره برق برابرول.
- په افغانستان کې د قوماندې د بیړني ځواب پروګرام د استفادې لپاره د مالي وجوهو د استفادې د سیګار څېړنه.

## څېړنه

د رپوړټ ورکولو په دې دوره کې د سیګار څېړنو د متحده ایالاتو د حکومت لپاره د 1.1 ملیون ډالرو څخه ډیرد جریمو، بیا راستنولو او مصادره کولو له لارې له منځه تللو څخه خوندي کړي دي. جنایي څېړنو د 3 تنو د نیول، 7 تنو د اتهام، د 5 جنایي معلوماتو ورکولو، 4 تنو محکومولو، سبب شوي او هم یې 2 تنه په افغانستان کې د متحده ایالاتو نظامي تآسیساتو ته ننوتو څخه محروم کړي دي. سیګار 29 نوي تحقیقات پیل کړي، او 36 یې تړلي،چې ټوله مجموعه 324 ته رسیږي. د سیګار د ځنډولو او محرومولو پروګرام 22 افراد او شرکتونه د ځنډ او محروم کیدلو لپاره راجع کړي دي.

**د څېړنو عمده ټکي لاندې شیان** جوته کوي:

- د متحده ایالاتو د یو خوردضابط اعتراف چې په یوه توطئه او رشوت اخیستل کې یې لاس درلود.
- د متحده ایالاتو دوه نظامي غړو اعتراف چې رشوت یې اخیستی او د تیلو د ورکیدلو په اړه د پیسو مینځلو کې ښکیل وو.
- یو افغان وروسته له دې چې لویې څارنوالی ته جلب شوی و، د رشوت ورکولو له کبله توقیف شو.
- د پیسو د مینځلو (پاکولو) د ارتکاب یوې دسیسې په اړوند دوه تنه محکوم شول.
- یو افغان د 530000 ډالرو په درغلی تورن او محکوم شو او ورته حکم ورکړل شو چې 539173 ډالره جریمه ورکړي.
- د درغلی په تور یو بل افغان د لویې څارنوالی له خوا توقیف شو.
- د متحده ایالاتو د هوایي ځواک یو پخوانی تورن په دوو جنایي معلوماتو اعتراف وکړ.
- د تیلو د غلا د موندلوپه مخه، یو افغان نظامي تآسیساتو ته له ننوتلو څخه محروم کړای شو.

# محتويات



## برخه 1


**1 د ANSF تر پوښتنې لاندې شمېرې**

3 عمومي کتنه.

4 د افغان امنيتی ځواکونو لپاره د سم شمير تر لاسه کول.

6 غلطی د شمير په رپورټ ورکولو کي.

7 نيمګړتيا د افغان ملی اردو د شميرلو په پروسه کي.

10 نيمګړتيا د افغان ملی پوليسو د شميرلو په پروسه کي.

11 د افغان ملی پوليسو د رپورټ ورکولو پروسه ښه کيداې شي او بايد ښه کړاې شي.

12 د شمير پوهيدل بنسټيز ارزښت لري، او بايد هرچا سره شريکه نشي.

15 د ماموريت برياليتوب د اعتبار وړ شميرته اړتيا لري.




## برخه2


**17 د سيګار ځارنه**

21 تفتيشونه

36 بازرسي

42 ځانګړی پروژې

46 زده شوي درسونه

47 څيرنه

56 په دی ربع کی د سيګار د نظارت نور فعاليتونه

59 د سيګار بودجه

59 د سيګار پرسونل




## برخه3


**61 بيارغونې چارو په هکله تازه معلومات**

63 عمومی کتنه

67 د مالی وجوهو وضعيت

83 امنيت

127 حکومت

159 اقتصادی او تولنيزه پرمختيا

# محتويات



## برخه4


185 د نورو ادارو له څارنه
187 د آزادئ د عملیاتو ساتندوی لپاره عمومي مفتش ټاکل شوی دی.
188 د نظارت فعالیتونه بشپړ شوی دي.
194 د نظارت روان فعالیتونه.




## ضمیمی او پایلیکونه


202 ضمیمه A: د قانون پربنسټ د ریورټ ارزونه.
208 ضمیمه B: د افغانستان د بیا رغونی لپاره د متحده ایالاتو مالي وجوه.
210 ضمیمه C: د سیکار لیکل شوی لاس ته راوړني.
216 ضمیمه D: د سیګار څیړنه او مستقیمه ټیلفونی کرښه.
222 ضمیمه E: د آزادی د عملیاتو ساتندوی لپاره د عمومی مفتش اعلامیی لاربنود.
227 ضمیمه F: مخففات.
233 پایلیکونه.

"په عین وخت کې د متحده ایالتونو حکومت د نړیوالې ټولنې سره یوځای پلان لري ترڅو خپلو مالي مرستو ته تر څو نوروکلونو پورې د ANA د پرسونل د معاشاتو د ورکړې لپاره دوام ورکړي، ډېره مهمه ده ترڅو DOD او MOD دواړه خپله وړتیا د ANA د پرسونل د شمېرلو او د هغوی د معاشاتو د سندونو د تفتیش په برخه کې لوړه کړي."

*د 15-54-AR، SIGAR ګڼې تفتیش راپور*

سرچینه : SIGAR، د افغانستان ملي اردو: له پرسونل او د معاشاتو د سندونو د حد اقل څارنې په لامل میلیونونه ډالره په خطر کې دي، د 2015 کال د اپریل د 23 نېټې 15-54-AR ګڼې تفتیش راپور.

# 1

# د ANSF تر پوښتنې
# لاندې شمېرې



# لرلیک (فهرست)


ANSF د کره شمیر تر لاسه کول مهم دي 4

تیروتنې د شمیرو راپورونه پیچلې کوي 6

د ANA شمېرې له پیل څخه نیمګړې وې 7

د ANP د شمیرې پروسه هم کمزورې ده 9

د ANSF راپور ورکونه بڼه والی موندلی شي او باید ویمومي 11

دقیقې شمیرې مهمې دي، خو بسندویه ندي 12

د ماموریت بریالیتوب د اعتماد وړ شمیرو پورې اړه لري 14


د مخکنۍ پاڼې انځور د سیګار د اداري یوه مامور د ملي اردو پر پرسونل باندې د باور د وړتیا د یوې څېړې شوې تفتیش په اړه او له هغوی څخه د معلوماتو د راټولولو او د معاشاتو په پاڼو کې لیکل شوېو شمېرو د لیدو په بهیر کې (د میابوناریکي لخوا د سیګار انځور)

# د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د تر پوښتنې لاندې شمېر د افغانستان جګړه لا پیاوړې کوي

## لنډه کتنه

شمېرې مهمې دي، ځکه چې له شمېرو څخه د روغتيا، د بشر د حقوقو، اقتصادي ودې او د پوهنې په سکتورونو کې د ودې کچه معلومیدای شي. په افغانستان کې ځینې شمیرې د مرګ او د ژوند هومره ارزښت لري.د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو (ANSF) شمېر باید د یوه مهم سنجش په ډول و کارول شي ترڅو معلومه شي چې آيا د متحده ايالاتو 65.2 میلیارده ډالر چې پر ANSF باندې پانګه اچونه کړې ده، د یوه ملي اردو او ملي پولیسو د رامنځته کولو په برخه کې چې دهېواد د امنيت او د تروريزم پر وړاندې د مبارزې وړتيا ولري، په بریالی توګه وه یا نه.

همدا سږ کال، سیګار د خپلو تفتيشونو دوه راپورونه خپاره کړي دي، دغه راپورونه هغه ستونزې رابرسېره کوي چې متحده ايالتونو د ANSF ځواکونو د دقيقو شمېرو په هکله د ډاډ وړ معالوماتو د راټولولو په برخه کې لري، د راپور له مخې د 2015 کال د فبروری تر 20 نېټې پورې د ANSF تعداد 328805 تنو ته رسيده. د سیګار یوه تفتيش چې د ملي اردو (ANA) د پرسونل او معاشاتو په اړه او همدارنګه یوه بله پلټنه چې د جنوری په میاشت کې د ملي پولیسو د پرسونل او معاشاتو په اړه شوې، خپرې شوې دي. دواړه پلټنې د دغو اطلاعاتو د کره والي په هکله هېڅ ډول ډاډ نه وړاندې کوي.

د ANSF د وړتيا په اړه له ډاډ وړ اطلاعاتو پرته، متحده ايالات نشي پوهيدلای چې آيا بلیونونه ډالره چې له 2002 کال څخه تر اوسه د ANSF د ځواکونو پر استخداملو، روزلو، تجهيزولو او ساتنې باندې لګولي دي، په ځای وې يا نه. او همدارنګه په کره توګه ددې محاسبه نشي کولای چې په راتلونکې کې څومره نورو پیسو ته اړتيا ده.

په دنده کې د حاضرو ځواکونو کره شمېره په ټولو برخو کې د قوماندانانو لپاره د تکتيکي او عملياتي ماموريتونو د ترسره کولو لپاره د هغوی د وړتيا د لرلو په خاطر د یوه لومړنی ځانګې په توګه هم حياتي ده. دغه شمېره هغه فعالیتونه لکه استخدامول، ورکړې، تجهيزول، روزل، د اوسېدو ځای، اعاشه، ترانسپورت او د واحدونو ساتل اغېزمنوي. د واحدونو وړتيا او د تجهيزاتو تعداد په سیستم کې دننه په مستقيم ډول مرسته کوي ترڅو د ANSF د چمتوالي او وړتيا ارزونې باندې پوه شو. شمېرنه، له افغانستان څخه د متحده ايالتونو د ځواکونو او يا د ائتلاف د ځواکونو دوتلو د پلان په ګډون د بوديجې او پلان جوړونې بنسټ جوړوي.

د ANA له پرسونل څخه معلومات د سیګار د اداري د تفتيش د انديښنې لامل انځوروي. د سیګار د اداري د پلټونکو یو ټیم د هرات د ولایت د 207 قول اردو او د بلخ ولايت د 209 قول اردو د ځواکونو او په کابل کې د افغانستان د هوايي ځواکونو (AAF) له مقر څخه د ترمخه اعلان شوي لیدنه ترسره کړه.



**د سيګار د اداري** پلټونکي د افغان سربازانو هويت چک کوي. (له سيګار څخه انځور)

پلټونکي له هغو خدماتي 134 تنو پرسونل څخه چې په دنده کې حاضر وو معلومات راټول کړل. له هغوی څخه يوازې د ANA د معلوماتو مطابق د 103 تنو هويت سم وو. له هرو لسو تنو څخه يو تن يې د هويت کارت نه درلود. د بلخ په ولايت کې د 35 حاضرو تنو له ډلې څخه يوازې د هغوی 23 تنه د هويت کارت درلود، او پنځه تنه يې د ANSF د پرسونل د لست په ډېټابېس کې شتون نه درلود.[1]

پلټونکي همدارنګه له ورځني لړليک څخه متناقضه ګټه اخيستنه، د پرسونل د شميرې نه سموالی، په لاس باندې د ترتيب شوې پاڼې، د نه څارل شوو اطلاعاتو سيستم، کمزوری کنټرول او د نورو ستونزو په منځ کې د متحده ايالتونو ځواکونو ته د ريکارډونو د نه استولو په اړه د وزارت پاتې والی هم تر لاسه کړل. برسېره پردې د پيسو په ضايع کولو کې ابهام، د نا سمو تاثيراتو په رامنځته کولو، نه اغيزمنتوب، وفاداري، مورال، د خلکو ملاتړ او د افغان امنيتي يوې غښتلې اردو د غښتلتيا او ساتلو باندې خپل ځانګړي تاثيرات لري.

د خطر يو بل فکتور دا دی کوم وخت چې متحده ايالات خپل پوځي ځواکونه او ملکي پرسونل لږ کړي، د سيګار د ادارې او د نوروفدرالي ادارو کارکوونکو ته به سخته شي چې د ANSF د پرسونل له اطلاعاتو څخه حضوري څېړنه ترسره کړي او يا د هغوی له نورو فعاليتونو څخه مستقيمه څېړنه ترسره کړي. متحده ايالتونه به تر سخت فشار لاندې راشي ترڅو د پرسونل د شمېرو په برخه کې د افغان ځواکونو په راپور ورکونې باندې باور وکړي. له ANA څخه د سيګار د ادارې تفتيش دا جوته کړه چې د اطلاعاتو پر راټولولو "ورځ په ورځ محدوديدونکي څارنه او " د ANSF[2]— کارکوونکو ته د معاشاتو له ورکړې څخه د ناوړه ګټه اخيستنې "زيات خطر" موجود دی. هم او ددې ماموريت په برياء باندې د منفي تاثيراتو خطر نه ذکر کېږي.

## ANSF د کره شمير تر لاسه کول مهم دي

د 2015 کال د فبرورۍ د مياشتې د راپور پربنسټ د ANA او AAF ګډو ځواکونو شمېر 167,024 پوځي او 7096 ملکي کارمندان و. د ANP ځواکونو شمېر 154685 تنو ته رسېده.[3] ملي اردو او هوايي ځواکونه د دفاع وزارت (MOD) له خوا او ملي پوليس د کورنيو چارو وزارت (MOI) له خوا کنټرولېږي.[4]

د ANSF د ځواکونو اوسنی راپور ورکړل شوی تعداد متحده ایالتونو، نورو دونرانو (مرسته کوونکو) او افغانستان د هغه هڅو ښودنه کوي چې د 2002 کال له دسمبر څخه یعني هغه وخت نه چې د ANSF ځواکونو هېڅ شتون نه درلود د کتنې وړ هڅې منعکسوي.

د ځواکونو مطلوب شمېر دوخت په تېرېدو سره زیاته شوی ده، د 2002 کال په دسامبر کې په جرمني کې د بن په کنفرانس کې د متحده ایالتونو په ګډون افغانانو او نورو نړیوالو مرستندویه هېوادونو موافقه وکړه چې د ملکي کارکوونکو او د MOD د کارکوونکو په ګډون د ANA لپاره 70000 پرسونل لمړنۍ موخه وي او د ملي پولیسو لپاره ټاکل شوې موخه وروسته 62000 پرسونل وټاکل شو.[5]

د ANSF لپاره وروستنی موخه اوس 195000 تنه او د ANA او AAF لپاره 8004 ملکي کارکونکي او د ANP لپاره 157000 تنه وو چې په مجموعي ډول 360004 او یا له ملکي کارکوونکو پرته په ځانګړې توګه به 352000 تنه وي. سیګار ته د وروستی استول شوی راپور پربنسټ اوس د ANSF ځواکونو د شمېرنه په اړه خپله غښتلتیا له 90% څخه زیاته وروستنی موخه ترلاسه کړې ده.

له ANSF کره شمېرې معلومول د لاندې دلایلو پر بنسټ ارزښت لري:

- دغه شمېرنه د وړ اچوونکو طالبانو په مقابل کې د افغانستان د دوامدره دفاع، خلکو ته د کورنی امنیت د وړاندې کولواو د افغانستان له خاورې څخه د القاعدې په شان د ترورېستي ګروپونو د مخنیوی او د نوو حملو له ترسره کولو څخه د حکومت د وړتیا یوه ځانګه ده.
- د امنیتي ځواکونو شمېر کېدای شي د خلکو د ملاتړ انعکاس کوونکی وي چې د ANSF د استخداملولو، مورال، ساتلود خدمت د پرېښودولو، اصطکاک او نورو فکتورونو باندې چې د ځواکونو د اوږدې مودې په بریا باندې تاثیر لري، اغېزه اچوونکي وي.
- یوامنیتي ځواک پلان او ارتقاء ته اړتیا لري ترڅو لازم شرایط د مالي ورکړې، د مامورینو استخدامول، پارکونه او نور تأسیسات، روزنه او تجهیز، روغتیایي پاملرنه اداري پروسه او کورني کنترول لوړ شي.
- لکه څرنګه چې افغانستان له یو لوی امنیتي ځواک له عهدې څخه نشي وتلای، د ANSF د ځواکونو د استخدامولو لګښت، ورکړه، تجهیز، روزنه، لېږد، تأمین او د ځواکونو د ساتلو لګښت د متحده ایالتونو لخوا ورکول کېږي. له 65 میلیارده ډالرو څخه زیات چې تقریباً 109.8 میلیارده ډالره د متحده ایالتونو د کانګرس لخوا له 2002 کال څخه تر اوسه د افغانستان د بیا رغونې لپاره ځانګړي شوي د افغان امنیتي ځواکونو د غښتلي کولو په خاطر لګول شوي دي، د ANSF شمېر په مستقیم ډول د بودیجې اړتیا لدې لارې څخه اغېزمنوي.
- وروستی موخې ته د ANSF د ځواکونو د رسولو لپاره د افغانستان هڅې، د متحده ایالتونو او د ائتلاف د پلان کوونکو تصمیم د نړیوالو ځواکونو د وتلو لړی، افغانستان امنیتي موخو ته د رسېدو لپاره نه اغېزمنوي.

ولې بیا هم، ANSF په افغانستان کې د بیا رغونې یواځنۍ ساحه نه ده کوم چې سیګار او نورې څارنيزې اداری په هغه کې له نیمګړو اطلاعاتو سره مخامخ وي.د سیګار ربعوار راپورونه، تفتیش، بازرسی ځانګړې پروژې او د نیمګړتیاوو له موجودیت څخه تحقیقات، دا جوته کړیده چې د تیلو د پېرودلو او په ښوونځیو کې د شاملولو څخه نیولې د د قراردادونو د اداره کولو او د مالي معلوماتو تر سیستمونو

پورې په ټولو برخو کې نه دقت، فساد، د ریکارډونو کمزوری ساتل او د پوښتنې وړ طرزالعملونه شتوالی لري . دغه ټول موضوعات او مسائل پاملرني او اقداماتو ته اړتیالري. خو د بیا رغونې پروسه د ANSF د اجراآتو وړتیا پورې تړلې ده. بدبختانه له ANSF څخه د کره اطلاعاتو ترلاسه کول ستونزمن کار دی، د اطلاعاتو ثابتول ستونزمن دی او پر اطلاعاتو باندې ډاډمن کېدل ستونزه را ولاړوي.

## تیروتنې د شمیرو راپورونه پیچلې کوي

د 2015 کال د فبروری په میاشت کې، په افغانستان کې د NATO حمایتي ثابت ماموریت د سیګار اداري ته نظر ورکړ چې د 2014 کال د اپریل او اکتوبر په میاشتو کې د حسابداری په سیستم کې د ANSF راپور شوې شمېرنه د یوې تېروتنې پربنسټ سمه نه وه. لدې وروسته چې حسابي تېروتنه په سپتمبر میاشت کې پیدا شوه، د متحده ایالتونو پوځي ځواکونه سمه شمېرنه د امریکا کانګرس ته د خپل راپور ورکونې په خاطر د امریکا دفاع وزارت (DOD) په واک کې ورکړه، خو د سیګار اداري ته تر هغې مودې پورې چې د 2015 کال د جنوری له میاشتي وروسته د ربعي راپور نه و خپور شوی، خبر نه وو ورکړی.[6]

د 2015 میلادي کال د فبروری په میاشت کې د سیګار اداره د 2015 کال د جنوری د میاشتي د ربعي د اضافه راپور په ګډون یو راپور چې د ANSF د ځواکونو په هکله د 2014 کال د ربعي د راپور په اړه د برابر شوي او تصحیح شوي معلومات پکې شامل وو پداسې حال کې چې نور اوړد مهال معلومات او د پرسونل حساب ورکول او تعقیبول هم پکې راغلي وو خپور کړ.[7] د مثال په ډول د سیګار د اداری د 2014 میلادي کال د اکتوبر د میاشتې ربعوار راپور له مخې د متحده ایالتونو پوځي ځواکونو د مخکني 10 ربعوار راپورونو له جملې څخه په شپږو راپورونو کې ملکي پرسونل د د ANA د ځواکونو توګه حساب کړي وه خو په څلورو نورو راپورونو کې یې نه وه حساب کړي. حال داچې د امریکا د دفاع وزارت (DOD IG) عمومي مفتش په 2012 کال کې د ANA د معاشاتو د تفتیش په یوه پروسه کې د ملکیانو حسابول یو لوی مشکل ګڼلی و، څکه چې په لګښت کې د زیاتوالي او داضافي تمویل لامل ګرځېده.[8] همدارنګه د (DOD IG) تفتیش دا هم ښودلې وه چې له نورو مسائلو سره سره کورنې کمزوری کنترول، د لیکل شوو پروسیجرونو نشتوالی، حسابي تصنیف او تېروتنې او د معلوماتو له لنډیز څخه ګټه اخیستنه هغه ستونزې وې چې تېروتنې یې په جزئیاتو کې د نه پېژندلو وړ ګرځولې.[9]

همدارنګه د سیګار اداري پخیلې یوې بلې پلټنې کې دا موندلې وه چې د ANA (د قول اردو لوړ پوړې) راپور شوې شمېرې په کمپیوټر کې د فورمول له لارې حساب شوې وې، نه د حقیقي لارې او د عیني مشاهداتو له لارې.[10] لکه څرنګه چې ددې راپور په هغه برخه کې چې د امنیت په برخه کې معلومات ورکوي پورتنې بحث شوی دی، د سیګار اداره اندیښنه څرګنده کړیده چې امکان لري چې د ANP ځانګړې برخې دوه ځله محاسبه شوې وي او د ANP د شمېرو په اړه په افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو (USFOR-A) ددې ربعي په لمړنی راپور کې هم عمومي مجموعې د ذکر شوې فرعي ارقامو د مجموعې څخه 728 موقفونه زیات ښودل.

د ANA وروستي نوې شوې ځواکونه د هوایي او ملکي کارکوونکو په ګډون چې د USFOR-A له لارې د سیګار اداري ته راپور ورکړل شوی و او د 2015 کال د قبروری د میاشتې په راپور کې خپور شوی وه، د 2014 په فبروری کې له 184839 شمېرې څخه په نومبر کې 169203 شمېرو ته راټیټه شوې، دغه ټیټوالی له 15000 څخه زیاته شمېره ښودله چې په اټکلیز ډول د افغان ځواکونو د یوې قول اردو معادل شمېر ښیي او ANA یوازې شپږ قول اردوګانې (په کابل کې له یوه لواء) لري، نو په دغه پیمانه ټیټوالی به د ځواکونو په استخدام، مدیریت، د چمتووالی ارزول او د عملیاتو د پلان جوړونې تاثیر ولري.

د افغان عسکرو د کره شمېرنو د اخيستلو په برخه کې یوه ستونزه داده چې متحده ايالتونو نه ښايي په هغو راپورو باندې بسيا وکړي چې د بلې ادارې، په بلې ژبې او د بل حکومت په وزارتخانه کې برابرېږي. په هره اندازه چې افغان مامورين ښه نيت او ښه ورتيا ولري، خو د هغوی فقير او جګړه ځپلی هېواد د ريکارډونو په لاره کې نوري نيمګړتياوې لکه د بېسوادی لوړه کچه، برېښنا ته لږ لاس رسي، کمپيوټري محدودې پروسې او د ماهرو تخنيکرانو ناکافي شمېر مختلفي ستونزې رامنځته کوي.

د 2015 ميلادي کال د مارچ د مياشتې په یوه يادداښت کې چې د USFOR-A لخوا د سيګار ادارې ته ليکل شوی و وايي چې "واکمنه سرچينه" د ANA د ځواکونو د اطلاعاتو لپاره چې د افغان (PASR) پرسونل د راپور او حسابداری څخه عبارت دی کوم چې د MOD په واسطه برابرېږي. دغه معلومات په هغه راپور بدلېدای شي چې PERSTAT په نوم يادېږي، او انګليسي ژبو خلکو لپاره په آسانی سره ترې ګټه اخيستل کېږي، خو متاسفانه هغه وخت چې له یوه سېستم څخه بل سيستم ته لېږدول کېږي، د تېروتنې سره مخامخ کېږي. دواړه سرچيني په عين مياشتو کې د شمېرنو توپير راښيي چې لازمه ده ترڅو يو شنونکی ټول فورمولونه او معلومات يو په يو د دواړو راپورونو په منځ کې چک او تصحيح کړي.[11]

د سيګار اداره خوشحاله ده چې د متحده ايالتونو پوځي ځواکونه هڅه کوي ترڅو د افغان ځواکونو په اړه د ډاډ وړ معلوماتو د راټولولو، يوځای کولو او راپور په برخه کې خپله وړتيا زياته کړي. مونږ يې له کوښښونو څخه ستاينه کوو. ولې مهمه نده چې ددې کوښښونو اندازه اغېزمنه وي، د وروستني پايلې څرنګوالی هغه خامو موادو پورې تړلې دي چې پر هغو باندې کار صورت مومي. او هغه سخته ده.

څرنګه چې د USFOR-A يادداښت اشاره کوي، " ثابت غښتلی ماموريت " له افغان ځواکونو سره کار کوي ترڅو د معلوماتي مديريت لپاره د يو خودکاره سيستم څخه کار واخيستل شي او پراختيا ورکړل شي، خو د افغانستان د امنيتي ځواکونو د پرسونل لپاره د راپور ورکوني سيستم اوس هم په پراخه پيمانه د کاغذ او پاڼو په انبارونو باندې کار ترسره کېږي.[12]

د ريکارډونو د ساتلو سيستم چې پر کاغذ او پاڼو باندې صورت مومي، د ثبت په بهير کې تېروتنې، د سريزې په بهير کې تېروتنې، د يوځای کولو تېروتنې، د ريکارډونو ورکېدل، او ناوړې ګټې اخيستنې لپاره زمينه مساعدوي. د سيګار د ادارې تفتيش ښايي چې دا يواځې د خطر فکتورونه نه دي چې د ماموريت په برياليتوب باندې د معلوماتو په کره والي او دهغوی په احتمالي تاثيراتو اغېزوکړی بلکې. متاسفانه، د سيګار اداره او نورې څارنيزې ادارې دې نتيجې ته رسيدلي دي چې د افغانستان حکومت به ونشي کولای چې په نږدې راتلونکې کې يو جامع کمپيوټري معلوماتي سيستم ولري پداسې حال کې چې برېښنا ته نه لاس رسی، پراخه بېسوادي و د عوايدو کموالي په هيواد کې موجود وي.

## د ANA شمېرې له پيل څخه نيمګړې وې

د ANA د معاشاتو په هکله د متحده ايالتونو د پيسو د خطرونو د تشخيصولو لپاره، د سيګار د ادارې د تفتيش او بازرسي رياست هغه سندونه و پلټل چې مخکنيو کلونو يعني 2004 ميلادي کال پورې اړه درلوده، او له ساحي څخه يې هم ليدنه وکړه او په کابل، هرات، او مزارشريف کې يې له نوموړو سندونو څخه نمومه ګيري وکړه.

هغه راپور چې په پايله کې لاسته راغی د 2015 کال د اپريل په مياشت کې خپور او لنډيز يې د سيګار د ادارې د څارنې په برخه کې پدې ربعوار راپور کې درج شوی دی. د نوموړی راپور له مخې د هر واحد په کچه د ANA د کارکوونکو د حاضری د معلوماتو د راټولولو پروسه کوم چې پرېنسټ يې د

ANA د ټول پرسونل معاشونه او معلومات پکې شامل دي، د افغاني کمزورې څارنې او کنټرول لرونکی وو، او د ANA په ټولو موقعيتونو کې په يو ډول او يو شان نه عملي کېږي.[13]

د نورو مسائلو په منځ کې د سيګار د اداري پلټونکي لاندې مسائل هم وليدل:

- د افغانستان د دفاع وزارت، په افغانستان کې د متحده ايالتونو د انتقالي قوماندانی امنيتي ګډ ځواکونه (CSTC-A)، او د NATO د تقويتي ثابت ماموريت د 4 ګڼې د لازمي عملکرد کارکوونکي، په مجموع کې د ANA د معاشاتو او پرسونل په هکله د کره معلوماتو د ټاکلو لپاره ليکلي پروسيجرونه نه لري.
- د غرو د لړليک راپورونه د ANA د معلوماتو د يوځای کوونکي په سيستم کې د لاس په واسطه (ليکل شوي) داخلېږي او د لاس په ذريعه MOD ته لېږدول کېږي او همدارنګه د لاس په ذريعه CSTC-A او NATO ته انتقالېږي.
- د معاشاتو معلومات د لاس په ذريعه د ANA کامپايلرونو ته انتقال او د لاس په ذريعه د معلوماتو د ساتلوځايونو ته په قول اردوګانو کې انتقالېږي او وروسته د لاس په واسطه د ماليې وزارت حوزوي دفترونو او د دفاع وزارت مالي کارکوونکو ته انتقالېږي.
- د ANA د کارکوونکو د معاشاتو سيستم له 160000 پاڼو څخه جوړ شوی دی چې ټول ريکارډونه يې د لاس په واسطه ليکل کېږي.
- د افغانستان د ماليې وزارت د معلوماتو سيستم دا لازمه ګڼي چې په لاس سره په سيستم کې داخل شي، له نورو سيستمونو سره يوځای نه وی او هر عسکر ته ورکړې په مشخصه توګه نه ريکارډوي.
- ځيني لستونه يواځې يو چک مارک لري چې ددې په ځا ی چې رسماً لازمه ده د هغو لاسليک واخيستل شي، د هر شخص د نوم سره يوځای نښه شوي وو.
- نه متحده ايالتونه او نه هم د MOD مامورين، لستونه د نورو معالوماتو له مخې ګوري، تحقيق کوي او تطبيق کوي.
- CSTC-A، د تقويتي ثابت ماموريت لپاره د مسئوليتونو د اخيستلو په بهير کې د تعقيب په خاطر د NATO پرسونل لپاره د تحقيق شوو سندونو يا تطبيق شوو سندونو هيڅ ډول ستندرد شوی پروسيجر نه لري، د متحده ايالتونو يو له سالاکارانو څخه د سيګار د اداري پلټونکو ته ويلي و چې هغه د تېرو وختونو راپورونه او خپله بدلتيا د ANA د نيمګړتياوو د ترلاسه کولو لپاره کارولي و، خو پلټونکي ګواښ کوي "چې له غير رسمي او غير منظمو پروسيجرونو څخه کار اخيستل... شايد اغېزمن او د ترويجولو وړ نه وي."[14]

د 4 ګڼې لازمي عملکرد: "د ځواک توليد" د (EFs) يو له اتو لازمي عملکردو څخه دی چې د (NATO) د تقويتي ثابت ماموريت په واسطه په افغانستان کې ترسره کېږي. دغه عملکرد هغه کارونه لکه روزنه، او د افغان ځواکونو تجهيزول په بر کې نيسي. نور عملکردونه په استخباراتو، داخلي کنټرولونو، او ستراتيژيکو اړيکو کې شامل دي.

سرچينه: NATO

د معلوماتو د ټولولو او د افغاني نظارت په پروسه کې د محدوديتونو د شتوالي له کبله، د سيګار اداره دې پايلې ته رسيدلې ده چې " د متحده ايالاتو حکومت نشي کولای چې د هغه په سلهاوو ميلونه ډالرو تفتيش وکړي چې د ANA د پرسونل د معاشاتو لپاره يې نيغ په نيغه هر کال د افغان حکومت ته ورکوي.[15]

دا يوه مهمه انديښنه ده: له 2009 کال څخه د 2014 کال تر پايه پورې، متحده ايالتونو د ANA د معاشاتو او د کارکونکو د مزد د ورکړې په خاطر 2.3 بيليونه ډالره ورکړي دي.[16] توقع کېږي چې دغه ورکړې د 2017 کال تر پايه پورې يا له هغه څخه د زيات وخت لپاره دوام وکړي، نو د راپور ورکووني د کمزورې سيستم احتمالی عواقب به دا وي چې پرسونل ته به د خورا ربښتيني خدمتونو په وړاندې د لږې يا زياتي پيسي ورکول، مړ شوی، تبنتيدلی او غيرموجود عسکر ته په سهوه او يا قصدي توګه تنخوا ورکول او يا هم ددې پرځای چې د شهيد سرباز فاميل ته د شهيد د امتيازاتو د ورکولو پرځای د يو عالي رتبه کارکوونکي د معاش د زياتولو لپاره کار واخيستل شي، علاوه پردې د پرسونل د راپور ورکوني او



**د ANA پرسونل او د معاشاتو** سیستم په درنده توګه په کاغذ او لاسي انتقالاتو کې صورت مومي (د CSTC-A په واسطه ترتیب شوی انځور)

تعقیبولو او د هغوی د معاشاتو لپاره د یوه بشپړ اتومات سیستم نه شتون دا مانا ورکوي چې تېروتنې او نیمګړتیاوې به دوام وکړي،" او معلومات به له لاس وهنې سره مخامخ شي."[17]

هغه کمزورتیاوې چې د سیګار د ادارې له خوا د ANA د تفتیش په راپور کې خلاصه شویدي، او همدارنګه د متحده ایالتونو او د ائتلاف د ځواکونو وتل به د پرسونل د راپور ورکونې او د معاشاتو په هکله د معلوماتو په راټولولو کې کم رنګی ته زمینه برابره کړي. په پایله کې پلټونکي داسې خبرداری ورکوي:

> متحده ایالتونه به لا تر دې هم د ANA د پرسونل د معالوماتو او د کارکوونکو د معاشاتو په هکله را ټولو شویو معلوماتو د کره والی د معلومولو په برخه کې د MOD په وړتیا باندې زیاته اتکاء وکړي. تر دې پورې چې MOD د معاشاتو له تفتیش څخه د ډاډ لپاره خپل ظرفیت پورته یونسي، د متحده ایالاتو د هغه پیسو د ضایع کولو او د هغې څخه د ناوړې ګټې اخیستنې ستونزه موجوده ده چې د افغان ملي ځواکونو د ملاتړ لپاره یې ورکوي.[18]

د مالي حساب ورکونې او څارنیزو اندیښنو، د شمېرو د راټولولو په پروسه کې د دوامداره کمزوریو زیاتوالي، ANSF د عملیاتو د پلان او تطبیقولو برخه کمزورې کوي.

د ANA د پرسونل او د معاشاتو په هکله د سیګار د ادارې تفتیش ته د CSTC-A ځواب دا وو چې "قوماندانی په سیستماتیکو ستونزو پوهېږي او دغه ستونزو ته چې له ډېرو پخوا وختونو څخه شتون لري د حلولو لپاره یې ژمنه کوي."[19] د CSTC-A لوی قوماندان جنرال تادتي. سیمانت د یوه یاددښت په لړ کې وویل چې "CSTC-A د RSM سره همغږي کوي ترڅو د پرسونل او د معاشاتو د ورکړې یو ګډ سیستم جوړ کړي چې په ډېره ښه وجه کولای شي د پرسونل تېروتنې، نه اغېزمنتیا، د ریکارډونو کمزوری مدیریت، دتفتیش د نه وړ معلوماتو، نا سالم مدیریت او یا اداري فساد له منځه یوسي." په داسې حال کې چې د شمېرو او د تفتیش وړ معلوماتو د ژورې کتنې سره یې موافقه درلوده، ښاغلی جنرال د هم وویل چې په افغانستان کې د ائتلاف د ځواکونو په ماموریت او جوړښت کې بدلونونه د خورا سختې څارنې په طرف د تللو مانا ورکوي چې حتماً باید د افغانانو لخوا رهبري شي، چې د افغانستان وزارت خانې پدې برخه کې د عملي کولو ښو پالیسیو ته اړتیا لري، او ددې ګډ سیستم چمتو کول احتمالاً چې د 2017 کال د اپریل له میاشتې څخه دمخه امکان نه لري، هغه زیاته کړه چې CSTC-A او "د ناټو تقویتي ثابت ماموریت" سلاکاران "د 1395 د مالي کال په مالي ژمن لیک کې زیات کنترول کوي ترڅو د پرسونل د تفتیش د داخلي کنترول پروسه پیاوړی کړي."

د CSTC-A ژمنې له ANSF څخه د ډاډ وړ شمېرنو د اخیستلو ستونزې تصدیقوي. سره ددې هم، هغوی دې ته اشاره کوي چې افغان امنیتي ځواکونو ته د متحده ایالتونو څو بلیون ډالري مرستې کولای شي تر نورو 15 کلونو پورې په همدې ډول دوام وکړي تر هغه وخته پورې چې بلاخره د پرسونل یو ګډ سیستم او د معاشاتو د معلوماتو سیستم رامنځته شي.

د ANSF، د یوې بلې مهمې برخې یعنې د افغانستان ملي پولیسو په هکله، د سیګار د اداري پلټونکو واردمخه په روان کال کې راپور ورکړي چې نورې کمزورتیاوې او نورې آزار ورکوونکي ستونزې هلته هم شتون لري.

## د ANP د شمیرې پروسه هم کمزورې ده

له دې سره سره چې متحده ایالتونه له 2002 کال څخه تراوسه پورې 16 میلیارده ډالره پر ANP باندې لګولي دي، د سیګار د اداري پلټونکي د خپل 2015 کال د جنوری د میاشتې په تفتیش راپور کې نتیجه ګیري کړي چې "تراوسه هم هېڅ ډاډ شتون نه لري چې د پرسونل او د هغوی د معاشاتو معلومات دقیق وي."[20]

د ANP ځيني اطلاعاتي ستونزې داسې دي چې د افغانستان د اردو په اړه د سيګار د ادارې په نوې تفتيش کې ليدل شوي. دغه اطلاعاتي ستونزې عبارت دي له لاندي مسائلو څخه: هغه سيستم چې په زياته توګه کاغذي دی، لړه ځارنه، ستونزمنه څېړنه، ځېرل شوو سندونو لپاره د پروسيجر نه شتون، سمه نه ګټه اخيستل، په ريکارډونو کې تېروتنه، د هويت د کارتونو نه شتون، او له نورو زرو تېروتنو او نا بشپړ شوو ريکارډونو سره يوځای کمپيوتر شوو ناکافي سيستمونه.

د ANA په شان، دغه نوې ستونزې نه دي، د DOD او د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د سر پلټونکي لخوا په 2006 ميلادي کال کې له ارزوني څخه تفتيش راپور ترسره شوی و داسې نقل کوي چې د 2006 شميرې تورم درلود او هم د پرسونل لپاره "هيڅ ډول حسابي سيستم شتون نه درلود."[21]

پلټونکي ترلاسه کړل چې هغه کنټرول چې په ANP کې شتون درلود دا و چې پرسونل بايد هره ورځ د حاضری په پاڼه کې لاسليک و کړي. خو د ANP مسئولينو وويل چې د ګزمې د پوليسو لپاره ورځينی پاڼه چې تقريباً د پوليسو د ځواکونو نيمايي برخه تشکيلوي شتون نه درلود، د هغې په ځای يواځې د هغوی حضور هغه وخت معلومېده چې افسرانو يې د لاس په ذريعه د هغوی لپاره د غذا (خوړو) د ورځينی لست جوړاوه. پرسونل د غذا د پيرودلو لپاره هر ورځ نغدي پيسې ترلاسه کولې، نو پلټونکي، داسې خطراحساسوي چې د نه کنټرول شتون به د پيسو د اخيستلو لپاره د حاضری د لستونو د تحريف لپاره د لوړ رتبه افسرانو د هڅولو موجب وګرځي.[22]

د سيګار د ادارې پلټونکي دوه نورې مسئلې هم په ګوته کړې چې ANP اغېزمنوې نه اردو.

لمړی داچې، د ANP نږدې 20 سلنه پرسونل د خپلو پوره پيسو د نه ترلاسه کولو په خطر کې قرار لري ځکه چې هغوی ته د MOI لخوا د يوه توظيف شوي معتمد پواسطه، د لږې ځارنې او استناد له شتون سره معاش ورکول کېږي. د CSTC-A مسئولين د سيګار ادارې ته وويل چې د هغو پوليسو لپاره چې شايد د معتمد له لارې اغېزمنېږي د هغوی په 50 سلنه معاشاتو کې فساد رامنځته شي.[23]

دوهمه داچې، د پلټونکو راپور ورکړ چې د پوليسو هغه معاشات چې د وجهي صندوق او د افغانستان لپاره د نظم (LOTFA) له لارې د اجرا کېږي، او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي پروګرام (UNDP)، د استازي لخوا د ځارل کېږي خو ددوی په کار کې هم د جزئياتو، سندونو، او نه سمون ستونزې موجودې دي. پايله به يې د ANP د پرسونل د شمير د پام وړ اضافه راپور ورکونې په توګه وي.[24] متحده ايالات د LOTFA د برنامې د ترټولو لوی ا ويواځينی دونر دی.

CSTC-A، UNDP او MOI ټول د ANP د پرسونل او د هغوی د معاشاتو د تفتيش مسئوليت لري، خو د سيګار د ادارې پلټونکي ددې بنسټ ځارنيز کوښښونه ناهمغږي او موضعي وګڼل، ځکه نو د ANP له معلوماتو څخه هيڅ ډول هر اړخيزه څېړنه نه ده شوې، د CSTC-A مسئولينو وويل چې د کارکوونکو کموالی مخنيوی کړی چې بشپړې او لازمي تفتيش ترسره کړي او يا هغه ټول سندونه ترلاسه کړي چې MOI بايد هغوی ته سپارلي وای، او په سمه توګه يې تعقيب کړي وای. په تفتيش کې همدارنګه يادوونه شوې چې د CSTC-A مسئولينو منلې ده چې د تېر کال په بهير کې هغوی د پرسونل هغه مجموعه چې د MOI لخوا وړاندې شوې، له پوښتنې پرته، منلې او منظور کړې ده."[25]

ANA همدا شان، د متحده ايالتونو او نړيوالو ځواکونو په شمېر کې لړوالی له ANP څخه د متحده ايالتونو ورځنی ځارنه لړه کړې ده. ورپسې، د متحده ايالتونو ځواکونه زياتره پر هغو شمېرو باندې چې د MOI له خوا يې راپور ورکول کېږی او د UNDP د LOTFA د برنامې لخوا ځارل کېږي، تکيه کوي. تر څو چې MOI د پوليسو د پرسونل او د هغوی د معاشاتو د کره کولو په برخه کې خپل ظرفيت لوړ نه کړي، دسيګار د ادارې تفتيش خبرداری ورکوي چې زيات خطر موجود دی چې د متحده ايالتونو يوشمېر زياتې پيسې چې هر کال د ANP د پرسونل د معاشاتو له بابته له 300 ميليونه ډالره اضافه اټکل کېږي ضايع او يا ترې ناوړه ګټه واخيستل شي.[26]

له ANP څخه د سيګار د اداري د تفتيش د راپور د مسودې په هکله د CSTC-A نظريات ځواب ويونکي او له جزئياتو سره دي. د قوماندانی مرکز ومنل چې د معلوماتو په راټولولو او څېړلو کې ستونزې شتون لري، او همدارنګه د جوړوني تدابير او تګلارې باندې يې هم بحث وکړ. د نورو مسائلو په منځ کې CSTC-A ياددښت واخيست چې: له MOI سره د هغوی نوی ژمن ليک داسې دی چې که چېرې د ANP د چارو د پرمختګ راپور کې يو له موخو څخه تر لاسه نشی، 5 سلنه تخصيص شوې پيسې قطع کېږي؛ MOI ژمنه وکړه چې په راپورونوکې د هغوی د پرسونل شمېر د وزارت په ډېټابېس کې د پرسونل له لست سره سل په سلو کې يو شان وي؛ د CSTC-A نوې يوه برخه به د MOI د بشري قوا او مالي ورکړو د مديريت دسيستم د يوځای کولو په برخه کې يو سلسله کنترولي تدابير او پلټنې وضع کړي؛ او د LOTFA مديريت د UNDP له لارې، تر دې پورې چې په خپل راپور ورکوني سيستم کې د ANP په پلټنه کې ښه والی را نه ولي د بودجې له کسر سره به مخامخ شي.[27] دغه ګامونه به دبشپړ تطبيق په صورت کې ډېره مرسته کوونکې وي.

په عين وخت کې، له هغه خطر څخه په صرف نظرکولو سره، چې د متحده ايالتونو د ټکس د پيسو ښه ځارنې ته متوجه دی، د ANP د معاشاتو د واقعي ضايع کولو او ناوړې ګټې اخيستنې کېدای شي د فساد پر موضوع، د افغانستان د حکومت پر قانونيت او د ځواکونو پر مورال باندې بد تاثيرات هم ولري، لکه د ANA په شان، دغه ډول تاثيرات په نهايت کې پر امنيتي پرسونل او د دښمن په مقابل کې مبارزې او جګړې لپاره د هغوی پر علاقمندی باندې منفي تاثيرات لرلای شي. د پيسو موضوع او د ماموريت موخه نشي کېدای چې يو له بله جلا وي.

## د ANSF راپور ورکونه ښه والی موندلی شي او بايد ويمومي

له ANA او ANP څخه د سيګار د اداري د 2015 تفتيش د هغوی د معلوماتو د راپور ورکوني د ښه والي لپاره د عين سپارښتنو لرونکي ده: د حاضرۍ د ورځينی لاسليک لازمي کول، د ځارنيز پرسونل د حضور زياتول، په وزارت خانو کې د ټولو کنترولي اتوماتيکو سيستمونودبشپړول لازمي کول، او د پرسونل د معلوماتو او د معاشاتو د پانو د څېړلو لپاره د يوه رسمي سيستم تطبيقول. برسېره پردې، د ANP تفتيش د LOTFA د پروګرام له لارې د MOI د معتمد د سيستم او د UNDP د پلټنې د سيستم د ښې ځارنې اړتيا يادوونه شوې ده.

د قوماندانی د مرکز ځواب وړانديز کوي چې CSTC-A په چټکتيا سره ستونزې حلوي. CSTC-A د ANP د تفتيش په اړه په خپلو نظرياتو کې يادوونه کړې وه چې له MOI سره ژمن ليک يې د داسې شرط لرونکی دی چې متحده ايالات کولای شي د خپلو پيسو يوه اندازه په هغه صورت کې چې د پرسونل تفکيک، د معلوماتو راټولول او د معلوماتو د څېړلو تدابير ټاکل شوو موخو ته ونه رسېږي، لږه کړي.[28]

لکه څرنګه چې په افغانستان کې د متحده ايالتونو فزيکي حضور کمېږي، او د امريکا او د هغې د هم پيمانانو سياسي مرسته له زياتې اندازې څخه لږې اندازې ته راټيټېږي او د متحده ايالتونو پام نورو خطراتو ته اړول کېږي، د ANSF په مالي او عملياتي لازمي مواردو کې د سمو تصميمونو لپاره دقيقو معلوماتو د لرلو اهميت به له مخکې څخه زيات شي.

## دقيقې شميرې مهمې دي، خو بسندويه ندي

د پلان جوړوني او بوديجې جوړوني او د واحدونو د ارزوني لپاره د يوه واردې په توګه د کاروني په خاطر د ANSF د پرسونل دقيق حساب مهم دی. خو د پرسونل شمېر او په مجموع کې تهجهيزول يې په قطعي توګه د عملياتي بريالیتوب د وړاند وئينه نشي کولای. د 2014 کال د جون په میاشت کې د مثال په توګه له درندې وسلې پرته د اسلامي دولت د 800 کسيز ځواک ظاهراً د عراقي ځواکونو دوه واحده چې د متحده ايالتونو له خوا روزل شوي او تجهيز شوي وو او شمېر يې 30000 عسکرو ته رسېده محاصره کړل چې بلاخره د شمالي عراق د موصل ښار په تسخيرولو باندې تمامه شوه.[29] د وړاند وينې وروستنی پايله د معلوماتو د پرتله کولو پربنسټ نه وه. ملیتي، توکميز او مذهبي فکتورونه چې په اطلاعاتي بانکونو او يا پوځي جدولونو کې ځای پرځای کېدای نشي، شايد چې په لوبه کې ونډه ولري.

ځرنګه چې د کالج يوه مقاله د متحده ايالتونو د اردو جګړه يوه ګټور اټکل ته داسي اشاره کوي چې "پوځي قدرت دپرسونل له تجمع څخه زيات، تجهيزاتو او تصليحاتو ته اړتيا لري. رهبري، مورال اودسپلين همدارنګه په نظامي قدرت کې له اهميته په ډکو فکتورونو کې پاتي کېږي." د يوه بل تاريخي مثال څخه نقل شوی چې، نوموړې مقاله زياتوي چې د عراق او د ائتلاف د پوځي ځواکونو ترمنځ د توپير د تساوی سره سره، د عراقيانو زړه تنګه اجراآت د خليج په جګړه کې (1991 ميلادي کال) د دغه په ياد پاتي کېدونکي اړيکي ښکاروندي دی."[30] د امريکا د متحده ايالتونو د وېرې اچوني پر ضد د مبارزې د رسمي لارښووني کتاب داسي يوې ټکي ته اشاره کوي: د وېرې اچوني د ضد په موضوع کې، د ځرنګوالي اهميت له کميت څخه زيات وي.[31]

په افغانستان کې د متحده ايالتونو د ځواکونو قوماندان په همدې ربع کې د امريکا د کانګرس په وړاندې په خپلو ځرګندونو کې هم مرئي او نا مرئي فکتورونه ترسيم کړل. جنرال جان اف کمبل د سنا د اردو د خدمتونو کميټې ته داسي ووېل:

> پداسي حال کې چې د ANSF ځواکونه اوس هم تشي او نيمګړتياوې لري، هغوی د وېرې اچوونکو په وړاندې په جګړه کې د مهمو وسلو لرونکي دي د مثال په توګه ثقيله هاوانونه، D-30 توپونه، Mi-17 وسلې، زرهي وسايط او داسي نور او هغې خاورې ته ريښتني پاتي کېدل. پداسي حال کې چې وېره اچوونکي ددې وسلو



**له دې څخه صرف نطر چې څه اندازه يې په دوسيو کې پاک ساتل کېږي**، شميرې بايد دقيق او د تفتيش وړ وي. (له سيګار څخه انځور)

> هېڅ يو نه لري. بيا هم د ANSF ځواکونه په پراخه پيمانه له خورا ښه رهبرۍ او لوړ اعتماد څخه برخمن دي. که چېرې د ANSF عسکر او پوليس ښه رهبري شي نو ښه اجراآت ترسره کوي. "بد عسکر هېڅ شتون نه لري، يوازې بد رهبران شتون لري. په همدې لامل دی چې زمونږ تاکيد پدې باندې دی چې سالم، حساب ورکوونکی او قاطع رهبري د يو تر ټولو مهم عنوان په توګه پاتې شي."[32]

جنرال زياته کړه: سره لدې هم اجراآتو دا ښودلې چې تشې او نيمګړتياوې شتون لري چې احتمالاً کلونه به شتون ولري، لکه په هوايي ځواکونو، استخباراتو، ځانګړو عملياتونو، د پلان جوړونې وړتيا، برنامې جوړونې، بودجې جوړونې او د بشري قواوو مديريت کې.[33]

د متحده ايالتونو پوځې ځواکونه د خپل اعتبار لپاره له ډېرې اوږدې مودې څخه د افغان ځواکونو د وړتيا او چمتو والي په خاطر د نقشو او نورو برخو کې د کتنې وړ کوښښونه کړي دي. د سيګار د ادارې د ربعوار راپور امنيتي برخه د دغو کوښښونو مختلف ډولونه تر ځينو مخففاتو لاندې لکه CM، CUAT، RASR، RASR-Lite، او اوس MAAR، يا د ANSF د مياشتنيو ارزونو راپور يې تشريح کړي دي. د قول اردوګانو يا لواګانو په کچه د MAAR ارزونه د قوماندانۍ، رهبرۍ، د ځواکونو ګډ عملياتونو، قوماندانۍ او کنترول، پرسونل او روزنه او د ساتنې وړتيا په ځانګو کې د امتيازاتو پربنسټ درجه بندي کوي.[34]

د سيګار اداره د ANSF د ځواکونو د محدوديتونو، د معيارونو د بدلولو، د وړتيا د رتبه بندۍ په برخه کې د ممکنه هڅونکو رتبو د تورم په هکله خپله اندېښنه په تکرار سره څرګنده کړې ده، د مثال په توګه، د 2014 کال د فبرورۍ د مياشتې يو راپور دسيګار د ادارې له تفتيش څخه ليدلنه کړېده چې د 2010 کال په سپتامبر کې د واحدې قوماندانۍ يعني (CUAT) ارزونه يې کړېده، يو معيار چې د ANA د يو واحد لپاره د رتبې د ترلاسه کولو لپاره "له سلاکارانو سره اغېزمن" ترسره شوی له 85 سلنې څخه د تجهيزاتو د واکمنې کچې لپاره مهمه ده هم ترسره شوه، د 2011 ميلادي کال د اګست په مياشت کې دغه معيارونه 75 سلنو يا له هغه څخه زيات باندې بدل شوي دي. په عين حال کې، تفتيش ددې يادونې هم کړې دي چې د پېټ لارښوونې څخه د ارزونې پروسه، په کميت کې نه تساوي والی او په معلوماتو او ارزونو کې د نه سمون څخه رنځ وړل شامل دی.[35]

هغه وخت چې دغه شکمنې شمېرې د ظرفيت او چمتوالي د ارزونې لپاره وکارول شي پخپله همدغه ارزونې هم تل په سمه توګه نه تطبيقېږي، ددې خطر شتون لري چې په اصلي معلوماتو کې نيمګړتياوې زياتې کړي او د ظرفيت او چمتوالي په ارزونو کې شک او ترديد اندازه زياته کړي، او احتمالاً په نامطلوبه بد بينی او نه اعتماد باندې تمامه شي.

نوې احتمالي اندېښنې دادي چې په هېواد کې دننه د متحده ايالتونو لږ حضور به په تکتيکي کچه د ANSF ځواکونو د ارزونې، څارنې، او مشورې ورکولو لپاره د وړتيا د محدوديت لامل شي کوم چې په هغه کې په زياته پيمانه د وېرې اچونې فعاليتونه صورت مومي. راتلونکې ته په تګ سره، ډېرې زياتې پايلې د غير مقداري معلوماتو څخه کمې شوې خو ډېرې مهمې دي.

په هر حال د درجه بندی طرح کارول کيږي، خو ځينې مهم عناصر چې په ظرفيت او اغيزمنتوب پورې اړه لري که څه هم په هغه کې شاملې وي خو د هغوی پيمايش ډېر سخت وي. لکه څرنګه چې د وېرې اچونې په وړاندې د مبارزې د لارښوونې کتاب وايي: "ذهني او بصيرتي ارزونه نه ښايي پر معلوماتو يا جدولونو باندې د انحصاري تمرکز ځای ونيسي."[36] آدم ماسنيز د افغانستان او عراق د مسائلو کارپوه چې د نړيوالو او استراتيژيکو مطالعاتو له مرکز سره کار کوي، د هغو مسائلوپه باره کې لکه:

د وفادارۍ په برخه کې، په تیره بیا په هغه هیواد کې لکه افغانستان چې په هغه کې توکمیزې شبکې او نورې شبکې مذهبي سیالۍ کوي؛ واحد تاریخي تاثیرات؛ "زړونه او مغزونه" ځینې مهارتونه لکه د ملکیانو له وژلو څخه ډډه کول؛ او د مورال او اغېزمنتوب باندې د فساد تاثیرات لیکلي دي.[37] د ANSF د واحدونو په هکله په مقداري ډول د اول لاس د معلوماتو د زیاتوالي لپاره د امریکایي مسلکي پوځې لږې شوې وړتیا، دغه ټول با اهمیته کوي چې ارقامي معلومات باید دقیق وي.
برسېره پردې، د افغان ځواکونو د غښتلتیا سنجش پایلې، تجهیز، او وړتیا نشي کېدای په تشه کې وارزول شي. مهمه پوښتنه داده "چې له څه شي سره پرتله شي؟" دغه سنجش ترسره کوو. د افغانستان په مبارزه کې بل بدلون، غښتلی او وړتیا د وېرې اچونې ده. جنرال کامبل سناتورانو ته وویل چې افغان وېره اچوونکي په 2015 کال کې مخ په کمزورېدو روان دي، خو اوس يې هم ماته نه ده خوړلې.

> د سیاسي نظره هغوی ورځ تربلې ځنګ ته کېږي. خوبیا هم، طالبان په خوځښت کې پاتې کېږي، سره ددې هم هغوی په 2014 کال کې هېڅ یو استراتېژیک او عملیاتي عمده موخې نه دي ترلاسه کړي، تل يې د پام وړ تلفات ورکړي... دا له تصور او څخه بهر ده چې طالبان وکولای شي په 2015 کال کې د ANSF پر ځواکونو باندې برې ترلاسه کړي. په هر حال، طالبان اوس هم کوښښ کوي تر څو خپل سیمه ایز، تکتیکي بریاوي (سره ددې چې مؤقتي دي) د مطبوعاتو له لارې په استراتېژیکو بریالیتوبونو بدلې کړي.[38]

د ANSF د واحدونو د ارزونې لپاره د درجه بندۍ ښه سیستمونه د افغانستان د حکومت د جبهه يي بریاوو د ارزونې لپاره مهم ارزښت لري. وېره اچونکي البته کولای شي له مخامخو جګړو څخه په ډډې کولو سره د خپلې اجنډاء لویه برخه تعقیب کړي، څرنګه چې هغوی د چاودېدونکو موادو، ماینونو، بم ایښودنو، انتحاري او قتل او ترور څخه په استفادې سره خپلو سیاسي موخو ته د رسېدو اوعامه نظریو د راجلبولو لپاره کوښښ کوي ترڅو جبهه يي جګړو ته ورسېږي خو نشي رسېدای. د سترو امنیتي ګواښونو سره د ANSF د وړتیاو مکمل تحلیل، ثابت مقداري ارقامو، با خبره قضاوت لکه د عملیاتونو اود افغانانو د تکتیکي فعالیتونواو ستندرد شوو ابزارو له پایلو څخه د امریکایي افسرانو مشاهدات او د ارزونې د معیاري وسایلو څخه استفادې ته اړتیا لري

## د ماموریت بریالیتوب د اعتماد وړ شمیرو پورې اړه لري

دسیګار اداره او نورې فدرالي څارنیزې ادارې په تکرار سره ویلي دي چې په هغه پروسه کې چې د ANSF پر پرسونل، د هغوی د تجهیزولو او پایدار کولو په برخه کې د متحده ایالتونو د زیاتې پانګې اچونې اندازه ګیرۍ کوی، د دقیقو معلوماتو د راټولولو، د تفتیش وړ معلوماتو، د ریکارډونو د ساتلو، روڼتیا، او حساب ورکونې په برخه کې ډېری نیمګرتیاوې شته. دغه کمزورتیاوې د لاندې دلایلو له کبله لاهم زیاتې شویدي: په موقت ډول د متحده ایالاتو د پرسونل توظیفول او د ارزونې له ابزار څخه داسې ګټه اخیستل چې یو شان والی کمزوری کوي، د ادارې حافظه له منځه وړي، نا بشپړ شوي سندونه مني، او د آرشیف معلومات له خطر سره مخامخ کوي، او پدې توګه دغه پانګه اچونه له زیات خطر سره مخامخ کوي.
ددې خطر کمول له پخوا څخه زیات سختېږي. د متحده ایالتونو او ائتلاف ځواکونو سلګونه تأسیسات تړل شوي دي، د نړیوالو ځواکونو لس ها زره تنه له هېواده وتلي دي او د متحده ایالتونو د پرسونل او څارنیزو او مشورتي کارکوونکو لپاره په هېواد کې دننه په سفرونو کې په امنیت او سرچینو پورې اړوند ستونزې زیاتې شودیدي .پر افغان معلوماتي سرچینو او ثالثو پلټونکو باندې اعتماد زیاتېږي.

ددې لپاره چې دواړه ملموس مولفه او غیر ملموس ځواک، چمتوالی، او د ANSF واحد ظرفیت ډېر اهمیت لري، د دقیقو، د تفتیش وړ او ښکاره معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره فوق العاده کوښښونه باید ادامه پیدا کړي. د پرسونل اسناد، روزنه، تجهیز او د هغوی معاشات که په هر حال دي، سربازان کولای شي وتښتي، پولیس کولای شي رشوت واخلي او د خپلو خپلوانو او ملګرو له جرمونو څخه سترګې پټې کړي، او کوچني ځواکونه له اړتیا څخه زیات تجهیز شي، کله کله کېدای شي غټو ځواکونو ته هم ماتې ورکړي. دقیق او خالص معلومات نه ښایي چې د پرسونل د شمېر او د هغوی د چمتوالي د اندازې په هکله له حد څخه زیات داړ منځته راوړي. ځرنګه چې سوسیالوجست ولیم بې. کامرون پنځوس کاله مخکې لیکلي وو چې، "نه هر هغه شی چې د حساب وړ دی، حسابېږي او نه هر هغه شی چې حسابېږي، د حساب وړ دی."[39] بیاهم، په افغانستان کې د ساختماني ماموریت په هکله د قضاوت لپاره دقیقه شمېرنه حیاتي رول لري، که چېرې ښه بسندویه هم نه وي بیاهم د کامیابي لپاره یو شرط ګڼل کېږي.

تاسو نه شئ کولای چې په یو کوچني هیواد کې چې
چندان بریالیتوبونه هم نلري، 104 امریکایي ډالر
ولګوئ. مګر یوه پوښتنه چې مونږ‌یې په حقیقت کې
پوښتنه کوو، آیا مونږ کولای شو ښه کار ترسره کړو
آیا کولای شو ډیر کار وکړو آیا کولای شو ډیرې لاسته
راوړنې ولرو چې دا ټول مسایل او ستونزې دي چې
مونږ ورسره مخامخ یو.

*— ځانګړی پلټونکی جان ایف سوپکو*

سرچینه: C-SPAN، واشنګټن ژورنال، په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو له خوا د بیارغونې تمویل شوې پروژې د 2015 زیږدیز کال د جنورې د میاشتې 5مه نېټه.

# 2
# د سيګار
# څارنه



# د سیګار د څارنې فعالیتونه (فهرست)


| | |
|---|---|
| تفتیش | 21 |
| بازرسي | 36 |
| ځانګړې پروژې | 43 |
| زده کړل شوي درسونه | 47 |
| بازرسی | 47 |
| په دغه ربع کی دی سیګار نور نظارتی فعالیتونه | 57 |
| د سیګار بودیجه | 59 |
| د سیګار کارکوونکی | 59 |


**په تیرشوي مخ کې انځور**

د مزار شریف په یوه نظامی اډه کې د الوتکې نیمه نړیدلې ګراج.

(سیګار د مایک فوسټر پواسطه اخیستل شوی انځور)

# د سيګار څارنيز فعاليتونه

سيګار په دې ربع کې 26 تفتيشونه بازرسي ليکونه او نور توليدات صادر کړل. د سيګار فعاليتونو تفتيش د افغان ملي اردو او دفاع وزارت د شخصي او حقوقي لستونو معلوماتو راټولولو او راپور ورکولو پروسه او د امريکا د متحده ايالاتو د حکومت کوششونه د افغانستان د استخراج صنعت جوړونه بررسي کوي، په داسې حال کې چې ددې مالي څېړنې له 135.1 ميليون ډالرو څخه زيات مصارف د سوال لاندې تفتيش کړې دي. علاوه له دې نه، د سيګار په تعليق کې راوستل او متوقف کولو پروګرام يو ستر پرمختګ په دغه ربع کې ددې په څو کې تر څو د مخالفتونو د حمايه کوونکو او د افغانستان د دولت سره د قراردادکولو مخنيوی وکړي.

د سيګار د فعاليتونو يوې تفتيش په ډاګه کړې کومه پروسه چې افغان ملی اردو او د دفاع وزارت د شخصي او د حقوقو د ورکړې لست (payroll) معلوماتو راپور ورکولو لپاره پکار وړل شوي ده خامياني او ضعيفي نقطې او غيرموثر نظارت insufficient oversight لري، چې د امريکا متحده ايالاتو د همکاريو مستقيمه بودجه چې د کارمندانو معاشاتو لپاره ورکړل شوي ده صحيح ده. د فعاليتونو دوهمه تفتيش راپور ورکوي چې د امريکا متحده ايالات يوه متحده تګلاره د افغانستان د څو ميلياره استخراجي صنعت پراختيا لپاره شتون نلري چې د امريکا متحده ايالاتو سفارت په کابل کې د ميانجيګري فعاليتونو په هماهنګی کې چې د افغانستان د استخراجي صنايعو پراختيا کې کم رنګه پاتې شوې دي، او په داسې حال کې د صنايعواو پټروليم وزارت مسؤلينو بعضې تخنيکي، حقوقي او تجارتي معلوماتو ته پراختيا ورکوی، د صنايعو او پټروليم وزارت اوس هم د نويو قراردادونو بدون د بيروني حمايې نه تحقيق، رايه ورکوي او مديريت کې د تخنيکي ظرفيت کموالی لري.

سيګار په همدې ډول د تفتيش يوه پانه صادره کړې چې د اداري نهايي ارزيابی د اضافي موادو د سون عصري ځای او د محلي ځای په افغانستان کې خلاصه کوي. دغې ارزيابی د اضافي موادو د دفع کولو بهتره پلانګذاري او مديريت ضرور ګڼلی دی، او په راتلونکي کې کولای شي د امريکا متحده ايالاتو د ماليه ورکوونکو پيسې په احتمالی عملياتو کې وساتي. سيګار په همدې ډول معلومه کړه چې د قوانينو، مقرراتو او نورو رهنمايي ګانو لازياته پيروي د اضافي موادو د محلي سون ځايونو د اداره کولو لپاره د امريکايي کارکوونکو د صحي خطراتو د کمښت سبب ګرځي.

په دغه ربع کې، د سيګار مالی تفتيش د داخلی کنترول په کمښت او عدم تطابق موضوعاتو کې 135.1 ميليونه دالره د پوښتنې لاندې راوستی دی. تر دی نيتې پورې، د سيګار مالی تفتيش 241.8 ميليونو ډالرو نه زيات يې د پوښتنې لاندې او 287163 ډالر دوامداره مفاد يې د فدرال دمخه ورړل شوي بسپنو يا نور هغه مقدار چې دولت ته د تاديه وړ دی په ګوته کړي. د 2015 کال د اپريل 30 پورې، تمويل کونکي اداری د مديريت په کچه 35 تفتيشونو باندی فيصله وکړه او د 11.9 ميليونه ډالر چې د پوښتنې لاندې وو د بيا حاصلولو په خاطر هڅې کوی.

## ورکړل شوی اعلاميه

- 15-36-TY اعلاميه: د اسنادو د ساتنې بيانه – په افغانستان کې د څارنې او د لوړ خطر مهمو سيمو په ګوته کولو له لارې د امريکې متحده ايالاتو د بيارغونې هلې ځلو (پروژو) اغيزمنتوب بنه کوي.

## د تفتيش ليک

- 15-33-AL پلټنې ليک: د سوځوونکو کرو وروستنی تفتيش

## د بشپړو شوو پروژو تفتيش

- 15-54-AR تفتيش: د افغان ملی اردو کارکوونکې او د معاشونو اسناد
- 15-55-AR تفتيش: د کانونو راويستلو صنعت

## د بشپړو شوو مالي چارو تفتيشونه

- 15-32-FA مالي تفتيش: د A-T Solutions شرکت له خوا ترسره شوو لګښتونو تفتيش
- 15-41-FA مالي تفتيش: د تتراتيک DPK شرکت له خوا ترسره شوو لګښتونو تفتيش
- 15-43-FA مالي تفتيش: د JS شرکت له خوا د ملاترو اسنادو د نشتوالي له کبله په پروژه کې د 135 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه ترسره شوي دي
- 15-52-FA مالي تفتيش: د لګښتونو پلټونکې اداره د ماساچوسيټ پوهنتون(UMass)
- 15-53-FA مالي تفتيش: د لګښتونو پلټونکې اداره MSI

## بشپړې شوي بازرسي

- بازرسي: د ګوريمار صنعتی پارک 15-30-IP
- 15-50-IP بازرسي: د شوراندام صنعتي پارک
- 15-51-IP بازرسي: د افغان ملي اردو مسلخ

## بشپړې شوو ځانګړو پروژو توليدات

- په دې ربع کې سيګار 14 ځانګړو پروژو توليدات خپاره کړي دي. د بشپړلست لپاره 42 مخ ته مراجعه وکړئ.

علاوه لدې، سیګار درې د تفتیش راپورونه خپاره کړل. د 7.7 میلیون ډالرو په ارزښت د ګوریمار صنعتي پارک، د بریښنا نه شتون او د متحده ایالاتو نړیوالې پراختیا اداري (USAID) لخوا د قرارداد فایلونو نه شتون سیګار د بشپړ ارزولو مخه ونیوله چې ایا د ودانولو چارې د قرارداد غوښتنو او تخنیکي ځانګړتیاو سره سمې وې که نه.

د سیګار د شوراندام صنعتي پارک تفتیش هم په ورته ډول د بریښنا نه شتون او د USAID قرارداد نه شتون له امله پرشا وتمبول شو، او د تفتیش پرمهال، د متحده ایالاتو نظامي شتون له امله په صنعتي پارک کې یوازې یوه سوداګري فعاله وه، چې دا د 48 سوداګریو میشته کولو لپاره پلان شوی و. د شوراندام صنعتي پارک ساحې څخه د متحده ایالاتو د اردو وتلو راهیسې، د راپورونو له مخې 13 سوداګریو دلته د ورتګ تکل کړی، چې تر فبرورۍ 2015 پورې ځلورو یې په کار پیل کړی.

دریم تفتیش وموندل چې په پل چرخي کې د افغان ملي اردو مسلخ هیڅکله مکمل ندی تعمیر شوی، او دا چې قرارداد لومړی تعلیق او بیا وروسته پای ته رسول شوی، د دې لاملونه د قراردادي ضعیف فعالیت او هغه پریکړه وه چې د افغان ملي اردو شته مسلخ د دوی اړتیا پوره کوي.

په دغه ربع کې د سیګار د ځانګړو پروژو دفتر دوه حقیقت پاڼي خپرې کړې، چې یو له هغوی نه د قرارداد کولو معلومات چې د امریکا دفاع وزارت (DOD) څخه تسلیم شوی وو ارزولې، چې 21 میلیارد ډالر له شاوخوا 66 میلیارد ډالرو څخه د افغانستان د بیا رغونې لپاره د امریکا دفاع وزارت ته د 2002 څخه تر 2014 مالی کال پورې اختصاص شوی، تر حساب لاندې نیولې. دوهمې حقیقت پاڼې د قوماندان بیړني غبرګون پروګرام (CERP) پروژه په افغانستان کې تحلیلوی.

همدارنګه د ځانګړي پروژو دفتر د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت، او USAID ته د سیګار د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو کاري ځواک (TFBSO) رواني کتنو په ملاتړ د معلوماتو غوښتنې لپاره لیکلې، ترڅو د افغان ملی امنیتی ځواکونو (ANSF) اوسنی او راتلونکی اندازه او جوړښت په هکله شوی تحلیلونه وڅیری، ترڅو خپلې اندیښنې د ظاهراً بیکاره ساختماني چارو په هکله چې د امریکا اوسنی او پخوانی نظامی مرکزونو کې چې په افغانستان کې وو وښیی، او همدارنګه د افغان ګمرکی عایداتو وړاندوینه شوی کمښت تاثیرات د دولت د بودیجوی تعهداتو پوره کولو وړتیا باندې واضحه کړی. نورو لیکونو د USAID د ښځو د واکمنولو پروګرام د تاثیراتو اغیزناک تطبیق، نظارت او تشخیص لپاره وړتیا، د افغان دولت د اضافی بودیجی مالی ضرورت، په کومه توګه چې د هوډمن ملاتړ ماموریت (RSM) د خپلو هڅو د پرمختګاندازه لګوی تر څو د افغان ملی امنیتی ځواکونو د مؤثریت او پایښت یا پایداری څخه اطمینان حاصل کړی، د کندهار ښار لپاره د اعتبار وړ او دوامداره بریښنا موجودیت، او افغان ملی امنیتی ځواکونو ته د امریکایی ځواکونو نظامی مرکزونو انتقال، په اړه څیرنی کړی دی.

د راپور ورکولو په دوره کی، سیګار 1.1 میلیونه ډالر د جرمانی، جبران او ضرر په شکل د امریکا متحده ایالاتو دولت ته وژغورل. د سیګار پلټنی د درې توقیف او زندانی کولو، پنځه جرمی معلوماتو، اوه کسه په جرم پیژندل، څلور محکوم کولو او د دوه کسانو د امریکا نظامی تاسیساتو څخه ویستلو سبب شول. سیګار 29 نوی پلټنی شروع کړی او 36 پلټنی یی تړلې، چې د ټولو روانو پلټنو شمیره یی 324 ته رسیږی. تر دی نیټی د سیګار د پلټنو په نتیجه کی 571.6 میلیونه ډالر سپمول شوي دي.

د سیګار د تعلیق او مخنیوي پروګرام 22 افراد او 22 شرکتونه د امریکا دولت له اړخه د قرار داد له لاسته راوړو څخه تعلیق او مخنیوي ته راجع کړی. له دغه کسانو څخه څلور د جنایی جرمونو په اساس چې د دوی په خلاف د افغانستان بیارغوني قراردادونو پورې اړوند ناوړه فعالیت لپاره راجع شوي. دغه مراجعې د افرادو او شرکتونو مجموعی شمیره چې د سیګار له خوا د 2008 کال را پدیخوا په ګوته شوي 608 ته رسوي چې تر دې دمه پکې 326 افراد او 282 شرکتونه شامل دي. له دې نه علاوه، د ربع په شروع کې، د 43 اشخاصو او سازمانونو اکثره برخه چې سیګار نظامی برخې ته راجع کړی، په عامه توګه د عامه خدمتونو مدیریت (GSA) سیستم د قراردادونو د ورکړې مدیریت (SAM)، یو آسانه لاسته راوړونکې یادداشت قرارداد کوونکې مدیرانو او لومړنې قراردادکوونکو ته تهیه کوي چې دغه لست شوي اشخاص او اداری باید له قرارداد، مالی کومکونو او د همکاریو موافقت نامو نه محدود او منع کړای شي.

## تفتیش

سیګار د پروګرامونو او پروژو چې افغانستان پورې تړلې دي د هغوی د فعالیتونو تفتیش کول، بازرسي کول، او مالی چارو تفتیش کول سرته رسوی. کانګرس ته د وروستی راپور ورکولو راپدیخوا، سیګار دوه د فعالیتونو تفتیشونه راپورونه، دری بیا کتنې، پنځه د مالی چارو تفتیشونه راپورونه خپاره کړی دي. په دغه ربع کې، سیګار دوه نوی د فعالیتونو تفتیشونه شروع کړی، چې په مجموع کې د رووانو فعالیتونو تفتیشونه تعداد 14 ته رسیږي. د فعالیتونو د تفتیشونه چاپ شوی راپورونه د افغان ملی اردو کارمندانو او د حقوقو د ورکړې لست (payroll) معلوماتو او د امریکا د متحده ایالاتود برنامو چې د افغانستان د استخراجی صنعت د پراختیا د کامیابی او پایداری لپاره په نظر کې نیولی شوی اعتبار او اطمینانیت ارزیابی کوی. د فعالیتونو تفتیش په مجموع کې 7 سپارښتنې کړی دي؛ د ساختمانی تفتیشونه دری سپارښتنې کړی دي. د مالی چارو پلټنې د داخلی کنترول ضعف او تخلفی موضوعاتو په نتیجه کې له 135.1 میلیون دالرو نه زیات مصارف سوال لاندی راوستی دي.

## د تفتیش لیکونه

سیګار د تفتیشونه لیکونه خپروی تر څو د امریکا اردو او ملکی مسؤلونو پام اندیښنو ته وروړوي. لکه څنګه چې سیګار د خپل کاری چوکاټ جوړولو ته ادامه ورکوی، سیګار به د تفتیش لیکونه چې د دوی د کار خلاصه او سیستماتیک موضوعات چې دې اداری مشخص کړی دی صادری کړی. د څلورو تفتیش راپورونو او د خبرداری لیک صادرولو نه وروسته چې په ټول افغانستان کې د اضافه موادو د سوزولو خایونه په کې شامل وو، سیګار د پلټنې پاڼه خپره کړه چې د سیګار آخری ارزیابی کې په افغانستان کې د اضافی موادو د سوځولو ځای په هکله تفصیلی معلومات شامل دي.

### د پلټنې لیک AL-33-15: په افغانستان کې د اضافی موادو د سون ځای په هکله آخری ارزیابی

د 10 فبروری 2015، سیګار خپل نهایی ارزیابی چې اداری د خپلو پلټنو په اساس د اضافی موادو دسون ځای او کوم سیستم چې په افغانستان کې رایج ده، خپل معلومات چاپ ته ورساوه. په 2001 کال کې افغانستان ته په راتګ سره د امریکا پوځ ته ضرورت وو چې د هغه اضافی موادو چې د هغوی د کارکوونکو له خوا په ټول افغانستان په نظامی مرکزونو کې تولیدیږی دفع کړی. د امریکا متحده ایالاتو پوځ په کال 2011 کې خپل اعظمی تعداد چې تقریباً 110000 کسانو ته ورسید. په مجموع کې دغه کارکوونکو د ورځې 440 ټنه اضافی جامد مواد تولیدول چې پلاستیک، اضافی خوراکی توکی، قوطی، برقی وسایل، فرنیچر، فلزی کانتینرونه، ټایرونه، او بتری په کې شاملې وی. په افغانستان کې د احتمالی

**د اجراآتو تفتیشونه:** د تایید شوو معیارونو پروړاندې د بشپړو او مناسبو شواهدو د ارزونې پربنسټ د تضمین یا پایلو چمتو کول. د اجراآتو تفتیشونه نظري تحلیل او شننه چمتو کوي بناً اداري او دولتي مسؤلین د معلوماتو څخه د پروګرام د اجراآتو او عملیاتو د ښه کولو، د لګښتونو د کمولو او د طرفینو له خوا د پریکړو نیولو لپاره لارې هوارولو لپاره کار اخلي او ورسره د دولت د حساب ورکولو لپاره د اصلاحی اقدامتو څخه د څارنې او شروع کولو مسؤلیت په غاړه واخلي. د اجراآتو تفتیش په عمومي ډول د پلټنې د منل شوو دولتي معیارونو (GAGAS) او د فدرالي اداري د پلټونکي دفتر د CIGIE د کیفیت معیارونو سره سم ترسره کیږي.

**بازرسي:** څارنې د پروګرامونو د ډیزاین، پلي کولو او د یوې اداري د عملیاتو د پایلو سیستمیک او خپلواکي ارزونې ته وایي. سیګار د څارنې او ارزونې لپاره د CIGIE د کیفیت معیارونوسره سم څارنې ترسره کوي څو په افغانستان کې د زیربنا او نورو ودانیو د ودانیزو چارو د کیفیت په هکله کانګرس او دولت ته معلومات چمتو کوي او په عمومي ډول سره د دې خبرې ارزول چې ودانۍ تر کومه حده د قرارداد د شرایطو سره سم جوړې شوي او د کوم هدف لپاره چې جوړې شوي د هماغه هدف لپاره ورڅخه کار اخیستل کیږی او په مناسبه توګه ساتل کیږي.

**مالي تفتیشونه:** د یوې خپلواکې ارزونې ترسره کول او مقعول تضمین ورکول چې آیا د راپور شرایط، پایلې او د سرچینو څخه ګټه اخیستل د پیژندل شوو معیارونو سره سم، وړاندې شوي او که نه. سیګار د GAGAS سره سم مالي پلټنې ترسره کوي چې په هغې کې دواړه شرایط د CPAS په امریکایي پوهنتون کې د پلټنې معیارونه او اضافي شرایط چې په GAGAS کې چمتو شوي، شامل دي. همدارنګه سیګار په هغه مالي پلټنو له سره غور کوي چې د IPA له خوا ترسره شوي دي. کله چې IPA مالي پلټنه ترسره کوي، سیګار یوه معقوله او مناسبه کړنلاره ترسره کوي څو د GAGAS سره د مطابقت په هکله ډاډ ترلاسه کړي چې دا کار د IPA په پام کې نیول شوو کارونو او د مسؤلیت د اندازې پربنسټ چې د سیګار له خوا منظور شوی، ترسره کیږي.

### د تفتیش لیک

15-33-AL تفتیش لیک: په افغانستان کې د سوځولو د کرو وروستنی ارزونه.

عملیاتو په څلورو لومړیو کلونو زیاته برخه کې د امریکا نظامی پوځ د اضافی موادو د دفع کولو په خاطر د اضافی مواد د سون سرخلاصی ځایونو څخه ګټه اخستله.

په 2004 کال کې د امریکا دفاع وزارت په افغانستان کې د اضافی جامدو موادو د دفع کولو او له منځه وړلو نوی تګلاره معرفی کړه، چې په دې کې د اضافی موادو د دفن او سون ځای شامل دی. ددې تر څنګ د امریکا دفاع وزارت د هغو خطراتو چې د سر خلاصی سون ځایونو چې پخوا له دې نه چې د اضافی موادو سوزول په افغانستان کې پیل شی له امله رامنځ ته کیږی علمیت درلود، دا تر 2009 کال پورې کله نه چې د امریکا متحده ایالاتو مرکزی قومانده (CENTCOM) د جامدو اضافی موادو د مدیریت په خاطر پالیسی او پروسیجرونه جوړ کړل، چې د سرخلاصی سون ځایونو د عملیاتو، نظارت او کمولو ضروریات پکې شامل دی.

د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو چې د افغانستان نه بیرته امریکا ته ستانه شوی صحی مشکلاتو په هکله راپورونه ورکړی دی، دوی ادعا کړی چې د اضافی موادو د سر خلاصی سون ځایونو له امله چې ددوی د هستوګنی ځای سره نژدی واقع دی د آلوده ګی د تولید په سبب په مرضونو اخته شوی دی. وروستنی صحی مطالعی تشویشونه راپورته کړی چې معلق ذرات او زهری لوګی چې په سرب، سیماب، دای اکسیجن او سوزنده ګازونو باندی ککړ دی په سرخلاصی سون ځایونو کی تولیدیږی چې د یو شخص داخل او د بدن سیستم په ناوړه شکل اغیزمن کولای شی. د 2010 کال په اګست کې CENTCOM راپور ورکړی چې 251 سرخلاصی د اضافی موادو د سون ځایونه په افغانستان کی شتون لری، چې د 4 میاشتی وړاندی په کچه 36.4% زیات شوی دی.

د 2010 کال په شروع کې په افغانستان کې میشت امریکایی ځواکونه (USFOR – A) راپور ورکړی چې 20 د اضافی موادو د سون سیستمونه فعال او 46 نور یی نصبولو ته چمتو دی. د سیګار یو وړاندیز ته چې د اضافی موادو د سون لپاره د نظامی جوړښت د تهیه شوی بودیجی په واسطه جوړشوی په جواب کی CENTCOM نهه نصب شوی سیستمونه وښودل، چې 23 پکی د اضافی موادو د سون سیستمونه وو چې ددغه بودیجی نه جوړ شوی دی. د دغه سیستم د اخیستلو او نصبولو لپاره ترکیب شوی مصارف تقریباً 81.9 میلیونه ډالر وو.

د اکتوبر 2012 څخه تر جولای 2014 پوری، سیګار د نهو له جملی نه د څلورو اضافی موادو د سون ځایونه (لیترنیک کیمپ په هلمند ولایت کی، فاروارد عملیاتی کیمپ (FOB) سالیرنو په خوست ولایت کی، FOB شرنه پکتیکا ولایت کی، او شینډنډ هوای مرکز په هرات ولایت کی) چې د نظامی ساختمانی بودیجی په واسطه جوړ شوی دی پلټنی وشوی. دغه راپور د سیګار د مخکینی پلټنی راپور په اساس چې په افغانستان کی د جامد اضافی موادو دفع کولو په هکله دی تیار شوی، ددی دپاره تر څو د اضافی موادو د سون ځای د قرارداد او ساختمان پلانګذاری، مدیریت، او اشتباهات ارزیابی شي چې په نتیجه کی د جامد اضافی موادو د دفع دپاره ورڅخه ګټه نده اخستل شوی یا محدوده ګټه تري شوی او د سر خلاص ځایونو څخه چې د اضافی مواد د سون دپاره تیار شوی استفاده دوام پیدا کړی.



په FOB سالرینو کې د کثافاتو د سوځولو دوه ستري کري.
(سیګار د ادریل هراري انځور).

سیګار د جامدو اضافي موادو د دفع بهترین پلانګذاری او مدیریت خلاصه کړی چې مخکې د راتلونکی احتمالی عملیاتو څخه ضرور دی. علاوه له دی نه سیګار، تعیین کړی چې د قرارداد لرل او د حکومت د قرارداد مدیران د پروژی د تطبیق د قرارداد د موارد مطابق مسؤول دی چې کولای شی د امریکا متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکو پیسی په راتلونکی احتمالی عملیاتو کی وساتی. سیګار په همدی ډول د قوانینو، مقرراتو او نورو لاربنوونو ته چې د اضافی موادو د سون په ازاده فضا کی اداره کوی پیشتبانی کوی چې د امریکا پوخ ته د صحی خطراتو د کمښت سبب ګرځی.

د دفاع څانګی لپاره، پلانګذاری به د زیاتو مسایلو چې د جګړې په شروع کیدو سره ضرور ده چې په نښه شی د کموالی سبب شی. د متحده ایالاتو نظامي او ملکي پرسونل لپاره، پلان کول به د سرخلاصي سون ځای کاروبو اړتیا باندې تکیه کولو وخت محدود کړي او د همدې لپاره د هغه وخت مقدار هم چې دوی دغه موادو پورې تړلي اغیزو احتمالي خطر سره مخ وي.

## د فعالیتونو تفتیش راپورونه چاپ شو

په دغه ربع کی سیګار دوه د تفتیش راپورنه چاپ کړل چې د افغان ملی اردو کارمندان او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو اعتماد او د امریکا متحده ایالاتو د افغانستان د استخراجی صنعت د پراختیا پروګرام کامیابی او پایښت یې ارزولی.



### تفتیش 15-54-AR: افغان ملی اردو

**په میلیونونه ډالر د کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو لږترلږه څار له امله په خطر کی دي.**

له 2009 کال راهیسی، د امریکا متحده ایالاتو دولت 2.3 میلیارد ډالر د افغان ملی اردو معاشونو او هڅونی لپاره تهیه کړی دی، چې د افغان هوایی ځواک هم پکی شامل دی. د 2015 کال جنوری میاشت کی، اساسی دستورالعمل 4، د نوی ناټو یوه اساسی برخه هوډمن ملاتړ ماموریت، راپور ورکړی چې 169,203 کسان افغان ملی اردو ته استخدام شول، چې د 195000 څخه 87%یی د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پوری استخدام شول. د دفاع وزارت او افغان ملی اردو کارمندان او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلومات راټولوی، په داسی حال کی چې RSM اساسی او حیاتی فعالیت 4- ضرورت ده تر څو د دفاع وزارت په شفافه پروسه لرلو کی ملاتړ کړی تر څو دغه معلومات راټول او تحقیق یی وکړی. CSTC-A چې مخکی له دی چې RSM راولاړ شو دغه کار یی پر مخ وړ، د امریکا متحده ایالاتو د مستقیم همکاری چې دفاع وزارت ته د ملی اردو د معاشاتو لپاره تهیه شوی نظارت مسؤول دی. لکه څرنګه چې ددی ربع د راپور په لومړی برخه کی ویل شوی، د افغان ملی اردو دقیق کارمندان او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلومات د هیواد د ثبات او امنیت د تأمین لپاره ضروری دی.

ددی تفتیش اهداف د (1) هغه پروسي چې د هغه په واسطه CSTC-A اساسی فعالیت 4- او د افغان دولت شخصی او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلومات د افغان ملی اردو استخدام شوی او په وظیفه کی موجود کارمندان (2) څرنګه CSTC-A اساسی فعالیت 4- او د افغان دولت دغه معلومات ذخیره، لاسرسی، انتقال او استعمالوی (3) حد او اندازه چې CSTC-A اساسی فعالیت 4- او دافغان دولت د افغان ملی اردو کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو نظارت او تطبیق کوی تر څو د معلوماتو دقت او صحت معیین شی، تشخیصوی.

سره له 13 کلونو او ميلياردونه ډالرو همکاری د افغان حکومت سره د افغان ملی اردو د معاشاتو لپاره، لا هم هيڅ ډول اطمينان د اشخاصو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو د دقت او صحت په هکله نشته. که څه هم د امريکا متحده ايالات او د افغانستان حکومت په مؤثر ډول افغان ملی اردو کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) پروسی په ښه والی باندی کار کوی، هغه پروسی په غټه پيمانه د داخلی کنترول کمبود او عيبونه په ډاګه کوی.

سيګار وموندل چی اساسی فعاليت 4- (او مخکی له جنوری 2015 څخه، CSTC-A)، په دفاع وزارت او افغان ملی اردو باندی متکی دی ترڅو د افغان ملی اردو کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو په هکله دقيق راپور ورکړی. اما د افغان ملی اردو پروسه د هر ځانګی په سطح د حاضری معلومات راټولول، چی د هغه په اساس د افغان ملی اردو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) ټول معلومات ثبت شوی، چی محدود نظارت او ضعيف کنترول لری او په دوامدار ډول د افغان ملی اردو په ځايونو کی تطبيق شوی دی. د افغان ملی اردو نظارتی مسؤلينو ته د ټيټی سويی ځانګو د حاضری معلوماتو نظارت محدود ضروريات دی. د CSTC-A مسؤلين د حاضری اخستلو په جريان کی حاضر نه وی، او د قوماندانی مسؤلين سيګار ته په ډاګه کړه چی دوی په دغه پروسه باندی محدود معلومات او نفوذ لری. د هر واحد په سطح يواځينی کنترول د افغان ملی اردو دقيق حاضری روزانه راپور نه اطمينان حاصلول – هغه فهرست دی چی د افغان ملی اردو يی هره ورځ لاسليک کوی- په دوامدار شکل د ملی اردو په ټولو ځايونو کی نه استعماليدل. د مثال په ډول، افسرانو د حاضری فهرست استعمالول، اما لست شوی کارمندانو به هغه نه امضا کول. دغه بی کنترولی د فهرست شوی کارمندانو حاضری کم اطمينانی رامنځ ته کوی دا چی د هر واحد قومانداناتو دی په دقيق ډول د حاضری راپور ورکړی وی. دغه کمزورتياوی د افغان ملی اردو د حاضری جمع کولو پروسه کی کيدای شی د هغه ورځو چی کارمندان غير حاضر وی او د معاش اخستلو سبب شوی وی پرته له نظارتی کارمندانو د علميت څخه.

CSTC-A، اساسی عمل 4- او د دفاع وزارت د دواړو عادی پروسی او بريښنايی سيستم څخه د افغان ملی اردو کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو د ساتلو، لاس رسی، انتقال او استفاده کولو لپاره ګټه اخلی. اما ددغه پروسو او سيستمونو خاميانی او کمزورتياوی د افغان ملی اردو د صحيح معاشاتو اطمينان محدودوی. سيګار دا په ډاګه کړی چی د افغانستان د بشری منابعو د معلوماتو مديريت سيستم – د افغان ملی اردو د بشری منابعو سيستم چی CSTC-A يی د 2010 کال راهيسی تطبيقوی- د بعضی بريښنايی معلوماتی سيستم عمليات او کنترول کمی لری، د مثال په ډول د فعال او غير فعال کارمندانو د جدا کولو توانايی، او د افغان ملی اردو کارمندانو د مقام او پيژندګلوی نمبر په اساس په ښه کول. علاوه له دی نه، د دفاع وزارت د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو بريښنايی سيستم د افغان ملی اردو د معاشاتو د معلومولو په خاطر نه لری، او معاشونه په لاس باندی محاسبه کوی. اضافه له دی نه، د افغان دولت مالی مديريت سيستم، د افغان مالی مديريت معلوماتی سيستم، يواځی د افغان ملی اردو د معاشاتو مجموع مصارف له ځانه سره لری، او د معاشاتو فردی تاديه نه شی حسابولی.

سيګار په ډاګه کړی چی د دفاع وزارت، CSTC-A او اساسی عمل 4 د افغان ملی اردو ځواکونو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو د دقت او صحت په خاطر مستند پروسيجرونه نلری. د دفاع وزارت افغان ملی اردو حاضريانی او د راپور ورکونی پاليسی د کارمندانو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلوماتو تصديق لپاره د مشخصو پروسيجرونو کمبود لری. د دفاع وزارت مسؤلين تاييدوی چی د افغان ملی اردو معلوماتو د تصديق پروسه غير رسمی ده، او د ليکلو معيارونو



د سیګار کارکوونکي د هرات په ولایت کې د افغان ملی اردو د کارکوونکو څخه معلومات راټولوي (سیګار انځور د نصر الدین له خوا)

او کړنلارو په نظر کی نه نیولو سره سرته رسیدلی دی. په همدی ډول سیګار په ډاګه کړی چی اساسی عمل 4 او CSTC-A د افغان ملی اردو کارمندانو معلوماتو هیڅ ډول مستقیم نظارت سرته ندی رسولی او د کارمندانو د ارقامو چی د دفاع وزارت له خوا ورته راپور شوی وو د دقت په هکله یی په کم تعداد اقدامونه کړی دی. د تصدیق او تایید کوششونه چی CSTC-A راپور ورکړی وو. جوابګویی یی یوه موقتی آګاهی وه، او کله نا کله په اساس د خاصو مسؤولینو غیر مستند پیژند ګلوی د معلوماتو او د دفاع وزارت د راپور تر منځ وه. علاوه له دی نه، CSTC-A د امریکا متحده ایالاتو د همکاری بودیجی نه چی د افغان ملی اردو معاشاتو لپاره ځانګړ شوی دی ډیر لږ نظارت کوی، چی د قوماندې لپاره یی دا مشکل ایجاد کړی تر څو اطمینان حاصل کړی دغه بودیجه د افغان ملی اردو مجاز کارکوونکو ته په صحیح معاش ورکولو سره استعمال شوی ده. علاوه له دی چی CSTC-A خپل ضروریاتو نه چی د وزارتونو مستقیم همکاری لاسته راوړلو نه اطمینان حاصلول دی – د دفاع وزارت هم پکی شامل دی- مناسب مالی کنترول او د څیړنی وړ سوابق یی هم ساتلی دی. سیګار په ډاګه کړی چی قومانده د دفاع وزارت مالی اسناد او سوابق لاسته نه راوړی او د جنوری 2013 راپدیخوا د دفاع وزارت د فعالیتونو یواځی دوه ځلی څیړنه شوی ده. دغه تفتیشونه یا څیړنی د کارمندانو بعضی نمونی چی بدون له کوم فعالیت نه یی معاش لاسته راوړی دی او قاطع پیژندګلوی یل هویت نه لری په ډاګه شوی دی.

څنګه چې د متحده ایالاتو او ایتلاف ځواکونه خپل وتلو ته دوام ورکوي، نو د متحده ایالاتو حکومت به د افغان ملي اردو معلوماتو راټولولو پروسو باندې مخ پر ډیریدو محدود نظارت ولري. د پایلې په توګه، د متحده ایالاتو حکومت به اړ شي لانور د افغان ملي اردو پرسونل او معاشاتو حاضرۍ معلوماتو او ډیټا لپاره د افغان دفاع وزارت وړتیا باندې تکیه وکړي چې نوموړی وزارت به د دغه ډیټا صحت تاییدوي. غیر لدې چې افغان دفاع وزارت د دې معلوماتو صحت څخه ډاډ وړاندې کولو او تایید لپاره ظرفیت رامینځته کړي، د پام وړ خطر شتون لري چې د افغان ملي اردو معاشاتو لپاره د متحده ایالاتو تمویل له ضایع کیدو یا اختلاس سره مخ شي.

سیګار سپارښتنه کوی چی قومانده، USFOR-A – د ناټو د هوډمن ملاتړ ماموریت او د دفاع وزارت سره په هماهنګی، په مناسب شکل- (1) د واحد په سطح د حاضریو پروسی اضافی روزمره کنترول تطبیق کړي، د مثال په ډول ټول کارکوونکی باید د داخلیدو او بیرته وتلو په وخت کی اجباراً امضا وکړی، د حاضری پروسه کی د هویت یا پیژندګلوی نمبر استعمال ضرور ده، او ناظر شخص باید حاضر وی تر څو دغه پروسه نظارت او تصدیق د 2015 کال د دسمبر میاشتی پوری وکړی.
(2) اطمینان باید حاصل شی چی د اپریل 2017 پوری، د دفاع وزارت یو فعال بریښنایی سیستم د افغان ملی اردو د کارکوونکو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلومات د قل اردو په کچه یا د هغی نه پورته سطح باندی په نښه او راپور ورکوی، د افغان ملی اردو معاشونه حسابیږی، او اطمینان حاصل شی چی دغه سیستمونه د داخلی اشتباهاتو، بهرنی تناقضاتو او لاس وهنو د مخنوی په خاطر مکمل کنترول لری. (3) یو د تاییدی او تصدیق پلان چی هغه پروسیجرونه په کومو چی د دفاع وزارت د افغان ملی اردو او د حقوقو د ورکړی لست (payroll) معلومات تصدیقوی باید د 2015 کال د جولای تر 31 پوری تیار او تطبیق شی، (4) د 2015 کال د جولای تر لومړی نیټی پوری لیکلی پروسیجرونو آماده کړای شی تر څو د افغان ملی اردو معلومات د تصدیق لپاره ضروری ګامونه مستند کړای شی، چی خطر پروسیجر چی د افغان ملی اردو په موقعیتونو کی د فزیکی تصدیق فعالیتونو سرته رسولو لپاره پکاریږی، او پروسیجرونه د افغان ملی اردو د ټولو موجود معلوماتو تطبیقول پس له هر مصرف نه چی حاضری، کارکوونکی او د تادیی معلومات او د معاشونو د ورکړی تصدیق پکی شامل دی آماده کول.

## تفتیش 15-55-AR: د افغانستان استخراجي صنایع

### د امریکا 500 میلیونه ډالر پانګه اچونه په خطر کی ده.

د امریکا حکومت اټکل کوی چې افغانستان کی د پام وړ مینرالونو، تیل او طبیعی ګازو منابع شتون لری. د افغانستان د مینرالونو ذخایر تقریباً 900 میلیارد ډالره ارزښت لری، ددی هیواد تیل او طبیعی ګاز 220 میلیارد ډالرو نه زیات ارزښت لری. د افغانستان د مینرال او هایدرو کاربن (تیل او طبیعی ګاز) ذخایر اندازه او اهمیت ته په کتو، د امریکا متحده ایالاتو په یو تعداد طرحو باندی کار وکړ تر څو په افغانستان کی استخراجی صنعت ته وده ورکړی. ددی تفتیش یا پلټنی اهداف (1) د TFBSO طرح او USAID پروګرامونو تشریح چې د افغانستان داستخراج صنایع د ملاتړ قصد درلود، (2) د هغه مسیرونو او تګلارو معرفی کول چې د امریکا متحده ایالاتو حکومت ملاتړ د افغانستان د استخراجی صنایعو لپاره د 2009 کال راهیسی رهنمایی کوی، او (3) د TFBSOاو USAID طرحو چې د پایداره پلانګذاری سره یی همکاری کړی حدود معلومول او د موجودیت په صورت کی مشکلاتو پیژندل، د صنایعو د کامیابه پایداری لپاره.

د 2009 کال راپدیخوا، د دفاع وزارت TFBSO او USAID د افغانستان د استخراجی صنایعو د ملاتړ لپاره مستقیم مستقیم مرسته کړې ده. د TFBSO اسناد ښیی چې 11 طرحی یی اداره کړی دی چې موخه یی د افغانستان د استخراجی صنایعو پراختیا او دغه هڅی یی د قراردادونو، دخریداری پیشنهادونو او توافقاتو په واسطه تطبیق کړی دی چې 282 میلیونه ډالرو ته رسیږی. په 2013 کې د افغانستان د معدنونو صنعت پراختیا ملاتړ لپاره، USAID د معدنونو د پانګوونې او د افغانستان پایداره پراختیا (MIDAS) پروګرام تطبیق کړ. د هایدرو کاربن صنعت دپاره، USAID په 2011 کی دوه وسیعی طرحی د شبرغان د ګازو تولید (SGGA) او د شبرغان د ګاز پراختیایی پروګرام (SGDP) تاسیس کړی. د دې پلټنې لپاره، سیګار د SGDP پروګرام چې د USAID د عمومی تفتیش دفتر لخوا بیا کتل شوی و، ونه آزمویه.USAID د دې 206 میلیون ډالرو فعالیتونو لپاره د مکلفیتونو سره په ګډه د قراردادونو له لارې دغه برنامې پلي کړې.

د سیګار له خوا د لاسته راغلو معلوماتو سره سم، د امریکې متحده ایالاتو حکومت د افغانستان د کانونو د راویستلو صنعت د پراختیا په موخه یوه بشپړه او جامع تګلاره نه درلوده چې د دې پرځای د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو کارې ځواک (TFBSO) او د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایی ادارې (USAID) مختلفې لارې چارې تعقیب کړې. د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو کارې ځواک (TFBSO) د خپلو نوښتونو(پروګرامونو) لپاره څوکلن پلانونه او کړنلارې نه درلودې څو د افغانستان د کانونو د راویستل وصنعت ته پراختیا ورکړي او نه یې د پروژې د ټاکلې معیارونو، پروژې د پایلو د اندازه کولو او اسنادو او پروژې د څارنې او ارزونې لپاره لیکلې لارښود رامینځته کړی دی. د دې برخلاف سیګار معلومه کړې ده چې د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د د افغانستان د ثبات له پاره د پانګونې او د کانونو د پراختیا پروژې (MIDAS) د افغانستان د کانونو سکتور هغه برخې په ګوته او معلومې کړې دې چې مرستو او همکاریو ته اړتیا لري، د افغانستان د کانونو سکتور د پراختیا لپاره یې کړنلاره جوړه او د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د پانګونې په موخه یې د بالقوه ساحاتو د ټاکنې د معیارونو لپاره یو ګروپ څرګند معیارونه وضع کړې دي. د سیګار د لاسته راغلو معلوماتو سره سم، د MIDAS کارې ډلې د خپلې پراختیایي کړنلارې او موخو په هکله د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د تولو اړونده کسانو او ادارو سره کافي معلومات شریک کړي نه دي. د شبرغان ګاز د تولید پروژو (SGGA) پروګرام د افغانستان د هایدروکاربن سکتور د پراختیا لپاره د مستندو کړنلارو له خوا په ورته ډول رهبري شوي دی. په عمومي ډول سره د کړنلارو د نشتوالي سربیره په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت د ادارتوترمنځ د هغه فعالیتونو د همغږي کولو لپاره چې موخه یې د افغانستان د کانونو د راویستلو صنعت پراختیا وه، ډېر کم کار کړی دی.



د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایی اداره (USAID) د کانونو او پټرولیم په وزارت کې د کانونو ریاست کارکوونکو ته روزنه ورکوي څو د کانونو د راویستلو صنعت د ټکنالوجۍ د ښه کولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي. (د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې د MIDAS پروګرام انځور)

د امریکې متحده ایالاتو سفارت چارواکو ویلې دي چې د TFBSO سره د فعالیتونو همغږۍ کول یوه ننګونه وه ځکه چې د سفارت چارواکو د ټګلارو جوړولو صلاحیتونه نه درلوده او په TFBSO باندې یې ډېر لږ نفوذ درلوده. د TFBSO یو لوړ پوړي چارواکي ویلې دي چې کارې ځواک د سفارت د چارواکو سره د حسن نیت په شکل همغږي کوله نه د اړتیا پربنسټ نو ځکه دوی د امریکې متحده ایالاتو د قوماندانی ځنځیر ته ځواب ورکړی نه سفارت ته.د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداره (USAID)، د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او TFBSO چارواکو ویلې دي چې دوی د روانو او راتلونکو چارو په هکله د خبرو اترو په موخه یو له بل سره لیدلې دي. په هر حال دوی ټولو موافقه کړیده چې یادې غونډې سرسري وې او د همغږۍ هلې ځلې هغه وخت یو له بله جلا شوې چې په افغانستان کې د TFBSO فعالیتونه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې پای ته ورسیدل. د سیګار بیاکتنې ښودلې ده چې د TFBSO د معلوماتو شریکولو هلوځلو کې کمزورتیا چې په 2011 زیږدیز کال کې د GAO له خوا په ګوته شوی ده په پراخه پیمانه پرته له بدلون څخه پخپل حال پاتې ده.

سیګار د معلوماتو سره سم، سره له دې چې د کانونو او پټرولیم وزارت چارواکو د TFBSO تر چوکاټ لاندې او د USAID په مرسته او همکاری یو شمیر تخنیکي، حقوقي او سوداګریزو معلوماتو ته پراختیا ورکړې وه خو بیا هم د امریکې متحده ایالاتوحکومت، افغان حکومت او مدني ټولني اداری ټول په دې موافق دی چې د کانونو او پټرولیم وزارت لا تر اوسه د بهرنیو مرستو او همکاریو څخه پرته د نوو قراردادونو د لاسته راوړلو او کنټرول په موخه تخنیکی وړتیا نلري. د USAID، TFBSO او کانونو او پټرولیم وزارت د چارواکو د معلوماتو سره سم، د کانونو او پټرولیم وزارت د بهرنیو سلاکارانو د مرستو او همکاریو پرته د متوسطو او سترو دولتي قراردادونو د داوطلبی (مزایدو) یا سیالي کولو د کنټرول او اداره کولو لپاره تخنیکی وړتیا نلري. سربیره پردې د مدني ټولنې ادارو استازو اندیښنه ښکاره کړیده چې د کانونو او پټرولیم وزارت او د افغانستان حکومت نور بنسټونه او اداري د کانونو د راوستلو صنعت کې د خپلو قانوني رول د لوبولو صلاحیت او وړتیا نه لري او ښایي د تمویلوونکو ادارو او هیوادونو په نه شتون کې به نور هم کمزوري شي.

د 2011 مالي کال لپاره د ایکي سکلټن د ملي دفاع د واک ورکولو قانون (NDAA) فرعي برخه 1535(b) ،Pub. L. No. 111-383, 124 Stat. 4137, 4427 د امریکې متحده ایالاتو د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID څخه غوارې چې په ګډه یو پلان جوړ او کانګرس ته واستوي او د هغې له مخې په افغانستان کې د TFBSO فعالیتونه د امریکې متحده ایالاتوبهرنیو چارو وزارت یا USAID ته ولیږدوي. سره له دې چې د 2011 زیږدیز کال د مې په میاشت کې کانګرس ته د فعالیتونو د لیږدولو استول شوی پلان کې هغه موخې چې د TFBSO څخه USAID ته په بریالیتوب سره د فعالیتونو لیږدلو لپاره مهم دي، طرحه او ځای پرځای شوې دي، خو بیا هم ادارو د ځانګړو پروژو لپاره د لیږد ځانګړي کړنلارې هیڅکله مشخصې او په ګوته کړې نه دي.د همغږۍ نشتوالی په پراخه پیمانه د هغه حقایقو له کبله وه \چې د TFBSO ټولې پروژې د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې د افغانستان څخه د دوی د وتلو څخه مخې د مهال ویش سره سم، باید پای ته ورسیږې او د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) او د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د هغه پروژو سره د مرستې او همکاریو چمتو کولو غوښتونکې نه وه. په پایله کې هیڅ یوې امریکایي اداري چې په افغانستان کې پاتې کیږي د TFBSO د کانونو د راویستلو نوښتونو (پروژو) د څارنې، ارزونې یا ملاتړ ته د ادامې ورکولو په موخه ټاکلې پلانونه نه درلودل.

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) د SGDP، MIDAS او SGGA پروګرامونه چې د منرالونو او هایدروکاربن سرچینو په پراختیا باندې متمرکز دي، د افغانستان د حکومت له خوا د دې پروګرامونو د پایداری په هکله د داډ ترلاسه کولو لپاره ټاکلې پلانونه چمتو او رامینځته کړې نه دي. د دې پرځای د USAID چارواکو سیګار ته ویلي دي چې د MIDAS کارکوونکې باید د 2016 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې د MIDAS لپاره د پایداری پلانونو په

رامینځته کولو او چمتو کولو پیل وکړي. په ورته ډول د USAID د SGGA پروګرام د قراردادونو اسنادو کې د خپلو پروګرامونو د پای مودې لپاره پلانونه نه دي په ګوته کړي. د USAID د چارواکو د معلوماتو سره سم، یاده اداره د قرارداد بدلون تر بیا کتنې لاندې نیولې دی څو د SGGA د پروګرام موجوده د پای نېټه چې د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې د 31مه نېټه ده، وغزوي.

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د TFBSO پانګونې د افغانستان د کانونو د راویستلو صنعت د پراختیا په برخه کې پایداره دي، سیګار په افغانستان کې د TFBSO د فعالیتونو د نتیجه ګیری په تعقیب سپارښتنه کوي (1) دا چې د USAID اداري مسؤل باید بیا کتنه ترسره او د TFBSO نا بشپړې پروژې چې د کانونو او پټرولیم وزارت ته لیږدول شوي، ثبت او د هغه پروژو په نتیجه ګیری کې چې د USAID په پراختیایي کړنلاره او د یادې اداري روانو پروګرامونو سره مناسبت لري، مرسته او همکاري وکړي: (2) دا چې د امریکې متحده ایالاتونو د دفاع وزیر په پام کې لري چې د TFBSO د هرهغه پروژې اقتصادي اغیزې او وروستنی وضعیت چې د افغانستان د کانونو د راویستلو صنعت د پراختیا لپاره په پام کې نیول شوي، وارزوي او د ارزونې پایلې د امریکې متحده ایالاتو بهرنیو چارو وزارت، USAID او د کانګرس خاصو او څانګړ کمیټو ته چمتو او وړاندې کړي: (3) دا چې د USAID اداري مسؤل د MIDAS پلي کوونکي همکار ECC څخه غوښتې چې د MIDAS د اجرااتو د مدیریت او کنټرول پلان د 2015 زیږدیز کال د آګست د میاشتې تر لومړۍ نېټې پورې نوی کړي څو د خپلو فعالیتونو د پایدارۍ او لیږدولو لپاره په کې پلانونه شامل کړي.

## په دې ربع کې د نوو اجرااتو تفتیشونه اعلان شوی

سیګار په دې ربع کې د دوو نوو پروژو تفتیش پیل کړی دی. دوی به د افغانستان د روغتیایي خدمتونو سکتور، د امریکې متحده ایالاتو تدارکاتو او ساتنې او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د سازماني جامو او فردي تجهیزاتو د څارنې په برخه کې د مرستو چمتو کولو او د هغې د اصلاح کولو په موخه د USAID د هلو ځلو (پروژو) ارزونه ترسره کړي.

### د افغانستان د روغتیایي خدمتونو (روغتیا پالنې) سکتور د ملاتړ او ښه کولو په موخه د USAID هلې ځلې (پروژې)

USAID د 2002 زیږدیز کال راهیسې د افغانستان د روغتیایي خدمتونو (روغتیا پالنې) سکتور د بیارغونې، د روغتیایي خدمتونو د کیفیت لوړولو او افغانانو ته د لوړ کفیت لرونکو روغتیایي خدمتونو چمتو کولو په موخه 1.5 میلیاردو امریکایي ډالرو په ارزښت داخل بودجه او خارج بودجه مرستې تخصیص او چمتو کړې دي. د افغانستان د عامې روغتیا وزارت ته د USAID داخل بودجه مرستو کې د هغه کارکوونکو معاشونه چې د امریکې متحده ایالاتو له خوا تمویل شوو روغتیایي خدمتونو (روغتیا پالنې) مرکزونو کې کار کوي، تدارکات او تجهیزات، داخل خدمت روزنیز پروګرامونه، په کمه اندازه د ودانیو بیارغونې چارې او د سرچینو څارنه او نظارت شامل دی. په خارج بودجه مرستو کې د روغتیایي خدمتونو (روغتیا پالنې) سیستمونو د پیاوړې کولو فعالیتونو بودجه، د خصوصي سکتور ګډون او د درملو او حمل ضد درملو پیرودل شامل دی.

USAID خبر ورکوي چې د دوی د هلو ځلو (پروژو) په پایله کې د لویانو ژوند متوسطه اندازه کې د پام وړ ښه والی راغلی دی او د نوو زیږیدلو او ماشومانو د مړینې کچه راټیټه شوی ده. په هر حال د نړیوال بانک احصائیې د USAID د وینا او څرګندونو سره زیات توپیر لري. په دې تفتیش کې به د USAID هغه هلې ځلې (پروژې) چې د افغانستان د روغتیایی خدمتونو (روغتیا پالنې) څخه ملاتړ او د هغې د ښه کولو لپاره کار کوی، په څانګړې ډول تر بیا کتنې لاندې ونیول شي. سیګار په پام کې لري چې: (1) د USAID هغه پروګرامونه یا نوښتونه په ګوته کړي چې د 2010 زیږدیز کال راهیسې په افغانستان کې د روغتیایي خدمتونو(روغتیا پالنې) د ښه کولو لپاره کار کوي: (2) د دې ارزونه چې

> **د نوو اجرااتو (پروژو) تفتیش**
> - د افغانستان د روغتیایي خدمتونو (روغتیاپالنې) سکتور د ښه کولو او ملاتړ په موخه د امریکې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري هلې ځلې.
> - د افغانستان د ملی امنیتي ځواکونو د اداراتو د جامو او نورو انفرادي تجهیزاتو حساب ورکول.

USAID تر کومي اندازې پورې د خپلو هغه هلو ځلو (پروژو) د اغيزو ارزونه کوي چې په افغانستان کې د روغتيايي خدمتونو (روغتيا پالني) په برخه کې مرسته او همکاري چمتو او د ياد سکتور د ښه کولو لپاره کار کوي: او (3) د دې ارزونه چې USAID تر کومي اندازې پورې د روغتيايي خدمتونو (روغتيا پالني) معلوماتو او اسناد د صحيحوالي دمعلومولو په موخه ياد معلومات او اسناد راټول، تاييد اوسره يوځاى کوي.

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو سازماني جامو او فردي تجهيزاتو په هکله حساب ورکول

CSTC-A د افغانستان حکومت سره کار کوی څو د افغانستان ملي اردو او ملي پوليسو کارکوونکو ته د عملياتي جامو او فردي تجهيزاتو (OCIE) د چمتو کولو امر صادر کړی. په دې کې يونيفارم، نظامي ساحوي واسکټونه، موزې، نظامي خولۍ، زره واسکټونه او چرګي بستري شامل دي. CSTC-A تر دې دمه د لوړنيو مسايلو او هغه OCIE د بدلولو لپاره چې نوره د ګټي اخيستلو وړتيا نلري، 1 ميليارد امريکايي ډالرو غوښتنه کړې ده.

CSTC-A د OCIE د پيرودلو لپاره د پلورلو بهرنی نظامي بهير څخه چې د دفاعي امنيتي مرستو اداري ((DSCA له خوا اداره کيږي، کار اخلي. د امريکي متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي په 2009 او 2012 زيږديزو کلونو کې خبر ورکړی دی چې په افغان ملي اردو کې د OCIE په هکله د حساب ورکولو بهير شتون نلري، افغان عساکر د رخصتی پرمهال د خپلو OCIE په پلورولو او له لاسه ورکولو متهم دي او همدارنګه CSTC-A د 15 ډوله فردی تجهيزاتو چې په هغې کې نظامي خولۍ او زره واسکټونه شامل دي، د ساتنې د بشپړو شرايطو د رامينځته کولو په برخه کې له ناکامی سره مخامخ شوې ده. د نوو او موجوده OCIE د ريکارډ ساتل او حساب ورکول زيات اهميت لري څو ډاډ تر لاسه کړل شي چې له تجهيزاتو څخه رسمي کار کوونکي د خپلو پام وړ دندو د ترسره کولو لپاره کار اخلي، په ځانګړې ډول په افغان او ائتلافي ځواکونو چې څومره داخلی بريدونه شوي دي نو په هغې کې حمله کوونکو د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو له يونيفارم څخه کار اخيستی.

دا پلټنه به د امريکي متحده ايالاتو د دفاع وزارت په تدارکاتو، ساتنې او د افغانستان ملي امنيتی ځواکونو په OCIE باندې متمرکز وي. سيګار به په ځانګړې ډول سره لاندې برخې و ارزوي (1) هغه معلومات او فرضيې چې CSTC-A ورڅخه د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو لپاره د OCIE شرايطو د معلومولو په موخه کار اخلي او داچې نوموړې شرايط تر کومه حده د OCIE د بدلولو د روان بهير اړتياوې چې د ځواکونو د کموالي، تجهيزاتو د له مينځه تللو او منظمه توګه په طبيعي ډول له مينځته تللو په پايله کې رامينځته کيږي، منعکس کوي: (2) د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو لپاره د OCIE پيرودلو او ساتنې قراردادونو د غوښتنې، ورکولو او اجرا کولو په دوران کې د امريکي متحده ايالاتو د څارنې اغيزمنتوب: او (3) CSTC-A او د افغان حکومت د افغان ملي اردو او افغان ملي پوليسو لپاره چمتو شوو OCIE په هکله د راپور ورکولو په موخه تر کومه حده پروسې رامينځته او د کنټرول او مديريت چارې ترسره کړې دي.

جدول 2.1

| د سيګار مالي تفتيش پوښښ (ميليارده امريکايي ډالر) | |
|---|---|
| بشپړې شوې ارزونې 42 | $3.3 |
| 37 روانه ارزونې | $3.6 |
| **ټول ټال** | **$6.9** |

يادښت: روند آف (غيراعشاري) شوی شميرې. په پوښښ کې د پلټنې وړ لګښتونه چې په افغانستان کې د امريکي متحده له خوا تمويل شوو بيارغوني قراردادونو، بسپنو او همکاريو ترونونو لاسته راورونکو له خوا ترسره شوي

سرچينه: د سيګار د پلټنې او څارنو رياست

## د مالي چارو تفتيشونه

سيګارپه 2012 زيږديز کال کې وروسته له هغې د مالي چارو د تفتيش پروګرام پيل کړ چې کانګرس او د څارنې ټولنې د هيواد د پولو څخه د باندې احتمالي او بيړنيو عملياتود قراردادونو او بسپنو (ګرنټونو) د څارنې په بهير کې د تشو او مخ پرودې لګښت لرونکي نا بشپړه تفتيشونو په هکله اندېښنته ښکاره کړه. سيګار د سياليو د بهير له لارې د مالي محاسبي خپلواک شرکتونه غوره کوي څو ډاډ ترلاسه کړی چې د تفتيش چارې د امريکي متحده ايالاتو حکومت د تفتيش معيارونو سره سم ترسره کيږي. مالي تفتيش د فدرال عمومي پلټونکي له ټولنې سره د مالي تفتيش د پوښښ د کچې پراخولو او د تکراري هلو ځلو (پروژو) د مخنيوی په موخه همغږې کيږي.

**مشکوک پیسي ه:** د مشکوکو لاقانونه لګښتونو مجموعه او د فدرال بودجي څخه دوامداره پیشکي ګټه او نورې پیسي جي باید دولت ته ورکړل شي. د مشکوکي پیسي بلل کیږي.

**مشکوک لګښتونه:** مشکوک لګښتونه غیرقانونی دي. دوه ډوله مشکوک لګښتونه لاقانونه لګښتون بلل کیږي (هغه لګښتون چي د قوانینو او مقرراتو، د قرارداد، بسپنو او همکاریو ترون د شرایطو سره په ټک کي وي، غیر ضروري، غیر مناسب لګښتونه) بی اسنادو لګښتونه (هغه لګښتونه چي بشپړملاتړي اسناد نلري یا داچي د پلټنې په وخت کي د منظورۍ اسناد نه وي)

**د ځانګړو مالي موخو راپور:** مالي راپور چي په هغي کي د ورکړل شوي قرارداد په ورکړل شوي موده کي ټول لاسته راغلی عواید، ترسره شوي لګښتونه او او پاتي بیلانس شامل دي.

سیګار په دې ربع کې د افغانستان د بیارغونې به برخه کې د امریکې متحده ایالاتو په بودجه د پنځو قراردادونو د مالي تفتیش چارې بشپړې کړې دي. همدارنګه سیګار د امریکې متحده ایالاتو د دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو او USAID په بودجه 13 نوو مالي تفتیشونو اعلان وکړ چي شااو خوا 889 میلیونه امریکایي ډالر لګښتونه تر تفتیش لاندې نیول کیږي چي له دې سره د ټول ټال روانو مالي تفتیشونو شمیر 37 ته رسیږي. د تفتیشونو د معلوماتو سره سم او لکه څرنګه چي په 2.1 جدول کې ورڅخه یادونه شویده، ټول ټال 3.6 میلیارده امریکایي ډالر لګښتونه تر پلټنې لاندې نیول کیږي. دغه پلټنې د امریکې متحده ایالاتو حکومت او امریکایي مالیه ورکوونکو ته د دې خبرې په هکله ډاډ ورکولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي چي د نومړو پروژو لپاره لګول شوې بودجه د پام وړ کارونو د ترسره کولو لپاره لګول شویده. د پلټونو پوښتنې لاندې لګښتونه چي د تایید وړ نه یا لاقانونه دي.

سیګار د مالي پلټنو وروستي راپورونه تمویلوونکو ادارو ته چي د مشکوکو لګښتونو په هکله د پریکړې نیولو مسؤلیت په غاړه لري، سپاري. سیګار د پروګرامونو د پلټنې بهیرد پیل راهیسي د 241.8 میلیونه امریکایي ډالرو زیات مشکوک لګښتونه په ګوته کړي دي. که چیرې تمویلوونکې اداره معلومه کړې چي مشکوک لګښتونه په قانوني ځایونو کې لګول شوي دي نو په دې صورت کې یاده اداره د تادیې سند ورکوي تر اوسه پورې تمویلوونکو ادارو 287,163 میلیونه امریکایی ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه قانوني بللي او اسناد یې ورکړي دي. تمویلوونکي اداري د 2015 زیږدیز کال د مارچ د اپریل د میاشتي تر 30مې نیټې پورې د 35 بشپړو شوو مالي پلټنو په هکله پریکړې ته رسیدلي او نږدې 11.9 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونو ته د حل لارې لټولو په هڅه کې دي. تمویلوونکي اداري د پلټنو د پایلو او لاسته راوړنو په هکله په پاملرنې سره قضاوت کولو لپاره زیات وخت ته اړتیا لري چي په پایله کې د سیګار د زیاتو مالي پلټونو د ورکړل شوو راپوروونو په هکله د تمویلوونکو ادارو پریکړې لا پخپل ځای پاتې دي. همدارنګه د سیګار مالي پلټنو 170 لاسته راوړنې د مطابقت په برخه کې او 202 لاسته راوړنې د داخلي کنټرول په برخه کې په ګوته او د پلټنې وروستنیو راپورو او تمویلوونکو ادارو سره یې شریک کړي دي.

د سیګار مالي پلټنې څلور ځانګړې موخې لري:

- په دې هکله نظر ورکول چي د ځانګړو مالي موخو راپور تولو مادي اړخونو لکه لاسته راغلو عواید، ترسره شوي لګښتونو، د امریکې متحده ایالاتو د حکومت له خوا نیغ په نیغه پیرودل شوی شیانو، د قرارداد د شرایطو سره سم د عاید او لګښت تعادل او په عمومي ډول د مالي محاسبې اساساتو یا د مالي محاسبې نور بشپړ او جامع اساساتو په پام کې نیولو سره ترتیب شوی دی.
- د قرارداد په اړه د پلټنې لاندې اداري داخلی کنټرول معلوم او په هکله یې پوره معلوماتو لاسته راوړل: د کنټرول د خطر ارزول: او د داخلي کنټرول د کمزورتیاوو او نیمګړتیاوو په ګډون د پام وړ نیمګړتیاوو په ګوته کول او په هکله یې راپور ورکول.
- د ازموینو ترسره کول چي آیا اړونده اداره د موادو په ټولو اړخونو کې د قرارداد شرایط او د عملي کیدلو وړ قوانین او مقرراتو ته پاملرنه کوي: او هغه موارد چي د قرارداد چي د عملي کیدلو وړ قوانینو او مقرراتو له شرایطو سره په ټکر کې دي، په ګوته او په هکله یې راپور ورکوي.
- د دې خبرې معلومول او په هکله یې راپور ورکول چي آیا یادې اداري د تیرو پلټونو د پایلو او سپارښتونو د په ګوته کولو په موخه بشپړه اصلاحي ګامونه پورته کړي او که نه.

د دې درې میاشتنې راپور د C په ضمیمه کې د بشپړو شوو، نوو او روانو مالي پلټونو لست مونډلی شئ.

## خپرې شوې مالي پلټنې

سیګار په دې ربع کې د افغانستان د بیارغونې په برخه کې د امریکې متحده ایالاتو په بودجه قراردادونو او د مرستو او همکاریو ترونونو پنځه مالي پلټنې بشپړې کړې دي.دې مالي پلټنو 135.1 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه چي د داخلي کنټرول نیمګړتیاوو او د مقرراتو څخه د سرغړونې په پایله کې رامنځته شوی، په ګوته کړي دي. د داخلی کنټرول نیمګړتیاوو او د مقرراتو

څخه سرغړوني کې د نورو شیانو سربیره د فرعي قراردادي د نږدې 130 میلیونه امریکایي ډالروپه ارزښت لګښتونو لپاره د ملاتړو اسنادو نشتوالی، د همکاریو تړون د پای ته رسیدلو څخه وروسته د اضافي بودجې ساتل، د وسله والو کارکوونکو لپاره د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قوانینو او مقرراتو سره د سمون نشتوالی (سرغړون) د تدارکاتو د رقابتي کړنلارو نه تعقیبول، د قرارداد د اجرااتو د مودې د پای ته رسیدلو څخه وروسته ترسره شوي لګښتونه، د یوې واحدې سرچینې څخه د توکو د پیرودلو او تدارکاتو لپاره د بشپړو دلایلو نشتوالی، د لاقانونه سفرونو لګښتونه او د غیر ضروروي اونه پلي کیدونکي DBA بیمه (DBA بیمه د ځانګړو شرایطو پرته د بسپنو او همکاریو تړونونو لاسته راوړونکو ته نه پلي کیږي) شامل دي.

### د 15-32-FA مالي تفتیش: د پوځ د مانور د آزادۍ پروژې ډیپارټمنټ

**د هغه لګښتونو تفتیش چې د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions Inc) له خوا لګول شوي دي.**

د پوځ د قراردادونو قوماندانۍ د 2012 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې په 28مه نېټه د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions Inc) سره د مانور د آزادۍ پروګرام (FOM) د پلي کولو په موخه د18.3 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت قرارداد لاسلیک کړ. د پروګرام موخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د سړک د غاړې ماینونو پروراندې د مبارزې چمتو شوي روزنیز پروګرام کې د تشو ډکول (د ستونزو حل کول ) وه د FOM پروګرام د سړک د غاړې ماینونو د له منځه وړلو په موخه د افغانانو د وړتیاوو د ښه کولو لپاره په پام کې نیول شوی وه چې دا کار د پرمختللو لارو چارو او مفکورو د ترلاسه کولو او خپرولو له لارې(د لاسي سینسور ماشینونو څخه نیولې تر نوو کړنلارو او تکتیکونو څخه ګټې اخیستلو له لارې) ترسره کیږي. د سیګار مالي پلټنه چې د DACPA PLLC (Davis شرکت له خوا ترسره شوې، معلومه کړیده چې قرارداد د , 2012 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې له 28 مې نېټې څخه د 2013 زیږدیز کال د نومبر د میاشتې تر27مې نېټې پورې 16,472,668 امریکایي ډالرو په ارزښت لګښتونه ترسره کړي دي.

ډیویس د پام وړ نیمګړتیاوې یا د موادو په برخه کې کمزورتیاوې او د تړون د شرایطو څخه د سرغړونې یوه بیلګه هم په ګوته او مشخص کړې نه ده. د دې قرارداد د کاري لایحې سره سم، د تروریزم ضد حل لارو (A-T Solutions) کارکوونکو مسلح کولو ته اړتیا نه وه: د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions) ویلي چې د دوی کارکوونکي د دوی د خپلې ساتنې لپاره مسلح شوي وه. د اعراق او افغانستان د قراردادونو ترسره کولو ګډې قوماندانۍ 0001-952.225 فقرې د ترلاسه کولو لاربښوونو سره سم، د شخصي امنیتي خدمتونو چمتو کولو قراردادیانو او د شخصي ساتنې غوښتنو لپاره د مسلح کولو شرایط او کړنلارې، د قراردادیانو له خوا غوښتنې کنټرول او اداره کوي خو د شخصي ساتنې لپاره له ځان سره وسلې ولیږدوي. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت قراردادیان چې په افغانستان کې مسلح دي، باید یاد شرایط ومني. په هر حال د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions) د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت په مقرراتو کې ټول مشخص او ځانګړې شوي شرایط تعقیب کړې نه دي ځکه چې دوی خبر نه وه چې دا په دوی پورې اړه لري. د بیلګې په توګه، د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions) ټاکلې منظورې نه دې ترلاسه کړې او نه یې د اړتیا وړ اسناد چې په هغې کې د قرارداد ترسره کولو د مسؤل له استازي سره د مسلح کولو د ضعیت میاشتنی راپور شامل دی.

ډیویس ټول ټال 3,473 امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه په ګوته کړي دي چې ټول یې لاقانونه لګښتونه دي – هغه لګښتونه چې د قرارداد د پلي کیدو وړ قوانینو او مقرراتو سره سم، منع کړل شوي دي.ډیویس هیڅ بې اسنادو لګښتونه نه دي په ګوته کړي – هغه لګښتونه چې پوره ملاتړي اسناد نلري یا د ترسره کولو څخه وړاندې منظورۍ ته اړتیا لري.

### بشپړې شوې مالي تفتیش

- 15-32-FA مالي تفتیش: د پوځ د مانور د آزادۍ پروژې ډیپارټمنټ
- د هغه لګښتونو تفتیش چې د تروریزم ضد حل لارو شرکت (A-T Solutions Inc) له خوا لګول شوي دي.
- 15-41-FA مالي تفتیش: د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) د قانونو د حاکمیت د ثبات پروګرام - رسمي برخې له خوا د تتراتیک DPK د ترسره شوو لګښتونو پلټنه
- 15-43-FA مالي تفتیش: د پوځ ډیپارټمنټ د میراث ختیځه پروژه: د JS شرکت له خوا د ملاتړو اسنادو د نشتوالي له کبله په پروژه کې د 135 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه ترسره شوي دي.
- 15-52-FA مالي تفتیش: د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) د لوړو زده کړو پروژه
- د لګښتونو پلټونکي اداره د ماساچوسیټ پوهنتون (UMass)
- 15-53-FA مالي تفتیش: د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) د ټیکاو (ثبات) نوښت د اغیزو د اندازه کولو (MISTI) پروګرام

ډیویس هیڅ مخکینی بیا کتنه یا ارزونه چي د څانګړي موخي مالي راپور باندې مادي اغیزه وکړي، په ګوته کړې نه ده.

ډیویس د A-T Solutions د څانګړو مالي موخو راپور په هکله د نظر ورکولوڅخه انکار کړی څکه چي A-T Solutions د کنټرول او مدیریت اظهار لیک نه دی چمتو کړی. د تفتیش ساحوي کار په دوران کي د چمتو شوو معلوماتو بشپړتیا او صحیحوالي په هکله داډ ترلاسه کولو په موخه د کنټرول او مدیریت اظهار لیک اړین دی. د کنټرول او مدیریت د اظهار لیک څخه پرته، ډیویس ونه شو کړای چي معلوم کړی چي آیا ټول معلومات خپلو پلټونکو ته په لاس کي ورکړي وه او که نه.

سیګار د پلټني د پایلو پربنسټ د پوځ د قراردادونو ترسره کولو ٌقوماندانی ته لاندي سپارښتني کوي:

1. د قانوني لګښتونو او د هغي د بیرته لاسته راوړلو په ګوته کول لکه څرنګه چي د 3,473 امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوکو لګښتونه په راپور کي په ګوته کړل شوي دي.
2. A-T Solutions ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کي د قوانینو او مقرراتو څخه د سرغړوني یوه پایله په ګوته کړي.

### 41-FA-15 مالي تفتیش: د امریکي متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د قانونو د حاکمیت د ثبات پروګرام

#### رسمي برخي له خوا د تتراتیک DPK د ترسره شوو لګښتونو تفتیش

د امریکي متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د2012 زیږدیز کال د جولای د میاشتي په 16مه نېټه د تتراتیک DPK ته د 3 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د دریو میاشتو قرارداد ورکړ څو په افغانستان کي د قانون د حاکمیت د پراختیا په موخه د USAID هلو ځلو ته ادامه ورکړي. د قانون د حاکمیت ثبات رسمي برخه ((RLS-F د امریکي متحده ایالاتو د حکومت د قانون د حاکمیت کړنلاري دوه برخو (رکنو) څخه ملاتړ کوي: (1) د وړتیا لوړول او په عدلي او قضایي سکتور کي د اداري فساد په ګوته کول، او (2) د عدلي او قضایي سکتور او مدني ټولني د مشرتابه د وړتیا لوړول. RLS-F د دې موخو د ملاتړ او لاسته راوړلو په موخه خپل کارونه د عدلي او قضایي او قانونو ښوونځیو د وړتیا لوړولو، د عامه پوهاوي د کچي پیاوړي کولو، د عملي مهارتونو روزنیزو پروګرامونو او حقوقي زده کړې پروګرامونو ته ادامه ورکولو باندې متمرکز کړي دي. په قرارداد کي د 10 ځله بدلون راوستلو څخه وروسته د قرارداد بوده 22,581,128 امریکایي ډالرو ته لوړه شوه او د پروژې موده د 2014 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتي تر 14مي نېټي پوري و غزول شوه. د سیګار مالي تفتیش چي د CH LLP (CH) شرکت له خوا ترسره شویده، معلومه کړیده چي قرارداد د 2012 زیږدیز کال د جولای د میاشتي له 16مي نېټي څخه د 2014 زیږدیز کال د سپټمر د میاشتي تر14مي نېټي پوري 22,581,128 امریکایي ډالرو په ارزښت لګښتونه ترسره کړي دي.

د (CH) شرکت د تتراتیک DPK په داخلی کنټرول کي د پام وړ نیمګړتیاوې یا د موادو په برخه کي د قوانینو او مقرراتو او همدارنګه د تړون د شرایطو څخه د سرغړوني یوه بېلګه هم په ګوته او مشخص کړې نه ده.

د (CH) شرکت هیڅ مشکوک لګښتونه چي په هغي کي بې اسنادو لګښتونه – هغه لګښتونه چي پوره ملاتړي اسناد نلري یا د ترسره کولو څخه وړاندې منظوری ته اړتیا لري او لاقانونه لګښتونه – هغه لګښتونه چي د قرارداد د پلي کیدو وړ قوانینو او مقرراتو سره سم، منع کړل شوي دي، شامل وي.

د (CH) شرکت هیڅ مخکینی بیا کتنه یا ارزونه چي د تتراتیک DPK د RLS-F د پلي کولو بهیر سره تړاؤ ولري یا د څانګړو موخو مالي راپور باندې مادي اغیزه وکړي، په ګوته کړې نه ده .

د (CH) شرکت د تتراتیک د DPK د څانګړو مالي موخو راپور باندې مثبت نظر ورکړی دی او یادونه کوي چي راپور تولو مادي اړخونو لکه لاسته راغلو عواید، ترسره شوي لګښتونواو دعاید او لګښت ترمنځ تعادل په پام کي نیولو سره ترتیب شوی دی.



د اداري فساد پروړاندې د مبارزې د محکمي قاضیان او نور غړي د کمپیوټر په روزنیز پروګرام کي چي د USAID له خوا چمتو شوی دی، ګډون کوي (د USAID انځور)

د (CH) شرکت د RLS-F په هکله د هيڅ ډول پايلې راپور نه دی ورکړی نو سيګار د افغانستان لپاره د USAID د ماموريت رئيس ته هيڅ سپارښتنه نلري.

## 15-43-FA مالي تفتيش: د پوځ ډيپارټمنټ د ميراث ختيځه پروژه

**د JS شرکت له خوا د ملاتړو اسنادو د نشتوالي له کبله په پروژه کې د 135 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه ترسره شوي دي**

د پوځ د قرارداد ترسره کولو قوماندانی د 2011 زېږديز کال د اکتوبر د مياشتي په 21مه نېټه د JSC شرکت ته د 50 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت قرارداد ورکړ چې اوس مهال د نوي سوداګريزي نښې په لرلو سره د IC شرکت په نامه دوباره تنظيم شوی دی، څو ميراث ختيځه پروژه پلي کړي. د پروژې موخه د تروريزم پروړاندې د مبارزې د لوړو تخصصي اطلاعاتو کارپوهانو چمتو کول دي څو د افغانستان ملي امنيتی ځواکونو ته سلا مشوري او روزنيز پروګرامونه چمتو کړي. همدارنګه نوموړې پروژه دوه ژبې کلتوري سلاکارانو ګمارلو او د ترورېزم پروړاندې د مبارزې عملياتو په برخه کې د ځانګړو افغاني لارښوونو د پراختيا خدمتونه هم چمتو کوی څو د تروريستانو او ياغيانو د شبکو سره د مبارزې په موخه د افغانستان وړتيا پياوړې او لوړه کړي. په قرارداد کې د پرله پسې بدلونونو څخه وروسته د قرارداد ټول ټال بودجه 191,135,945 امريکايي ډالرو ته لوړه شوه، په داسې حال کې چې د قرارداد حقيقي لګښتونه تقريباً د 15 ميليونه امريکايي ډالره وه چې د ټاکل شوې بودجې څخه کم دي. د سيګار مالي تفتيش چې د (CH) شرکت له خوا ترسره شويده، معلومه کړيده چې قرارداد د 2011 زېږديز کال د اکتوبر د مياشتې له 21مې نېټې څخه د 2014 زېږديز کال د مارچ د مياشتې تر15مې نېټې پورې 175,873,361 امريکايي ډالرو په ارزښت لګښتونه ترسره کړي دي.

د (CH) شرکت د موادو په برخه کې دوه کمزورتياوې، يوه د پام وړ نيمګړتيا او د قرارداد د شرايطو څخه د سرغړوني دري موارد په ګوته کړي دي. د JS شرکت د هغه لګښتونو لپاره چې د فرعي قراردادي له خوا ترسره شوي بشپړه ملاتړي اسناد نه دی ساتلي چې په پايله کې پلټونکو ونه شو کړلای معلومه کړی چې آيا ترسره شوی لګښتونه چې ادعا يې شويده، د تخصيص وړ او د مناسبو لګښتونو د اساساتو او اوصولو سره سمون لري او که نه. همدارنګه د JS شرکت د فدرال د تدارکاتو له تګلارو سره په مطابقت خپل کارونه نه دي ترسره کړي. په ځانګړې توګه د JS شرکت دريو فرعی قراردادیانو د ټول ټال 5 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت قراردادونو د ترسره کولو په برخه کې د تدارکاتو د سياليو له بهير څخه کار نه دی اخيستی چې په پايله کې د JS شرکت ونه شو کړلای چې وښيي چې دا لګښتونه مناسب او د امريکي متحده ايالاتو حکومت نه شوی کولای پيرودل شوي توکي او خدمتونه له دی څخه په غوره بيه تر لاسه کړی. سربيره پردې د JS شرکت د امريکي متحده ايالاتو حکومت څخه د ثابتو فيسونو د ادا کولو په موخه په ترون کې د قانونی ذکر شوې اندازې څخه زياتې پيسې ترلاسه کړې وې. سره له دې چې د JS شرکت اضافي راټول شوي فيسونه بيرته ورکړل خو بيا هم د امريکي متحده ايالاتو حکومت 36,634 امريکايي ډالر تاوان کړی.

د داخلي کنټرول نيمګړتياوو او د سرغړوني مواردو په پايله کې د (CH) شرکت ټول ټال 134,552,665 امريکايي ډالرو په ارزښت مشکوک لګښتونه په ګوته کړي دي چې ټول يې بې له اسنادو لګښتونه دي – هغه لګښتونه چې د بشپړو ملاتړي اسناد نلري او د ترسره کولو لپاره يې مخکينی منظوري نه ده ترلاسه شوې. د (CH) شرکت هيڅ لاقانونه لګښت نه دی په ګوته کړی – هغه لګښتونه چې د قرارداد د پلي کيدو وړ قوانينو او مقرراتو له مخې منع کړل شوي وي. همدارنګه پلټونکو معلومه کړيده چې د امريکي متحده ايالاتو 36,634 امريکايي ډالر زيان کړی دی، ځکه چې د JS شرکت د اړتيا څخه زياته پيسې حساب کړی دي.

د (CH) شرکت هيڅ مخکينی بيا کتنه يا ارزونه چې د ځانګړې موخې مالي راپور باندې مادي اغيزه وکړي، په ګوته کړې نه ده.

د (CH) شرکت د JS شرکت د ځانګړو مالي موخو د راپور په هکله د نظر ورکولو څخه انکار کړی ځکه چې د JS شرکت د فرعي قراردادي له خوا د ترسره شوو لګښتونو لپاره بشپړه ملاتړي اسناد نه دي چمتو کړي.

د JS شرکت د دې تفتیش د ټول ټال بهیر قراردادي وه. د JS شرکت په 2013 زیږدیز کال کې د نوې سوداګریزې نښې په لرلو سره دوباره تنظیم شو. په پایله کې د سیګار سپارښتنې دویم شرکت ته راجع کیږي چې اوس مهال د JS شرکت د کارونو اړونده لاسته راوړنو او پایلو د په ګوته کولو او ځواب ویلو مسؤلیت په غاړه لري. سیګار د پلټنې د پایلو پربنسټ د پوځ د قراردادونو ترسره کولو قوماندانۍ ته لاندې سپارښتنې کوي:

1. د قانوني لګښتونو او د هغې د بیرته لاسته راوړلو په ګوته کول لکه څرنګه چې د 134,552,665 امریکایي ډالرو په ارزښت مشکوکو لګښتونه په راپور کې په ګوته کړل شوي دي.
2. له امرونو څخه یې د نه معاف کېدونکې ګټو کې 36,634 راټول کړي.
3. دویم شرکت ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د داخلي کنټرول درې پایلې په ګوته کړي.
4. دویم شرکت ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د قوانینو او مقرراتو څخه د سرغړونې درې پایلې په ګوته کړي.

## 15-52-FA مالي تفتیش: د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د لوړو زده کړو پروژه

### د لګښتونو پلټونکې اداره د ماساچوسیټ پوهنتون (UMass)

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 2011 زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په 23 مه نېټه د ماساچوسیټ پوهنتون(UMass) ته د 9.9 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت قرارداد ورکړ څو د USAID مخکینې کارونو په برخه کې چې د افغانستان د لوړو زده کړو پروګرام (HEP) له خوا ورسره مرسته او همکاري کېدله، پرمخ بیولو کې مرسته او همکاري وکړي. نوموړې پروژه د لاندې کارونو د ترسره کولو په موخه په پام کې نیول شوې وه: (1) د هغه فعالیتونو دوباره پیلول چې مخکې د لوړو زده کړو پروګرام (HEP) ترسره کړي وه: (2) د لوړو زده کړو وزارت د کنټرول او مدیریت د وړتیاوو کچه لوړه کړی: (3) د پوهنتون د فاکولتو د مسلکی پراختیا په برخه کې مرسته او همکاري وکړي: (4) د کابل د ښوونې او روزنې په پوهنتون کې د افغان ماسترانو د روزنې پروګرام پیاوړې کول او (5) د عامه تګلارې او ادارې پروګرامونو د محصلینو او فارغ التحصلانو لپاره د تدریسي نصاب دوباره طرحه کول او پراختیا. په قرارداد کې د 14 بدلونونو څخه وروسته، د همکاریو د تړون ټول ټال بودجه 18,723,387 امریکایي ډالرو ته لوړه شوه. د سیګار مالي پلټنه چې د (CH) شرکت له خوا ترسره شوې، معلومه کړیده چې قرارداد د 2011 زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې له 23مې نېټې څخه د 2014 زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې تر28 مې نېټې پورې 18,723,387 امریکایي ډالرو په ارزښت لګښتونه ترسره کړی دي.

د (CH) شرکت د موادو په برخه کې څلور کمزورتیاوې، یوه د پام وړ نیمګړتیا د داخلي کنټرول په برخه کې او د همکاریو تړون د شرایطو څخه د سرغړونې څلور موارد په ګوته کړي دي.د داخلي کنټرول د یوې کمزورتیا لپاره، UMass ونشو کړلای چې د 430,000 امریکایي ډالرو په ارزښت فرعي قراردادونو د ترسره کولو په برخه کې د تدارکاتو د سیالیو له بهیر څخه واخلي چې په پایله کې UMass ونه شو کړلای چې وښیې چې دا لګښتونه مناسب او ښایي د امریکې متحده ایالاتو حکومت باندې لګښتونه زیات حساب شوي وي. سربیره پردې د UMass د امریکې متحده ایالاتو حکومت باندې 131,507 امریکایي ډالر چې دغه اندازه د پروګرام د اړتیا وړ لګښتونو څخه زیاته ده، حساب کړي. باالاخره د UMass د USAID په ورکړل شوي بودجې څخه په ګټه اخیستلو د DBA بیمې تګلاره ترلاسه کړې ده. د DBA بیمه د همکاریو تړون تر پوښښ او د (CH) شرکت له خوا په UMass کې د DBA اړوند109,664 امریکایي ډالر تر پوښښ لاندې نه راولي.


د USAID د لوړو زده کړو پروژه د افغانستان د ملي انکشافي کړنلارې څخه ملاتړ کوي (د USAID انځور)

د داخلي کنټرول نيمګړتياوو او د سرغړونې مواردو په پايله کې د (CH) شرکت ټول ټال 560,699 امريکايي ډالر مشکوک لګښتونه په ګوته کړی دي چې په هغې کې 519,005 امريکايي ډالره بې اسنادو لګښتونه - هغه لګښتونه چې د بشپړو ملاتړي اسناد نلري او د ترسره کولو لپاره يې مخکينی منظوري نه ده ترلاسه شوي او41,694 امريکايي ډالرو په ارزښت لاقانونه لګښتونه- هغه لګښتونه چې د قرارداد د پلي کيدو وړ قوانينو او مقرراتو له مخې منع کړل شوي وي. همدارنګه پلټونکو معلومه کړيده چې د امريکې متحده اياالتو 1,778 امريکايي ډالر زيان کړی دی، ځکه چې د UMass شرکت د اړتيا څخه زياتې پيسې حساب کړې دي.

د (CH) شرکت د پلټنې د يوې برخې په توګه د افغانستان د لوړو زده کړو پروژې په هکله د UMass د کارونو اړوند د پلټنې او نورو ارزونې څخه وړاندې راپورونه ترلاسه او د هغې بيا کتنه يې کړې ده. د (CH) شرکت د قوانينو سره د مطابقت بياکتنه چې د USAID له خوا ترسره شوې، په ګوته کړې ده. USAID باور لري چې بيا کتنه به د UMass له خوا د اړينو سمون او اصلاحاتو راوستلو ګامونو د پورته کولو خخه پرته پای ته ورسيږي.

بناً د (CH) شرکت معلومه کړيده چې د لومړنيو پايلوپه اړه هيڅ اضافي سمون او اصلاحاتو راوستلو ګامونو پورته کولو ته اړتيا نه وه. د (CH) شرکت د UMass د ځانګړ مالی موخو راپور د اصلاح کولونظر ورکړی دی ځکه چې UMass له خوا د معاشونو او نورو اضافي ګټو لپاره لګښتونه په غلطی سره د بلې کټګورۍ څخه ترسره شوی دي. سربيره پردې UMass ونشو کړلای چې د غلطو لګښتونو د بشپړه شميرلو لپاره اسناد چمتو کړي. د (CH) شرکت د دې غلطيو له کبله ونشو کړلای چې د ځانګړو مالي موخو د راپور د صحيح کولو په موخه هغه مقدار معلوم کړي چې د دې غلطيو د اصلاح کولو لپاره ورته اړتيا ليدل کيږي.

سيګار د پلټنې د پايلو پربنسټ د افغانستان لپاره د USAID ماموريت رئيس ته لاندې سپارښتنې کوي:

1. د قانوني لګښتونو او د هغې د بيرته لاسته راوړلو په ګوته کول لکه څرنګه چې د 560,699 امريکايي ډالرو په ارزښت مشکوکو لګښتونه په راپور کې په ګوته کړل شوي دي.
2. د UMass څخه د 1,778 امريکايي ډالرو راټولول.
3. UMass ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د داخلي کنټرول پنځه پايلې په ګوته کړي.
4. UMass ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د قوانينو او مقرراتو څخه د سرغړونې څلور پايلې په ګوته کړي.

## 15-53-FA مالي تفتيش: د امريکې متحده اياالتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د ټيکاو (ثبات) نوښت د اغيزو د اندازه کولو (MISTI) پروګرام

### د لګښتونو تفتيش اداره MSI

د امريکې متحده اياالتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د 2012 زيږديز کال د مارچ د مياشتې په 14مه نېټه د MSI ته د 5 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت 18 مياشتنی پروژې قرارداد ورکړ څو د ټيکاو (ثبات) نوښت د اغيزو د اندازه کولو (MISTI) پروګرام پلي کړی. د MISTI اصلي موخه په افغانستان کې د USAID د ټيکاو (ثبات) پروګرام په خپلواکه توګه څارنې او ارزونې چارو ترسره کول دی. په قرارداد کې د 8 بدلونونو څخه وروسته ټول ټال بودجه نږدې 22 ميليونه امريکايی ډالرو ته لوړه شوه او ورسره د پروژې موده د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې تر13مې نېټې پورې وغزول شوه. د سيګار مالي پلټنه چې د (CH) شرکت له خوا ترسره شوې، معلومه کړيده چې قرارداد د 2012 زيږديز کال د مارچ د مياشتې له 14مې نېټې څخه د 2013 زيږديز کال د سپتمبر د مياشتې تر13 مې نېټې پورې 7,212,834 امريکايي ډالرو په ارزښت لګښتونه ترسره کړی دي.

د (CH) شرکت د داخلي کنټرول په برخه کې دوه د پام وړ نيمګړتياوې او د قرارداد د شرايطو څخه د سرغړونې دوه موارد په ګوته کړي دي. په ګډه د داخلی کنټرول په برخه کې نيمګړتياوو او د قرارداد

د شرایطو څخه سرغړونو په پایله کې د نغدو پیسو د مدیریت او کنټرول کړنلارې او مالی راپور اړوند دوه پایلې لاسته راغلي دي. د (CH) شرکت د پلټنې په دوران کې د درغلی او ناوړه ګټې اخیستلو د هیڅ یوې پیښې یادونه نه ده کړې.

د (CH) شرکت د هیڅ داسې مشکوک لګښتونه نه دي په ګوته کړی چې په هغې کې بې له اسنادو لګښتونه ـ هغه لګښتونه چې د بشپړو ملاتړي اسناد نلري او د ترسره کولو لپاره يې مخکینی منظوري نه ده ترلاسه شوي او لاقانونه لګښتونه- هغه لګښتونه چې د قرارداد د پلې کیدو وړ قوانینو او مقرراتو سره سم، منع کړل شوي دي. په هر حال د (CH) شرکت څرګنده کړیده چې MSI د اړتیا وړ نغدو پیسو د پوره کولو په موخه زیاته بودجه ترلاسه او استعمال کړې ده چې په پایله کې د امریکې متحده ایالاتو حکومت ته 46 امریکایي ډالر زیان رسیدلی دی.

د (CH) شرکت هیڅ مخکینی بیا کتنه یا ارزونه چې د MSI د ټیکاو (ثبات) نوښت د اغیزو د اندازه کولو (MISTI) پروګرام د پلې کولو بهیر سره تړاؤ ولري یا د څانګړو موخو مالي راپور باندې مادي اغیزه وکړي، په ګوته کړې نه ده.

د (CH) شرکت د MSI د څانګړو مالي موخو راپور باندې مثبت نظر ورکړی دی او یادونه کوې چې راپور تولو مادي اړخونو لکه لاسته راغلو عواید، ترسره شوو لګښتونواو دعاید او لګښت ترمنځ تعادل په پام کې نیولو سره ترتیب شوی دی.

سیګار د پلټنې د پایلو پربنسټ د افغانستان لپاره د USAID د ماموریت رئیس ته لاندې سپارښتنې کوې:

1. د MSI څخه د 46 امریکایي ډالرو راتولول.
2. MSI ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د داخلي کنټرول دوه پایلې په ګوته کړي.
3. MSI ته سلا او مشوره ورکول څو په راپور کې د قوانینو او مقرراتو څخه د سرغړونې دوه پایلې په ګوته کړي.

# بازرسي

## د بازرسي راپورونو خپریدل

سیګار په دې ربع کې د څارنې درې راپورونه خپاره کړې دي. دوه راپورونه د صنعتي پارکونو په هکله معلومات ورکوي چې د ګوریمار او شارندام صنعتي پارکونو څخه عبارت دي چې د دواړو چارې د USAID د قرارداد اړونده اسنادو او په پارک کې د برښنا د نشتوالي له کبله ځنډیدلي دي. په دریمه څارنه کې معلومه شویده چې د افغان ملي اردو مسلخ چې په پلچرخي کې موقعیت لري، هیڅکله په بشپړ ډول جوړ شوی نه دی او قرارداد په لومړنیو وختونو کې د ځنډ سره مخامخ او بیا وروسته د قراردادي د کارونو د کیفیت د ټیټوالی او هغه پریکړې له کبله چې موجوده مسلخ د افغان ملي اردو اړتیاوې پوره کولای شي، پای ته رسیدلای دی.

### د 15-IP-30 بازرسي: د ګوریمار صنعتي پارک

**افغان سوداګرد ګوریما صنعتی پارک څخه چې د امریکې متحده ایالاتو له خوا د 7.7 میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی دی، د برښنا او اوبو د نشتوالي له کبله په ټیټه کچه ګټه اخلي.**

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایی اداري (USAID) د 2004 زیږدیز کال د مئ د میاشتې په 24 مه نېټه د ویرجینیا آیالت د TI شرکت سره د 10 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د دریو صنعتي

**بشپړې شوې بازرسي**

- بازرسي 15-30-IP: د ګوریمار صنعتی پارک: افغان سوداګرد ګوریما صنعتی پارک څخه چې د امریکې متحده ایالاتو له خوا د 7.7 میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوی دی، د برښنا او اوبو د نشتوالي له کبله په ټیټه کچه ګټه اخلي.
- 15-50-IP څارنه: د شوراندام صنعتي پارک: د بازرسي د ساتنې په برخه کې د کمزورتیا او برښنا نشتوالي له کبله د دې 7.8 میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوي مرکز بشپړه څارنه ترسره نه شوه.
- 15-51-IP څارنه: د افغان ملي اردو مسلخ: د SCP بازرسي د 1.25 میلیونه امریکایي ډالرو لګښت څخه وروسته پای ته ورسول شوه.

# د سیګار د څارنې فعالیتونه



د ګوریمار په صنعتي پارک کې د USAID په مالی مرسته د جنراتورونو لپاره جوړ شوی ځای (سیګار د رون ریاچ انځور)

پارکونو د پراختیا او جوړولو تړون لاسلیک کړچې په هغې د 7.7 میلونه امریکایی ډالرو په لګښت د ګوریمار صنعتي پارک د جوړولو چارې چې د بلخ په ولایت کې موقعیت لري هم شامل دي. صنعتي پارکونه د اقتصادی ودې د پراختیا او د سیمه ییزه وګړو لپاره د کار د فرصتونو د رامینځته کولو په موخه جوړ شوي دي.

د TI لومړنی قرارداد ته د صنعتی پارکونو د ډیزاین، ودانیزو چارو او ساتنې لپاره د بسپنو د لاسته راوړلو غوښتنې او داؤطلبی بهیر څخه د څارنې په موخه اړتیا وه. په هر حال په قرارداد کې بدلون د TI څخه غوښتنه کوي چې د ګوریما صنعتی پارک د زیربنا د بشپړولو چارې د بسپنو د لاسته راوړلو غوښتنې او داؤطلبی بهیر څخه د څارنې څخه پرته بشپړې کړی.

USAID د ګوریمار صنعتي پارک د پروژې د چارو د بشپړیدلو څخه وروسته د 2008 زیږدیزکال د جولای په میاشتې کې د افغانستان د پانګونې څخه د ملاتړ ادارې (ایسا) ته ولیږدولو. ایسا د افغان حکومت هغه اداره ده چې مسؤلیت یې په افغانستان کې سوداګریو پراختیا او د ټولو صنعتي پارکونو اداره او کنټرولول دي. د پارک د لیږدولو په رسمي سند کې USAID ویلي دي چې ټول هغه سیستمونه چې د TI له خوا په صنعتي پارک کې نصب او جوړ شوي، آزمویل شوي او په بشپړه توګه فعال دي او د یادو سیستمونو څخه د کار اخیستلو او ساتنې لپاره د ایسا کارکوونکي روزل شوي دي. د ایسا د اټکل له مخې د 2015 زیږدیز کال په پای کې به د ګوریمار په صنعتي پارک کې 900 کسانو ته د کار کولو زمینه مساعده شي.

د ګوریمار صنعتي پارک د دې څارنې څخه د سیګار هدف د لاندې برخو ارزونه وه (1) ودانیزې چارې د تړون د شرایطو او د ودانیزو چارو د پلې کیدو وړ معیارونو سره سم بشپړې شوې دي، او (2) د صنعتي پارک څخه د هغه څه لپاره ګټه اخیستل کیده د کوم لپاره چې په پام کې نیول شوي وه.

سیګار د 2014 زیږدیز کال د مئ په میاشت کې د ساحې څخه د لیدنې کتنې په دوران کې معلومه کړه چې د ټولو سترو زیربناوو د برخو ودانیزې چارې بشپړې شوي دي او په ودانیزو چارو کې کومه ستره ستونزه تر سترګو نه شوه. په هر حال د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د قرارداد د اسنادو او په صنعتي پارک کې د برښنا د نشتوالي له کبله سیګار ونه شو کړلای چې بشپړه ارزونه ترسره کړي چې آیا ودانیزې چارې د قرارداد د شرایطو او تخنیکي ځانګړتیاوو سره سمې ترسره شوي او که نه.

همدارنګه سیګار د 2014 زیږدیز کال د مئ په میاشت کې معلومه کړه چې د ګوریمار صنعتي پارک نږدې شپږ کاله وروسته د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د افغانستان حکومت ته سپارل شوی دی. د 22 له جملې څخه یوازې 4 سوداګریزو شرکتونوچې د 20% څخه ښکته ده، په صنعتي پارک کې په کار پیل کړی دی. سربیره پردې سیګار په دوو سوداګریزو شرکتونو کې یوازې د 30 کسانو پردندو ګمارل کیدل تایید کړی دي. صنعتی پارک ته د زیاتره سوداګریزو شرکتونو د نه لیږدیدو لومړی دلیل د برښنا او اوبو نشتوالی ښودل شوی دی.

سره له دې چې صنعتی پارک 10 جنراتورونه لري چې ټول ټال 2.5 میلیونه امریکایي ډالره لګښت پرې راغلی دی او هیله وه چې د سیمه ییزې برښنا د لین سره د صنعتي پارک د نښلیدلو تر وخته پورې به د صنعتي پارک د لومړنۍ سرچینې په توګه ورڅخه کار اخیستل کیږی خو هیڅکله ورڅخه کار نه دی اخیستل شوی. د ایسا یو چارواکي چې د صنعتی پارک مسؤلیت یې په غاړه دی وویل چې ایسا یادو جنراتورونو ته د سون موادو د اخیستلو لپاره د اړتیا وړ بودجه په لاس کې نه لري. د ایسا د چاروکي د معلوماتو سره سم، یاده اداره د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر له میاشتې راهیسې د سیمه ییزه برښنا سره د صنعتی پارک د نښلولو په چارو مشغول ده او چارواکي یادونه وکړه چې د دې کار د ترسره کولو آټکلي لګښت 700,000 امریکایي ډالره وه.

هغه وویل دی نه پوهیږي چې د پروژې کار به کله بشپړ شي. د دې لپاره چې ګوریمار صنعتي پارک د پانګه والو او سوداګرو د امنیت ساتلو، هغوی ته د ځمکې او زیربنا (برښنا او اوبه) چمتو کولو له لارې د اقتصادي ودې ته پراختیا او سیمه ییزه وګړو ته د کسب او کار فرصتونه چمتو کولو په برخه کې خپلو د پام وړ موخو ته ورسیږي، سیګار د افغانستان لپاره د امریکې متحده آیالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د ماموریت رئیس ته لاندې سپارښتنې کوي: (1) د سیمه ییزه برښنا د لین سره د ګوریمار صنعتي پارک د نښلولو په موخه د ایسا د هلو ځلو د موجوده وضعیت معلومول او د شونتیا په صورت کې د هغه مناسبو ګامونو به ګوته کول چې د پروژې د چارو بشپړولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي؛ (2) د ایسا سره د سلا او مشورې له لارې پریکړه کول چې د صنعتي پارک له جنراتورونو څخه به د اړتیا په صورت کې د برښنا د سرچینې په توګه کار واخیستل شي: او (3) په دې باندې موافقه کول چې ولې د ګوریمار صنعتي پارک د قرارداد اسناد لادرکه دي او ډاډ ترلاسه شي چې د راتلونکو ټولو پروژو د قرارداد اسناد چې په هغې کې د پروژې ډیزاین، پلان جوړول، د ودانیزو چارو د کیفیت تضمین او نور اړونده اسناد (د حکومت د قرارداد اسناد) چې د فدرال د لاسته راوړلو مقرراتو د 4.8 فرعي برخې د شرایطو سره سم ورته اړتیا لیدل کیږي د 90 ورځو په موده کې چمتو او ولیږدول شي.

## د IP-50-15 بازرسي: د شوراندام صنعتي پارک

**د اسناد د ساتنې په برخه کې د کمزورتیا او برښنا نشتوالي له کبله د دې 7.8 میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت جوړ شوي مرکز بشپړه څارنه ترسره نه شوه.**

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 2004 زیږدیز کال د مئ د میاشتې په 24 مه نیټه د TI شرکت سره د 10 میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د دریو صنعتي پارکونو د پراختیا او جوړولو تړون لاسلیک کړچې په هغې د 7.8 میلیونه امریکایی ډالرو په لګښت د شوراندام صنعتي پارک د جوړولو چارې چې د کندهار په ولایت کې موقعیت لري هم شامل دي. صنعتي پارکونه د اقتصادي ودې د پراختیا او د سیمه ییزه وګړو لپاره د کار د فرصتونو د رامینځته کولو په موخه جوړ شوي دي.

د TI لومړنی قرارداد ته د صنعتي پارکونو د ډیزاین، ودانیزو چارو او ساتنې لپاره د بسپنو د لاسته راوړلو غوښتنې او داوطلبی بهیر څخه د څارنې په موخه اړتیا وه. په هر حال په قرارداد کې بدلون د TI څخه غوښتنه کوي چې د شوراندام صنعتي پارک د زیربنا د بشپړولو چارې د بسپنو د لاسته راوړلو غوښتنې او داوطلبی بهیر څخه د څارنې څخه پرته بشپړې کړی.

USAID د شوراندام صنعتي پارک د پروژې د چارو د بشپړیدلو څخه وروسته د 2010 زیږدیزکال د سپټمبر په میاشتې کې د افغانستان د پانګونې څخه د ملاتړ ادارې (ایسا) ته ولیږدولو. ایسا د افغان حکومت هغه اداره ده چې مسؤلیت یې په افغانستان کې سوداګریو پراختیا او د ټولو صنعتي پارکونو اداره او کنټرولول دي. د پارک د لیږدولو په رسمي سند کې USAID ویلي دي چې د برښنا دستګا د نصبولو چارې چې 10 جنراتورونه لري، نه دې ترسره شوې چې په پایله کې د برښنا دستګا د اړونده جنراتورونو سره د سپارلو په بهیر کې شامل نه وه. د جنراتورونو د نصبولو چارې ځکه نه دې ترسره شوی چې په 2009 زیږدیز کال کې هغه ګودام چې جنراتورونه په کې ځای پرځای شوي وه، بمباري شو او په پایله کې جنراتورونه هم تخریب شول. په هر حال د USAID د چارواکو د معلوماتو سره سم، د 2012 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې د USAID په مالي مرسته چمتو شوي جنراتورونه نصب او د افغانستان د برښنا شرکت ( د افغان برښنا مرکز) ته په فعال شکل وسپارل څو له هغې څخه د شوراندام صنعتي پارک د برښنا د اړتیاوو پوره کولو په موخه ګټه واخلي.



د شوراندام په صنعتي پارک کې چې د امريکې متحده ایالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) له خوا د 7.8 ميليونه امريکايي ډالرو په لګښت جوړ شوی دی د خپل ظرفيت څخه په ټيټه کچه سوداګريز شرکتونه په کې فعاليت کوي. (سيګار انځور رابرټ ريواس)

نه ټول هغه سيستمونه چې د TI له خوا په صنعتي پارک کې نصب او جوړ شوي، آزمويل شوي او په بشپړه توګه فعال دي او د يادو سيستمونو څخه د کار اخيستلو او ساتنې لپاره د ايسا کارکوونکي روزل شوي دي. د ايسا د اټکل له مخې د 2015 زيږديز کال په پای کې به د ګوريمار په صنعتي پارک کې 900 کسانو ته د کار کولو زمينه مساعده شي. د شوراندام د صنعتي پارک د ارزونې څخه د سيګار هدف د لاندې برخو ارزونه وه (1) ودانيزې چارې د تړون د شرايطو او د ودانيزو چارو د پلې کيدو وړ معيارونو سره سم بشپړې شوې دي، او (2) د صنعتي پارک څخه د هغه څه لپاره ګټه اخيستل کيده د کوم لپاره چې په پام کې نيول شوي وه.

سيګار د 2014 زيږديز کال د جون په مياشت کې د ساحې څخه د ليدنې کتنې په دوران کې معلومه کړه چې د ټولو سترو زيربناوو د برخو ودانيزې چارې بشپړې شوي دي او په ودانيزو چارو کې کومه ستره ستونزه تر سترګو نه شوه. په هر حال د امريکې متحده ایالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د قرارداد د اسنادو او په صنعتي پارک کې د برېښنا د نشتوالي له کبله سيګار ونه شو کړلای چې بشپړه ارزونه ترسره کړي چې آيا ودانيزې چارې د قرارداد د شرايطو او تخنيکي څانګړتياوو سره سمې ترسره شوي او که نه. سربيره پردې چې د USAID اسناد لادرکه وه، سيګار معلومه کړه چې په قرارداد کې د بدلون راوستلو څخه وروسته په قرارداد کې عمومي شرايط ځای پرځای شوي وه او د TI شرکت اړ وو چې د يادو شرايطو په پام کې نيولو سره د دړې صنعتي پارکونو د جوړولو چارې ترسره کړي. د ړښتينو ودانيزو چارو په هکله بشپړ معلومات شتون نه درلوده لکه د پخو سړکونو اړين پنډوالی او د موادو ترکيب، د آبرونو(دريناژ) ډول او د جنراتورونو جسامت او وړتيا (ظرفيت) اوا داسې نور.

د برېښنا د نشتوالي له کبله د سيګار څارنه هم نيمګړې او محدوده وه ځکه چې نصب شوی سيستمونه لکه د برېښنا او اوبو ويشلو سيستمونه چې د برېښنا پواسطه کار کوي، ونه آزمويل شول چې آيا نوموړي سيستمونه فعال او خونديې دی او دغه مهم سيستمونه او همدارنګه سړکونه، د سيلاب د اوبوليږدولو کانالونه او نورې ودانيزې چارې د قرارداد د شرايطو سره سم ترسره شوي او که نه.

د افغانستان د صنعتي اتحاديې يو چارواکي سيګار ته وويل چې د سيګار د څارنې په دوران کې د برېښنا نشتوالی يوه موقتي ستونزه وه ځکه چې د USAID په مالي مرسته چمتو شوی جنراتورونه د تر ميم لاندې وه. سربيره پردې سيګار د 2014 زيږديز کال د جون په مياشت کې د ساحې څخه د ليدنې په دوران کې معلومه کړه چې په صنعتي پارک کې يوازې يو فعال سوداګريز شرکت فعاليت لري په داسې حال کې چې صنعتي پارک د 48 سوداګريزو شرکتونو د فعاليت په موخه جوړ شوی دی. همدارنګه سيګار په صنعتي پارک کې دری خالی جوړښتونه وليدل چې د TFBSO له خوا د سوداګرۍ د پراختيا په موخه جوړ شوي او همدارنګه د برېښنا دستګاه چې د 2010 زيږديز کال د ډسمبر په مياشت کې د امريکې متحده ایالاتو د پوځ له خوا جوړه شوې ده. د شوراندام په صنعتي پارک کې د برېښنا دستګاه جوړيدلو له کبله د سوداګرۍ راتلونکې پراختيا له دوه لارو اغيزمنه کړې ده. لومړی دا چې د برېښنا دستګاه د پارک يو پردريمه برخه (3/1) نيولې چې دغه ځمکه يې د خصوصي پراختيا د کاره ويستلې ده او دويم داچې د افغانستان د صنعتي پارکونو د پراختيا رئيس د راپور سره سم، د صنعتي پارک په دخولي او خروجي دروازو کې د امريکې متحده ایالاتو د پوځ د تلاشۍ پوستې جوړې شوي دي چې دې کار په صنعتي پارک کې د افغان سوداګرو د کاروبار د ترسره کولو مينه او علاقه راکمه کړې ده. نوموړی پارک د ساحې څخه د امريکې متحده ایالاتو د پوځيانو د وتلو څخه وروسته په پارک کې د کار کولو لپاره د خلکو مينه او علاقه زياته شوی ده.

د 2015 زیږدیز کال د فبرورۍ په میاشت کې یا د امریکایي پوځیانو د وتلو څخه 10 میاشتې وروسته، د افغانستان د صنعتي پارکونو د پراختیا رئیس ویلي دي چې 13 سوداګریزو شرکتونو ژمنه کړې ده چې خپل کاروبار به پارک ته لیږدوي چې له دې جملې څخه څلور شرکتونه له وړاندې فعال دي. رئیس وویل چې پاتې نور سوداګریز شرکتونه خپل مرکزونه او ودانۍ جوړولي. په سیمه کې د امنیتي ستونزو او په سفر باندې لګیدلو بندیزونو له کبله سیګار ونشو کړلای چې د پارک څخه بیا لیدنه وکړي او ورکړل شوي معلومات تایید کړي.

## د 51-IP-15 بازرسي: د افغان ملي اردو مسلخ

**د SCP پروژه د 1.25 میلیونه امریکایی ډالرو لګښت څخه وروسته پای ته ورسول شوه.**



په پلچرخي کې د افغان ملي اردو د مسلخ جوړول، چې په هغې کې قسمی جوړ شوی دیوال شامل او د 1.25 میلیونه امریکایي ډالرو لګښت څخه وروسته پای ته رسول شوی دی. (سیګار انځور برین فلاین)

د 2012 زیږدیز کال د فبرورۍ په میاشت کې CSTC-A د امریکې متحده ایالاتو د پوځ د انجنیرانو ډلې (USACE) څخه غوښتنه وکړه چې د کابل د پلچرخي په سیمه کې د افغان ملي اردو لپاره یو مسلخ او اړونده مرستندویه ودانیو د جوړولو په موخه د داوطلبۍ او د ودانیزو چارو د پلي کولو بهیر پرمخ بوزي. USACE د 2012 زیږدیز کال د آګست په میاشت کې د AREEB-REC په نامه افغاني سهامي شرکت ته د 12 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د ثابتو بیو قرارداد ورکړ.

CSTC-A یادونه کوي چې نوی مسلخ به نه یوازې داچې د غوښې د تولید زیاتوالي اړتیا پوره کړي بلکه د موجوده مسلخ په پرتله به اصلاح شوی خوندي او حفظ الصحوي شرایط چمتو کړي. د مسلخ د نوې ودانې لپاره د CSTC-A's په پلان کې د مسلخ د ودانې جوړول، اداري ودانۍ جوړول، د وزن کولو ودانۍ، د فاضله اوبو د تصفیه کولو دستګاه، د محافظینو ودانۍ، د محافظینو لپاره دوه د خوب کوټې، د کارکوونکو لپاره دوه مورچې (سنګرونه) د ډیزلي بریښنا دستګاه، د اوبو څاه، د سون موادوذخیره، دری پارکنګ او ګردچاپیره (احاطې) دیوال شامل دي.

د دې څارنې څخه د سیګار هدف د لاندې برخو ارزونه وه (1) ودانیزې چارې د تړون د شرایطو او د ودانیزو چارو د پلي کیدو وړ معیارونو سره سم بشپړې شوې دي، او (2) د صنعتي پارک څخه د هغه څه لپاره ګټه اخیستل کیده د کوم لپاره چې په پام کې نیول شوې وه.

سیګار د 2014 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې د افغان ملي اردو د مسلخ د ودانیزو چارو څخه لیدنه وکړه او ویې لیدل چې ساحه ډیره پراخه خو کار کم بشپړ شوی دی چې د سیګار له خوا د څارنې ترسره کولو چارې محدودوي.

سیګار ولیدل چې د ګردچاپیره دیوالونو څخه د یو دیوال څلورمه برخه کار ا ورسره د سیخ لرونکی کانکریټ کار په کافي دول بشپړ شوی دی. همدارنګه سیګار ولیدل چې د اوبو د څاه سر په مناسب ډول نه دی پټ شوی څو په اوبو کې د زهري او نورو شیانو د غورځولو څخه مخنیوی وشي. سیګار د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت ته د اوبو د څاه په هکله د پلټنې یو لیک استولی دی. USACE چاراواکو په ځواب کې ویلي چې په دې برخه کې ګامونه پورته شوي او د اوبو د څاه سر د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې په بشپړه او مناسب ډول پټ شوی دی.

د ودانیزو چارو په لومړنیو 9 میاشتو کې، USACE د AREEB-REC سهامي شرکت ته 12 لیکونه استولي چې په ځینې لیکونو کې د قراردادي د اجرااتو ستونزې په ګوته شوې وې چې په هغې کې د منظورۍ څخه وړاندې د ودانیزو چارو پیلولو او د کیفیت د کنټرول له شرایطو څخه سرغړونه کول شامل دي. USACE د 2013 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې په 15مه نېټه قرارداد پای ته ورساوه څکه چې د قراردادي اجراات او کارونه د داډ وړ نه وه. په ورته وخت کې نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو (ISAF) د ټولو روانو ودانیزو چارو بیا کتنه چې په پای کې د ا فغانستان ملي امنیتی حواکونو ته سپارل کیږي، پیل کړې ده. د ایساف د بیاکتنې پربنسټ د CSTC-A چاراواکو د 2013 زیږدیز کال د اکتوبر د میاشتې په لومړی نېټه د افغا ملی اردو د مسلخ پروژې د پای ته رسولو سپارښتنه او امر وکړ.

CSTC-A د 2013 زیږدیز کال د اکتوبر د میاشتې په 26مه نېټه وویل چې د افغان ملي اردو موجوده مسلخ د افغان ملي اردو د اړتیاوو پوره کولو لپاره کافي وړتیا (ظرفیت) لري او USACE ته یې امر وکړ چې د مسلخ د پروژې قرارداد د امریکې متحده ایالاتو حکومت د قناعت او ګټو لپاره پای ته ورسوي. د ګټو او قناعت لپاره د قرارداد د پای ته رسولو په پایله کې قراردادي د ترسره شوو کارونو د لګښتونو د جبرانولو، د راتلونکې کار لپاره تیارۍ نیولو او مناسبې ګټې په موخه د ستونزو د حل او فصل کولو د غوښتنې حق لري. د ګټو او قناعت لپاره د قرارداد د پای ته رسولو په وخت کې قراردادي ته 1.25 میلیونه امریکایي ډلر ورکړل شوي. د AREEB-REC سهامی شرکت د 2015 زیږدیز کال د جنورۍ د میاشتې په 15مه نېټه د ګټو او قناعت لباره د قرارداد پای ته رسولو د ستونزو د حل او فصل کولو لپاره د 4.2 میلیونه اضافي امریکایي ډالرو غوښتنه کړې. د USACE د ټرانس آټلانټیک د منځني ختیځ منطقه اوس مهال نوموړې غوښتنه باندې له سره غور کوي او DCAA مالي پلټنه ترسره کوي. د USACE چارواکو ویلي دي چې هیله لري چې د 2015 زیږدیز کال د ډسمبر تر میاشتې پورې د ستونزو د حل او فصل کولو دغه خبرې بشپړې او پای ته ورسیږي.

## په دې ربع کې نوې اعلان شوې بازرسي

سیګار په دې ربع کې دوه نوې څارنې پیل کړې دي. هره څارنه کې به د لاندې برخو ارزونه وشي (1) ودانیزې چارې د قرارداد د شرایطو او د ودانیزو چارو د پلې کیدو وړ معیارونو سره سم جوړې شوې یا جوړېږي، (2) د ودانۍ اشغال شوې برخو څخه د پلان شوو موخو لپاره کار اخیستل کیږي او په مناسبه توګه یې ساتنه کیږي. دغه څارنې به د لاندې برخو ارزونه وکړي:

- د هرات په پوهنتون کې د انجونو لیلیه
- د باګرامیو صنعتي پارک

> **نوې بازرسي**
> - د هرات پوهنتون کې د ښځو لیلیه
> - د بګرامیو صنعتي پارک

## د سیګار د سپارښتون وضعیت

د 1978 زیږدیز کال د عمومي پلټونکي قانون د سیګار څخه غوښتنه کوي څو د خپلو سپارښتونو په هکله راپور ورکړي. په دې ربع کې سیګار 23 سپارښتنې چې په هغې کې 11 د تفتیشونو او بازرسي راپورونه شامل وه تړلي دي. په څلورو راپورونو کې هغه سپارښتنې شامل دی چې د 77,243 امریکایي ډالرو لاقانونه او بې له اسنادو لګښتونو د ستونزو د حل او فصل کولو په پایله کې رامینځته شوي او د امریکې متحده ایالاتو د حکومت له خوا ورکړل شوي دي.

سیګار د 2009 زیږدیز کال څخه د 2014 زیږدیز کال د مارچ تر میاشتې پورې 169 تفتیشونه د تفتیش اړوند لیکونه او د څارنې راپورونه خپاره او مالي ستونزو د حل او فصل کولو، د ادارې د څارنې د بهبود او د پروګرام د اغیزمنتوب د کچې لوړلو په موخه 549 سپارښتنې ترسره کړې دي. سیګارد 83% څخه زیاتې سپارښتنې تړلې دي. په عمومي ډول د سپارښتنو تړل په دې دلالت کوي چې د سیګار له خوا پلټل شوې ادارې ته شوې سپارښتنې د یادې ادارې له خوا یا پلې شوې یا ستونزه په مناسب ډول په ګوته شوې ده. په ځینو مواردو کې د سپارښتنو تړل د پلټنې د کارونو د تعقیبولو په مانه دي.

همدارنګه د 1978 زیږدیز کال د عمومي پلټونکي قانون له سیګار څخه غواړي چې د تیرو راپورونو د پام وړ هغه سپارښتونو په هکله راپور ورکړی چې په هکله یې لازم اصلاحي ګامونه نه وي پورته شوي. په دې ربع کې سیګار غواړي چې د تفتیشونو په 35 او تفتیش په پنځو راپورونو کې د سپارښتنو په هکله د اداراتو له خوا د ترسره شوو اقداماتو څارنه وکړي. په دې ربع کې د 12 میاشتو څخه پخوانۍ سپارښتنې نه وې چیرې چې اداره لا تراوسه د هغې د اصلاح کولو پلان جوړوي او سیګار باور لري چې په دې سره به د په ګوته شوو ستونزو لپاره د حل لاره پیدا شي.

په هر حال د 12 مياشتو څخه پخوانی پنځه راپورونه موجود دي او سيګار تمه لري چې اړونده اداري به د اصلاحي ګامونو د پورته کولو په برخه کې موافقې ته ورسيږي. سيګار اوس مهال د سيګار د هغه سپارښتنو د وضعيت پلټنه بشپړ کړه چې د امريکې متحده اياﻻتو دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID ته يې کړې وي. په ځانګړې ډول تفتيشونه د سيګار د سپارښتنو وضعيت په ګوته او و ارزولو او د ستونزو د په ګوته کولو لپاره د اداراتو له خوا د ترسره شوو اقداماتو او ترسره کيدونکو اقداماتو باندې له سره غور وکړ. سيګار د 2015 زيږديز کال د جنوري په مياشت کې د امريکې متحده اياﻻتو ته د ورکړل شوو سپارښتنو د وضعيت په هکله راپور خپور کړ چې د پلې کولو اندازه د 75% څخه زياته ښيي. مخکې له دې سيګار د امريکې متحده اياﻻتو د بهرنيو چارو وزارت ا و USAID ته د ورکړل شوو سپارښتو د وضعيت په هکله وروستني راپورونه چې د پلې کولو اندازه يې په ترتيب سره 75% او 80% ته رسيږي.

## ځانګړې پروژی

د عمومی تفتيش د ځانګړو پروژو دفتر د نوی پيدا کيدونکو مسئلو آزمويلو او کانګرس او فدرالی ادارو ته د عاجل او د تعقيب وړ راپورونو ورکولو لپاره رامنځ ته شوی دی. دغه ټيم مختلف ډول ارزونې سرته رسوي او د افغانستان بيا جوړونی په ټولو اړخونو باندی راپورونه ورکوي. مديره هيئت يی د مفتشينو، تحليل کوونکو، څيړونکو، وکيلانو، د اصلی موضوعاتو ماهرين او نورو متخصصينو څخه چی کولای شی په عاجل او مشترک ډول خپل تخصص او مهارت رامنځته کيدونکو مشکلاتو او سوالونو په مقابل کی تطبيق کړی.

په دغه ربع کی د سيګار د ځانګړو پروژو دفتر دوه حقيقت پاڼې صادر کړي. يو له هغوی نه د امريکا دفاع وزارت له لوری تسليم شوی ورکړل شوی قرارداد ارزولی، چی د 21 ميليارد ډالرو په ارزښت د شاوخوا 66 ميليارد ډالرو څخه چی د افغانستان د بيا رغونی په موخه 2002 څخه تر 2014 مالی کال پورې د امريکا دفاع وزارت ته ځانګړی شوی وو. دوهمې حقيقت پاڼې په افغانستان کې د CERP پروژه ارزولې.

د ځانګړو پروژو دفتر په همدی ډول DOD، د بهرنيو چارو وزارت، او USAID ته ليکلی تر څو د TFBSO د روانی بررسی په هکله د معلوماتو وړانديز وکړی، تر څو د هغه تحليلونو چی د افغانستان د ملی امنيتی ځواکونو اوسنی او راتلونکی اندازه او جوړښت په هکله دی څيړنه وکړی، ترڅو د هغه ظاهراً بيکاره ساختمانونو په هکله چی په افغانستان کی په امريکايی اوسنی او يا پخوانی نظامی مرکزونو کی شتون درلود په هکله يی تشويش ظاهر کړی، او د افغان ګمرکی عايداتو د وړاندوينه شوی کمښت تاثيرات د دولت په توانايی باندی تر څو بودجوی تعهداتو سره ورته والی ولری پيدا کړی. نوری اضافی ورقی د USAID د ښځو د توانمندی د ترويج پروګرام د تاثيراتو د تشخيص، نظارت او تطبيق د توانايی د څيړنی په هکله دی، د افغان دولت ضرورت نورو اضافی مالی کومکونو ته، په کوم شکل چی RSM د پيشرفت اندازه د خپلو هغه کوششونو چی د افغان ملی امنيتی ځواکونو د مؤثريت او پايداری د اطمينان په خاطر کړی دی لګوی، د پايدار او اعتماد وړ بريښنا موجوديت په کندهار ښار کی او د امريکا متحده اياﻻتو نظامی مرکزونو انتقال افغان ملی امنيتی ځواکونو ته.

### د تفتيش ليک SP-31-15: د TFBSO اسنادو لپاره دويم وړانديز

د 2015 کال د جنوری به 29، سيګار د دفاع وزير ته ليک واستاوه او د TFBSO روان بررسی په هکله يی د اسنادو او معلوماتو غوښتنه وکړه. دا د سيګار د اسنادو غوښتلو دويمه غوښتنهده، او د هغه تحليلونو چی د تفتيش يو ليک په ځواب کی چی د 2014 کال د دسمبر په 10 لاسته راغلی دی نتيجه ده. (د تفتيش ليک SP-23-15 وکتل شی)

ځانګړې بشپړې شوې پروژې:

- د SP-31-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د TFBSO د اسنادو لپاره دويمه غوښتنه
- د SP-34-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو جوړښت
- د SP-35-15 ځانګړې پروژه: د سپارښتنې ليک: د لاريو د تشولو امکانات
- د SP-37-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغانستان د ګمرکونو عوايد
- د SP-38-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغانستان د ګمرکونو عوايد
- د SP-39-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغانستان د ګمرکونو عوايد
- د SP-40-15 ځانګړې پروژه: معلوماتي پاڼې: د امريکې متحده اياﻻتو د دفاع وزارت د قرارداد شرطونه
- د SP-42-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د TFBSO د اسناد
- د SP-44-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د USAID له خوا په ملي لومړنيو پروګرامونو کې د جندر مساوات ته پراختيا ورکول
- د SP-45-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغان بودجې کموالی
- د SP-46-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: مهمې دندې
- د SP-47-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د کندهار ښار لپاره د باور وړ او پايداره برښنا
- د SP-48-15 ځانګړې پروژه: د پلټنې ليک: د افغانستان ملی امنيتي ځواکونو ته د امريکې متحده اياﻻتو د پوځي اډو سپارل او ليږدول.
- د SP-49-15 ځانګړې پروژه: معلوماتی پاڼې: په افغانستان کې د CERP ړومبيتوبونه او د 2004 مالي کال څخه تر 2014 مالي کال پورې وخت تيرول

### د تفتیش لیک 15-34-SP: د افغان ملی امنیتی ځواکونو جوړښت

د 2015 کال د فبروری په 19، سیګار د RSM او CSTC-A قوماندانانو ته لیک واستاوه او د افغان ملی امنیتی ځواکنو اوسنی او راتلونکی جوړښت په هکله شوی تحلیلونو په اړه د معلوماتو غوښتنه وکړه. د سیګار نظارتی مسؤلیت کی د افغانستان امنیتی ځواکونو د بودجی بررسی او حسابداری شامل دی چی د افغان ملی امنیتی ځواکونو د ملاتړ په خاطر د 50 میلیارد ډالرو د مصرف سرچینه ده.

د افغان ملی امنیتی ځواکونو اندازه او جوړښت د افغان عسکرو او پولیس افسرانو په ملاتړ د مصرف د معلومولو لپاره مهم فکتورونه ګڼل کیږی. سره له دی، د افغان ملی امنیتی ځواکونو په نهایی قدرت باندی مختلفی نظری موجودی دی. سیګار د افغان ملی امنیتی ځواکونو نهایی قوی د احتیاجاتو یا ضروریاتو د ارزیابیو تر منځ د ظاهری اختلاف پر سر په مشخص ډول تشویش او نګرانی لری، لکه څرنګه چی دغه مسئله د امریکا متحده ایالاتو دولت د توانایی په هکله چی د ددغه قواوو د ملاتړ لپاره راتلونکی مصارف وړاندوینه کړی سوالونه را پورته کړی دی.

### د ارجاع لیک 15-35-SP: د Tank-Truck Offload تسهیلات

سیګار د USFOR-A د قوماندان معاون ته د 2015 کال د فبروری په 19 د خبرداری په شکل لیکلی، تر څو هغه په افغانستان کی د امریکا په اوسنی او پخوانی نظامی مرکزونو کی د زیات شمیر بیکاره ساختمانونو په هکله باخبره کړی. ابتدایی څیړنی چی د سیګار کارمندانو له لوری سرته ورسیدی دا ښیی چی USACE د دریو tank-truck offload تسهیلاتو د ودانولو په موخه 36 میلیونه ډالر مصرف کړی دی چی دغه ځایونه د استفادی وړ نه وو او یا هم هیڅکله ورڅخه ګټه نده اخیستل شوی. سیګار دغه موضوع USFOR-A ته راجع کړه ځکه چی دا د افغانستان د بیا ودانولو پروژی نه وی، اما دا د امریکا متحده ایالاتو د پوځ ملاتړی پروژی وی.

تورن جنرال جان موری، د USFOR-A قوماندان معاون، خاص سر مفتش سوپکو ته د مارچ په 10 ځواب ورکړی چی "زما کارکوونکی د هغو TTOF's یوه کامله بررسی سرته رسوی" او هغه اضافه کړه چی د هغه دفتر به د هغه څیړنو نتیجه شریکه کړی. په وروستیو کی، د سیګار دفتر په افغانستان کی معلومات ورکړی چی دغه بررسی تکمیلیدو ته نژدی ده.

### د تفتیش لیکونه 15-37-SP او 15-38-SP او 15-39-SP: د افغان ګمرکونو عواید

د 2015 کال د مارچ په 5 نیټه، سیګار د امریکا دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او USAID ته لیکلی تر څو د سر مفتش سوپکو افغانستان ته د وروستنی سفر په هکله په کابل کی د امریکا متحده ایالاتو د سفارت مختلفو مأمورینو څرګندونی او تشویشونه شریک کړی. دغه مأمورینو ته په عوایدو کی د وړاندوینی شوی کمی په سبب د افغانستان د دولت د اوسنی او راتلونکی مالی کالونو کی د بودیجه ضروریاتو د نه پوره کولو د ناتوانایی به هکله خبرداری ورکړل شو.

د افغانستان د 1393 او 1394 کال ملی بودیجوی بیانیی په اساس، د 1390 څخه تر 1393 مالی کال پوری، په نړیوال تجارت او معاملاتو باندی مالیه د عوایدو کټګوری چی ګمرکی عواید هم پکی شامل دی ـ د کال 410 میلیون ډالرو څخه 660 میلیونه ډالرو پوری لاسته راوړل، چی د داخلی عوایدو 24% نه تر 36 فیصدو پوری رسیږی. د افغان دولت اوسنی چالش د ګمرکاتو په راټولولو کی یو ستر تشویش دی، د ګمرکاتو عواید په دوامداره توګه د افغان دولت د داخلی عوایدو د دریمی برخی ډیره برخه تشکیلوی.



د افغانستان سرحدي پولیس د افغانستان او پاکستان ګډې پولې تورخم په دروازه کې د یو هلک لاسي کراچۍ کې د یوې بوجۍ د لیدو په حال کې. سیګار د ګمرکي عوایدو د راټولولو په برخه کې د افغانستان حکومت د ستونزو اغیزو په هکله اندیښمن دی. (د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت انځور).

### حقیقت پاڼه SP-40-15: د امریکا دفاع وزارت د قرارداد مکلفیتونه

د 2015 کال د مارچ 18، سیګار د امریکا دفاع وزارت هغه معلومات چې د سیګار د 2013 کال د فبرورۍ میاشتې څیړنې د ټولو قراردادونو، مالي کومکونو او مشترک توافقنامو ورکولو چې د څخه د 2014 کال د مې پورې ساختماني کارونو په هکله جامع معلومات، په ځواب کې سیګار ته تسلیم کړي خپل تحلیلونه په چاپ رسولي دي.

د سیګار تحلیلونو په ډاګه کړې کله چې د امریکا دفاع وزارت تقریباً 65 میلیارد ډالر د تخصیص په شکل د 2002 مالي کال څخه تر 2014 مالي کالي پورې لاسته راوړل (او د 2014 کال د جون تر 30 پورې 56 میلیارد ډالر مکلف شوي)، د هغوی معلوماتو تسلیمیدل په ټولو قراردادونو ورکولو کې یواځې 21 میلیارد ډالر حسابیږي. اختلاف او عدم توافق په وجه چې څرنګه د امریکا دفاع وزارت بودیجې تطبیق کړي او څرنګه دغه بودیجه د امریکا دفاع وزارت او د فدرال حساب ورکونې سیستم کې په ثبت رسیدلې دي رامنځ ته شوی. دا په همدې ډول په دې وجه وو چې د بیا جوړونې بودیجه چې د امریکا دفاع وزارت نهادونو، د امریکا متحده ایالاتو کومې بلې ادارې ته یا د افغان دولت کومې ادارې ته انتقال شوه د تسلیمۍ په لست کې موجود نه وو.

### د تفتیش لیک SP-42-15: د TFBSO اسناد

سیګار د دفاع وزیر ته د 2015 کال د مارچ په 18 نیټه لیکلي وو تر څو د سیګار لخوا د اداری د رواني بررسۍ لپاره د TFBSO د سوابقو د ساتنې حالت په هکله څیړنه وکړي. د سیګار د 2015 کال د دسمبر د 10 تفتیش لیک غوښتنه کړې وه چې د TFBSO د موجودیت تر ختمیدو نه مخکې ټول اسناد او سوابق وساتلې شي. (د تفتیش لیک SP-15-23 وګورئ)

د تفتیش لیک SP-15-44: د USAID د په ملي لومړیتوبونو برنامو کې د جنډر تساوي هڅول

د 2015 کال د مارچ په 27 سیګار USAID ته لیکلي تر څو د USAID د ملي لومړیتوبنو برنامو جنډر تساوي هڅولو تطبیق او نظارت لپاره پلانونو په هکله اضافي معلوماتو غوښتنه وکړي، په خاص ډول د USAID کوششونه د افغان ښځو ملاتړ په هکله د سیګار وروستني کارونو په رڼا کې، د سیګار کارکوونکو د دغه پروګرام په هکله خلاصه معلومات لاسته راوړل، او سیګار د تیرو غوښتنو په نتیجه کې معلومات لاسته راوړل. د USAID د توانایي په هکله دا چې د دې پرمختګ تاثیرات تطبیق، نظارت او تشخیص کړي نګرانیانې او تشویشونه موجود دي. علاوه له دې نه، سیګار تشویش کوي چې بعضې اساسي پروګرامونو موضوعات ناحل شوي پاتې دي او افغان میرمنې چه په دغه پروګرامونو کې ښکیل دي ممکن د پروګرام تکمیلیدو سره سره کوم د احساس وړ فواید لاسته رانه وړي.

د 2015 کال د اپریل 10 سیګار د تفتیش لیک په هکله د USAID ځواب لاسته راوړ او کولای شي چې د جنسیت د برابرۍ د ترویج یا ارتقا په هکله خپل نظارت ته دوام ورکړي.

### د تفتیش لیک SP-45-15: د افغانستان د بودیجې کمبود

د 2015 کال د اپریل 15، سیګار په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو سفیر او د افغانستان او پاکستان لپاره ځانګرې نماینده ته ولیکل تر څو د هغه 100 میلیونه ډالرو په هکله چې د افغانستان دولت د بودیجې د کمبود د همکاریو غوښتنې په نتیجه کې د امریکا متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکو له لورې ورکړل شوه اضافي معلوماتو غوښتنه وکړه. سیګار د 2014 کال د سپتمبر په میاشت تفتیش لیک کې د دغه بودجې په هکله تشویش ښکاره کړ. (سیګار SP-14-101 وګورئ)

سیګار ترغیب کړای شو چې (د 100 ملیونو ډالرو څخه) 25 میلیونه دالره پس له هغې خرڅ او مصرف شول چې د افغان حکومت له بعضې شرایطو سره مخ شو لکه حکومتي خلکو ته د افغانستان مالي مدیریت معلوماتي سیستم ته لاس رسي پکې شامل وو. سره له دې، سیګار په همدې ډول یادونه

کړی ده چې د افغانستان مالی ستونزې په نږدې راتلونکی کې ناممکن ده چې حل شی. لکه د مثال په ډول، سیګار غوښتنه وکړه تر څو د بهرنیو چارو وزارت 100 میلیونه ډالرو بیل، د وړاندوینه شوی 1394 مالی کال د بودیجې کمبود او د مکمل 537 میلیون دالرو چې د افغان حکومت له لوری تقاضا شوی وی نه آماده کولو دلایلو په هکله معلومات وړاندی کړی.

## د تفتیش لیک SP-46-15: اساسی او مهم فعالیتونه

سیګار د USFOR-A او CSTC-A نه د 2015 کال د اپریل په 15 معلومات وغوښتل چې څرنګه هوډمن ملاتړ ماموریت به د خپل کوششونو د پرمختګ اندازه لګوی تر څو د افغان ملی امنیتی ځواکونو او افغان امنیتی نهادونو د موثریت او پایداری په اړه اطمینان حاصل شی. د هوډمن ملاتړ ماموریت امنیتي ځواک مرستي جزوي مطابق د افغان ملی امنیتی ځواکونو او افغان امنیتی نهادونو پراختیایی هڅی عبارت دی له (مشوره او سنجش) مسولیت څخه، او په اتو اساسی او مهمو فعالیتونو باندی به تمرکز کوی. دغه اته اساسی فعالیتونه به د راتلونکی هر ډول کوشش لپاره به د کامیابی حساس او حیاتی ټکی وی تر څو د افغان ملی امنیتی ځواکونه او افغان امنیتی نهادونه تقویه کړی.

## د تفتیش لیک SP-47-15: د کندهار ښار لپاره معتبره او دوام لرونکې بریښنایی انرژي

د 2015 کال د اپریل 17 یو لیک کی USAID, DOD او د بهرنیو چارو وزارت چارواکو ته سیګار خپل تیر تشویشونه په افغانستان کی د بریښنا د موجودیت په ارتباط د مشخصو معلوماتو په غوښتلو چې د امریکا متحده ایالات څرنګه قصد لری تر څو په کندهار کی د اعتماد وړ او پایداره بریښنایی انرژی تأمین کړی، تکرار او تصریح کړه.

## د تفتیش لیک SP-48-15: افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امریکا متحده ایالاتو نظامی تاسیساتو لیږد

د 2015 کال د اپریل په 17، سیګار د دفاع وزیر ته لیکلی دی ترڅو د امریکا متحده ایالاتو په سلهاوو پخوانی پوځي اډې یا تاسیسات په افغانستان کی د افغانستان ملی امنیتی ځواکونو ته د انتقال په هکله څیړنی وکړی. د 2010 کال راپدیخوا د امریکا متحده ایالاتو 813 پوځي اډې افغان ملی امنیتی ځواکونو ته انتقال کړی دی. اساسی مصارف له ساختمان او توانایی سره یوځای ته په کتو سره که د افغان ملی امنیتی ځواکونو له لوری استعمال شوی نه وی یا د مخالفینو له لوری په خطر کی اچول شوی وی، سیګار د هغه پروسی چې د امریکا دفاع وزارت د پوځي اډو د انتقال په موخه کارولی وی معلومات پلټی.

## حقیقت پاڼه SP-49-14: د 2004 کال څخه تر 2014 کال پوری د CERP لومړیتوبونه او لګښتونه

سیګار د 2015 کال د اپریل په 17 یوه حقیقت پاڼه خپره کړه چې په افغانستان کی د CERP په هکله د سیګار تحلیلونه په تفصیل سره بیانوی، چې د 2004 مالی کال څخه تر 2014 مالی کال پوری د 3.7 میلیارد ډالرو تخصیص لاسته راوړی دی. د جون 2014 پوری د امریکا متحده ایالاتو پوځ ددغه بودیجی څخه 2.3 میلیارد ډالر استعمالی کړی. د سیګار حقیقت پاڼه د CERP د تنزیلی یا نقصانی فعالیتونو په هکله چې په 2012 مالی کال کی شروع شول او، همدارنګه د CERP بودیجی لپاره په قیمتونو کی کمی په هکله تفصیلات ورکړی. دغه حقیقت پاڼي همدارنګه په افغانستان کی د CERP مختلفو پروژو د اهدافو او موقعیتونو تحلیلونه تهیه کړل. په آخر کی دغه حقیقت پاڼي روښانه کړی دا چې د امریکا دفاع وزارت د CERP پروژو واقعی ارزش او قیمت نه ساتی، او د مصارفو قانع کوونکی معلومات سیګار ته نه دی برابر کړي.

## زده کړل شوي درسونه

تیر ربع کې سیګار د زده کړای شویو درسونو پروګرام (LLP) تاسیسول اعلان کړ. LLP به د افغانستان د بیارغونې هڅو چې د 2001 کال راپدیخوا شوی یوه هراړخیزه تجزیه او تحلیل سرته رسوی تر څو غوره کړنې او درسونه وپيژندل شي او سیستماتیک موضوعات په نښه کولو کې چې د امریکا متحده ایالات د بیارغونې هڅې په افغانسان کې ورسره مخ دی، مرسته وشی. LLP دوه روانی پروژی لری چې د بین الاداری هماهنګی تګلاره او پلانګذاری، او د امریکا متحده ایالاتو هماهنګی له نورو بهرنې ملګرو سره دافغانستان سره د همکاری اداره کول ارزوي. LLP اعلان وکړ چې دغه ربع کې به د مخدره توکو پر وړاندی د مبارزی تاثیر د افغانستان په بیا رغونه کې څیړی ـ د تګلاری، هماهنګی، پروګرامونو او لاسته راوړنو له مخی ـ

د 2015 کال د مارچ په میاشت کې LLP او د امریکا متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت د درس زده کړی ادارو له بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت، USAID، ناتو، ملګرو ملتونو او د 11/9 کمیسیون نماینده ګانو سره یو ورکشاپ دایر کړ.د ورکشاپ موخه د برخه اخیستونکو بحث او د LLP سره مرسته په بهتره لارو ده تر څو (1) په افغانستان کې د بیارغونې کوششونو څخه ګټور درسونه یا لاسته راوړنې وپیژندلې شي چې په راتلونکی جګړو کې د تطبیق وړ وی. او (2) د اړوند ارګانونو سره کار کول ترڅو دغه درسونه رسمی یا تعلیمی بڼه غوره کړی. دغه ورکشاپ په همدی ډول د ګډون کوونکو تر منځ بحثونه شامل وو چې څرنګه مختلفی اداری وتوانیږی له یو بل سره کار وکړی تر څو دغه درسونه چې په مختلفو ادارو کې یې وسعت پیدا کړی دی د زده کړی اطمینان حاصل شی.

## د نوی زده کړو پروژه

دغه ربع کې LLP یوه پروژه اعلان کړه چې د مخدره موادو پر وړاندی د مبارزی مؤثریت د افغانستان په بیا رغونې کې بررسی کړی.

### د افغانستان په بیا رغونه کې د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه

د امریکا متحده ایالاتو د 2001 کال راپدیخوا 8 میلیارد ډالره د مخدره موادو پر وړاندې مبارزی کې په بښکیلو ادارو چې هدف یې د تریاکو چې په افغنستان کې کرل کیږی کموالی وو، د هغه همکاریو کموالی چې مخالف پوځ یې د تریاکو د قاچاق په نتیجه کې لاسته راوړی، او د تریاکو د مصرف او صادراتو په کمولو کې مصرف کړی دی. د مخدره موادو پر وړاندې مبارزه کوونکی طرحو کې د بزګرانو په ځمکو کې د تریاکو له منځه وړل، د کرل شویو تریاکو له منځه وړل یا تصرف کول، د مخدره مواد قاچاقچیان ګرفتاره ول او قانونی چلند ورسره کول، د هغه کسانو لپاره چې د تریاکو کرنه د خپل کورنی لپاره د نفقی زریعه بولی د عوایدو د لاسته راوړو لپاره یو بدیل محصول په نظر کی نیول، تریاکو او اپیمو لپاره داخلی او محلی تقاضا د کمولو لپاره کمپاین او مبارزه کول، او د نړیوالو همکاریو نه علاوه د تریاکو کرلو د کمولو لپاره د افغانانو ظرفیت جوړونه شامل دی. په هر حال، دغه کوششونه په افغانستان کې د تریاکو د کمولو اهداف ندی لاسته راوړی. په حقیقت کې، د تریاکو کرونده 2001 کال (8000) هکتار څخه په 2014 کال کې 224000 هکتار ته لوړ شول.

دا په دی معنی ندی چې د مخدره موادو پر خلاف مبارزی هره برخه ناکامه شوی ده. په محلی سطح په مختلفو ځایونو کی پرمختګ شوی دی او په افغانستان کې د مخدره موادو ستونزې څانګړې اړخونه کې. د کوکنارو د ودی نمونی د وخت په تیریدو سره انتقال وموند، چې بعضی ساحی پکی د کوکنارو څخه خالی او بعضی ځایونو کی ډیر زیات کرل کیږی چې یو تفاوت یې رامنځ ته کړی دی. د ملاحظی

> د نوو زده شوو درسونو(لاسته راغلو تجربو) پروژه:
>
> - د افغانستان په بیارغونه کې د نشه ایی توکو پرووړاندې مبارزه

وړ ګرفتاريانی صورت ونيولی، اما بيا هم روښانه او برالا قاچاق موجود دی. د مخالفت او اداری تحرک او قوه هم په تيرو 14 کلونو کی تغير شوی ده، چی په دی ځای کی سوالونه راپورته کوی چی آيا د مخدره موادو پر وړاندې مبارزی تګلاره ددی کار لپاره مناسبه وه يا په دی زمينه کی د اوضاع د تغير ځواب ويونکې ده. په دی هکله پوهيدل ضرور دی چی آيا د مخدره توکو پر خلاف د مبارزی طرحی د نورو مهمو بيارغونی فعاليتونو سره هم آهنګی لری ـ د رسامی درسونه په افغانستان او نورو قوی مخالف چاپيريالونو کی د مخدره موادو پر وړاندې د مبارزی راتلونکی کوششونو کی ددی لپاره د مختلفو فکتورونو چی د کوکنارو د کرنی او توليد په باره کی د واقعی معلوماتو پر خلاف په نظر کی نيول شوی ده يو با احتياطه ارزيابی ته اړتيا شته.

دغه د زده کړی توليدات د امريکا متحده ايالاتو حکومت په افغانستان کی د مخدره موادو پر وړاندی د مبارزی کوششونو مؤثريت په ستراتيژيک او عملياتی سطح باندی امتحانوی. دا کوششونه به په ډاګه کړی چی آيا د نشه ای توکو د کنترول په کوششونو کی يو مناسب توازن او بيلانس موجود وو، آيا کوششونه په مناسب ډول محلی مفادو ته مناسب وو، او دا به په ډاګه کړی چی آيا دغه مواد د يو منسجمی تګلاری په شکل لکه د لوی بيارغونی کوشش يوی برخی يو حصه ده. د پروژی د لاسته راوړنو په اساس سيګار په راتلونکی کی د مخدره مواد پر وړاندې مبارزی کی مجموعی کوششونه د لا کاميابی لپاره سپارښتنه کوی.

په خاص ډول سيګار پلان لری تر څو: (1) د سيګار د افغانستان د بيارغونی سره يو ځای والی په موده کی د تګلارو، پاليسيانو، لومړيتوبونو، او اهدافو پيژندنه او دغه به څرنګه د افغان او نړيوالو اشتراک کوونکو د مخدره موادو سره د مبارزی لومړيتوبونو کی او د USG د افغانستان پراخه کوششونو سره مقايسه شی، (2) د کليوالی/بديل پراختيا پروګرام چی د کوکنارو کمولو هدف لپاره موثريت تعينوی، (3) د هغه کوششونو چی د کوکنارو دلمنځه وړلو تر د کوکنارو تهيه کولو کم او په راتلونکی کی د کوکنارو د کرلو مخنيوی کوی د تاثيراتو مشخص کول، (4) د هغه کوششونو مشخص کول چی د نشه ای توکو د کنترول لپاره د ملی او ولايتی مقاماتو يوځای کول او څرنګه دغه کوششونه پايداره وو، (5) د امنيت تاثيرات د مخدره موادو پر وړاندې مبارزی کوششونو په مؤثريت کی مشخص کوی، (6) د قانون پلی کولو کوششونو تاثيرات مشخص کول د نشه ای توکو د تجارت او د مخالفتونو تر منځ د رابطی قطع کول.

شکل 2.1

د سيګار د اداري تحقيقات: د پرانستي تحقيقاتو شمېر، د 2015 د مارچ تر 31 پورې.

جدول: 324




سرچينه: د سيګار د اداري د تحقيقاتو رياست، 2015/8/4.

## بازرسی

د راپور ورکولو په دوران کی، سيګار 29 نوی پلټنې پيل او 36 يی وتړل، چی د روانو پلټنو شميره 324 ته رسيږی چی په 2.1 شکل کی ښودل شوی دی. د سيګار پلټنې د دری نيلو کيدو، پنځه جرمی معلوماتو، اوه کسانو محکوميدل، څلور د مجازات حکم ورکول او 1.1 ميليون ډالره له جرمانه، ضرر او جبران څخه ترلاسه کولو پايله درلوده. په افغانستان کی دوه کسه د امريکايی تاسيساتو نه اخراج کړای شول.

د ربع په تکميل سره مجموعی جنايی جرمانی، جبران، د ملکی هستوګنی بهتروالی، او د امريکا متحده ايالاتو حکومت د سيګار د روانو تحقيقاتو او څيړنو څخه سپمول 571.6 ميليونه ډالره ته رسيږی. تحقيقاتی نتايجو کی 96 ګرفتاريانی، 120 جنايی جرمونو تورونه، 86 محکومول او 64 ته د مجازاتو د حکم ورکول شامل دی.

## د امریکا متحده ایالاتو اردو پخوانی د تیلو په غلا دسیسه کې محکوم شو

د 2015 کال د جنوری په 14، د شمالی کارولینا په ختیځه ولسوالی کی، د امریکا اردو متخصص الکساندر سویم په فدرالی زندان کی 10 میاشتو بند او 422,303 ډالر د نظامی بخش ته مشخص شوی تیلو په غلا کی باید جرمانی په شکل ورکړی. د حکم د تطبیق په تکمیلیدو په تعقیب سویم به 3 کاله نور د نظارت لاندی تیروی. د 2014 کال د اکتوبر په 6 سویم د عامه ملکیت په غلا او غلا کې په مرسته مجرم وپیژندل شو.

د 2012 کال د جنوري څخه تر اکتوبر 2012 پوری، سویم په افغانستان کې د شرنه مخکښ عملیاتي بیس(FOB) کی د ګډو ځانګړي عملیاتو کاري ځواک ماموریت لاندی په دنده وګمارل شو. په خپل استقرار او کاری موده کی، سویم د نقلیه وسایلو د ساتلو نظارت او خاصو عملیاتي قواوو ته د تیلو ورکولو مسؤولیت په لرلو سره د مخکښ مستری په توګه دنده اجرا کوله. د خپل کاری مودی په څو مختلفو موقعو کی، سویم د هغه تیلو چی نظامی برخی ته مشخص شوی وو د غلا په توطعه کی لاس درلود چی د شرنی نظامي بیس څخه یی د افغانانو د تیل وړلو وسایلو په واسطه د نظامی اډی نه ایستل. د سویم د فعالیتونو په اساس، د امریکا حکومت له 400000 ډالرو نه زیات د تیلو غلا په پایله کی زیامن شو.

## د امریکا متحده ایالاتو اردو ملی ساتونکی بریدمل په ادعا کی د ګناه اعتراف وکړ

د 2015 کال د مارچ په 23، د پنسلوانیا په مینځنی ولسوالی کی، د امریکا متحده ایالاتو اردو ساتونکی بریدملتیموتی ایچ البرت د جنایی معلوماتو په یو حساب د ګناه اعترا ف وکړ او د رشوت اخستلو دسیسه کی جرمانه کړای شو.

دغه تقاضا محکمه د رشوت اخیستنی تحقیقاتو باندی چی افغان قرارداد کوونکی د امریکا متحده ایالاتو نظامی کارمندانو ته د دولتی قراداد اخیستنی په بدل کی اود قراردادونو سره د بشردوستانه کومکونه (HA Yard) د بګرام په میدان هوایی کی تادیه کړی دی تمرکز کوی. د HA Yard فعالیتونه د یو ګودام په حیث د زیات شمیر لباسونو، خوراکی توکو، د مکتب تدارکات یا سامانونه او نور نظامی وسایل د نظامی واحدونو لپاره د افغان خلکو لپاره د بشری کومکونو په موخه موجود دی. HA Yard د قوماندانانو اضطراری جواب پروګرام له طریقه د امریکا متحده ایالاتو نظامی قوماندانانو ته اختیار ورکوی تر څو د انسان دوستانه عاجل ضروریاتو ته جواب ورکړی.

له جنوری 2008 څخه تر اکتوبر 2008 پوری البرایت په خپله دنده کی (د تجارتی خدماتو د پیرودلو متخصص) په BAF کی، یوه توطعه شوی وه چی د 25000 ډالرو په ارزښت رشوت یې د یو افغان ژباړونکي لخوا قبول کړی چی وکولای شی د بعضی مخصوصو افغانانو د خرڅلاو رسیدونه چی د کار کولو په بدل کی یی HA Yard ته سپارلی ؤ په اطمینان او کامیابه توګه پروسس کړی. البرایت چی دغه پیسی له افغان ژباړونکي څخه لاسته راوړی خپلی میرمنی ته چی په لبنان، پنسلوانیا کی وه د امریکا د پوستی خدماتو له لاری ولیږدولی، هغه دغه پیسی په ډیر ماهره توګه د خطونو په پاکټ کی د ډی وی ډی په مینځ کی چی تقریباً به هر پاکټ کی 1000 دالره ؤ ولیږدولی.

## د امریکا د متحده ایالات اردو غړي د رشوت خوړلو اود تورو پیسو سپینولو په ګناه محکوم شوی دی

د فبرورۍ په 10 2015 کې، دغه جرمي معلومات د جورجیا په مینځنی ولسوالی کې ثبت شول، او امریکایی عسکر بریدمل سنیکا همپټن د رشوت خوړلو او د تورو پیسو د سپینولو په جرم محکوم شو.

د فبرورۍ په 11 2015 کې، د جورجیا په مینځنی ولسوالی کې د جرمي معلوماتو ثبت په تعقیب امریکایی عسکر لومړی بریدمل جیمز نورس د رشوت خوړلو او د تورو پیسو د سپینولو به جرم محکوم شو.

د سیګار ابتدایی تحقیقات د همپټن او نورس د امریکایی عسکرو د هغه راپور په اساس چې تیل یی ګردیز ته ندی رسولي. دغه تحقیقات بیانوی چې په مجموعی توګه 59000 ګیلنه تیل د 600,000 ډالرو په ارزښت له لاسه وتلي دي، او همپټن او نورس دواړه مشخص شول چې په رشوت خوړلو پروسه کې او د تیلو په ضایع کولو یي کې لاس درلود. دغه عسکرو بلاخره قبوله کړه چې تقریباً 2000 ډالر روزانه د یو افغان ډرایور نه د رشوت په توګه واخلي او هغه ته اجازه ورکړی چې په 1000 ګونه ګیلنه تیل د نظامی بیس نه وباسی. او دواړو عسکرو په انفرادی توګه دغه د رشوت پیسی په شخصی توګه امریکا ته ولیږدولی.

او همداسی همپټن او نورس دواړو عسکرو ومنله چې دوی د رشوت نه لاسته راوړلو پیسو باندی خپل ځانته موټرې اخیستی دی. دوی دواړو د قرارداد پر اساس باندی ادعا وکړه او ویی منله چې رشوت خوړلو او د رشوت په پیسو موټر اخیستلو جریمه به ورکوی او جبران به یی کوی.

د دوی د محکومیت حکم د مې په 21 د 2015 کال کې صادر شو.



ښي خوا کې د څیړنو او تحقیقاتو لپاره د عمومي پلټونکي د مرستیال معاون ښاغلی شارون ووډ او کیڼ خوا کې ځانګړی استازی لینډي ساویلی چې به دې ربع کې یی د افغانستان د جمهوري ریاست په ماڼي کې په یوه غونډه کې ګډون کړی دی، (د سیګار انځور).

## د بډو لپاره نیول شوي افغان اتباع

عبدالمبین شفیق د 2014 کال د دسمبر میاشتی په 30 پس له هغی چې د څارنوال عبدالغفور له لوری په رشوت خوری ونیول شو، د افغانستان عدلی دفتر ته حاضر کړای شو.

شفیق په 2008 کال کی د امریکا متحده ایالاتو پوځ سره په BAF کی ژباړونکی وو. په هغه وخت کی شفیق امریکایی ځواکونو ته د یو افغان خرڅونکی له لوری نقدی پیسی برابرولو منځګړیتوب کاوه، چې د سیګار د څیړنو یو بیله موضوع ده.

سیګار او د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو جنایی تحقیقاتو قوماندہ (CID) د څارنوال غفور سره په BAF کی ملاقات وکړ او د شفیق په رشوت کی د شراکت مربوط اوضاع او حقایق یی بیان کړل. ملاقات او د څیړنی اسناد چې څارنوال غفور ته وړاندی شول، د شفیق د نیولو او د ځایی قانونی تعقیب سبب وګرځید.

پس له هغی نه شفیق په ضمانت باندی آزاد کړای شو او اضافی تحقیقات او څیړنی دی موضوع په هکله ځنډیدلی دی.

## دوه کسه د پیسو مینځلو دسیسه کې محکوم کړای شول

د 2015 کال د جنوری په 9، د تنیسی په لویدیزه ولسوالی کی، جیمی واین دنیس په 41 میاشتو قید باندی محکوم شو، چی په تعقیب سره بیا 24 میاشتی د نظارت لاندی وو، او د پیسو په مینځلو کی د مرتکب کیدو له امله 115000 ډالر جرمانه شو. په همدی ډول د 2015 کال د جنوری په 9، جیری دنیس دوه کاله د نظارت لاندی جرم باندی محکوم شو چی 6 میاشتی یی په کور کی زندانی وو او د پیسو په درغلیو کی مرتکب کیدو په تور 110000 ډالر جرمانه شو.

جیمی دنیس او جیری دنیس دواړه د رشوت خوری تحقیق موضوعات وو چی د افغان قراردادیانو باندی چی د دولتی قراردادونو چی په BAF د HA Yard پوری مربوطیری دلاسته راوړلو په بدل کی د امریکا متحده ایالاتو ځواکونو ته پیسی ورکوی. د 2008 مارچ څخه تر 2009 مارچ پوری جیمی دنیس، د امریکا پوځ لومړی ضابط په HA Yard کی د پیسو تادیه کولو نماینده په حیث په کار وګمارل شو، د قراردادونو ورکول بعضی مشخصو افغان تجارانو ته تقریباً د 250000 نقدو ډالرو په بدل کی مرسته وکړه. په متعددو وختونو کی، جیمی دنیس په کانتینرونو کی پیسی دوه کسانو ته په امریکا کی انتقال کړی چی یو یی د هغه د پلار هم نومی جری دنیس وو او بل جیمز سی پیټمن د امریکا پخوانی نظامی ملګری وو. جیمی دنیس پیسی ولیګلی او پدی پوهیده چی پیسی به پیټمن ته رسیږی او دا به د هغه د احاطه جوړولو تجارت کی چی په چټانوګا، تنیسی کی وو په کار لګولی کیږی. دغه سرمایه تجارتی حساب ته ورسیدی او په تعقیب سره به جیمی او جیری دنیس ته د معاشی چک په شکل ورکولی کیږی.

د 2014 کال د سپتمبر میاشت کی پیټمن د 12 میاشتو لپاره په قید محکوم شو، 12 میاشتی تر نظارت لاندی او د 25000 امریکایی ډالرو جرمانی حکم هم پری وشو.

## افغان تبعه د 530,000 ډالرو په اختلاس محکوم کړای شو

د 2014 کال د سپتمبر په 31، د افغانستان اسلامی جمهوری دولت پس له یوی ورځی محکمی نه، عبدالخلیل قادری د نیم میلیون ډالر نه زیات پیسو په غلا باندی ګنهګار وپیژندل شو. په عین ورځ کی هغه په پنځه کاله او یوه میاشت زندان باندی محکوم شو او د 539173 ډالرو جرمانی حکم پری صادر شو.

قادری په رسمی ډول د بدیل پراختیا شرکت (DAI) له لوری استخدام شوی وو، چی یو بین المللی شرکت دی چی مرکز یی په بیتسدا، مریلیند کی دی، او د USAID د کرنیز اعتبار د ودی (ACE) مسئول اداره وه. د (ACE) لومړنی هدف د افغانستان دولت سره د 100 میلیونه ډالرو چی د USAID له خوا د کرنې د پرمختیا بودیجی (ADF) په شکل ورکړل شوی ده د مدیریت په برخه کی همکاری وکړی. دغه پروګرام ددی لپاره دیزان شوی وو تر څو د افغانستان د کرنې، اوبو لګونې او مالداری وزارت سره مرسته وکړی تر څو واړه بزګر د پور په شکل ملاتړ کړی او دغه پور وروسته له حاصل اخیستلو نه باید بیرته تادیه کړی.

د ACE اداری د اعتبار محاسب په توګه، د قادری مسولیت د افغانستا نړیوال بانک سره د بودجی یا سرمایی انتقال غوښتنه او د ACE پور توافق نامه د ACE اود پور د متقاضی تاییدی برابر کړی. مستند کول یو ډول مجوز دی چی د AIB له لوری ورته ضرورت دی ترڅو پیسی د ADF پور اخیستونکی ته انتقال کړی. قادری دیوی جعلی کمپنی په جوړولو، جعلی اداری کارونو، او د خپل صلاحیت نه په استفادی سره د غیر قانونی انتقال زمینه مساعده کړه او په نتیجه کی یی 539173 ډالره اختلاس وکړ. په هماغه ورځ هغه ټولی پیسی نقدی و ایستلی. قادری د 2014 کال د اپریل په 2 د افغان ملی اردو له لوری په مزار شریف کی ونیول شو. دغه متعاقبا محکومیت د یو اوږدمحاله همکاری نتیجه ده چی د سیګار، AGO، او USAID OIG له لوری د ټولو تحقیقاتو په جریان کی ساتل شوی ده.

## افغان تبعه ونیول شو

د 2015 کال د مارچ په 11، څارنوال عبدالغفورد AGO یو افغان قرارداد کوونکی، سید عباس شاه مارشال په BAF کی په تقلب ونیو.

یوه څیړنه او تحقیق هغه وخت شروع شو چی کله د کمپلیکس ریزولوشن ډیویژن (CRD) او د BAF سیمیزو قراردادونو مرکز (BRCC) منایندہ ګانو، I د نړیوال قرارداد د فساد کاري ځواک (ICCTF) ته راپور ورکړ چی مارشال د تادیی لپاره یو مشکوکه مطالبه تسلیم کړی ده. مارشال CRD/BRCC ته یو بریښنالیک ولیږه چی دی د امان الله احمدزی کمپنی (AACC) مالک سره شراکت لری او دا چی (AACC) شرکت ته د انتقال وړ تشنابونو پاکولو خدماتو سرته رسول کی چی FOB شرنه کی قرارداد شوی وو 97500 ډالره دی شرکت ته ندی تادیه شوی. څیړنی دا ښیی چی مارشال د AACC شرکت سره هیڅ اړیکی نه لرلی، او دا چی AACC شرکت ته ذکر شوی خدماتو عوض لا پخوا تادیه شوی وو. دغه تصمیم د امریکا متحده ایالاتو ته د 97000 څخه زیاتو ډالرو د ساتنی یا پس انداز سبب شول او د تادیی ادعا مخه ونیولی شوه.

د 2015 کال د مارچ په 4، سیګار د څارنوال عبدالغفور سره قرارداد وکړ تر څو هغه د مارشال له متقلبو فعالیتونو څخه چی دی مرتکب شوی وو له حقایقو څخه آګاه کړی. څارنوال غفور ته د دغه جرم او ګناه ترجمه شوی خلاصه، او د بانک د حوالی دستورالعمل او د تادیی هغه رسیدونه یا صورت حسابونه چی د مارشال له لوری تیار کړای شوی وو تر څو 97000 دالره خپل شخصی حساب ته ولیږی کاپیانی برابره کړای شوی. څارنوال غفور BAF ته د مارشال بیا راتګ په هکله د عاجل خبریدو غوښتنه کړی ده ترڅو هغه توقیف خانی یا حبس ته د بوولو تیاری ونیسی.

د 2015 کال د مارچ په 11 وروسته د BAF امنیتی تلاشی نه د تیریدو، مارشال سیګار او د ICCTF نورو نماینده ګانو ته انتقال کړای شو. د مارشال د موقعیت په هکله د خبریدو په نتیجه کی څارنوال غفور هغه ګرفتار کړ. تحقیقات او څیړنی روانی دی.

## د امریکا متحده ایالاتو د هوایی ځواکونو پخوانی تورن په جرم اعتراف وکړ

د 2015 کال د مارچ په 10، د لوا په شمالی ولسوالی کی، د امریکا متحده ایالاتو هوایی ځواکونو تورن ادم جی جی پودینز جنایی معلوماتو ته ګنهکار وپیژندل شو چی هغه یی د اساساً غلطی بیانیی په ورکولو سره هغه په دوه حساب باندی جرمانه شو چی غلطه بیانیه یی جوړه کړی وه او د کارکوونکو د خبرواترو او ښکاره کیدو محدودیت یی نقض کړی دی.

دغه څیړنی برید جنرال په افغانستان کی پخوانی قرارداد کوونکی مدیر یو شکایت په اساس شروع شوی. د شکایت له مخی، پودینز په کابل کی د قراردادونو سیمه ایز مرکز کی د قراردادونو مدیر په حیث وظیفه سرته رسوله، او د امریکایی ځواکونو څخه وتلو وروسته د شرکتونو نماینده ګی شروع کړه، چی یو هم پکی کابل ملی تجارتی کمپنی KMTC وه د کوم لپاره چی هغه د قرارداد مدیر په حیث وظیفه اجرا کوله.

علاوه له دی نه، د تحقیقاتو په جریان کی پودینز تحقیق کوونکو ته د وخت دوران په هکله دروغ ویلی وو هغه د KMTC سره خبری اتری شروع کړی ددی دپاره چی د هغه نامناسبی اړیکی د KMTC سره پټی کړی چی عبارت دی د هغه خپل پخوانی کار له محدودیت څخه.

## د تیلو د غلا رابرسیره کیدل له نظامی تاسیساتو څخه د یوه افغان د منع کولو سبب شو

د 2015 کال د جنوری په 12، د امریکا متحده ایالاتو د اردو ګاریزون قوماندان په BAF کې نظامی ځواکونو ته د لیګو افغانستان لوژستیک د تیلو د موټر چلونکی لپاره د ممانعت یو لیک (LAL) واستاوه، او دهغه لاسرسی یې د نظامی کمپ داخل ته منع کړ. ده افغان BAF داخل ته له نقلیه واسطی سره چې څو میاشتی مخکی یې داخل کی د حرکت اجازه اخیستی وه او د 1713 د تیلیو د ګیلونونو د انتقال صلاحیت یې درلود. دغه لاری یواځی 273 د تیلو ګیلونونه لرل او ډرایور نشو کولای دغه تفاوت تشریح کړی. دغه موتروان یا درایور د سوال او ځواب پخاطر د پروان پولیسو ته راجع کړای شو او د تیلو د غلا کولو اعتراف یې وکړ. LAL د بېځایه شوی تیلو د قیمت د ارزیابی سره موافقه وکړه او د افغان مقاماتو د لاری د ډرایور پر خلاف څیړنی تعقیب نکړی.

## تعلیق ااو مخنیوی

پدې ربع کې، د سیګار د تعلیق او مخنیوي پروګرام 22 کسان او 22 شرکتونه د مدرکونو او شواهدو په اساس چې د تحقیق په نتیجه کی ورته د سیګار له خوا په افغانستان او امریکا متحده ایالاتو کی پراختیا ورکړل شوه تعلیق او ممانعت ته راجع کړی دی. څلور له دغه کسانو څخه د جنایی جرمونو جرمانی، ددوی په خلاف د ناوړه اداری چې په نتیجه کی د افغانستان بیا رغونی قرارداد متاثره کاوه په تعلیق کی راوستل. لکه څنګه چې په 2.2 شکل کی ښکاری د سیګار لخوا د 2008 کال راهیسی د معرفی شوی کسانو او شرکتونو شمیره 608 ته رسیږی، چې پکی 326 کسان او 282 شرکتونه تر دی نیټی شامل دی.

د 2015 مارچ تر پای پورې، د سیګار کوششونو د تعلیق او مخنیوي څخه استفادی په خاطر د تقلب، فساد او په افغانستان کی د خراب فعالیت په نښه کړل چې په نتیجه کی د 102 تعلیق، 308 نهایی منع شوی، او 28 خاص شخصی نهادونه او شرکتونه چې د امریکا متحده ایالاتو لخوا تمویل شوي بیارغوني پروژو کې ښکیل و، د خاص نهادونو نه د استفادی توانایی چې په دې وروستیو کې د کانګرس له خوا د قوانینو د منظوریدلو په پاله کې رامینځته شوي، او همچنان د سیګار تفتیش سپارښتني او د سیګار د تعلیق او مخنیوي برنامو ترمنځ همغږي او د امریکا دفاع وزارت لخوا. پایله یې د کار وړ پروسه ده چې د ترهګری او ترهګرو د ملاتړ پراساس له قرارداد کولو د ایستلو خبرتیا چمتو کوي.

14 نور کسان او شرکتونه د دولت سره د پروګرام له شوروع نه د قراداد نه د ایستلو په عوض د اداری تطابق موافقی ته ورسیدی. د 2015 کال لومړی ربع کی د سیګار مراجعی د 9 تعلیقیدو، 12 منع کیدو او 28 خاص نهادونه د منفردو کسانو اویا ادارو د اداری د تعلیق او منع او د دفاع ځانګی مسولینو له لوری وپیژندل شول.

تعلیق او ممانعت د اطمینان حاصلولو لپاره مهم وسیله ده تر څو اداری قراردادونه یواځی مسولو نهادونو ته ورکړی. د سیګار پروګرام دری چالشونه چې د امریکا متحده ایالاتود پالسی او په افغانستان کی د احتمالی قرارداونو محیط لخوا مطرح شوی په نښه کوی. د عجل فعالیت کولو ضرورت، د امریکا متحده ایالاتو لخوا د افغانانو او افغانی شرکتونو محدوده اندازه محاکمه کول، او برروسی او امتحان شوی چالشونه د دویم قراردادی څو ګونی محکم کوونکی. سیګار هغه لارو تعقیبولو ته دوام ورکوی ترڅو د حکومت ځوابونه دغه چالشونو او چلنجونو ته د معلوماتی منابعو څخه ابتکاری استفادی په واسطه او په افغانستان او امریکا کی څیړنیزی دارایانی تقویه کړی. سیګار د معلق کولو او منع کولو مراجعی

**د ځانګړي بنسټ ټاکني:** د امریکي متحده ایالاتو د مرکزی قوماندانې د قوماندان له خوا په GSA SAM کې د ګډون څخه د هغه افرادو او بنسټونو محروول چې یاغیانو یا تروریستانو سره د قرارداد یا هغوی ته د مالی مرستو چمتو کولو وړتیا لري چې دغه کار د 2015 زیږدیز کال د NDAA د 841 برخې سره سم ترسره شوی دی. د ځانګړي بنسټ ټاکنې د نا ټاکلي وخت لپاره دی او د یو خبرداري حیثیت لري داسې چې هغه افرادو او بنسټونو ته چې د مرکزي قوماندانی د قوماندان له خوا پیژندل شوي دي، هغوی ته د قرارداد، فرعي قرارداد ورکولو منع، فسخه یا د دولتي تکلاري د موضوع په شان فسخه شوي، د لا زیاتو معلوماتو لپاره د دې راپور54 مخ ته مراجعه وکړئ.

سرچینه: سیګار د ځنډولو او له حق څخه بې برخې کولوپروګرام

شکل 2.2

د سیګار د اداري تحقیقات: د ځنډولو یا ممنوع کولو لپاره تجمعی راجع کول، د 2011 مالي کال ربع 3 – د 2015 مالي کال ربع 2.




سرچینه: د سیګار د اداري د تحقیقاتو ریاست، 4/2/2014.

جوړوی ـ ګامونه چی د امریکا متحده ایالاتو ادارو له لوری د شرکتونو او یا منفرد کسانو د فدرال قرارداد یا همکاری د لاسته راوړو نه د لری کولو لپاره ـ په اساس د تکمیل شوی تحقیقنو چی سیګار په هغه کی ګډون کړی.

په زیاتره حالاتو کی، د سیګار له خوا معرفی یا رجوع شوی د جنایی تحقیقاتو یا اصلاحی فعالیتونولپاره شوی ادعا د یو قرارداد کوونکی مامور له لوری ادعا د قبولیت په نه موجودیت کی واقع کیږی او له همدی وجهی دا د قرارداد کوونکی د غلطی رویی لومړنی اصلاحات ته رسیدنه ده. ادارو ته معرفی یا رجوع کول، سیګار د تعلیق او منع کولو لپاره اساس د خپله همغه اداری نه برابروی او د دی تصمیم لپاره نورو تړلو ملاتړو اسنادو ته اړتیا لیدل کیږی. په افغانستان کی د قرارداد د محیط د بدلون په اساس او د قرارداد کوونکی شته شواهد، غلطه رویه او/یا ناکاره عملیات، سیګار دغه تول د منفرد اشخاصو او شرکتونو رجوع کول د اداری د تعلیق کی راوستلو اویا منع کولو مامورینو توجه لپاره ضروری ګڼلی دی.

د سیګار اوسنی تاکید په تعلیق کولو او منع کولو باندی د هغه حقیقت په رڼا کی واضح شوی چی تر دی نیټی پوری د اداری له لوری 608 مراجعی تعلیق او منع کولو ته سپارل شوی دی، 581 د 2011 کال د دویم ربع راهیسی راجع شوی دی. د 12 میاشتو په جریان کی د 2015 کال د اپریل 1 نه مخکی، د سیګار د تعلیق کولو او منع کول پروګرام له خوا د 208 کسانه او شرکتونه له دولت سره د قرارداد منع کولو ته راجع شوی دی. د سیګار راجع کړای شوی په دغه موده کی د غلا، تقلب، بیکاره فعالیتونو، د مخالفینو مالی ملاتړ او د 841 میلیونه ډالرو په ارزښت د بیارغونی د قرارداد بی کفایته مدیریت ادعا په هکله اندیښنه لری.

**د خاصو نهادونو او ادارو طرحه د د ګومارنې مدیریت اجرا په سیستم کی (د دښمن له قانون سره سم هیڅکله قرارداد مه کوی)**

د 2012 کال سپتمبر راپدیخوا، سیګار کار کړی تر څو اطمینان حاصل کړی چی قراردادیان پوه دی چی هر ډول ملاتړ د مخالفینو او تروریستی ادارو سره د قراداد کولو څخه ویستل شوی دی.ددغه کوششونو یو برخی له مخی، په اساس د 2012 ملی دفاع واکمنی قانون 841 برخی له مخی، سیګار 43 نفر او نهادونه د ځواکونو یا نظامی ځانګی د منع کولو لپاره راجع کړل. داسی فعالیتونو کولو په نتیجه کی، سیګار تصمیم ونیو تر څو د تعلیق او لری کولو پروسه څخه ګټه واخلی ترڅو دغه اخراجونی ثبت کړی او په راتلونکی کی د تدارکاتو پروسی د ساتلو په موخه د وسیلی په شکل وساتل شی. او په همدغه وخت کی، په عامه توګه تر اوسه د ټولو نیول شوی کسانو او ادارو د اخراج پروسی څخه دفاع وشوه. دا به په راتلونکی کی په ډاګه شی چی مخالفین او تروریستی اداری ملاتړ شوی دی.
ضمناً د سیګار د تفتیش ریاست یوه جامع څیړنه سرته ورسوله چی DOD څرنګه د 841 برخه تطبیقوی چی د دښمن سره یی قرارداد کری، نتیجه یی د سیګار 6-13 تفتیش کی: DOD محدوده اطمینان لری چی هغه قراردادیان چی د دښمن له ډلو سره ارتباط لری پیژندل شوی او د هغوی قراردادونه دی فسخ شوی وی، دا خبره د 2013 کال د اپریل په 11 خپره شوه. دغه تفتیش او څیړنی د 841 برخې د تطبیق په برخه کی متعددی خامیانی او ضعیفیانی لرلی، په شمول د قرارداد فعالیتونو او لومړنی قرارداد کوونکی چی دهغه کارکونکی او ورسره نور نهادونه پیژندل شوی چی مخالفین ملاتړ کوی، د یاداشت نشتوالی، اوناتکمیله رهنمایی ګانی چی د یاداشت لاسته راوړلو په صورت کی کوم ډول فعالیتونه د لومړی قرارداد کوونکی او قراردادی فعالیتونو له لوری باید سرته ورسیږی. DOD په خپل سپتمبر 2014 کال اپدیت کی د DOD ضمیمی او اکتساب قانون ته لیکلی، چی په خاصه توګه یی د سیګار د تفتیش لاسته راوړنی د 5 مشخصو تغیراتو اساس په حیث پکی ذکر کړی دی چی څرنګه دوی 841 برخه تطبیق کړی دی، په شمول د میاشتنی چکونو ضرورت د قراداد کوونکی مدیر له لوری تر څو په ډاګه شی چی قرارداد ندی تطبیق شوی یا هغو خلکو او نهادونو ته چی د 841 برخې لاندی راغلی دی ورکړل شوی دی. (د دفاع معاون دفتر د پالیسی تفاهم نامپوکتل شی، - "انحراف او ممانعت د دښمن سره د قرارداد کول" - DARS د نښی نمبر 2014-O0020 سپتمبر 17، 2014)

د سیګار د دفاع او وکالت په سبب، د دوی د تفتیش راپور، او د کانګرس علاقمندی د 841 برخی په بهتروالی کی، د 2014 او NDDA 2015 عنوان لاندی اصلاحات راوستل شول (د دښمن سره د قرارداد نه کولو قانون) چی دغه صلاحیت یی د جنګی ټولو قوماندانانو ته وسیع کړ، په خاصه توګه د توانایی وده تر څو هغه جوانب چی د قرارداد مادی د مخالفینو او تروستانو د ملاتړ لپاره استعمالولو کوشش کوی اخراج کړای شی. ( د ملی دفاع صلاحیتونو قانون Pub. L. No. 113-291، برخه 841 دی وکتل شی، دسمبر 19، 2014)

د 841 برخه او د سیګار د سپارښتنو د تطبیق په اساس، چی د 2014 کال په وروستیو کی شروع شو، DOD، د GSA SAM له طریقه په عامه توګه موجود ډیټابیس کی د هغه منفرد کسانو او قراردادیانو چی د تحدید، قرارداد فسخ کولو، او یا د قرارداد نه کولو لست کی راوستلو کار شروع کړ. (د قرارداد ورکولو مدیریت سیستم بریښنا پاڼی ته مراجعه وشی، www.sam.gov). دغه لست نیونه د

(خاصو نهادونو یا ادارو معرفي) په حیث تشریح شوی، لکه څرنګه چی د کانګرس له لوری وړاندوینه شوی ده د قرارداد کولو مدیر او لومړی قراردادی ته د پیژندنی یاداشت برابرول د 841 برخې د تطبیق لپاره ضروری ده.

په تیره ربع کی، سیګار د SAM مواد بررسی کړل. د 43 معرفی شوی کسانو او نهادونو څخه چی د 2012 کال په سپتمبر کی معرفی شول، 26 یی د اخراجولو په حالت کی دی، اکثریت د کسانو او لومړنی تجارتونو څخه په اصل کی د سیګار له لوری د نظامی ځانګی ته معرفی شول. دغه خاص نهادونه چی معرفی شوی دی د وخت له لحاظه محدود دی او دوی یاداشتونه چی د تعلیقولو او منع کولو سره مشابه دی د هغه فعالیتونو په مقابل کی چی قراردادی سرته رسولی دی برابروی، یو قناعت بخش وسیله برابروی تر څو د سیګار تشویش د تدارکاتو پروسی په هکله ښکاره کوی، او قرادادکوونکو مدیرانو او لومړنی قرادادکوونکو ته یاداشتونه برابروی. په داسی حال کی چی دغه تغیرات د پیشرفت نماینده ګی کوی، دا تر اوسه پوری د منفردو کسانو او نهادونو یوه مهمه برخه چی سیګار د قرارداد دلاسته راوړلو څخه د تعلیق او منع په لست کی راوستی دی سالم پریښی دی. سیګار به ددغه شان کسانو او ادارو یا نهادونو اضافه کولو ته د GSA په لست کی ادامه ورکړی.

## دری کسان او دوه شرکتونه ددی لپاره په تعلیق کی راوستلی شوی چی غوښتل یی په غیر قانونی شکل سره هغه رادیو ګانی چی د بدون د چلوونکی هوایی او ځمکنی انتقالی وسایل کنترول کړی.

د 2015 کال د جنوری په 26، د نظامی بخش د تعلیق کی راوستلو او منع کولو مسولین، ایمان وزین، ادیب نجیب صبح، او د وزنی کمپنی، د ستالیون ساختمانی او انجنیری شرکت، نړیوال قرارداد کوونکو او پراختیایی اداره، او وزنی ګروپ، د دولت سره د قرارداد کولو په تعلیق کی راوستی. دا په اساس اتهام چی د وزنی او صبح باندی چی د امریکا متحده ایالاتو د کولمبیا ولسوالی لپاره محکمه کی د لومړی درجی توطعه د نظامی تجارت کنترول قانون AECA، او د نړیوال ترافیک د نظامی مقرراتو له مخی ITAR، نقض کولو او د امریکا متحده ایالاتو ته په خیانت کولو، یو تعداد غیر قانونی تجارت کوشش کول، او یو ډول په جرم کی مرسته کول او د ITAR او AECA نقض کول. په خاص ډول وزنی او صبح، د وزنی ګروپ له طریقه، کوشش یی وکړ تر څو FBGR115RC-2 ماډل رادیو چی د ځمکنی او هوایی نقلیه وسایلو لپاره چی بدون د چلونکی څخه وی د کنترول لپاره خریداری کړی، او موخه یی ددی وسیلی تجارت جنوبی سوډان ته د بیروت، لبنان اود عربو متحده امارت له لاری وو. دواړه د یوی څیرنی په نتیجه کی چی دیترویت، میچیګان کی ترسره شو د 2012 کال د مارچ میاشت کی زندان ته انتقال شول.

علاوه له دی نه چی هغه په دیترویت کی د تجارت علاقمندی لرله، وزنی د ستالون ساختمانی او انجنیری ګروپ مالک هم دی، چی یو ساختمانی قراردادی دی چی متعدد قرادادونه د قندهار هوای ډګر کی د 2009 څخه تر 2012 پوری ورسره شوی دی. دغه کارونو کی د 3.2 میلیونو ډالرو په ارزښت د افغان ملی اردو د طیارو او الوتکو لپاره د تمځای یا پارکنګ صحن جوړول، د 750000 دالرو په ارزښت د 4 کالیو منځلو ځایونه او د ماموریت ملاتړ تعمیرونه پکی شامل وو، او د 336000 دالرو په ارزښت د USACE څخه دیوال احاطه کول. ستالون د ساختانی او انجنیر ګروپ یو فرعی قرارداد لاسته راوړ تر څو د ملګرو ملتونو کارکوونکو لپاره چی په شمالی افریقا کی په کار بوخت دی د هستوګنی ځایونه برابر کړی. وزنی، صبح، ستالیون ساختمانی او انجنیری ګروپ، نړیوال قرارداد

کوونکو او پراختیا، او وزنی ګروپ، به تر جنایی تحقیقاتو چې د امریکا د کولمبیا ولسوالی کې تر سره کیږی تر تکمیلیدو پوری په تعلیق حالت کې پاتې شی.

## په دغه ربع کې دی سیګار نور نظارتی فعالیتونه

### سیګار د سنا مجلس د بودیجی تخصیص کوونکی فرعی کمیټی ته لیکلی اسناد تسلیم کړی

د فبروری په 24 څانګړي سر مفتش سوپکو لیکلی اسناد د سنا مجلس د بودجی تخصیص کوونکی فرعی کمیټی ته د ایالتی څانګی، بهرنی عملیات او مربوطه پروګرامونو په اړه تسلیم کړل. د سپوکو مدارک د سیګار د 2016 مالی کال د بودجی غوښتنه، د سیګار د روان کار کامیابی، هغه مشکلات او چالشونه چې سیګار یې د خپل ماموریت د سرته رسولو په وړاندی لری، او هغه ګامونه چې ددی چالشونو باندی برلاسه کیدو په موخه اخستل شوی دی ، خلاصه کوی. علاوه له دی نه، دغه مدرک یا سند د بهرنیو چارو وزارت، USAID، او DOD ته وړپه مخ د مدیریت کلیدی او د پروګرام چالشونه ، د ډیر خطر درلودلو ساحو کې چې سیګار پیژندلی دی، تشریح کوی.

د سیګار لاسته راوړنو خلاصه کولو سره، سوپکو اشاره وکړه چې د 2008 کال راهیسی، دغی اداری 1.6 میلیارد ډالر صرفه جویی په شکل پیژندلی، او د سیګار دولت د امریکا دولت ته له 550 میلیونه ډالرو نه زیات سپمولي. د لیکلی مدرک ، جرمانی، او جبران په نتیجه کی چی د جنایی جرمونو په سبب رامنځ ته شوی په مجموعی ډول 18 میلیونه ډالرو ته رسیږی. علاوه له دی نه، د سیګار تحقیقاتی کار د 80 قضیو د محکومیت سبب وګرځیده چی 64 له هغوی نه په جزا محکوم کړای شول.

علاوه له دی نه، د سوپکو مدرک د سیګار له خوا د 188 تفتیشونو او څیړنو د تکمیلیدو راپورونه او 540 سپارښتنی چې تقریباً 1.1 میلیارد ډالره یې د سوال لاندی راوستی دی، چې له دغی بودجی کیدای شی ښه استفاده ورځخه وشی، او د غه بودجه د بالقوه بهبودی لپاره پیژندل شوی ده معلومات ورکړی دی. له دغه 1.1 میلیارد ډالرو څخه د سیګار مالی تفتیش تقریباً 107 میلیونه ډالر د سوال لاندی، اود هغی نه 11.5 میلیونه ډالر تراوسه د ادارو له خوا ساتل شوی دی. د 540 سپارښتنو څخه د بهرنیو چارو وزارت، USAID او DOD 374 یا تقریباً 70 فیصده یې تطبیق کړی دی، او 100 سپارښتنی تر اوسه پر ځای دی.

سوپکو په همدی ډول واضح کړه چې، سیګار سره په افغانستان کی په سرعت سره تغیراتو په جریان کی، د نورو شیانو په منځ کې، څرنګه به دفتر خپل نظارتی ماموریت د پروژی ساحی ته د ناچیز مستقیم لاسرسی په صورت کی سرته رسوی، مرسته وشی. سیګار د 2014 نه تر 2016 پوری یو انتقالی پلان ته پراختیا ورکړی ده. دغه پلان اطمینان ورکوی چی د سیګار انتقالی فعالیتونه د اداری له استراتیژیک پلان او د امریکا متحده ایالاتو ادارو د انتقالی پلانونو سره هماهنګ او همغږی دی. د وخت په تیریدو او په مناسب شکل سره، سیګار به خپل فعالیتونه، میتودونه، تولیدات او تجربی تنظیموی، او د ضرورت په وخت کی به له نوی تګلارو نه هم کټه اخلی تر څو د ساختمانی کارونو نظارت په مستقل او بدون کوم ځنډ یا وقفی نه دوام وموموی. علاوه له دی نه، سیګار به هغه ټولی ضروری کړنلاری چی د نظارت سرته رسولو کی د دولت د کیفیت د معیارونو د ښه کولو لپاره ضرور دی تطبیق کوی.

**ورکړل شوي اعلامیه**

- 15-36-TYاعلامیه: د اسنادو د ساتنې بیانه – په افغانستان کې د څارنې او د لوړ خطر مهمو سیمو په ګوته کولو له لارې د امریکي متحده ایالاتو د بیارغوني هلې ځلو (پروژو) اغیزمنتوب ښه کوي.

په خپل مدرک کې ،سوپکو د سیګار د لوړو خطرو لست په هکله هم بحث کړی، چې په 7 سوالونو باندې چې د اداری له خوا د 2013 کال په شروع کې کار پرې شوی وو جوړ شوی دی، تر څو تصمیم نیونکی رهنمایی کړی چې څنګه د ساختمانی پاتی بودجی نه په ښه ډول ګټه واخستل شی. د لوړو خطرو لست د پروګرام ساحو او د امریکا متحده ایالاتو د بیا رغونی کوششونه په افغانستان کې د توجه غوښتنه کړیده چې دغه ټول په خاص ډول د ملاحظې وړ فساد، تقلب لپاره د خطر علامه ده. له دغه لست سره، سیګار د پروګرامو ساحې چې دوی باور لري چې اداری لکه د بهرنیو چارو وزارت، USAID او DOD تمرکز ته ضرورت لری په نښه کړی دی او دوی بحث کوی چې څرنګه بعضی مشخصی اداری د هغه ساحو چې ددوی نظارت لاندې دی د خطراتو کمولو کې پاتی راغلی دی. علاوه له دی هغه اداری چې خپل کارونه په خپله ارزیابی او په نښه کوی، سیګار په نظر کې لری تر څو دغه لست د خپل نظارتی کارونو د پلانګذاری په خاطر د داخلی وسیلی په حیث استعمال کړی.

بلاخره، سپوکو خپلې خبری په دغه خبر چې ډیر څه پاتی دی چې باید سرته ورسیږی تر څو افغانستان د یو داسی هیواد په توګه چې وکولای شی خپل ثبات او امنیت د خپلو پایداره ملی امنیتی ځواکونو په واسطه اطمینانی کړی، او یو باثباته حکومت ولری تر څو لازم خدمات لکه د قوانینو او تعلیم تطبیقیدل د ملی وګړو لخوا، پایی ته ورسولې. ددغه کوششونو کامیابی د امریکا متحده ایالاتو دولت توانایی پوری تړلی ده تر څو په مؤثره او کار وړ ډول افغانستان ته د بیارغونی همکاری برابری کړی او ډاډ لاسته راشی چې ورکړل شوی بودجه ضایع او بی ځایه نده مصرف شوی چې دا د امریکا متحده ایالاتو لپاره په تاریخ کی د بیارغونی ډیر قیمتی پرګرام دی. سوپکو د سیګار تعهداتو نه چې د امریکا کانګرس، امریکایی اداری، او نور ذیدخل ارګانونو سره د بیارغونې کوششونو مستقل نظارت دوام په هکله او د همکاری ډاډ ورکړ.

## د کورني امنیت یا کورنیو چارو وزارت تحقیقاتو او څیړنو څانګه (HSI) له سیګار سره مرسته کوی

په دغه ربع کی د Homeland امنیتی څیړنو څانګی د سیګار مشترکی هڅی وپیژندلی چې په انحصاری ډول په هغو څیړنو چې د افغانستان مربوط کیږی تمرکز کوی او د پیسو مینځلو اصول (د پیسو تعقیب) سره متحد کوی.

د معاون ډیریک این. برنر په غوښتنه، د HSI داخلی عملیاتو، او معاون لیو جی. کوبیک د HSI نړیوال عملیات، یو پیغام د HSI ټولو معاونینو ته ولیګل شو، دخاصو عواملو مسؤول او ورسره ضمیمی، د سیګار علاقه مندی د HSI سره په ګډه همکاری کی خپل تجربه او تخصص په د قاچاق په مالی او عامه فساد په تحقیقاتو کی وښیی.

په دغه پیغام کی، سیګار د تمایل د انتقال په لړلو چې قاچاق او نامشروع کارونه د تقلب له مختلفو لارو لاسته راځی چې د امریکا متحده ایالات حکومتی بودیجه د امریکا متحده ایالاتو ته واستول شو هم پکی شامل دی. د HSI او سیګار ترمنځ همکاری HSI ته د یو ډول فرصت په شکل وپیژندل شوه تر څو له یوی بلی اداری سره چې موخه او ماموریت یی د افغانستان مربوط څیړنی دی کار وکړی. په پیغام کی، کارکوونکی دی ته هڅول شوی تر څو سیګار سره اړیکه ونیسی او د افغانستان مربوط څیړنو کی له سیګار سره همغږی وکړی، د غیر قانونی یا نامشروع لاسته راوړنی چې د هغه جنایی جرمونو نه چې د فدرالی تدارکاتو تقلب، د قرار داد تقلب، غلا، فساد، دافغان کارکوونکو له لوری بډې اخیستل،او هغه مسایل چې د امریکا متحده ایالاتو د مالیه ورکوونکو ضایعات پوری اړوند شامل دی.

دغه همکاری د سیګار یو مثال دی، د قانون د تطبیق توانایی نفوذ تر څو له نورو ادارو سره همکاری وکولای شی او په ډیر کامیابی سره خپل نظارتی ماموریت سرته ورسوی. په همدی ډول دا د HSI له لوری یو د سیګار لخوا په هیواد کی دننه د فعالیتونو تصدیق وو. دا کار د توجه وړ ده ځکه چی دا د خپلواکۍ ساتلو عملیاتو څخه وروسته نوی نظامی انتقال ماموریت د ربع راپور ورکولو لومړی دور دی او دا ښیی چی سیګار په افغانستان کی د امریکا د قوانینو د تطبیق دلیل ګرځی.

## سیګار د ښځو نړیوالی لمانځغونډی کی ګډون کوی

د 2015 کال د مارچ په 8 د سیګار د کابل دفتر نماینده ګان د ښځو نړیوالی ورځی لمانځغونډه کی ګډون وکړ چی د کاناډا سفارت له لوری ملاتړ کیده. د کاناډا سفیری دیبورا لیونزیو ګروپ ته د ښځی د رهبریت په هکله خپلی تجربی بیان کړی. برخه اخیستونکو ښځو کی له مختلفو مالی کومک کوونکو هیوادونو څخه او په همدی ډول د افغانستان نه هم پکی شاملی وی. دغه لمانځغونډه د ښځو تر منځ د یوځای کار کولو، د شریکولو تجربه او د نړی د ټولو ښځو د لاسته راوړنو لمانځنې لپاره فرصت برابرکړ. د مراسمو په جریان کی خاص میلمه لیندی ساول د سفارت له مختلفو کارکوونکو سره وکتل تر څو د سیګار د روان څیړنیز مسایلو په هکله معلومات وړاندی کړی.



د سیګار درې ښځینه کارکوونکو ته بلنه ورکړل شوې څو د کاناډا سفارت کې د مارچ د میاشتې د ښځو د نړیوالې ورځې د لمانځلو په مراسمو کې ګډون وکړي. د نورو هیوادونو لکه متحده ایالاتو، کاناډا، ناروې، هسپانیې او افغانستان د استازو په مینځ کې یې انځور اخیستل شوی دی. (د سیګار انځور).

## د سیګار بودیجه

سیګار د 2015 مالی کال لپاره 56.9 میلیونه ډالره بودیجه په تثبیت او روان تخصیص شوی قانون کی له کانګرس څخه لاسته راوړله. دغه بودیجه د سیګار نظارتی فعالیتونه او تولیدات د سیګار په پنځو ریاستونو کی د تمویل په شکل ملاتړ کوی: (1) تفتیش او پلټنی، (2) ځانګړې پروژی، (3) تحقیقات او څیړنی، (4) مدیریت او ملاتړ کول، او (5) تحقیق او تحلیل.

## د سیګار کارکوونکی

د ربع په آخر کی سیګار 192 کارکوونکی لرل. سیګار د امریکا ملکی وګړو لپاره 42 پوستونه لری او یو تعداد د افغانستان داخلي وګړی یی استخدام کړی دی چی زیاتره یی د امریکا متحده ایالاتو په سفارت خانه کی چی په کابل کی ده مصروف دی، اما بعضی نور یی د هیواد په مختلفو برخو کی په کار بوخت دی. په همدی ډول سیګار په کابل دفتر کی هم په بعضی ملی او محلی کارکونکو له خوا همکاری کیږی ترڅو د څیړنو او تفتیشونو ریاستونه ملاتړ کړی. علاوه له دی نه، سیګار افغانی کارکوونکی د امریکایی کارکوونکو سره چی په افغانستان کی په موقتی شکل سره استخدام شوی دی یوځای کوی. دغه ربع، سیګار له 256 څخه 11 موقت کارکوونکی په افغانستان کی لرل.



ځانګړی استازی لینډي ساویلی (کینه خوا) په افغانستان کې د فرانسې سفیر ښاغلي جین مایکل مارلوډ سره د فبروري په میاشت کې په یو ملاقات کې (سیګار د مایک فوسټر انځور).

"لکه څرنګه چې زمونږ د اړیکو موجوده مرحله د پای
ټکي ته نږدې شویده. موږ د امریکې متحده ایالتونو
د مرستو قدرداني چې زمونږ له خلکو سره یی کړي
دي، یوازې په الفاظو نشو کولای، خو کیدای شي چې
په بشپړه ریښتینې مانا د هغه شمیر افغانانو په ژوند کې
ولیدل شي چې راتلونکې کې یې بدلون راغلی دی.
د امریکې متحده ایالاتو او همکارانو څخه یې مننه کوم"

— د افغانستان جمهور رئیس اشرف غني

سرچینه: د امریکې متحده ایالتونو د کانګرس ګډې غونډې ته د افغانستان اسلامي جمهوریت، جمهور رئیس جلالتمآب محمد اشرف غني وینا، د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 25 مه نېټه

# 3 دبیارغونې چارو په
# هکله تازه معلومات



# د بیارغونې چارو په هکله تازه معلوماتو لړلیک


| | |
|---|---|
| **عمومي کتنه** | 63 |
| **د بودجې وضعيت** | 67 |
| **امنيت** | 83 |
| **حکومت ولي (حکومت داري)** | 127 |
| **اقتصادي او ټولنيزه پراختيا** | 159 |


**انځور په تير مخ کې**
په کابل کې ختګر د ديوال د بيارغونې به حال کې. (د ملګرو ملتونو د چاپيريال ساتنې پروګرام. د نجيب آزاد انځور)

# د بيارغونې چارو په هکله تازه معلومات

## عمومي کتنه

جمهور رئيس اشرف غني احمدزی او اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله د 2014 زيږديز کال د سپتمبر د مياشتي راهيسي چي د ملي يووالي حکومت خپل کار پيل کړی دی، دا لومړی ځل دی چي د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتي له 22 مي نېټي څخه تر 25 مي نېټي پورې په يو رسمي سفر له واشنګټن ډی سی نه ليدنه کوي.د افغانستان او پاکستان لپاره د امريکي د ځانګړي استازي ډانيل فيلډمين له معلوماتو سره سم، نوموړی سفر د امريکي متحده ايالتونو او افغانستان ترمنځ د دوه اړخيزه اړيکو په جزئياتو کي د بدلون راوستلو په اړتيا باندي متمرکز دی.[40]

د سفر په پايله کي د امريکي متحده ايالتونو د افغان دولت د ملاتړ لپاره يو شمير ژمني وکړي.

- جمهور ر ئيس اوباما تر 2016 زيږديز کال پوري په افغانستان کي د 9,800 امريکايي ځواکونو د پاتي کيدو اعلان وکړ.[41]
- د امريکي متحده ايالتونود د دفاع وزارت په پام کي لري او هڅه کوي څو تر 2017 زيږديز کال پوري د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه چي شمير يې اوس مهال 352,000 ته رسيږي پخپل حال پاتي کيدو په موخه تمويل کړي.[42]
- د جمهور رئيس غني د سمون او اصلاحاتو اجندا د ملاتړ په موخه د 800 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د هڅوني پربنسټ د پراختيايي مشارکت نوی پنځه کلن پروګرام رامينځته کړ. د امريکي متحده ايالتونو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) تر کنترو او اداري لاندي پروګرام له وړاندي چمتو شوي يا غوښتل شوي بودجي څخه کار اخلي او د افغانستان لپاره د نړيوال بانک د بيارغوني وجهي صندوق (ARTF) له لارې به پرمخ يوووړل شي. د امريکي متحده ايالتونو د لوړ پوړي چارواکي د معلوماتو سره سم ، په دې پروګرام کي توپير دادی چي د هڅوني مرحلي به لندمهاله نه وی، چوکاټ چک کړئ، دا کار وکړئ، دا سمون رامينځته کړئ، د هڅوني پربنسټ د تيرو پروګرامونو لارې چارې به تعقيبوي خو د پام وړ اصلاحاتو راوستلو يا پرمختيايي پايلو باندي به متمرکز وي.[43]
- د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) ته د ټاکنو په سيستم کي د اصلاحاتو راوستلو او د ټاکنو د کارونو پرمخ بيولو د ملاتړ په موخه 30 ميليونه امريکايي ډالر تخصيص او چمتو شوي څو د راتلونکي لپاره د قانوني او ټاکنيزو وړتياو(ظرفيتونو) د لوړولو پروګرام دويمه مرحلي (UNDP/ELECT II) د پلي کولو چارې پرمخ بوزي.
- د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام (UNDP) ته د افغانستان د سولي او دوباره يووالي پروګرام د ملاتړ په موخه 10 امريکايي ډالر تخصيص او چمتو شوي دي څو د افغانستان د سولي عالی شورا (HPC) د هلو ځلو سره مرسته او همکاري وکړي.[44]

په داسي حال کي چي د غني او عبدالله سفر په پراخه پيمانه يو بريالی سفر وګڼل شو خو بيا هم د ملي يووالي حکومت د دريو مياشتو په پای کي يوه بشپړه کابينه نه لري او نه هم د دې دريو مياشتو په پای کي دولت د طالبانو سره د سولي خبرو پيلولو په برخه کي کوم برياليتوب ترلاسه کړی دی. د اپريل د مياشتي په

لومړیو کې د افغان نیوز ادارې را پور ورکړ چې عبدالله وایي چې زه په عمومي ډول د حکومت د اجرااتو څخه خوښ او راضي نه یم. د چارو په پرمخ بیولو کې غفلت شوی دی.[45]

د فبروري په میاشت کې د ملګرو ملتونو سرمنشي راپور ورکړ چې په ا فغانستان کې امنیتي وضعیت ډیر خراب او بې ثباته شوی دی، د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر او د 2015 زیږدیز کال د جنوري په میاشتو کې زیات شمیر امنیتي پیښې رامینځه شوي چې د 2001 زیږدیز کال راهیسې د هر کال په ورته موده کې د رامینځته شوو پیښو په پرتله یې کچه لوړه وه، چې لامل یې په حقیقت کې نسبتاً تود ژمی وه.[46] سربیره پردې د ملګرو ملتونو عمومی منشي په را روان اوړي کې د وسله والو نښتو او جګړو وړاندوینه وکړه.[47]

همدارنګه د فبروري په میاشت کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د ذولفقار په نامه نظامي عملیات چې د افغانستان د امنیت ساتلو مسؤلیت په غاړه اخیستلو څخه وروسته د افغانستان د ملی امنیي ځواکونو تر ټول ستر او خپلواک نظامی عملیات ګڼل کیږي پیل کړل څو د هلمند ولایت له یاغیانو څخه پاک کړي.[48] نوموړي 50 ورځیني عملیات د 418 یاغیانو، 93 امنیتي ځواکونو او 7 ملکي وګړو په مړینه پای ته ورسیدل.[49]

د مارچ په میاشت کې په کابل کې د فرخندې په نامه یوه ځوانه ښځه د یوې ډلې خلکو له خوا په دې تور چې قرانکریم یې سوځولی دی، د مرګ تر حده ووهل شوه او بیایی جسد ته اور ورته کړ.د فرخندې د وژلو له کبله د کابل زیات شمیر ښاریانو په سترو لاریونونو لاس پورې کړ.[50] د افغان حکومت د حقایقو د میندنې راپور د معلوماتو سره سم، په 27 کلنې فرخندې باندې د قرانکریم سوځولو تور لګول غلط وو. پولیسو هڅه کوله چې د پیښې په جریان کې مداخله وکړي، خو ځکه ودریدل چې د خلکو ګڼه ګوڼه او تاوتریخوالی زیات وو.[51] د افغانستان لوی څارنوالی اعلان وکړ چې د فرخندې د مړینې په تړاو یې 49 تنه چې 20 یې پولیس دي، نیولي دي.[52]

افغانستان 1393 مالي کال (د 2013 زیږدیز کال د دسمبر د 22 مې نېټې څخه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر 21 مې نېټې پورې) پای ته رسولی او د عوایدو د راټولو په برخه کې د خپل ټاکلي هدف څخه د (35%) په اندازه وروسته پاتې دی. دغه اندازه د 1392 مالي کال د ورته مودې په پرتله 9.9 سلنه کموالی ښیي، په داسې حال کې چې په لګښتونو کې 9.2 سلنه زیاتوالی راغلی دی. د افغانستان د 1393 مالي کال د ټول ټال بودجې (5.2 بیلیونه امریکایي ډالرو) 33 سلنه (1.7بیلیونه امریکایي ډالره) د کورنیو عوایدو څخه ترلاسه شوي او پاتې یې د تمویلوونکو هیوادونوله خوا چمتو او ورکړل شوي. په دې ربع کې د 1394 مالي کال ملي بودجه منظور شوه چې 7.65 بیلیونه امریکایي ډالره ده چې د 1393 مالي کال په پرتله په کې 1.8 سلنه زیاتوالی راغلی دی. د افغانستان حکومت او نړیوال وجهی صندوق د افغانستان د سترو اقتصادي ټګ لارو او تشکیلاتي اصلاحاتو اجندا د پلي کولو چارو د څارنې په موخه د کارکوونکو په کچه نهه میاشتنې توافق ته ورسیدل. د امریکې متحده ایالاتونو د خزانې (مالي چارو) وزیر موافقه وکړې څو د افغانستان دولت د مالي چارو د مدیریت سیستم او د مالي سکتور د څار او نظارت برخو د پیاوړي کولو په موخه د تخنیکي مرستو او وړتیا (ظرفیت) لوړولو پروګرامونه رامینځته کړي.

د 2015 زیږدیز کال د مارچ میاشتې 31 مې نېټې پورې، تقریباً 109.8 بیلیونه امریکایي ډالر د افغانستان د هوساینې او بیارغونې چارو ته چې له 2002 کال راهیسې روانې دي،ځانګړې کړل شوي دي. د ټول ټال بودجې له جملې څخه 92.5 بیلیونه امریکایي ډالر د بیارغونې د اوو سترو صندوقونولپاره ځانګړې کړل شوي دي چې له دې جملې څخه 14.9 بیلیونه امریکایي ډالرد نورو ممکنه لګښتونو لپاره د بودجې به پایپ لاین کې باقي پاتې شوي دي. جمهور رئیس اوباما د 2015 زیږدیز کال د فبروري په 2 مه نېټه د 2016 مالي کال لپاره د بودجې غوښتنه وکړه، که چیرې نوموړې غوښتنه منظور شي نو په دې صورت کې به د بیارغونې د سترو پروژو د پرمخ بیولو په موخه 5.4 بیلیونه امریکایي ډالر نور هم ورکړي چې تقریباً ورته اندازه بودجه په 2015 مالي کال کې هم چمتو او ورکړل شوې وه.

د امریکې متحده ایالتونه د افغانستان دولت ته د نیغ په نیغه تادیاتو له لارې د بودجې پربنسټ او یا د افغان دولت بنسټونو ته د څو هیوادونو په جهي صندوقونو کې د برخې اخیستنې له لارې مرستې چمتو کوي. د امریکې متحده ایالتونو د 2002 زېږدیز کال راهیسې د بودجې پر بنسټ تقریباً 8.5 بیلیونه امریکایي ډالر مرسته چمتو او برابره کړې ده چې له دې جملې څخه 4.4 بیلیونه امریکایي ډالر د افغان حکومت د وزارتونو او بنسټونو او نږدې 4.1 بیلیون د څو هیوادونو وجهي صندوقونو ته چمتو او برابره کړې ده چې په دې کې د نړیوال بانک د افغانستان بیارغوني خیریه وجهي صندوق (ARTF)، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د افغانستان د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA) او د آسیا پراختیایي بانک د افغانستان د زیربناء وجهي صندوق (AIFT) شامل دي.3.1 جدول د بوجې پربنسټ د ا فغانستان دولت بنسټونو ته د مرستو چمتو کول ښیي

جدول 3.1

**افغانستان ته د 2002 زیږدیز کال راهیسي د بودجې پربنسټ د مرستو چمتو کول (میلیونه ډالر)**

| | |
|---|---|
| **له حکومت څخه حکومت ته** | |
| د امریکې دفاع وزارت | $2,905 |
| د امریکې د بهرنیو چارو وزارت | 92 |
| USAID | 1,404 |
| **څو اړخیزه وجهي صندوقونه** | |
| LOTFA | $1,519 |
| ARTF | 2,430 |
| AITF | 105 |

یادښت: د حکومت څخه حکومته ته ارقام هغه اندازه ښیی چې د امریکې متحده ایالاتو یې د بودجې پربنسټ مرستو په برخه کې ژمنه کړې وه چې په هغې کې د څو هیوادونو د وجهي صندوقونو ژمنې شامل نه دي. د څو اړخیزه وجهي صندوق ارقام هغه اندازه ښیي چې د امریکې متحده ایالاتو له خوا هر وجهی صندوق ته ورکړل شوي دي.

سرچینه: نیغ په نیغه مرستې: د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د تمویلوونکو ادارو د بودجو د کنټرول په موخه د افغانستان د وزارتونو د وړتیاوو د ارزونې لپاره یو لړ مثبت اقدامات ترسره کړي دي، خو کمزوري لا په ځای پاتې ده، د حسابونو د تصفیه کولو راپور 2014/32-AR, 1-14 سیګار. د ا فغانستان د مالي دفاع ا وکورنیو چارو وزارتونو د مالي چارو د مدیریت د وړتیا وو د خطر بشپړې ارزونې به د 4 بیلیونه امریکایي ډالرو نیغ په نیغه مرستو د څارنې بهیر ښه او اصلاح کړي.د پروژې ځانګړی راپور، 12-SP,-Report 14 2013/12 د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID)، د سیګار له خوا د معلوماتو غوښتلو ته ځواب ویل، 2015/9/4, نړیوال بانک، ARTF: د مالي چارو د وضعیت په هکله د اداري چارو د مسؤل راپور، 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 20مه نېټه (د 1394 مالي کال د دریمې میاشتې پای)، (p. 5; UNDP, "(LOTFA، د 2014 زیږدیز کال د دریم ربعې د پروژې د پرمختګ راپور، 2015/17/1, p. 47، د سیګار له خوا د ملګرو ملتونو پراختیایی بروګرام د LOTFA د درې میاشتنیو او کلني راپور تحلیل او شننه، 2015/17/1

# د بودیجې څرنګوالی محتویات


د افغانستان د بيارغونې لپاره د متحده
ايالاتو لخوا ځانګړې شوې بوديجه 68

د افغانستان د بيارغوونې د بوديجې
د برابرولو لاره 70

د افغانستان د امنيتي ځواکونو
بوديجوي فعاليتونه 72

د افغانستان د امنيتي ځواکونو
بوديجوي فعاليتونه 73

د قومندان د بيړنۍ مرستې پروګرام 74

د افغانستان د زيربنا بوديجه 75

د سوداګرۍ او تيکاو د عملياتو
کاري ځواک 76

د مخدره توکوسره د مبارزې او مخنيوي
په برخه کې د دفاع وزارت فعاليتونه 77

اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) 78

د مخدره توکو نړيوال کنترول
او د قانون پلي کول 79

د افغانستان د بيارغونې لپاره
نړيواله بوديجه 80

# د بودیجې څرنګوالی

ددې لپاره چې د سیګار د اداري قانوني حکم ترسره شي، دغه برخه په افغانستان کې دبیارغونې د فعالیتونو لپاره د ځانګړې شوي،ژمنه شوي او ورکړل شوي بودیجې د څرنګوالي په هکله بشپړ معلومات وړاندې کوي. د 2002 زیږدیز مالي کال له پیل څخه د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې متحده ایالاتونو په افغانستان کې دهوساینې او بیا رغونې لپاره تقریباً 109.78 میلیارده ډالر ځانګړې کړې دي چې په لاندې توګه ورڅخه یادوونه کیږي.

- 65.17 میلیارده ډالر د امنیت په برخه کې (4.56 میلیارده ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې لپاره)
- 31.85 میلیارده ډالر د ښې حکومتوالی او پرمختیا په برخه کې (3.81 میلیارده ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې د نوښت لپاره)
- 2.89 میلیارده ډالر د بشري مرستو په برخه کې
- 9.86 میلیارده ډالر د ملکي چارو لپاره

3.1 انځور د متحده ایالاتو هغه عمده بودیجې ښایي چې په پورته یادو شویو برخو کې مرسته کوي

3.1 انځور

**د افغانستان د بیا رغونې له هڅوڅخه د ملاتړ لپاره د متحده ایالاتو بسپنې** (بمیلیارده ډالر)




**ASFF:** د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه
**CERP:** د قومندان د بیړنۍ مرستې پروګرام
**AIF:** د افغانستان د زیربنا بودیجه
**TFBSO:** د سوداګرۍ او ټیکاو د عملیاتو کاري ځواک
**DOD CN:** مخدره توکو سره د مبارزې او مخنیوي په برخه کې د دفاع وزارت فعالیتونه
**ESF:** د اقتصادي ملاتړ بودیجه
**INCLE:** د مخدره توکو نړیوال کنټرول او د قانون پلي کول
**نور:** نورې بودیجې

پورې اړوند د 2015 مالي کال تخصیص شوي مبالغ، د سریزې تخصیصونه منعکس کوي او د USAID یادونه: عددونه ګردي شوي دي. د بهرنیو چارو وزارت او کانګرس تصویب پورې مشروط دي.

[a] BBG او USDA، DEA، د امریکا د خزانې وزارت، USAID، په ډیرى ادارو کې د امریکا عدلیه وزارت، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د امریکا دفاع وزارت دسیګارشامل دي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/21/2015، 4/17/2015، 4/10/2015، 10/22/2012، 10/14/2009 او 10/1/2009؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب 4/15/2015، 3/30/2015، 1/16/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ د امریکا د خزانې وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/6/2015؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتوغوښتنې ته ځواب، 4/9/2015، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ د امریکا د عدلیې وزارت، د سیګار معلوماتوغوښتنې ته ځواب، 4/9/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د AR(M) 1002 د 2015 د مارچ مالي کال د پروګرام او فرعي حساباتو پربنسټ د تخصیص وضعیت،" 4/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-2012 او 111-118.

# د افغانستان د بیارغوني لپاره د متحده ایالاتو لخوا ځانګړې شوې بودیجه




**هغه بودیجه چې له 2002 زېږدیز مالي کال څخه را پدیخوا په اوو لویو بودیجوي برخوکې د متحده ایالاتو لخوا برابره شویده(د 92.50 میلیارده ډالرو څخه زیاته بودیجه) د افغانستان د بیارغوني لپاره د مجموعي بودیجې 84% تشکیلوي. لدې مقدار څخه تقریباً 86.7% (80.17 میلیارده ډالر) بودیجې ژمنه شویده او د 80.0% څخه زیاته بودیجه (تقریباً 74.02 میلیارده ډالر) ورکړل شویده. ددې بودیجې د مجموعي څخه په اټکلي توګه د 3.63میلیارده ډالرو د ورکړې وخت تیرشویدی.**

هغه تولي مالي مرستې چې د افغانستان د هوساینې او بیا رغوني لپاره د 2015 زېږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې ځانګړې شویدي تقریباً 109.78 میلیارده ډالرو ته رسیږي چې په 3.2 انځور کې ښودل شویدي. دغه مجموعه د بیارغوني په لاندې څلورو برخو ویشل کیږي: امنیت، ښه حکومتوالي او پرمختیا، بشري مرستې او د فعالیت او نظارت برخه. ددغو مرستو څخه تقریباً 8.37 میلیارده ډالر د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې لګول شویدي چې دغه لګښت د امنیتي برخې بودیجه (4.56 میلیارده) او د ښې حکومتوالي او پرمختیا د برخې بودیجه (3.81 میلیارده) کموي. د متحده ایالاتو لخوا د ځانګړې شوې بودیجې په هکله د بشپړو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د B ضمیمه وګورئ.

د 2015 زېږدیز کال د مرستو د دوام او عمومي تخصیص د حکم پر بنسټ 6.54 میلیارده ډالره اضافي بودیجه د 2015 زېږدیز مالي کال لپاره برابره شویده چې په 3.3 انځور کې ښودل شویده. ددغې بودیجې ډیره برخه (76.6%) د دوه برخو لپاره ځانګړې شویده چې 4.11 میلیارده ډالره د افغانستان د امنیتي قواوو او 900 ملیونه ډالره یې د اقتصادي برخې څخه د ملاتړ لپاره ځانګړې شویدي. بیا هم د نورو برخو په پرتله د امنیت لپاره زیاته بودیجه په نظرکې نیول شویده چې له هغې جملې څخه د امنیتي

3.2 انځور

**د تمویل د کټګوریو پربنسټ مجموعي تخصیصونه، 31 کال د مارچ تر 2015 پورې** (میلیارده ډالر)




یادونه: عددونه ګردي شوي دي. د بهرنیو چارو وزارت او USAID حسابونو لپاره د 2015 مالي کال تخصیص شوي اندازې دافغانستان لپاره سریزه انعکاس ورکوي او د کانګرس نهایي تصویب پورې مشروط دی. د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2011 مالي کال 1 میلیارد ډالر بیرته پروګرام کړل. د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2012مالي کال 1 میلیارد ډالر بیرته پروګرام کړل. Pub. L. 113-6د ASFF د 2012 مالي کال څخه 1 میلیارد ډالر لغوه کړل. د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2013مالي کال 178 میلیونه ډالر بیرته پروګرام کړل، Pub. L. 113-235 د ASFF د 2014 مالي کال 764.38 میلیون ډالر لغوه کړل. د امریکا دفاع وزارت د AIF د 2011 مالي کال 101 میلیون ډالر او د AIF د 2013 مالي کال 179.5 میلیونه ډالر د زیربنایي پروژو د تمویلولو لپآره چې د USAID لخوا پلي کیږي، ESF ته انتقال کړ.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار معلوماتوغوښتني ته ځواب، 4/21/2015، 4/17/2015، 4/10/2015، 10/22/2012، 10/14/2009 و 10/1/2009؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب، 4/15/2015، 3/30/2015، 1/16/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 و 6/27/2012؛ د امریکا د خزانې وزارت، د معلوماتوغوښتني ته ځواب، 4/6/2015؛ OMB، د سیګار معلوماتو غوښتني ته ځواب ، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سیګار معلوماتوغوښتني ځواب، 4/9/2015، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ د امریکا د عدلیې وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتني ځواب، 4/9/2015 و 7/7/2009؛ USDA، د سیګار معلوماتو غوښتني ځواب، 4/2009؛ DFAS، "د AR(M) 1002 د 2015 د مارچ د مالي کال د پروګرام او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصیص وضعیت،" 4/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74, 112-10, 111-212 او 111-118.

ځواکونو د روزنې، تجهيز او ملاتړ لپاره نظر نورو ټولو برخوته د بيارغوونې د بودېچې په ګډون ډيره بوديجه ورکړل شويده چې تقريباً د 2015 زيږديز مالي کال 65.1 سلنه بوديجه تشکيلوي.

د 2015 زيږديز کال د فبرورى د مياشتې په دوهمه نيټه ولسمشر اوباما د 2016 زيږديز مالي کال د بوديجې لپاره خپل وړانديز وړاندې کړ. که چيرې دغه وړانديز منظور شي نو 5.4 ميلياره اضافي بوديجه به د بيارغوني لپاره ورکړل شي، چې دې سره به ددې برخې بوديجه تقريباً هماغې اندازې ته ورسيږي چې په 2015 زيږديز مالي کال کې دغې برخې ته ورکړل شوې وه. هغه بوديجه چې په 2016 زيږديز مالي کال کې د عمومي بيا رغوني لپاره ځانګړې شويده، لاندې برخې پکې شاملې دي.

- 3.76 ميلياره ډالر د امنيتي ځواکونو څخه د ملاتړ لپاره (ASFF)
- 1.23 ميلياره ډالر د اقتصادي برخې څخه د ملاتړ لپاره (ESF)
- 250 مليونه ډالر د مخدره توکو سره د نړيوالي مبارزې او د قانون د پلي کولو په برخه کې (INCLE)
- 147.6 مليونه ډالر د مخدر توکو سره د مبارزې او مخنيوي لپاره (DOD CN)
- 10 مليونه ډالر د قومندان د بيړنيو مرستو د پروګرام لپاره (CERP)

انځور 3.3

**د مالي کال پرېنسټ تخصيص، اندازه او کټګورى** ($ ميليارده)




يادښت: عددونه غيراعشاري شوي دي. د بهرنيو چارو وزارت او د USAID په حسابونو کې د 2015 مالي کال د تخصيص اندازه د افغانستان لپاره د سريزي تخصيصونو ته انعکاس ورکوي د کانګرس نهايي تصويب ته مشروط وي. د امريکا د دفاع وزارت په 2011 کال کې د افغان امنيتي ځواکونو 1 ميلياره ډالره وجوه بيا برنامه ريزي کړل. د امريکا د دفاع وزارت په 2012 کال کې د افغان امنيتي ځواکونو 1 ميلياره ډالره وجوه (فنډ) بيا برنامه ريزي کړل. د 235-L.113 خپرول، په 2012 مالي کال کې د افغان امنيتي ځواکونو له وجوهو څخه 1 ميلياره ډالره لغوه کول. د امريکا د دفاع وزارت د افغان امنيتي ځواکونو 178 ميليونه ډالره په 2013 مالي کال کې دوباره برنامه ريزي کړل. 235-L.113 خپرول، په 20142013 مالي کال کې د افغان امنيتي ځواکونو له وجوه څخه 764.38 ميليونه ډالره لغوه کړل د امريکا ددفاع وزارت په 2011 مالي کال کې د افغانستان د زيربناوو له وجوه څخه 101 ميليونه ډالره او په 2013 مالي کال کې د افغانستان د زيربناوو له وجوه څخه 179.5 ميليونه ډالره د اقتصادي ملاتړ وجوه ته انتقال کړل ترڅو هغه زيربنايي پروژې چې د USAID په واسطه تطبيقيږي تمويل کړي.

سرچينه: د امريکا د دفاع وزارت، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب، 4/21/2015، 4/17/2015، 4/10/2015، 10/22/2012، 10/14/2009 و 10/1/2009؛ د امريکا د بهرنيو چارو وزارت، دسګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب ، 4/15/2015، 3/30/2015، 1/16/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ د امريکادخزانې وزارت، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب، 4/16/2015، OMB، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب ، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2015، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ د امريکا د عدليې وزارت ، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب ، 4/9/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب ، 4/2009، 1002 (AR(M "DFAS، د2015 کال د مارچ د د مالي کال او فرعي حسابونو پروګرام دتخصيص وضعيت، "4/17/2015؛ خپرول 2-111، 10-112، 74-112، 76-113، 235-113 .L.Nos و 118-111.

## د افغانستان د بيارغوونې د بوديجې د برابرولو لاره

د 2002 زیږديز کال را پدېخوا کانګرس تقریباً 109.78 میلیارده ډالر د افغانستان د هوساينې او بیارغوونې لپاره ځانګړي کړيدي. ددې جملې څخه 92.50 میلیارده ډالر (84.3) د بیارغوونې اووو سترو بوديجو ته ځانګړې شويدي چې په 3.2 جدول.

کې په بنه ډول ښودل شويدي. د مجموعي ژمنه شوې بوديجې له جملې څخه تقريباً 14.86 میلیارده ډالر د 2015 زیږديز کال د مارچ تر 31 مې نیټې پورې د ممکنه ورکړې لپاره چمتو باقي پاتې وې چې په 3.4 انځور کې ښودل شويدي. دغه بوديجه به د جاري لويو زيربنائي پروژو لکه هغه پروژې چې د AIF او ESF لخوا تمويليږي او همدارنګه د ملي امنيتي ځواکونو روزنه، تجهيز او پاينښت، د مخدره توکو د توليد او قاچاق سره مبارزه، د قانون د پلي کولو څخه ملاتړ، د عدلي سکتور پیاوړتیا او د بشري حقونو پراختيا د پروژې د تکميل لپاره و کارول شي.

3.2 جدول

**د 2002 – 2015 مالي کال پورې ځانګړې شوې، ژمنه شوې او ورکړل شوې مجموعي بوديجه**
(ميلیارده ډالر)

| | ځانګړې شوې | ژمنه شوې | ورکړل شوې | Remaining |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجه (ASFF) | $60.67 | $53.08 | $51.60 | $7.64 |
| دقمندان د بیړنی مرستي پروګرام (CERP) | 3.68 | 2.28 | 2.26 | 0.03 |
| د افغانستان د زیربنا بوديجه (AIF) | 1.04 | 0.84 | 0.38 | 0.53 |
| (TFBSO) د سوداګرۍ او ثبات د فعاليتونو کاري قوه | 0.82 | 0.77 | 0.61 | 0.17 |
| مخدره توکو سره د مبارزې او مخنيوي په برخه کې د دفاع وزارت فعاليتونه (DOD CN) | 2.98 | 2.75 | 2.75 | 0.24 |
| د اقتصادي ملاتړ بوديجه (ESF) | 18.61 | 16.30 | 13.09 | 4.97 |
| د مخدره توکو نړيوال کنټرول او د قانون پلي کول (INCLE) | 4.69 | 4.16 | 3.34 | 1.29 |
| **د اوو سترو بوديجو مجموعه** | **$92.50** | **$80.17** | **$74.02** | **$14.86** |
| د بیارغوني نورې بوديجې | 7.41 | | | |
| ملکي فعاليتونه | 9.86 | | | |
| **مجموعه** | **$109.78** | | | |

نوټ: ټول اعشارې ارقام په مکملو اعدادو اړول شويدي. وروسته لدې چې هغه 3.6 میلیارده ډالر چې د تاديې وخت يې تیرشوې دی د مجموعي بوديجې څخه منفي شي، باقي پاتې رقم د بیاروغونې د اوو سترو بوديجو مجموعه ښائي. د DOD CN لپاره ژمنه شوی او ورکړل شوی مقدار هغه بوديجه منعکسه وي چې نظامي خدماتو او دفاعي ادارو ته انتقال شويدي تر څو د افغانستان لپاره مصرف شي. انځورونه هغه بوديجه منعکسوي چې تر دې نيټې پورې انتقال شوې، بیرته ګرځول شوې او یا هم بیا پروګرام شويده.

سرچینه: د د تخصيص د قانون څخه د سګار د اداري تحليل او هغه معلومات چې د هرې ربعې لپاره د ژمنه شوې او ورکړل شوې بوديجې په هکله د د دفاع او د بهرنيو چارو د وزارتونو او د USAID لخوا برابر شويدي، 4/21/2015.

3.4 انځور

**د ورکړې لپاره پاتې شوې تجمعي اندازه**

($ ميليارده)

**تخصيص شوی مجموعه:** $92.50




د 2014 کال د دسمبر په 16مه نیټــــــه ولسمشر اوباما د 2015 ميلادي کال لپاره د مرستو د دوام او عمومي تخصيص حکم لاسليک کړ چې د متحده ايالاتو حکومت ته د باقي پاتې مالي کال لپاره بوديجه برابروي او همدارنګه د اوو سترو پروژو له جملې څخه پنځو پروژو ته 5.42 میلیارده اضافي ډالر برابروي چې د 3.3 جدول په حاشيه کې ښودل شويدي. د AIF او TFBSO د نوو پروژو لپاره هيڅ اضافي بوديجه نده ورکړل شوې. د 2015 زیږديز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې د 2015 زیږديز مالي کال له بوديجې څخه يواځې د 214,263 ډالرو ژمنه شوې او ورکړل شويدي چې ډيرې برخه يې له CERP څخه اجرأ شويدي.

3.3 جدول

**د 2015 مالي کال لپاره ځانګړې شوې بوديجه**
(ملیونه ډالر)

| | ځانګړې شوې |
|---|---|
| ASFF | $4,109.33 |
| CERP | 10.00 |
| DOD CN | 147.60 |
| ESF | 900.00 |
| INCLE | 250.00 |
| **د 5 سترو بوديجو مجموعه** | **$5,416.93** |

نوټ: ټول اعشارې ارقام په مکملو اعدادو بدل کړای شويدي. ESF او INCLE تصويد شوی تخصيص منعکسه وي چې د افغانستان لپاره مصرف شي خو د کانګرس د منظورۍ وروسته به د اجرأ وړ وي.

سرچینه: د سيګار معلوماتی خبر ته د دفاع وزارت ځواب 10/04/2015؛ د سيګار د اداري معلوماتي خبر ته د بهرنيو چارو د وزارت ځواب 15/04/2015 د نشر شميره 113-235.

کانګرس د افغانستان د بیارغوونې په موخه د 2013 زیږدیز مالي کال لپاره د 9.63 میلیاردو څخه د ډېرې بودیجې د ورکړې ژمنه وکړه. د هغې جملې نه 8.08 میلیارده ډالر د سترو پروژو بودیجې ته ولیږدول شول. د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې ددې بودیجې تقریباً 2.20 میلیارده ډالر د ممکنه ورکړې لپاره چمتو باقي پاتې ول چې په 3.4 جدول او 3.5 انځور کې ښودل شویدي.

3.4 جدول

**د 2013 مالي کال لپاره خانګړي شوی، ژمنه شوي او ورکړل شوي مجموعي بودیجه** (ملیونه ډالر)

| | خانګړي شوي | ژمنه شوي | ورکړل شوي | Remaining |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $4,946.20 | $4,824.20 | $4,604.81 | $219.39 |
| CERP | 200.00 | 42.07 | 37.14 | 4.93 |
| AIF | 145.50 | 130.31 | 56.33 | 73.98 |
| TFBSO | 138.20 | 134.06 | 79.11 | 54.95 |
| DOD CN | 255.81 | 255.81 | 255.81 | 0.00 |
| ESF | 1,802.65 | 1,719.88 | 355.03 | 1,364.85 |
| INCLE | 593.81 | 593.57 | 115.36 | 478.21 |
| **د اوو سترو بودیجو مجموعه** | **$8,082.17** | **$7,699.91** | **$5,503.60** | **$2,196.31** |

نوټ: ټول اعشاریه ارقام په مکملو اعدادو اړول شویدي. وروسته لدې چې هغه 382 ملیونه ډالر چې د تادیې وخت یې تیرشوی دی د مجموعي بودیجې څخه منفي شي، باقي پاتې رقم د بیارغوونې د اوو سترو بودیجو مجموعه ښائي. د DOD CN لپاره ژمنه شوی او ورکړل شوی مقدار هغه بودیجه منعکسه وي چې نظامي خدماتو او دفاعي ادارو ته انتقال شویدي تر څو د افغانستان لپاره مصرف شي. انځورونه هغه بودیجه منعکسوي چې تر دې نیټې پورې انتقال شوې، بیرته ګرځول شوې او یا هم بیا پروګرام شویده.

سرچینه: د تخصیص د قانون څخه د سیګار د اداري تحلیل او هغه معلومات چې د هرې ربعې لپاره د ژمنه شوې او ورکړل شوې بودیجې په هکله د د دفاع او د بهرنیو چارو د وزارتونو او د USAID لخوا برابر شویدي، 21/4/2015.

3.5 انځور

**د ورکړې لپاره د 2013 مالي کال پاتې مبلغ** ($ میلیارده)




کانګرس د افغانستان د بیارغوونې په موخه د 2014 زیږدیز مالي کال لپاره د 6.78 میلیارده ډالرو څخه د ډېرې بودیجې د ورکړې ژمنه وکړه. د هغې جملې نه تقریباً5.61 میلیارده ډالر د سترو پروژو بودیجې ته ولیږدول شول. د 2015 کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې ددې بودیجې تقریباً 3.80 میلیارده ډالر د ممکنه ورکړې لپاره چمتو باقي پاتې وه چې په 3.5 جدول او 3.6 انځور کې په سترګو کیږي.

3.5 جدول

**د 2014 مالي کال لپاره خانګړي شوی، ژمنه شوي او ورکړل شوي مجموعي بودیجه** (ملیونه ډالر)

| | خانګړي شوي | ژمنه شوي | ورکړل شوي | Remaining |
|---|---|---|---|---|
| ASFF | $3,962.34 | $1,913.94 | $1,556.85 | $2,405.49 |
| CERP | 30.00 | 6.36 | 5.28 | 1.08 |
| AIF | 199.00 | 133.98 | 1.79 | 197.21 |
| TFBSO | 122.24 | 106.87 | 82.19 | 40.05 |
| DOD CN | 215.46 | 127.55 | 127.55 | 87.91 |
| ESF | 852.00 | 0.02 | 0.00 | 852.00 |
| INCLE | 225.00 | 12.13 | 10.20 | 214.80 |
| **د اوو سترو بودیجو مجموعه** | **$5,606.04** | **$2,300.84** | **$1,783.86** | **$3,798.54** |

نوټ: ټول اعشاریه ارقام په مکملو اعدادو اړول شویدي. وروسته لدې چې هغه 24 ملیونه ډالر چې د تادیې وخت یې تیرشوی دی د مجموعي بودیجې څخه منفي شي، باقي پاتې رقم د بیارغوونې د اوو سترو بودیجو مجموعه ښائي. د DOD CN لپاره ژمنه شوی او ورکړل شوی مقدار هغه بودیجه منعکسه وي چې نظامي خدماتو او دفاعي ادارو ته انتقال شویدي تر څو د افغانستان لپاره مصرف شي. انځورونه هغه بودیجه منعکسوي چې تر دې نیټې پورې انتقال شوې، بیرته ګرځول شوې او یا هم بیا پروګرام شویده.

سرچینه: د تخصیص د قانون څخه د سیګار د اداري تحلیل او هغه معلومات چې د هرې ربعې لپاره د ژمنه شوې او ورکړل شوې بودیجې په هکله د د دفاع او د بهرنیو چارو د وزارتونو او د USAID لخوا برابر شویدي، 21/4/2015.

3.6 انځور

**د ورکړې لپاره د 2014 مالي کال پاتې مبلغ** ($ میلیارده)






**د ASFF بودیجوي اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې ASFF ته بودیجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او یا ورکړل شویده

**تخصیص:** د پیسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بودیجه:** د پیسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بودیجه:** لګول شوې پیسې

سرچینه: د سیګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت ځواب 13/04/2010

## د افغانستان د امنیتي ځواکونو بودیجه

کانګرس د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره بودیجه منظوره کړه تر څو د افغانستان امنیتي ځواکونو ته تجهیزات، تدارکات، خدمات او روزنه برابره کړي، د بودیجې په برخه کې مرسته وکړي او همدارنګه د تاسیساتو او زیربناوو بیا رغونې، نوې کوونې او ودانولو لپاره بودیجه برابره کړي.[53] د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړلمړنۍ مسؤله اداره په افغانستان کې د امنیت د انتقال د ګډې قومندانۍ څخه عبارت ده.[54] مخکې لدې چې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو لپاره د بودیجې ژمنه وشي باید د افغانستان د منابعو د نظارت د شورا لخوا د اړوندې بودیجې لپاره د مالي چارو او فعالیت یو پلان منظور شي .[55]

د 2015 زیږدیز کال د مرستو د دوام او عمومي تخصیص د حکم له مخې 4.11 ملیارده ډالر د افغانستان د امنیتي ځواکونو د ملاتړ په موخه د 2015 زیږدیز مالي کال لپاره ځانګړې کړای شول، چې د بودیجې مجموعي اندازه له 60.67 ملیارده ډالرو څخه زیاتوي.[56] د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې د 31 مې نیټې پورې په مجموع کې د امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره تقریباً د 53.08 ملیارده ډالرو ژمنه شویده، چې د هغې جملې نه تقریباً 51.60 ملیارده ډالر ورکړل شویدي.[57] د افغانستان د امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره د هر مالي کال بودیجه په 3.7 انځور کې ښودل شویده.

د دفاع وزارت خبر ورکړ چې په یوه ربع کې په مجموعي توګه د722.91 ملیونه ډالرو څخه د زیاتې بودیجې ژمنه شویده او ټوله ورکړل شوې بودیجه یې تقریباً 858.04 ملیونه زیاته شویده.[58] 3.8 انځور د افغانستان د امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره ځانګړې شوې، ژمنه شوې او ورکړل شوې بودیجه په پرتلیزه توګه ښائي.

3.7 انځور

**د ASFF بسپنې، مجموعي پرتله**

($ میلیارده ډالر)




3.8 انځور

**د ASFF تخصیص شوې بسپنې د مالي کال پربنسټ**

(میلیارده ډالر)




یادونه: عددونه ګردي شوي دي.

[a] د امریکا دفاع وزارت (DOD) د ASFF د 2011 مالي کال 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړل.

[b] د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2012 مالي کال 1 میلیارد ډالر بیا پروګرام کړل؛ نور 1 میلیارد ډالر په Pub. L. No. 113-6 لغوه شو.

[c] د امریکا دفاع وزارت د ASFF د 2013 مالي کال 178 میلیون ډالر بیا پروګرام کړل.

[d] د ASFF د2014 مالي کال764.38 میلیون ډالر په Pub. L. No. 113-235 کې لغوه شو.

سرچینه: DFAS، "د AR(M) 1002 د 2015 د مارچ مالي کال پروګرام او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصیص وضعیت،" 4/17/2015 ؛ د AR(M) 1002 د 2014 د دسمبر مالي کال د پروګرام او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصیص وضعیت،" 1/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6.

## د افغانستان د امنيتي ځواکونو بوديجوي فعاليتونه

د دفاع وزارت، د افغانستان امنيتي ځواکونو د دريو عملياتي ګروپونو لپاره بوديجه ځانګړې کړېده:
- دفاعي ځواکونه ( افغان ملي اردو، ANA)
- داخلي ځواکونه (افغان ملي پوليس،ANP)
- اړوند فعاليتونه ( د محبوسينو لمړني چارې)

د هر يو بوديجوي فعاليتي ګروپ لپاره په لاندې څلورو فرعي فعاليتي ګروپونو کې اضافي بوديجه په نظر کې نيول شويده: زيربنا، تجهيز او ترانسپورټ، روزنه او فعاليت، او تداوم يا پاينښت.[59] د افغانستان د منابعو د نظارت شورا بايد، د هر هغه فعاليت لپاره چې کلنی بوديجه يې د 50 مليونه ډالرو څخه زياته وي او همدارنګه د هغه غير معياري تجهيزاتو لپاره چې کلنی ارزښت يې د 100 مليونه ډالرو څخه زيات وي، د مقرراتو او تدارکاتو پلان منظور کړي.[60]

د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې د 31 مې نيټې پورې د دفاع وزارت تقريباً 51.60 ميليارده ډالر د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د ملاتړ لپاره لګولي دي. ددې رقم څخه تقريباً 34.45 ميلياردہ ډالر د افغانستان د ملي اردو او تقريباً 16.77 مليونه ډالر د افغانستان د ملي پوليسو د ملاتړ په برخه کې لګول شويدي او باقي پاتې 379.53 مليونه ډالر په اړوندو چارو کې مصرف شويدي.[61]

لکه څنګه چې په 3.9 انځور کې ښودل شويدي د بوديجې ډيره برخه د افغان ملي اردو د ملاتړ لپاره مصرف شويدي. د 13.38 مليونه ډالرو څخه زياته بوديجه د ملي اردو د پاينښت لپاره مصرف شويدي. د افغان ملي پوليسو د ملاتړ لپاره د مصرف شوي بوديجې ډيره برخه يعني د 6.67 ميلياردہ ډالرو څخه زياته بوديجه د افغان ملي پوليسو د ثبات او تداوم په برخه کې مصرف شويدي چې په 3.10 انځور کې ښه په ستړګو کيږي.[62]

3.9 انځور

**د 2005 کال – مارچ 30 2015، مالي کال د فرعي فعاليت د ګروپ پربنسټ د افغانستان ملي اردو لپاره د ASEF ورکړې** ($ مليارده)




3.10 انځور

**د 2000 کال – مارچ 30 2015، مالي کال د فرعي فعاليت د ګروپ پربنسټ د افغانستان ملي پوليسو لپاره د ASEF ورکړې** ($ مليارده)




يادښت: عددونه غير اعشاري شوي دي.

سرچينه: DFAS، "AR(M) 1002 د 2015، "4/17/2015 د مارچ د مالي کال د پروګرام او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصيص وضعيت.

**د بوديجوي فعاليت ګروپونه:** د هر تخصيص يا بوديجوي حساب پورې اړوند کټګورياني چې اهداف، پروژې او يا هغه فعاليتونه معرفي کوي چې د همدې تخصيص يا بوديجې څخه تمويل شوې وي.

**د فرعي فعاليت ګروپونه:** د حسابی ګروپونه چې ورکړل شوی عمومي بوديجه په وظيفوي ساحو ويشي.

سرچينه: د دفاع وزارت "7110 لاربښود. M-1 د دفاع وزارت بوديجوي لاربښود." د لاسرسی نيټه 28/09/2009 ؛ د بحري ځواک څانګه، د روغتيايي تسهيلاتو د مسول لاربښود، p.5 د لاسرسي نيټه 22/10/2009




**د CERP بوديجوې اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې CERP ته بوديجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او يا ورکړل شويده

**تخصيص:** د پيسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بوديجه:** د پيسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بوديجه :** لګول شوې پيسې

سرچينه: د سيګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت خواب 14/04/2010

## د قوماندان د بيړنۍ مرستې پروګرام

د قوماندان د بيړنۍ مرستې پروګرام په افغانستان کې د متحده ايالاتو قوماندانان پدې قادروي چې دوی د خپل مسؤليت په ساحو کې په بيړنيو حالاتو کې د بشري- هوساينې او د بيارغونې د هغه پروګرامونو ملاتړ وکړي چې په چټکه توګه د ځايي خلکو سره مرسته کوي. ددې پروګرام له لارې د کوچنيو پروژو لپاره د بوديجې برابرول په نظرکې نيول شوي چې په اټکلي توګه هره پروژه بايد د 500,000 ډالرو څخه کم مصارف ولري.[63]

د قوماندان د بيړنۍ مرستې د پروګرام هيڅ پروژه بايد د 2 مليونه ډالرو څخه زيات بوديجوي ارزښت ونلري.[64]

د 2015 زيږديز کال د مرستو د دوام او د عمومي تخصيص د حکم له مخې 10 مليونه ډالر CERP ته ځانګړې شويدي چې مجموعي بوديجه يې تقريباً 3.68 ميليارده ډالرو ته رسوي.[65] د دفاع وزارت راپور ورکړ چې پدې برخه کې په مجموعي توګه د 2.28 ميلياړده ډالرو څخه د زياتو ډالرو ژمنه شوې او د 2.26 ميلياړده ډالرو څخه زياته بوديجه د2015 زيږديز کال د مارچ تر 31 مې نيټې پورې مصرف شويده.[66] 3.11 انځور په هر مالي کال کې د CERP لپاره ځانګړې شوې بوديجه را په ګوته کوي همدارنګه 3.12 انځور په پرتليزه توګه د CERP پروژو لپاره ځانګړې شوې، ژمنه شوې او لګول شوې بوديجه ښائي.

3.11 انځور

**د مالي کال پربنسټ د CERP تخصيصونه**

($ ميليون)




3.12 انځور

**د CERP وجوه، تجمعي پرتله**

($ ميليون)




يادښت: عددونه غيراعشاري شوي دي. د سازماني ترمنځ د انتقالاتو ممکن اطلاعات شامل دي

سرچينه: DOD، د 4/17/2015 و 1/20/2015؛ OMB، د سيګار اداري ته د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب، د 1/4/2013؛ Pub. L. Nos. 113-235، 113-76، 113-6، 112-74 و د سيګار اداري ته د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب.

## د افغانستان د زیربنا بودیجه

د افغانستان د زیربنا بودیجه په 2011 زیږدیز مالي کال کې را منځته شوه تر څو د هغه لمړیتوب لرونکو لویو پروژو لپاره بودیجه برابره کړي چې د امریکي د ملکی او نظامي پروګرامونو ملاتړ کوي. کانګرس هم غوښتل چې د AIF لخوا تمویل شوي پروژې باید په ګډه توګه د دفاع او د بهرنیو چارو د وزارتونو لخوا وټاکل شي او اداره شي. د AIF 2011 زیږدیز مالي کال څخه تر 2014 زیږدیز مالي کاله پورې بودیجه ترلاسه کوله. د AIF هرې پروژې باید د پاینت یو پلان درلودلی او همدارنګه باید تشریح کړل شوي وی چې څرنګه په افغانستان کې د یاغیانو سره د مبارزې د ستراتیژۍ په برخه کې مرسته کولای شي.[67]

AIF په مجموع کې د 1.32 میلیارده ډالرو څخه زیاته بودیجه تر لاسه کړیده. حال داچې ددې پروژې 280.5 ملیونه ډالر د USAID د شمال شرق د بریښنا د مزو د غزونې د پروژې له لارې د اقتصادي ملاتړ بودیجې ته لیږدول شویدي، چې د AIF باقي پاتې مجموعي بودیجه 1.04 میلیارده ډالرو ته را ښکته کوي.[68] 3.13 انځور په هر کالي کال کې AIF ته ورکړل شوې بودیجه ښائي.

د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې د AIF لپاره د 838.56 ملیونه ډالرو څخه د زیاتې بودیجې د برابرولو ژمنه شویده. سره لدې چې AIF ته به نوره اضافي بودیجه ورنکړل شي خو بیا هم د AIF ډیرې پروژې د اجرا په حال کې دي. د AIF لپاره د ژمنې شوې بودیجې د 55% څخه زیاته برخه او همدارنګه هغه 280.5 میلونه ډالر چې د اقتصادي ملاتړ بودیجې ته لیږدول شوي وی د لګښت لپاره چمتو دي.[69] د AIF د مجموعي بودیجې څخه یواځې 375.93 ملیونه ډالره لګول شویدي چې په 3.14 انځور کې بنه په سترګو کیږي.




**د AIF بودیجوې اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې AIF ته بودیجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او یا ورکړل شویده

**تخصیص:** د پیسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بودیجه:** د پیسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بودیجه:** لګول شوې پیسې

سرچینه: د سیګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت ځواب 13/04/2010

3.13 انځور

**د مالي کال پربنسټ د AIF تخصیصونه**

(میلیونونه ډالر)




3.14 انځور

**د AIF بسپنې، مجموعي پرتله**

(میلیونونه ډالر)




یادونه: عددونه ګردي شوي دي.

[a] د 2011 مالي کال رقم، له 101 میلیونو ډالرو څخه مستثنا دی چې د AIF د یوې پروژې د پلي کولو لپاره USAID ته لیږدول شوي و.

[b] د 2013 مالي کال رقم، له 179.5 میلیونو ډالرو څخه مستثنا دی چې د AIF د یوې پروژې د پلي کولو لپاره USAID ته لیږدول شوي و.

سرچینه: DFAS، "د AR (M) 1002 د 2015 کال د مارچ د مالي کال پروګرامونو او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصیص وضعیت،"4/17/2015؛ DFAS، "د AR (M) 1002 د 2014 د دسمبر د مالي کال د پروګرامونو او فرعي حسابونو پربنسټ د تخصیص وضعیت،" 1/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-76، 113-6، 112-74، او 112-10.

## د سوداګرۍ او ټيکاو د عملياتو کاري ځواک

TFBSO په 2010 زيږديز کال کې په افغانستان کې پدې مقصد په کار پيل وکړ چې هيواد ته ټيکاو راولی او د بې روزګارۍ د کموالي او د اقتصادي فرصتونو د منځته راوړلو له لارې د هغه تاوتريخوالي سره مبارزه وکړي چې د اقتصادي ستونزو له کبله منځته راځي . د TFBSO پروژه د 2014 زيږديز کال د دسمبر په 31 مه نيټه پای ته ورسيده خو TFBSO خپل ټول فعاليتونه د 2015 زيږديز کال د مارچ په 31 مې نيټې پای ته ورسول. د TFBSO په پروژو کې داسې فعاليتونه شامل وه چې مقصد يې شخصي پانګه اچونې، صنعتي پرمختيا، د مالي سيستم پرمختګ، زراعتي تنوع او بيا ژوندي کول، او پرمختګ لپاره لاره هوارول وه.[70]

که څه هم د 2015 زيږديز مالي کال د ملي دفاع د با صلاحيته حکم په اساس د دفاع وزارت د TFBSO پروژې ته کومه بوديجه نده ځانګړې کړې خو بياهم دغې پروژې يوه کمه اندازه بوديجه د فعاليت او حفظ و مراقبت، پوځ، د اداري ختامې پورې د تړلي مالي حساب څخه تر لاسه کړېده.[71] د 2009 مالي کال څخه تر 2015 مالي کال پورې TFBSO ته د 822.85 مليونه ډالرو څخه زياته بوديجه ورکړل شويده. ددې مقدار څخه تقريباً د 765.65 مليونه ډالرو څخه د زياتې بوديجې ژمنه شوې او خو تقريباً 607.29 مليونه ډالره لګول شويدي.[72] 3.15 انځور په هر مالي کال کې TFBSO او د هغې اړوندو پروژو ته ځانګړې شوي، ژمنه شوي او لګول شوي بوديجه ښائي.



### د TFBSO بوديجوې اصطلاحات

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې TFBSO ته بوديجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او يا ورکړل شويده

**تخصيص:** د پيسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بوديجه:** د پيسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بوديجه:** لګول شوې پيسې

سرچينه: د سيګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت ځواب 13/04/2010

3.15 انځور

**TFBSO وجوه، د تجمعي پرتله**

($ مليارده)




3.16 انځور

**د مالي کال پرېښتې د TFBSO تخصيصونه**

($ مليارده)




يادښت: عددونه غيراعشاري شوي دي. د TFBSO د اختتام په بهير کې پيدا شوي اطلاعات د ورکړې لړ رقم د مخکنی ربع د رقم په نسبت رپوټ شوی و، راښيي. TFBSO ته له 814.92 ميلونه تخصيص شوو ډالرو څخه، 366.05 ميليونه ډالره يې عملياتونو، ساتني، اردو، د متحده ايالاتو د ملکيتونو د ساتنې د ورکړې لپاره حساب، ملکي کارمندانو، سفرونو، امنيت او نور عملياتي لګښتونه وو. د 2015 مالي کال ټول تمويل له همدې حساب څخه صورت نيولی دی.

سرچينه: DOD، د سيګار له خوا د اطلاعاتو غوښتنې ته ځواب، 4/21/2015، 1/5/2015 او 10/4/2011؛ Pub. L. Nos. 113-76, 113-6, 112-74 او 112-10.

## د مخدره توکوسره د مبارزې او مخنیوي په برخه کې د دفاع وزارت فعالیتونه

د DOD CN بودیجه د مخدره توکو د سوداګرۍ او اړونده فعالیتونو سره د مبارزې له لارې د هغه کوښښونو ملاتړ کوي چې افغانستان ته ټیکاو راولي. د دفاع وزارت اوس هم د مخدره موادو د سوداګرو پر ضد د نظامي عملیاتو د ملاتړ له لارې، د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې د افغاني فعالیتونو د پراخوالي له لارې، او همدارنګه د افغانستان د قانون د پلي کولو د ادارو د ظرفیت د لوړوالي له لارې مرسته کوي چې د قانون د پلي کولو په ادارو کې سرحدي پولیس هم شامل دي چې د دفاع وزارت سرحدي پولیسو ته خاصه روزنه، تجهیزات او تسهیلات برابروي.[73]

د DOD CN او ټولو نظامي خدماتو ته د کانګرس له لوري د یوه بودیجوي خط لاندې بودیجه ځانګړې کیږي. د دفاع وزارت دغه بودیجې ته بیا د سره پروګرامونه جوړوي او د مخدره توکو سره د مبارزې د مرکزي انتقالي بانکي حساب څخه بودیجه نظامي او دفاعي ادارو ته لیږدوي چې پدې توګه د لیږد وړ ژمنه شوې بودیجه څاري. د دفاع وزارت راپور ورکړ چې DOD CN لپاره په هر مالي کال کې مساوي اندازه بودیجه ورکړل شویده.[74]

د دفاع وزارت د راپورله مخې د 2015 زیږدیز مالي کال لپاره DOD CN تقریباً 147.60 ملیونه ډالر ترلاسه کړیدي چې پدې توګه د 2004 زیږدیز مالي کال راهیسې د DOD CN مجموعي بودیجه له 2.98 میلیارده ډالرو څخه زیاتیږي. د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې ددې مجموعي بودیجې څخه تقریباً 2.75 میلیارده ډالر نظامي خدماتو او دفاعي ادارو ته د DOD CN د پروژو لپاره لیږدول شویدي.[75] 3.17 انځور په هر مالي کال کې DOD CN لپاره ځانګړې شوې بودیجه ښائي او همدارنګه 3.18 انځور په پرتلیزه توګه هغه بودیجې را په ګوته کوي چې له DOD CN CTA څخه لیږدول شویدي.




**د DOD CN بودیجوي اصطلاحات**

د دفاع وزارت راپور ورکړ چې DOD CN ته بودیجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او یا ورکړل شویده

**تخصیص:** د پیسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بودیجه:** د پیسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بودیجه:** لګول شوې پیسې

سرچینه: د سیګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت خواب 13/04/2010

3.17 انځور

**د DOD CN د مالي کال پربنسټ تخصیصونه**

(میلیارده ډالر)




3.18 انځور

**د DOD CN بسپنې، مجموعي پرتله**

(میلیارده ډالر)




یادونه: عددونه ګردي شوي دي. د تیر کال تنظیمات د څو کلونو تمویل له مکلفیت څخه ایستلو او/یا د له سره ټاکلو منعکس کولو لپاره په دوره ای ډول ترسره شوي. 2014 و 2015 مالي کلونو کې د افغانستان لپاره د امریکا فاع وزارت مخدره موادو ضد تخصیصونه، 110.15 میلیونه ډالر او په همدې ترتیب 37.5 میلیونه ډالر له هغه مبلغ څخه چې د مخکنۍ ربعي راپور کې ورکړل شوی و، زیات شوی. د امریکا دفاع وزارت د 2014 کال د پاتې پیسو د وېشلو لپاره CTA ته د 2015 مالي کال وېشل شوې پیسې بیرته وغوښتې، چې د انتقال له هغه رقم څخه چې په مخکنۍ ربع کې یې راپور ورکړل شوی و د لړ رقم پایله درلوده.

[a] د امریکا دفاع وزارت ټولې بسپنې د ژمنې او ورکړې په خاطر د پوځي خدمتونو او د فاعي ادارو لپاره بیرته پروګرام کوي.

سرچینه: د امریکا دفاع وزارت، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/10/2015 و 1/14/2015.

## د اقتصادي ملاتړ بودیجه (ESF)

د ESF پروګرامونه د هیوادونو د لنډ مهاله او اوږد مهاله، سیاسي، اقتصادي، او امنیتی اړتیاوو د پوره کولو له لارې د متحده ایالاتو ګټې خوندي کوي. د ESF پروګرامونه تروریزم سره د مبارزې د پروګرامونو ملاتړ کوي، ملي اقتصاد غښتلی کوي او د لا روښانه او حساب ورکونکي حکومتدارۍ د منځته راوړلو لپاره د یو موثر، خود مختاره او د لاسرسي وړ عدلي سیستم د منځته راتلو ملاتړ کوي.[76]

په 2015 زیږدیزمالي کال کې ESF ته 900 میلیونه ډالر تخصیص ورکړل شوي چې دې سره د ESF مجموعي بودیجه د 18.61میلیارده ډالرو څخه زیاتیږي. پدې مجموعي بودیجه کې هغه بودیجه هم شامله ده چې د AIF څخه ESF ته په شمال شرق کې د USAID د بریښنا د مزو د غزولو پروژو ته لیږدول شویده. ددې مجموعي بودیجې څخه د 16.30 میلیارده ډلرو څخه د زیاتې بودیجې ژمنه شوې چې د هغې جملې تقریباً 13.09 میلیارده ډالر ورکړل شویدي.[77] 3.19 انځور د هر مالي کال لپاره د ESF بودیجه ښائي.

د USAID راپور له مخې په ژمنې شوې مجموعي بودیجې کې د تیرې ربعې په پرتله د 74.48 میلونه ډالرو څخه زیات کموالی راغلی دی او په مجموعي لګول شوې بودیجه کې تقریباً 541.00 میلونه ډالره زیاتوالی راغلی دی.[78] 3.20 انځور په پرتلیزه توګه د ESF لپاره ځانګړې شوې، ژمنه شوې او ورکړل شوې بودیجه ښائي.




**د ESF بودیجوي اصطلاحات**

USAID راپور ورکړ چې ESF ته بودیجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او یا ورکړل شویده

**تخصیص:** د پیسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بودیجه:** د پیسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بودیجه:** لګول شوې پیسې

سرچینه: د سیګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت ځواب 15/04/2010

3.19 انځور

**تخصیص های ESF به اساس سال مالی**

(میلیارده ډالر)




3.20 انځور

**د ESF بسپنې، مجموعي پرتله**

(میلیارده ډالر)




یادونه: عددونه ګردي شوي دي. د 2015 مالي کال رقم د افغانستان لپاره د سریزې د تخصیص مبلغ ته انعکاس ورکوي او د کانګرس نهایی تصویب پورې مشروط دی. تازه معلوماتو په تیرې ربع کې راپور ورکړل شوی رقم په پرتله لږ ښوده. د 2011 مالي رقم کې 101 میلیون ډالر شامل دی چې له AIF څخه ESF ته انتقال شوی و. د 2013 مالي کال رقم کې 179.5 میلیونه ډالر شامل دي چې له AIF څخه ESF ته انتقال شوی و.

سرچینه: USAID، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2015 او 1/14/2015؛ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/15/2015 او 4/15/2014.

## د مخدره توکو نړیوال کنترول او د قانون پلي کول

د بهرنیو چارو د وزارت د مخدره توکو او د قانون د پلي کولو د نړیوالو اړیکو بیرو (INL) د قانون د پلي کولو او د مخدره توکو د تولید او قاچاق سره د مبارزې بانکي حساب اداره کوي — چې د INCLE په ټکو بنودل کیږي. INCLE د INL د ځو پروګرامونو ملاتړ کوي چې په هغوی کې پولیس، د مخدره توکو سره مبارزه، د قانون پلي کول او عدلیه شامله ده.[79]

د بهرنیو چارو وزارت د راپور له مخې INCLE ته په 2015 زیږدیز مالي کال کې 250 ملیونه ډالره تخصیص ورکړل شویده چې دې سره د INCLE مجموعي بودیجه د 4.69 بیلونه ډالرو ځخه زیاتیږي. په مجموع کې د INCLE لپاره د 4.16 میلیارده ډالرو ژمنه شویده چې د هغې ځخه تقریباً 3.34 بیلونه ډالر ورکړل شویدي.[80] 3.21 انځورپه هر مالي کال کې INCLE ته ځانګړې شوې بودیجه ښائي.

د بهرنیو چارو وزارت راپور ورکړ چې د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر 31 مې نیټې پورې د ژمنې شوې بودیجې مجموعه د 2014 کال د دسمبر د31 مې نیټې په پرتله 1.91ملیونه ډالره زیاته شویده. د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر 31 مې نیټې پورې د لګول شوې بودیجې مجموعه هم د 2014 کال د دسمبر د31 مې نیټې په پرتله 49.05 میلیونه ډالره زیاتوالی موندلی دی.[81] 3.22 انځور INCLE ته ځانګړې شوې، ژمنه شوې او ورکړل شوې بودیجه ښائي.




**د INL بودیجوي اصطلاحات**

INL راپور ورکړ چې د INCLE ته بودیجه ځانګړې شوې، ژمنه شوې او یا ورکړل شویده

**تخصیص:** د پیسو مجموعه چې د ژمنې لپاره چمتو وي

**ژمنه شوې بودیجه:** د پیسو د ورکړې ژمنه

**ورکړل شوې بودیجه:** لګول شوې پیسې

سرچینه: د سیګار معلوماتي خبر ته د دفاع د وزارت ځواب 09/04/2010

3.21 انځور

**د INCLE وجوه، تجمعي پرتله**

($ میلیارده)




3.22 انځور

**د مالي کال پربنسټ د INCLE تخصیصونه**

($ میلیارده)




یادښت: عددونه غیراعشاري شوي دي. د 2015 مالي کال رقم، د افغانستان لپاره د سریزې د تخصیص مبلغ انعکاس ورکوي او د کانګرس نهایي تصویب پورې مشروط دی. ممکنه اطلاعات په سازماني انتقالاتو کې شامل دي.

سرچینه: د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د سیګار اداري ته د اطلاعاتو د غوښتنې ځواب. 4/15/2015 و 1/15/2015.

## د افغانستان د بيارغونې لپاره نړيواله بوديجه

د امريکې د متحده ايالاتو پر مرستو برسيره نړيوالې ټولنې هم د پام وړ مرستې د افغانستان د بيارغونې او هوساينې لپاره برابرې کړيدي. لکه څرنګه چې د سيګار د ادارې د تيرې ربعې په راپورونو کې ورته اشاره شويده د نړيوالې ټولنې د مرستو ډيرې برخه د وجهي صندوق له لارې اداره کيږي. هغه مرستې چې د وجهي صندوق له لارې برابريږي ټولې سره يو ځای کيږي او بيا د بيارغونې په مختلفو چارو ويشل کيږي. دوه لويې وجهي بوديجې عبارت دي له، د افغانستان د بيارغونې وجهي صندوق (ARTF) او د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق (LOTFA).[82]

## د افغانستان د بيارغوونې وجهي صندوق سره مرسته

د افغان عملياتي او پرمختيائي بوديجو سره د نړيوالې ټولنې د مرستو ډيرې برخه د ARTF له لارې ترسره کيږي. د نړيوال بانک د راپور له مخې د 2002 زيږديز کال څخه د 2015 زيږديز کال د مارچ تر 20 مې نيټې پورې 34 هديه ورکوونکو هيوادونو تقريباً د 8.85 ميليارده ډالرو د ورکړې ژمنه کړيده چې د هغې جملې څخه 8.03 ميليارده ډالر ورکړل شويدي.[83] د نړيوال بانک د راپور پر بنسټ، هديه ورکوونکو ژمنه کړيده چې په 1394 افغان مالي کال کې به ARTF ته 913.03 مليونه ډالر ورکړي چې دغه افغاني مالي کال د 2014 زيږديز کال د دسمبر د 22 مې څخه د 2015 زيږديز کال د دسمبر تر 21مې نيټې پورې دوام مومي.[84] 3.23 انځور په 1394 مالي کال کې د ARTF لس لوی هديه ورکوونکي ښائي. د 2002 زيږديز کال څخه د 2015 زيږديز کال د مارچ تر 20 مې نيټې پورې متحده ايالاتو د 2.68 ميليارده ډالرو څخه د زياتې بوديجې د ورکړې ژمنه کړيده او د 2.43 ميلياردو څخه ډيره بوديجه يې ورکړيده.[85] متحده ايالات او برتانيه د ARTF عمده هديه ورکونکي هيوادونه دي چې په ګډه

3.23 انځور

**د ARTF کال د مارچ تر 20 نېټې پورې د دونرانو پربنسټ د 1394 مالي کال د ARTF ونده،** ($ ميليون)




يادښت: عددونه غيراعشاري شوي دي. د 1394 مالي کال = 12/22/2014 – 12/21/2015.

سرچينه: نړيوال بانک، "ARTF: د2015 کال د مارچ تر 20 نېټې پورې د مالي کال د وضعيت په هکله د رييس راپور (د 1394مالي کال د دريم مياشت پای)،" پاڼه1 .

سره دي دواړو هیوادونو د ARTF %47 مجموعي بودیجه برابره کړیده چې په 3.24 انځور کې ښودل شویده. ARTF سره مرستي په دوه بودیجوي کټګوریو ویشل کیږي ــ د جاري لګښت برخه او د پانګې اچونې برخه.[86]

د ARTF له بودیجې څخه د 3.44 میلیارده ډالرو څخه زیاته بودیجه د جاري لګښت د برخې له لارې افغان حکومت ته ورکړل شویده ترڅو د جاري لګښت سره مرسته وشي لکه د افغان ملکي مامورینو د معاشاتو اجرأ کول او داسې نور.[87] د جاري لګښت برخه د افغان حکومت د عملیاتي لګښت سره مرسته کوي ځکه چې د افغان حکومت داخلي عواید په دوامداره توګه د جاري لګښت لپاره بسندویه ندي. ددې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د جاري لګښت برخې ته کافي بودیجه رسیږي، د ARTF هدیه ورکوونکي نه غواړي چې د خپلې کلنۍ بودیجې د نیمايي څخه زیاته بودیجه د خپلې خوښې پروګرامونو ته ورکړي.[88]

د ARTF د پانګې اچونې برخه د حکومت د پروګرامونو د لګښت څخه ملاتړ کوي. د نړیوال بانک د راپور له مخې د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 20 مې نیټې پورې د پانګې اچونې د برخې له لارې د پروژو د تمویل لپاره تقریباً 3.79میلیارده ډالرو ژمنه شویده چې له هغې جملې نه د 2.89 میلیارده ډالرو څخه زیاته بودیجه ورکړل شویده. نړیوال بانک راپور ورکړ چې د 20 فعالو پروژو لپاره په مجموعي توګه له 2.46 میلیارده ډالرو څخه د زیاتي بودیجې ژمنه شویده او تقریباً 1.57 میلیارده ډالر ورکړل شویدي.[89]

## د افغانستان د قانون او نظم د وجهي صندوق سره مرسته

د ملګرو ملتونو انکشافي پروګرام (UNDP)، LOTFA اداره کوي تر څو د افغان ملي پولیسو تنخوا ګانې اجرأ او د کورنیو چارو د وزارت ورتیا لوړه کړي.[90] د LOTFA وروستي موجوده معلوماتو له مخې د 2002 زیږدیز کال څخه را پدې خوا هدیه ورکوونکو د LOTFA سره د 3.84 ډالرو د مرستي ژمنه کړیده، چې له هغې جملې نه تقریباً 3.77 میلیارده ډالر د 2014 زیږدیز کال د سپتمبر تر 30 مې نیټې پورې ورکړل شویدي.[91] د LOTFA د ملاتړ شپږمه دوره د 2011 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې په لمړۍ نیټه پیل او د 2014 زیږدیز کال د دسمبر د میاشتې په 31 مه نیټه پای ته ورسیده.[92] د شپږمې دورې د پیل څخه د 2014 زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې تر 30 مې نیټې پورې UNDP تقریباً 1.90 میلیارده ډالر د LOTFA څخه افغان حکومت ته د ملي پیسو د معاشاتو او د مرکزي محبس د ریاست د کارکوونکو د معاشاتو د تادیې لپاره او همدارنګه 53.52 میلیونه اضافي بودیجه یې د ورتیا دلوړوالي او د LOTFA نورو پروګرامونو ته ورکړیده.[93] هدیه ورکوونکو ژمنه کړې وه چې د 2014 زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې تر 30 مې نیټې پورې به د LOTFA د شپږمې دورې لپاره تقریباً 2.31 میلیارده ډالر ورکړي، چې د دې جملې نه متحده ایالاتو تقریباً د 967.10 میلیونه ډالرو او جاپان د 746.76 میلیونه ډالرو څخه د زیاتې بودیې د برابرولو ژمنه کړیده. د دواړو هیوادونو لخوا ژمنه شوې بودیجه د LOTFA د شپږمې دورې %74 بودیجه تشکیلوي. LOTFA لپاره د بودیجې د ټوله ولو په پیل کې متحده ایالاتو د 1.52 میلیارده ډالرو د ورکړې ژمنه وکړه او تقریباً ټوله ژمنه شوې بودیجه یې ورکړیده او یواځې 3.9 میلیونه ډالر یې د 2014 زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې تر 30 مې نیټې پورې باقي پاتې وې.[94] 3.25 انځور د 2002 زیږدیز کال څخه را پدېخوا د LOTFA څلور ستر هدیه ورکوونکي (ډونرز) را پیژني.

د LOTFA اوومه دوره د 2015 زیږدیز کال د جنورۍ د میاشتې په لمړۍ نیټه پیلیږي او د پیل سره سم به د شپږو لمړیو میاشتو لپاره د بودیجې د ټوله ولو دورې ته ځي او په اټکلي توګه به 296.84 میلیونه ډالر لاسته راوړي. د بودیجې د ټوله ولو د دورې د پیل سره سم به افغان حکومت ته د LOTFA د فعالیتونو د انتقال لړۍ هم پیل شي.[95]

3.24 انځور

**د 2002- د 2015 مارچ 20، د ونډه د ARTF دونرانو پرېنسټ ورکړل شوي ده.**

**ورکړل شوي مجموعه:** $8.03 میلیارده دالره




یادښت: عددونه غیر عشاري شوي دي. "نور" 30 دونران پکې شامل دي.

سرچینه: نړیوال بانک، "ARTF: د 2015کال د مارچ تر 20 پورې د مالي وضعیت په اړه د رییس راپور (د 1394 د مالي کال د دریم میاشت پای)،" مخ 4.

3.25 انځور

**له 2002 کال څخه د 2014 کال د سپتمبر تر 30 پورې په LOTFA کې د دونرانو ونډه** (فیصده)

**ورکړل شوي مجموعه:** $3.77 میلیارده دالره




یادښت: عددونه غیراعشاري شوي دي. EU = اروپايي اتحادیه. "نور" 18 دونران (مرسته کوونکي) پکې شامل دي. د 9/30/2014 اطلاعات وروسته راپور ورکړل شو.

سرچینه: UNDP، "د افغانستان لپاره د قانون او نظم (LOTFA) امانتي وجوه د پروژې د پرمختګ د درېمې ربعې راپور،" 1/17/2015، مخ 47-46؛ د LOTFA د 1/17/2015 کال د کلنیو ربعوارو راپوړونو څخه د سیګار اداري تحلیل او تجزیه.

# لړلیک (فهرست)


| | |
|---|---|
| د دې ربعی مه مې موضوع ګانې او پېښې | 84 |
| په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونه | 87 |
| د افغانستان ملي امنیتي ځواکونوشمیر خفیف زیاتوالی ښیي | 87 |
| د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د سواد ز ده کړې روزنیزو پروګرامونو ته ادامه ورکوي | 92 |
| افغان سیمه ییز پولیس (اربکیان) | 95 |
| د عامه ساتنې معینیت او امنیتي تصدي (APPF) لیږد د جمهوري ریاست اقدام ته منتظر دی | 96 |
| افغان ملي اردو | 96 |
| افغان ملي پولیس | 102 |
| د افغانستان د ملي امنیتی ځواکونو په لیکو کې د ښځو وضعیت | 106 |
| د افغنستان ملي امنیتی ځواکونو طبي او رو غتیاییخدمتونه | 107 |
| د نا چاودلو مهماتو پاکول | 108 |
| د نشه ای توکو پر وړاندې مبارزه | 110 |
| د بدیلې پراختیا پروګرام/بدیل معیشت پروګرام | 118 |

# امنیت

د امریکې د متحده ایالتونو کانګرس د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 31 مې نېټې پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د ملاتړ لپاره 65.2 میلیارد امریکایي ډالر تخصیص کړي دي.کانګرس د افغاننستان ملي امنیتي ځواکونو (افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس) د جوړولو، سمبالولو، روزلو او پایدارۍ په موخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) رامینځته کړی دی.

په دې ربع کې د افغانستان لپاره د متحده ایالتونو ځواکونو سیګار ته خبر ورکړی دی چې اوس مهال د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت تر ټولو غوره اصطلاح د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو څخه عبارت ده. د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت د تعریف پر بنسټ د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونو کې هغه امنیتي ځواکونه شامل دي چې د ملي دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې په دنده بوخت دي چې په هغې کې د افغان ملي اردو (ANA) او افغان ملي پولیسو (ANP) څخه پرته نورې ادارې هم شامل دي.[96]

سرله دې چې د امریکې متحده ایالتونو او افغانستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د امنیتي او دفاعي مرستو او همکاریو په تړون کې چې په عامه توګه د دوه اړخیزه امنیتي تړون په نامه شهرت لري، د ملي امنیت ریاست او نور بنسټونه شامل دي چې د دواړه خواوو له لورې پرې موافقه شوي ده.[97] د متحده ایالتونو د دفاع وزارت په تعریف کې چې د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو لپاره یي کړې دی، د ملي امنیت شامل نه دی ځکه چې ملي امنیت ریاست د ملي دفاع وزارت او کورنیو چارو وزارت تر کنټرول لاندې نه دی.سربیره پردې د ملي امنیت ریاست د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق څخه چې د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت له خوا تاکل شوی دی، نه تمویلیږي.[98] سیګار د ګډوډۍ د مخنیوي په موخه په پام کې لري چې د راتلونکې ربعې په راپور کې د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت نوي اصطلاحات او تعریف قبول کړي.له ټولو وروسته د سیګار اړونده ریاستونوپه خپلو محصولاتو کې د اصطلاحاتو د بدلون لپاره وخت درلوده.

د متحده ایالتونو له خوا زیاتره مالي مرستې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق تر کنټرول لاندې ترسره او د دواړو افغانستان د امنیت سپارلو ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) او د د فاعي امنیتي همکارۍ ادارې له خوا چمتو شوي دي.د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق لپاره 60.7 میلیارد امریکایي ډالر تخصیص شوي دي چې تقریباً 53.1 بیلیونه امریکایي ډالر چمتو او له دې جملې څخه د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې 51.6 بیلیونه امریکایي ډالر مصرف او لګول شوي دي.[99]

په دې برخه کې د افغان ملي اردو، افغان ملي پولیسو، د ملي دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ارزونې باندې بحث او خبرې کیږي او یو عمومي نظر رامینځه ته کوي چې د افغان امنیتي ځواکونو د جوړولو، سمبالولو، روزلو او پایدارۍ لپاره د متحده ایالتونو له بودجې څخه څرنګه ګټه اخیستل کیږي او همدارنګه په افغانستان کې د غیرقانوني مخدره توکو د کبنت او سوداګرۍ په وړاندې د مبارزې د هلو ځلو په هکله تازه معلومات چمتو او تیاروي.

**د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونه (ANDSF):** د افغانستان ملي دفاع او امنیتي ځواکونه د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت له خوا تعریف شوي څو امنیتي ځواکونه د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو په چوکاټ کې شامل کړې. د دفاع وزارت په چوکاټ کې افغان ملي اردو او د ودانیو د ساتنې ځواکونه (FPF) شامل دي. د افغان ملي اردو په چوکاټ کې افغان هوایي ځواکونه، د ملي اردو د ځانګړو عملیاتو قوماندانۍ (ANASOC) او د ځانګړي ماموریت ډله (SMW) شامل دي.د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې افغان ملي پولیس (ANP)، افغان سیمه ییز پولیس (ALP) د عامه وګړو د ساتنې معینیت او امنیتي تصدی (APPF) شامل دي. د افغان ملي پولیسو په چوکاټ کې د افغانستان یونیفارم پولیس (AUP)، د ا فغانستان سرحدي پولیس (ABP)، د افغانستان د ملي عامه نظم بولیس (ANCOP)، د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې پولیس (CNPA) او د پولیسو د ځانګړې واحد عمومي قوماندانۍ (GCPSU) شامل دي. په هر حال نه افغان سیمه ییز پولیس (ALP) او نه هم د عامه وګړو د ساتنې معینیت او امنیتي تصدی (APPF) د افغانستان د ملي دفاع او ملي امنیتي ځواک په چوکاټ کې چې 352,000 ځواک لري او د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت له خوا تعریف شوي دي،شامل دي.

سرچینه: OSD-P سیګارسره د برښنا لیک له لارې د مکتوبونو راکړه ورکړه 4/13/2015

## د دې ربعې مه مې موضوع ګانې او پېښې

### د امریکې متحده ایالتونوته د افغان جمهور رئیس او اجرائیه رئیس سفر

د 2015 زیږدیز کال د مارچ په 22 مه نېټه جمهور رئیس اشرف غني او اجرائیه رئیس عبدالله د امریکي متحده ایالتونو ته سفر وکړ. دواړو مشرانود جمهوررئیس اوباما سره خبرې اترې وکړې، د متحده ایالتونو د کانګرس په غونډه کې یې ګډون وکړ او کانګرس ته یې وینا وکړه، د امریکې متحده ایالتونو د دفاع او بهرنیو چارو له وزیرانو سره یې لیدنه وکړه، د کیمپ ډیوډ څخه یې لیدنه ترسره او په مختلفو ادارو او بنسټونو کې یې خبرې وکړې.

د سفر په دوران کې په لاندې مهمو امنیتي موضوع ګانو خبرې وشوې:

- جمهور رئیس اوباما د مارچ د میاشتې په 24 مه نېټه په سپینه ماڼۍ کې د اشرف غني سره د مطبوعاتي کنفرانس په دوران کې په افغانستان کې تر 2016 زیږدیز کال پورې د 9800 امریکایي ځواکونو د پاتې کېدو په هکله چې اوس مهال په افغانستان کې میشت دي، خپله پرېکړه اعلان کړه او په دې سره یې هغه اصلي پلان چې د 2015 زیږدیز کال تر پایه پورې به په افغانستان کې د میشتو امریکایي ځواکونو شمیر نیمایي ته رسوی، و ځنډاوه.[100]
- د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزیر د مارچ د میاشتې په 23 مه نېټه په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې چې په کیمپ ډیوډ کې ترسره شو، اعلان وکړ چې د دفاع وزارت په پام کې لري او هڅه کوي څو تر 2017 زیږدیز کال پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه چې شمیر یې اوس مهال 352,000 ته رسیږي پخپل حال پاتې کېدو په موخه تمویل کړي.[101]
- ښاغلي غني د مارچ د میاشتې په 24 مه نېټه د کانګرس ګډې غونډې ته وینا وکړه او د وینا په دوران کې یې د هغه امریکایي نارینه او ښځینه کارکوونکو د پوره په هکله ژوره یادونه وکړه چې په افغانستان کې یې خدمت کړی دی او د افغانستان د آزادۍ لپاره یې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. همدارنګه هغه د هغه امریکایانو څخه مننه وکړه چې د ښوونځیو ودانولو، ناروغانو ته د روغتیایي خدمتونو چمتو کولو او پاکو اوبو د چمتو کولو په موخه د ده هیواد ته راغلي دي.[102]
- ښاغلي غني د خپلو خبرو په دوران کې یو ځل بیا د دوامداره (استراتیژیک) همکاریو په تړون او دوه اړخیزه امنیتي تړون باندې ټینګار وکړ چې د امریکې متحده ایالتونو سره د افغانستان د اړیکو لپاره یو چوکاټ تعریفوی او افغانستان دې ته ژمن کوي څو د دې لسیزې تر پایه پرځان بسیا او پخپلو پښو ودریږي.[103]
- ښاغلي غني د امریکې متحده ایالتونو د سولې په انستیتیو ت کې یوې غونډې ته د وینا په دوران کې وویل چې د طالبانو سره سوله څرنګه شوني ده. ښاغلي غني د پاکستان پر اهیمت ټینګار وکړ. هغه وویل چې اوس دواړو حکومتونوپخپله نا اعلان شوي دښمنۍ اعتراف کړی دی او د هغه موقف دادی چې اساسي ستونزه د طالبانو سره سوله نه بلکه د پاکستان او افغانستان ترمنځ سوله ده.[104]

د افغان مشرانو د سفر په هکله د لا زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د راپور 127 مخ ته مراجعه وکړئ.

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په مشرۍ نظامي عملیات

کله چې د 2014 زیږدیز کال په پای کې نړیوالو مرستندویه امنیتي ځواکونو (ایساف) نظامي عملیات پای ته ورسول او د 2015 زیږدیز کال د جنوري میاشت په لومړۍ نېټه د ناتوپه مشرۍ د قاطع ملاتړ ماموریت خپل روزنیز،مشورتي او مرستندویه رول پیل کړ نو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د افغانستان د امنیت مسؤلیت په غاړه واخیست. د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د 2015 زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په نیمایي کې د ذولفقار په نامه نظامي عملیات پیل کړل. د راپورسره سم دا تر ټولو ستر عملیات وه چې تر اوسه پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په یوازې او خپلواکه توګه ترسره کړل څو د پسرلي د جنګ له موسم څخه وړاندې د هلمند ولایت له یاغیانو څخه پاک کړي.[105] دغه ګډ عملیات د افغان ملي اردو 215 مې قطعې له خوا پلان او د افغان ملي اردو د 205 مې او 207 مې قطعې په مرسته او همکارۍ او د افغان

هوايي ځواکونو د افغان ملي اردو د ځانګړو عملیاتو قومانداني او افغان ملي پولیسو په ګډون د افغان ملي اردو د 215 مې قطعې په مشرۍ ترسره شول.[106]

د افغان ملي اردو قوماندان د 2015 زیږدیز کال د اپریل په 8مه نېټه د ذولفقا په نامه 50 ورځنیو عملیاتو پای ته رسیدل اعلان کړل چې د یادو عملیاتو په پایله کې 418 یاغیان، 93 امنیتي ځواکونه او 7 تنه ملکي وګړي ووژل شول.[107] په هماغه ورځ سیمه ییزه چاراوکو په سنګین ولسوالۍکې د افغان پولیسو له خوا د خپلو پوستو د پریښودلو راپور ورکړچي دا کار د دې ښکارندوی دی چې پولیس د افغان ملي اردو د ملاتړ څخه پرته پخپلو پوستو کې نشي پاتې کیدای.[108] هغه راپورنه چې افغان ملي اردو او پولیس د ولسوالی د چانولو (تصفیه کول) څخه وروسته له ولسوالی څخه ځي د هلمند د والي مرستیال د هغه مخکې له وخته وینا سره په تضاد کې ده چې وایي حکومت په پام کې لرله چې د طالبانو د بیرته راګرځیدلو د مخنیوي په موخه به د ولسوالی په ټولو برخو کې د ملي اردو او پولیسو پوستې جوړې کړي.[109] یوه میاشت وروسته سیمه ییزه چاراواکو راپور ورکړ چې طالبان د ولسوالی زیاتره برخې ترخپل کنټرول لاندې راوستې دي او حکومتي ځواکونه یوازې د ولسوالۍ په بازار او قیر سړک باندې کنټرول لري.[110]

د راپور سره سم د سنګین په ولسوالۍ کې چې د هلمند په شمال کې د طالبانو سنګربلل کیږي، د جګړې په زیاتیدلو سره د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې اندازه زیاته شوې ده.د نظامي عملیاتو د پیل راهیسې د سی مې روغتون د تیر کال د همدغه وخت په پرتله 30 سلنه زیات ناروغان داخل بستر کړي دي.[111] د روغتون د راپورسره سم زیاتره ملکي وګړي د دواړو خواوو په ډزو کې راګیر شوي دي. د روغتون یو کار کوونکي وویل، دا شمیرې د دې ځای لپاره عادی نه دي او نه هم سوله ییزه ښکه لري.[112] په هلمند کې د مدني فعالانو د یوې ډلې د راپور سره سم 1500 کورنیو د تاوتریخوالي څخه د تیښتې په موخه ولسوالي پرې ایښې ده.[113]

د کورنیو چارو وزیر د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې په 14 مه نېټه ملي شورا ته وویل چې 11 ولایتونه د لوړې کچې امنیتي ستونزو او تهدیدونو او 9 ولایتونه د منځنۍ کچې امنیتي ستونزو او تهدیدونو سره مخ دي.[114]

د امریکې د متحده ایالتونو د ملي اطلاعاتو رئیس ښاغلي جیمز کلیپر پخپله بیانیه کې د هغه اسنادو او شواهدو په هکله چې د امریکې متحده ایالتونو کانګرس ته استول شوي، داسې وویل، د راپورسره سم داسې بریښي چې طالبان په 2015 زیږدیز کال کې د پښتنو د سیمومه مې برخې په تدریجي ډول تر خپل کنټرول او نفوذ لاندې راولي ځکه چې طالبان داسې فکر کوي چې د ائتلافي ځواکونو وتل د دوی د حتمي بریالیتوب نښه ده.[115] ښاغلی کلیپر هیله لري چې افغان پوځ به د لویو ښارونو کنټرول وساتي مګر هیله نه لري چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه دې د تمویلونکو هیوادونو د دوامداره مرستو او همکاریو پرته د یو منظم او فعال امنیتي ځواک په توګه پاتې شي.[116]

## د ملګرو ملتونو د راپورونو سره سم امنیتي پیښې مخ په کمیدو دي خو افغانستان لا تر اوسه بې ټیکاوه (بې ثباته) دی.

د یوناما د راپور سره سم په افغانستان کې امنیتي وضعیت په بې ثباته توګه باقي پاتې دی. د امنیتي پیښو شمیر د 2013 زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې له هغه شمیر څخه کم وه چې د راتلونکي مخ په 3.6 جدول کې ښودل شوي ده. مګر په دې موده کې رامینځته شوي پیښې د 2013 ا و 2014 زیږدیزو کلونو په همدې موده کې ثبت شوو پیښو څخه چې شمیر یې 4649 ته رسیده، 9.2 سلنه په اندازه زیاتي دي او دا شمیره د 2012 او 2013 زیږدیزو کلونو د همدې مودې د ثبت شوو پیښو څخه د 33.2 سلنې په اندازه زیات ده.[117] د ملګرو ملتونو د راپور سره سم د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر او د 2015 زیږدیز کال د جنورۍ په میاشت کې د رامینځته شوو امنیتي پیښو کچه د 2001 زیږدیز کال پورې د هر کال په دې موده کې د رامینځته شوو پیښو پرتله ډیره لوړه ده دا ځکه چې ژمی نسبتاً معتدل او ګرم وه.[118]

ملګرو ملتونو د 2014 زیږدیز کال د نومبر د میاشتې له 16 مې نېټې څخه د 2015 ز یږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې تر 15 مې نېټې پورې 5075 امنیتي پیښې ثبت کړې دي چې په هغې کې 191 د

**امنیتي پیښې:** راپور ورکړل شوي پیښې د هغه پیښو څخه عبارت دي چې په هغې کې وسله واله نښتې، د سړک د غاړې ماینونه، هدفي وژنې، غلاوې، د ځان وژنې حملې، جنایي فعالیتونه او ویرول او تهدی شامل وي.مهمه نده چې راپور ورکړ شوي پیښې د واقعي او ریښتیني پیښې وي.

سرچینه: د ملګرو ملتو د راپور په هکله د سیګار د اداری تحلیل 12/9/2014

جدول 3.6

| نېټه | د اميتي پيښنو شمير | د ورځو شمير | د يوې ورځې د امنيتي پيښنو اوسطه اندازه |
|---|---|---|---|
| **د راپور ورکړل شوو امنيتي پيښنو شمير** | | | |
| 2/15/2014–11/16/2013 | 4,649 | 92 | 50.5 |
| 5/31/2014–3/1/2014 | 5,864 | 92 | 63.7 |
| 8/15/2014–6/1/2014 | 5,456 | 76 | 71.8 |
| 11/15/2014–8/16/2014 | 5,199 | 92 | 56.5 |
| 2/15/2015–11/16/2014 | 5,075 | 92 | 55.2 |
| **ټول ټال او د يوې ورځې پيښنو اوسطه اندازه** | **26,243** | **444** | **59.1** |

سرچينه: *د ملګرو ملتونو د امنيت شورا، د ا فغانستان وضعيت او په نړيواله سوله او امنيت د هغې اغيزې.* 2/27/2015, p. 4; 12/9/2014, p. 5; 9/9/2014, p. 6; 6/18/2014, p. 5; and 3/7/2014, p. 5.

وژنې او 40 د وژنې لپاره د هڅې کولو پيښې شامل دي چې دغه شميره د 2013 او 2014 زيږديزو کلونو په ورته وخت کې د 26.4 سلنې او 29 سلنې زياتوالی ښيي. د ټولو امنيتي پيښنو نږدې 78 سلنې له جملې څخه 46.8 سلنه وسله والې نښتې او جګړې او 30.9 سلنه يې د سړک د غاړې مينونه تشکيلوي. په دغه موده کې د ځان وژنې 40 حملې ترسره شوي دي چې له دې جملې څخه يې يوه د لغمان په ولايت کې د افغان سيمه ييز پوليسو (اربکيانو) د قوماندان د جنازې په مراسمو کې رامينځته شوې چې په پايله کې يې د افغان سيمه ييز پوليسو د لوړ رتبه کارکوونکو په ګډون 15 کسانو ته مرګ ژوبله واوښته.[119]

په کابل کې د نومبر او اکتوبر مياشتو په دوران کې د ياغيانو د فعاليتونو د شديد زياتوالي په تعقيب افغان امنيتي ځواکونو په پايتخت کې د ا ئتلاف ځواکونو په مرسته او همکارۍ يو لړ عمليات پيل کړل. يادو عملياتو د پايتخت په مهمو استراتيژيکو سيمو کې د ياغيانو د عملياتو د کچې راټيټولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړه. د ډسمبر او جنوري مياشتو په دوران کې د ځان وژنې حملو شمير د 10 څخه 5 ته راکښته په داسې حال کې چې د سړک د غاړې ماينونو پيښې بيا د 18 څخه 5 ته راکښته شوې دي.[120]

د ملګرو ملتون عمومي منشي د 2015 زيږديز کال د فبروري مياشتې د 27 مې نېټې پخپل راپور کې چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ته يې وړاندې کړ داسې وړاندوينه وکړه چې د راتلونکې اوړې په موسم کې به د وسله والو نښتو په شمير کې د پام وړ زياتوالی او شدت رامينځته شي.[121] همدارنګه هغه تاييد کړه چې سوله په افغانستان کې د دوامداره او پايداره سياسي او اقتصادي پرمختګ لپاره يو بنسټيزه لومړنۍ شرط په توګه پخپل ځای پاتې ده.[122]

د يوناما مشر د 2015 زيږديز کال د اپريل په 12 مه نېټه د جګړې اړوند تاوتريخوالي د فصل د بيا پيل کېدو په دوران کې دملکي وګړو د مرګ ژوبلې د کچې د لوړوالي اوپه ملکي وګړو د هغې د اغيزو په باره کې د جګړې په ټولو غاړو غږ وکړ چې ملکي وګړو ته د زيان رسولو څخه ډډه وکړي. د يوناما د راپور سره سم د ځمکنې اخ او ډب په ترڅ کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په شمير کې د 2014 زيږديز کال د ورته وخت په پرتله 8 سلنه زياتوالی راغلی دی او د جګړې ټولې غاړې بايد ژمنه وکړي چې د ملکي وګړو په ميشت ځايونو کې د هاوانونو او راکټونو استعمال ودرو.[123]

د ملګرو ملتونو د راپور سره سم په عراق او منځنې ختيځ کې د اسلامي دولت سره تړلو حکومت ضد عناصرو د شتون په هکله د رسنيو د ګمان کولو سره سره په افغانستان کې د اسلامي دولت د پراخه او سيستماتيک ملاتړ يا ميشت کېدو داسې هيڅ نښه نه ليدل کيږي.[124] جمهور رئيس غني د 2015 زيږديز کال د اپريل په 18 مه نېټه د جلال آباد په ښار کې د ځان وژنې په ب مې حمله کې چې په پايله کې يې 35 تنه ووژل شو او تر 125 تنو پورز ټپيان شول، اسلامي دولت په لاس لرلو تورن کړ.طالبانو په ياده پيښه کې د دوی لاس لرل رد کړل.[125]

**ملګرو ملتونو په طالبانو غږ کړی دی چې د هغو کسانو پروړاندې خپلې ټولې حملې ودروي چې نيغ په نيغه په جګړو کې برخه نه اخلي.**

*جيورجيټ ګګنون. د يوناما د بشرې حقونو د څانګې رئيس*

منبع: ديوناما خبری سرچينه: وروستی ارقام دا په ډاګه کوی، چه دملکی وګړو مرګ ژوبله په مسلسل ډول لوړه 2015/12/4

## د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د طبقه بندي شوو معلوماتو وضعيت

په دې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM) د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د کارکوونکو د پياوړتيا او کمزورتيا (تنزل) د افغان هوايي ځواک او د افغان ځانګړي ماموريت ډلې په هکله يو لړ معلومات طبقه بندي کړي دي. له نن څخه وروسته به سيګار لکه څرنګه چې قانون واک او صلاحيت ورکړی دی، د دې راپور سره يوځای يوه طبقه بندي شوې ضميمه هم کانګرس ته نشر او وړاندې کړي چې په هغې کې به طبقه بندي شوي معلومات ځای پرځای او شامل وي.

## په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونه

په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو د معلوماتو سره سم د 2015 زېږديز کال د فبروري 28 مې نېټې څخه وروسته په افغانستان کې د امريکې د متحده ايالتونو 9,000 ځواکونو خدمت ترسره کاوه چې په دغه شميره کې د 2014 زېږديز کال د ډسمبر د مياشتې د 20 مې نېټې پورې 500 کموالی راغلی دی. سربېره پردې په دغه موده کې د نورو هيوادونو 7,000 سرتيرو د ائتلافي ځواکونو په چوکاټ کې خدمت ترسره کاوه.[126]

جمهور رئيس اوباما د مارچ د مياشتې په 24 مه نېټه په سپينه مانۍ کې د اشرف غني سره د مطبوعاتي کنفرانس په دوران کې په افغانستان کې تر 2016 زېږديز کال پورې د 9,800 امريکايي ځواکونو د پاتې کيدو په هکله چې اوس مهال په افغانستان کې ميشت دي، خپله پريکړه اعلان کړه او په دې سره يې هغه اصلي پلان چې د 2015 زېږديز کال تر پايه پورې به په افغانستان کې د ميشتو امريکايي ځواکونو شمير نيمايي ته رسوی،و ځنډاوه. دغه پريکړه د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو ته اجازه ورکوي څو په هغه قرارګاوو کې چې د اطلاعاتو د راغونډولو، د تروريزم ضد عملياتو د ترسره کولو او همدارنګه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو سره د هوايي او لوجستيکي مرستو او ملاتړ د جاري ساتلو لپاره حياتي اهميت لري، پاتې شي.[127] د 2001 زېږديز کال د نظامي عملياتو د پيل راهيسې بيا د 2015 زېږديز کال د مارچ د مياشتې تر 30 مې نېټې پورې په افغانستان کې ټول ټال 2215 امريکايي نظامي کارکوونکي وژل شوي دي. چې له دې جملې څخه 83 سلنه د جګړې په دوران کې وژل شوي دي او 20026 تنه ټپيان شوي دي.[128]

د 2014 کال په دوران کې د امريکې متحده ايالتونو د ځواکونو په وړاندې د 7 داخلي حملو په پايله کې 4 کسان ووژل شول او 15 نور ټپيان شول.[129] دا د هغه حملې څخه چې په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو يې په هکله په تيره ربع کې راپور ورکړی وه يوه جلا او بله حمله ده. په مخکينيو شميرو کې وروسته له هغې بدلون راغي چې يوې دويم ځلي ځيرني وښودله چې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونه د يوې بلې احتمالي حملې هدف وګرځيدل.[130] په 2015 زېږديز کال کې د امريکې متحده ايالتونو د ځواکونو پروړاندې يوه داخلي حمله ترسره شوه چې د يو عسکر د وژل کيدو او دوه نورو د ټپي کيدو سبب شوه. نوموړې حمله د 2001 زېږديز کال د سپتمبر د مياشتې راهيسې د جنګ په بڼګر کې د امريکې متحده ايالتونو د نظامي کارکوونکو د مړينې تر ټولو دوامداره حمله وه چې د زيات وخت څخه وروسته پای ته ورسيده.[131] په 2015 زېږديز کال کې يوې بلې حملې د امريکې متحده ايالتونو درې قراردادیان ووژل او يو يې ټپي کړ.[132]

## د افغانستان ملي امنيتي ځواکونوشمير خفيف زياتوالی ښيي

په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو (USFOR-A ) د معلوماتو سره سم په دې ربع کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو ګمارل شوي ځواک شمير 328,805 (د ملکي وګړو په ګډون) دی چې د راتلونکې مخ په 3.7 جدول کې منعکس شوی چې دغه شميره د افغانستان ملي امنيتي ځواک د هدف لاندې ځواک د شمير چې 360,004 ته رسيږي، 91.3 سلنه تشکيلوي.(عمومي وروستنۍ شميره 352,000 ته رسيږي چې ملکي کارکوونکي په کې نه دي شميرل شوي). د 2014 زېږديز کال د نومبر د مياشتې راهيسې د نوو ګمارل شوو ځواکونو شمير کې په ټيټه کچه زياتوالی رامينځته شوی چې شمير يې 3,163 ته رسيږي.[133] دغه زياتوالی په افغان ملي اردو کې رامينځته شوی چې 4,917 ته رسيږي په داسې حال کې چې د افغان ملي پوليسو په شمير کې د 1,754 په اندازه کموالی رامينځته شوی چې په راتلونکې مخ کې په 3.8 جدول کې ښودل شوی.[134]

په دې ربع کې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونوشمير د قطعې په کچه او له هغې لاندې طبقه بندي شوی پاتې شوی دی. بناً سيګار به د دې په هکله راپور د راپور په طبقه بندي شوې ضميمه کې ورکړي.

### د سيګار مقاله

په دې ربع کې سيګار د دې لپاره يوه ژوره کتنه ترسره کړه چې ولې بايد د افغانستان ملي امنيتي ځواک دقيق او د اعتماد وړ شمير ځواکونه ولري. د دې شننې د لوستلو لپاره د دريم مخ لومړنۍ برخې ته مراجع وکړئ.

جدول 3.7

**د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو تاييد شوي(رسمي) شميره، د 2015 زيږديز کال د فبروري مياشت**

| د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو برخې | د هدف ور منظور شوی شمير | د هدف نېټه | د 2015 زيږديزکال پورې موجوده شمير | د رسمي ټاکل شوي هدف سلنه (%) | د موجوده ګمارل شوو او د هدف ور منظور شوي شمير تر منځ توپير | د توپير سلنه (%) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| افغان هوايي ځواک (AAF) په افغان ملي اردو (ANA) کې شامل دي. | 195,000 | د 2014 زيږديز کال د ډسمبر مياشت | 167,024 | %85.7 | (27,976) | (%14.3) |
| افغان هوايي ځواک (AAF) ملکي کارکوونکي په افغان ملي اردو(ANA) کې شامل دي. | 8,004 | | 7,096 | %88.7 | (908) | (%11.3) |
| **د افغان ملي اردو (ANA) + افغان هوايي ځواک (AAF) ټول ټال شمير** | **203,004** | | **174,120** | **%85.8** | **(28,884)** | **(%14.2)** |
| افغان ملي پوليس | 157,000 | د 2013 زيږديز کال د فبروري مياشت | 154,685 | %98.5 | (2,315) | (%1.5) |
| **ټول ټال افغان ملي امنيتي پوليس د ملکي وګړو سره** | **60,004** | | **328,805** | **%91.3** | **(31,199)** | **(%8.7)** |

سرچينه: د امريکې متحده ايالتونو دفاع وزارت، په افغانستان کې د امنيتي وضعيت او ټيکاو (ثبات) په لور د پرمختګ راپور. 12/2012, p. 56: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو ځواب. 3/24/2015: د سيګار د ارزونې په وړاندې په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو ځواب. 4/10/2015

جدول 3.8

**د افغانستان ملی امنيتي ځواکونو د ګمار شوو ځواکونو شمير. Q1 2014–Q1 2015**

| | 2/2014 | 5/2014 | 8/2014 | 11/2014 | 2/2015 |
|---|---|---|---|---|---|
| افغان هوايي ځواک (AAF) په افغان ملي اردو (ANA) کې شامل دي. | 184,839 | 177,489 | 171,601 | 169,203 | 174,120 |
| افغان ملي پوليس* | 153,269 | 152,123 | 153,317 | 156,439 | 154,685 |
| **ټول ټال ملي امنيتي ځواکونه** | **338,108** | **329,612** | **324,918** | **325,642** | **328,805** |

يادښت: د افغان پوځ او هوايي ځواک شميرکې 7,096 ملکي کارکوونکي شامل دي. د افغان ملي پوليسو په هکله موجوده معلومات په دې دلالت نه کوي چې آيا د افغان ملي پوليسو په ليکو کې ملکي کارکوونکي شامل دي او که نه. د 2014 زيږديز کال د نومبر په مياشتې کې د افغان ملي پوليسو د شمير په هکله ورکړل شوي راپور څخه داسې ښکاري چې افغان يونيفامر پوليس دوه ځلې شمير شوي: ريښتينی شمير ښايي 151,272 وي.

سرچينه: د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A)، د سيګار د معلوماتو غوښتنې پروړاندې ځواب، 3/31/2014، 7/1/2014، 10/6/2014، 12/28/2014 او 3/24/2015: د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM). د توضيحاتو لپاره د سيګار د غوښتنې پروړاندې ځواب. 2/3/2015: د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM). د قوماندان جنرال جان ايف کيمپبل له خوا د برښناليک له لارې ټينګې شوې اړيکې(ارتباطات)، د قاطع ملاتړ ماموريت(RSM). څخه سيګارته، 2/25/2015: د سيګار د ارزونې په وړاندې په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو ځواب. 4/10/2015

## د امريکې متحده ايالتونو د دفاع وزارت د زيات شمير افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د بودجې د لاسته راوړلو هلې ځلې کوي.

د امريکې متحده ايالتونو د دفاع وزير ښاغلي اشتون بی د مارچ د مياشتې په 23مه نېټه په هغه مطبوعاتي کنفرانس کې چې په کيمپ ډيوډ کې ترسره شو، اعلان وکړ چې د دفاع وزارت په پام کې لري او هڅه کوي څو تر 2017 زيږديز کال پورې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه چې شمير يې اوس مهال 352,000 ته رسيږي پخپل حال پاتې کيدو په موخه تمويل کړي. د امريکې متحده ايالتونو مخکې له دې په 2012 زيږديز کال د شيکاګو په کنفرانس موافقه وکړه چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو شمير به 228,500 را کم کړي چې دغه ګام د لګښتونو د کموالي په موخه پورته شوی وه.[135] کارټر وويل چې دواړو د ائتلاف او افغان پوځ قوماندانانو د 352,000 ځواکونو سپارښتنه وکړه څو د پايداره امنيتي لاسته راوړنو په هکله ډاډ تر لاسه شي.[136]

د امريکې متحده ايالتونو د دفاع وزارت د راپورپربنسټ د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو او د افغان ملي امنيتي ځواکونو ټول ټال کلنی لګښت چې اوس مهال يې شمير 352,000 ته رسيږي، د کال 5.5 بيليونه امريکايي ډالر دی. د امريکې متحده ايالتونو کانګريس په 2015 مالي کال کې د دې اړتياوو د پوره کولو په موخه د افغانستان امنی تي ځواک وجهي صندوق لپاره 4.1 بيليونه امريکايي ډالر تخصيص او ټاکلي دي. په داسې حال کې چې د امريکی متحده ايالتونو د د فاع وزارت د 2016 مالي کال لپاره يوازې د شا او خوا 3.7 بيليونه امريکايي ډالروغوښتنه کړې ده. په راتلونکې کې د پوځ د ساتلو لګښتونه د ځواکونو په شمير، جوړښت او عملياتي چټکتيا پورې اړه لري.[137]

## د دفاع وزارت بې له وزيره پاتې دی

د سيګار د اعلان سره سم د افغانستان دفاع وزارت پرته له يو ټاکلي وزير څخه پاتې شو. د د فاع وزارت لپاره د ښاغلي غني دويم انتخاب د 2015 زيږديز کال د اپريل په 8مه نېټه د دفاع وزارت لپاره د خپلې

### د سيګار ځانګړې پروژه

په دې ربع کې سيګار د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM) او په افغانستان کې د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) قوماندانانو ته يو ليک واستاوه او له هغوی څخه يې د هغه شننې په هکله معلومات وغوښتل چې د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د موجودو او مطلوبو ځواکونو شمير او جوړښت او داچې د امريکې متحده ايالتونو حکومت په راتلونکې کې د يادو ځواکونو د ملاتړ د لګښتونو د چمتو کولو وړتيا لري، رانغاړي. د لا زياتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د 42 م مخ دوی مې برخې ته مراجعه وکړئ.

نوماندۍ څخه لاس په سر شو. ښاغلي غني د اپریل په 6مه نېټه جنرال محمد افضل لودین د ملي امنیت شورا نظامي سلاکار د دفاع وزارت ته د نوماند په توګه وټاکه.[138] مګر جنرال لودین وویل چې هغه داسې نوماندي نه غواړي چې په هیواد کې تفرقه رامینځته کړي.[139] د افغانستان ملي شورا د جنوري په میاشت کې د ښاغلي غني نوماند ته د باوررایۍ ورنکړه او له هغه وخت راهیسې جنرال شیرمحمد کریمي د سرپرست دفاع وزیر په توګه د هیواد د نظامي ځواکونو مشري کوي. د دفاع وزارت د 2014 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې له 29 مې نېټې راهیسې کله چې ښاغلي غني د جمهور رئیس په توګه لوړه وکړه، بې له یو ټاکلي وزیر څخه پاتې دی.[140]

## د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر د کموالی د کچې راټیټول

د هغه راپور پربنسټ چې د دفاع وزارت له خوا د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) ته چمتو شوی دی، د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په شمیر کې کموالی رامینځته شوی دی. سره له دې چې نه یوازې افغان ملي اردو او نه هم افغان ملي پولیسو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د رامینځته کیدو موخې ترلاسه کړي دي. د یادو ځواکونو په شمیر کې کموالی په اوسطه توګه په میاشت کې 1.40 سلنه ده. د افغان ملي پولیسو په شمیر کې د کموالي اوسط میاشتنی اندازه چې 1.64 سلنې ته رسیږي.[141] د افغان ملي اردو په شمیر کې د کموالي اوسط میاشتنی اندازه 2.55 سلنه ده چې د افغان ملي اردو لپاره د 2013 او 2014 زیږدیزو کلونو په پرتله چې په ترتیب سره 3.52 سلنه او 3.62 سلنه وه،[142] 1سلنه کموالی ښیي. د افغان ملي پولیسو په شمیر کې د کموالي اوسط میاشتنی اندازه د تیرو پنځو میاشتو له جملې څخه د څلورو میاشتو په دوران کې د نورمالي اندازې څخه ښکته وه.[143]

د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو سره د سرتیرو په شمیر کې د کموالي د کچې راټیټولو په برخه کې د مرستې او همکارۍ په موخه د افغانانو لپاره پنځه سی مې ټاکلي دي څو په یادو سیمو کې ارزونه ترسره شي.[144] دغه څلور برخې عادلانه ګمارنې،ترفیع، سرتیرو ته د معاش ورکولو او ګز مې باندې متمرکز دي: د ژوند لپاره د غوره کیفیت لرونکو شرایطو چمتو کول لکه رخصتې او د تلفاتو څارنه او پاملرنه: او مشران باید ځواب ویونکې اوسي.[145]

ملګري ملتونه د افغان امنیتي ځواکونو سره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په چوکاټ کې د ګمارنې په موخه د تایید او تصدیقولو د کرنلارۍ د نوي کولو په برخه کې مرسته او همکاري کړې ده.[146] د نوې کرنلارۍ د اړتیاوو په پام کې نیولو سره هغه څوک چې ګمارل کیږي باید افغان وي، لږ تر لږه 18 کاله عمر ولري (ځیني وختونه د عمر تاییدول په داسې یوه هیواد کې چې د زیږیدلو د نیټې ثبتول په کې محدود وي،ستونزمن کار دی)، په طبي او د شخصیت د معلومولو په آزموینو کې بریالی شي او همدارنګه د سواد اړتیاوې او شرطونه پوره کړي.[147]

په دې ربع کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د شمیر په هکله ډیر مفصل معلومات په طبقه بندي شوی شکل باقي پاتې دي. سیګار به په دې هکله د دې راپور د طبقه بندۍ ضمیمې په برخه کې معلومات او راپور وړاندې کړي.

## قاطع ملاتړ د ارزونې راپور کې بدلون راولی

ناتو د 2015 زیږدیز کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د اروزنې په میتود کې بدلون راوستی دی څو د روزنې، سلا مشورې او مرستو د نوي ماموریت سره سمون ولري. د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې میاشتنی راپور (MAAR) د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د منطقوی وضعیت راپور (RASR) چې د 2013 ز یږدیز کال د آګست د میاشتې راهیسې ورڅخه ګټه اخیستل کیده، ځای نیولی دی.[148] د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو دریځ راپور (RASR) لندیز چې سیګار ترلاسه کړی د غونډ په کچه راپور چمتو کړی او ورسره یې د هغه شواهدو او زیانونو، مهمو ړومبینو مسایلو او ستونزو ترکیبي شننه هم کړې ده چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو اوږدمهاله پایښت او د افغان امنیتي ځواکونو د عملیاتي او تجهیزاتي چمتوالي د ارزونې په وړاندې خنډ ګرځي.[149] د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې میاشتنی راپور (MAAR) به د ډلې (واحد) د ظرفیت اړوند اتو (8) مهمو دندو لپاره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وړتیا او اغیزمنتوب په ګډه توګه و ارزوي څو نوموړي دندې د ځواک د رامینځته کیدو، د سرچینو اداره او کنټرول، پیاوړتیا، اطلاعاتو او دوامداره (استراتیژیکو) اړیکو په توګه ترسره کړي. د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې میاشتنی راپور (MAAR) د دې وړتیا لري چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونود دوی د اړونده ادارو، قطعو ولایتي مرکزونو وړتیاوې و ارزوي او معلومه کړي چې دوی څرنګه دښمن ته دماتې ورکولو او د افغانستان د امنیت ساتلو په برخه کې د خپلو ځواکونو د ملاتړ په موخه یادې دندې ترسره کوي.[150]

**د عملیاتو د همغږۍ مرکزونه (OCCs):**
د عملیاتو د همغږۍ منطقوی او ولایتي مرکزونه د دواړو نظامي عملیاتو ذ همغږۍ او د وګړو د عکس العمل په وړاندې مسؤلیت لري څو په هغه سیمو کې چې مسؤلیت یې د دوی په غاړه دی حالات د ښه والي په لور پرمختګ وکړي. د عملیاتو د همغږۍ مرکز فعالیتونه د نظامي عملیاتو په همغږۍ باندې متمرکز دي.

سرچینه: ایساف/ د امنتي ځواکونو د مرستندویه اداره، د امنیتي ځواکونو د مرستو لارښود (3.1, 7/1/2014, p. G-6)

د 2015 زیږدیز کال د جنوري په میاشت کې د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې میاشتنی راپور (MAAR) د لومړي ځل لپاره د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو د وړتیاوو ارزونه ترسره کړه چې په 3.9 جذول کې ښودل شوي.[151] یو MAAR د افغان ملي اردو 7 قطعې او 111 فرقه په یوه ارزونه کې سره یوځای کوي او بل MAAR عملیاتو د همغږۍ ټول اووه (7) منطقوي مرکزونه سره په یوه ارزونه کې یوځای کوي. د ملي پولیسو دوه برخې په جلا جلا MAAR کې ارزول کیږي. یو یې د اوو (7) افغان یونیفارم پولیسو حوزې سره یوځای کوي او بل یې د اوو (7) افغان سرحدي پولیسو حوزې سره یوځای کوي.[152] د افغان ملي عامه نظم پولیس (ANCOP) به له دې وروسته نه ارزول کیږي.

د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو لپاره د ارزونې شپږ ګروپه (کټګوري) او د عملیاتو د همغږۍ منطقوي مرکزونو لپاره او ګروپه (کټګوري) شتون لري څو د عملیاتو او پیاوړتیا اغیزمنتوب په ګوته او معلوم کړي.

د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو هره برخه د امر اوکنټرول او مشرتابه لپاره ارزول کیږي: د افغان ملي اردو، افغان یونیفارم پولیس او د افغان سرحدي پولیس هم د امر او کنټرول،کارکوونکو، روزنې او پیاوړتیا لپاره ارزول کیږي. د افغان ملي اردو قطعات/غونډ سربیره پردې د ګډو ځواکونو لپاره ارزول کیږي په داسې حال کې چې د افغان یونیفارم پولیس اوافغان سرحدي پولیس د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د نورو واحدونوسره په ګډه ارزول کیږي. د عملیاتو د همغږۍ منطقوي مرکزونو پاتې پنځه ګروپونه (کټګورۍ) د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د داخلي امر او کنټرول،شونې همغږۍ، اطلاعاتو شریکولو، لوجستیکي چارو اړونده همغږۍ، معلوماتو، ارتباطاتو او تکنالوجۍ لپاره ارزول کیږي.[153]

د ارزونې درجه بندي د د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د منطقوی وضعیت راپور (RASR) د درجه بندۍ سره ورته والی لري: پیاوړې کول، بشپړ وړ/اغیزمن، وړ/اغیزمن، قسماً وړ/اغیزمن په پراختیایی چارو کې د سلا او مشورې د نه شتون له کبله درجه بندي شوي نه دي.[154]

د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د ارزونې میاشتنی راپور (MAAR) په لومړۍ مرحله کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو 93 سلنه برخې ارزولي دي چې په څوګونو ګروپونو (کټګوریو) د وړ، بشپړه وړ، پیاوړې کولو په حیث درجه بندي شوي دي.[155] په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو د راپور سره سم پرختګ شوی دی خو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه لا تر اوسه د پیاوړې کولو او ادارو چارو د کنټرول او پرمخ بیولو په برخه کې زیاتې هلې ځلې کوي.[156] په هر حال د امریکې متحده ایالتونو او ائتلاف د څارنې او نظارت د کموالي سره به د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونوله خوا د ارزونې د چمتو شوو معلوماتو باوریتوب د اعتبار وړ نشي کیدای.

په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونه وایي چې د افغان ملي اردو د عملیاتو د همغږۍ منطقوي مرکزونو سره د معلوماتو د شریکولو له لارې د وسلو د ترکیب د ادغام په برخه کې له ځانه ښه والی او بهبود ښودلی دی.[157] په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د قوماندان جنرال جان ایف کیمپبل د کانګرس هیئت ته ویلي دي چې په دې ربع کې هغه افغانانو ته سلا او مشوره ورکړې ده چې عملیات دې په بشپړه توګه د امریکې متحده ایالتونو د هوایي ځواک د مرستې او ملاتړ په مټ نه پلان کوي. هغه وویل چې طالبان د هوایي ځواک ملاتړ له ځانه سره نه لري. طالبان له ځانه سره زره نقلیه وسایط نلري، طالبان D-30 توپونه نه لري. تاسو پوهیږئ چې طالبان ستاسو په شان وسلې نه لري.[158] په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو د راپور سره سم د افغان ملي اردو لا تر اوسه د اړتیا وړ اکمالاتو د دقیقې وړاندوینې اود لګښتونو د تعقیبولو په برخه کې د یو لړ ننګونو سره مخامخ دي.[159]

په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو له راپور سره سم د افغان ملي پولیسولوړ پوړې مشران او د عملیاتو مثبتې پایلې د افغان ملي اردو سره په بشپړه توګه یوځای او مدغم شوي دي خو ویل کیږی چې پولیس د شواهدو د راټولولو د تجهیزاتو او سامان آلاتو د نه شتون او همدارنګه لابراتوار ته د شواهدو د رسولو په برخه کې د وړتیا نه لرو په برخو کې له ننګونو سره مخامخ دي. د افغان ملي پولیسو د راپور سره سم د پولیسو د عملیاتو په دوران کې د خوندي اړیکو د ټینګولو په برخه کې د وړتیا نه لرل هم د اندیښنې یو سبب دی.[160] د عملیاتو د همغږۍ منطقوی مرکزونه د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو، ولایتي حکومتي چارواکو او نورو دولتی چارواکو ترمنځ د یوې همغږي کوونکې اداري په توګه خدمت کوي.[161] د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو واحدونه د عملیاتو د همغږۍ له منطقوی مرکزونو څخه او همدارنګه د عملیاتو د همغږۍ د منطقوی او ولایتي مرکزونو څخه د معلوماتو شریکولو او اړیکو ټینګولو

جدول 3.9

**د افغانستان د ملي امنيتي ځواکونو د میاشتنی ارزوني راپور، د 2015 زی‌ږدیز کال د جنوري میاشت**
**د اوو جغرافيايي منطقو قوماندانی په هره کتګوری کي ارزول شوي.**

| د افغان ملی اردو قطعات او 111 مرکزي فرقه | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د قوماندانی ارزونه | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور |
| مشري (رهبري) | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور |
| ګډې وسلې او مهمات | ور | ور | ور | ور | ور | ور | ور |
| د وسله والو ځواکونو اداره اوکنټرول | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور |
| کارکوونکي (پرسونل) او روزنيز پروګرامونه | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور | بی ارزیابی |
| ساتنه | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور |
| **افغان ملي پوليس** | | | | | | | |
| د افغان يونيفارم پوليسو د قوماندانی ارزونه | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان يونيفارم پوليسومشري (رهبری) | پاینبت | پاینبت | ور | ور | ور | ور | ور |
| د افغان يونيفارم پوليسو يووالی | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان يونيفارم پوليسو د ځواکونو اداره اوکنټرول | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان يونيفارم پوليسو کارکوونکي (پرسونل) او روزنيز پروګرامونه | پاینبت | پوره ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان يونيفارم پوليسو ساتنه | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان سرحدی پوليسو د قوماندانی ارزونه | پوره ور | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور |
| د افغان سرحدي پوليسو مشری (رهبري) | پوره ور | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور |
| د افغان سرحدي پوليسو يووالی | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور | ور |
| د افغان سرحدی پوليسو د ځواکونو اداره اوکنټرول | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان سرحدي پوليسو کارکوونکي (پرسونل) او روزنيز پروګرامونه | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان سرحدي پوليسو ساتنه | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور |
| **د عملياتو د همغږی منطقوي مرکزونه** | | | | | | | |
| د قوماندانی ارزونه | پاینبت | پوره ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| مشري | پاینبت | پوره ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| د افغان ملي امنيتي ځواکونو داخلي اداره او کنټرول | پاینبت | ور | ور | ور | ور | ور | ور |
| پياوړي کوونکي همغږي | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور | ور |
| د اطلاعاتو شريکول | پاینبت | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | ور |
| لوجستيکی همغږی | پوره ور | ور | ور | ور | ور | ور | نسبی ور |
| معلومات، ارتباطات او ټکنالوجي | پوره ور | پوره ور | پوره ور | پوره ور | ور | ور | نسبی ور |

**د رنګه کیلی**
پاینبت ● پوره ور ● ور ●
نسبی ور ● انکشافی ● بی ارزیابی ●

يادښت: د طبقه بندی له کبله خانګړي منطقه په ګوته شوي نده، AUP= افغان يونيفارم پوليس: ABP= افغان سرحدي پوليس: OCC-R= د عملياتو د همغږی منطقوي مرکزونه: ICT= معلومات، ارتباطات او ټکنالوجي

سرچينه: د سيګارد معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امريکي متحده ايالتونو خواکونو (USFOR-A) خواب. 3/11/2015

په موخه کار اخلي. په هرحال په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو د راپور سره سم د دغه مرکزونو او تجهیزاتو ساتنه د عملیاتو د همغږۍ د منطقوي مرکزونو مشران له ننګونو سره مخامخ کوي.[162]

## د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو بندیان

د یوناما د راپور سره سم د هغه 790 بندیانو له جملې څخه چې دوی ورسره مرکې کړي دي ⅓ برخې یې ویلي دي چې د نیولو په وخت کې او همدارنګه د افغان امنیتي ځواکونو په بندیخانو کې شکنجه او بدرفتاري ورسره شوي ده.په داسې حال کې چې د 2013 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې په پرتله د پینو شمیر 14 سلنه راکم شوی دی خو بیا هم ملګرو ملتونو د نړیوال قانون سره د افغانستان د سمون او پیروۍ په موخه د دې هیواد لپاره د زیاتو هلو ځلو په اړتیا ټینګار کړی دی. ملګرو ملتونو د شکنجه ورکوونکو د دوامداره او خپریدونکې عدم مسؤلیت په اړه معلومات او د هغه کسانو په هکله چې په دې کارونو کې لاس لري په دوامداره توګه د معافیت شواهد تر لاسه کړي دي. د ملګرو ملتونو د دې راپور په ځواب کې د ملي یووالي حکومت د یو ملي کاري پلان اعلان وکړ څو هغه شکنجې راکمې او له مینځه یوسي چې په هغې کې کړنلاریز اصلاحات، ویرونکې اقدامات او هراړخیزه او بشپړ روزنیز پروګرامونه شامل وي.[163]

## د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د سواد زده کړې روزنیزو پروګرامونو ته ادامه ورکوي

په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو د دې ربعې د راپور سره سم د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو په ټولو منطقوي روزنیزو مرکزونو کې د روزونکو د روزنې له پروګرامونو څخه ګټه پورته کړه. دوه غیرانتفاعي ادارې هم پولیسو ته په ساحه کې د سواد زده کړې روزنیز پروګرامونه پرمخ بیایي.[164] په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو له راپور سره سم د ملي دفاع وزارت په ټولو ولایتونو کې په 324 ټولګیو کې 15,000سرتیري د سواد زده کړې روزنیز پروګرامونه پرمخ بیایي خو د راپورونو پربنسټ د قراردادي روزونکو څخه یې د پروګرامونو د پرمخ بیولو ورتیا ټیټه ده.[165] د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د خپلو داخلي سرچینو په مرسته د سواد د زده کړې پروګرام رامینځته کوي. کله چې د افغاني قراردادیانو د سواد د زده کړې ټولګې دایر شي نو افغان روزونکې به د خپلې ورتیا لوړولو په موخه په روزنیزو پروګرامونو کې د مرستیالو روزونکو په توګه خدمت وکړي.[166]

## د ملي دفاع او کورنیو چارو د وزارتونو ارزونه

د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د ملي دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې په اداري، بنیادي او عملیاتي کچه په روزنیزو پروګرامونو، سلا او مشورې او مرستو او همکاریو باندې متمرکز دی. د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د امنیتي مرستندویه ځواکونو یو چوکاټ رامینځته او جوړ کړی دی چې اووه متمرکزې ساحې لري څود دوامداره پایښت لپاره د وزارتونو ظرفیت او محوري ورتیا د پراختیا په موخه د افغان او ائتلافي ځواکونو د هلو ځلو په برخه کې غوره لارښووني چمتو کړي.[167] د مهمو دندو اته (8) ریاستونه د قاطع ملاتړ د ماموریت هلې ځلې د پروسې (بهیر) د ټاکلو او د ارزونې د چوکاټ د جوړولو په موخه رهبري کوي چې د کاري پلان او مهال ویش په نامه یادیږي. د وزارت د دفترونو او ریاستونو لپاره د مهمو دندو اړونده پروسې (بهیر)، مهال ویش او اړونده اقدامات په جلا کاري پلان او مهال ویش کې ځای پرځای شوي دي.[169] هره پروسه کولای شي د یو څخه زیات مهال ویشونه او هر مهال ویش کیدای شي یو یا ډیر اړونده اقدامات ولري.

په دې ربع کې د قاطع ملاتړ ماموریت د ریاست لومړۍ مهمه دنده د پلان، پروګرام او بودجې جوړول، د پروګرامونو پرمخ بیول او اجرا کول، د دواړو ملي دفاع او کورنیو چارو وزارت ارزونې

## د کورنیو چارو وزیر نورالحق علومي

| | |
|---|---|
| **د ټاکنې نېټه** | د 2015 زیږدیز کال د جنوري 28 مه نېټه |
| **قوم** | پښتون |
| **قبیله** | بارکزی |
| **سیاسي ګوند** | ملي متحد ګوند |
| **معرفي کوونکی** | اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله |
| **کارِ تجربه** | • د کندهار څخه د ولسي جرګې غړی:د دفاعي کمیټي مشر<br>• د کندهار والي(د روسانو د وتلو څخه وروسته پاتې حکومت)<br>• په قندهار کې د دوی مې قطعې عمومي قوماندان (د روسانو د وتلو څخه وروسته پاتې حکومت) |



(د یوپول انځور)

سرچینه: افغان ژوند لیکونه. علومي. نورالحق نورالحق علومي علومي، 1/29/2015: رویټرز،د حقایقو صندوق: د افغانستان د نوي کابینې سترو نوماندانوژوند لیک ته یو کتنه، 1/12/2015 وال سټریټ ژورنال، افغانستان د کابینې غړي اعلانوي، 1/15/2015: د ګاردین ورځپاڼه، د افغانستان جمهور رئیس واک ته له رسیدو درې میاشتې وروسته د کابینې د نوماندانو لیست چمتو کړی دی، 1/15/2015.

لپاره د یو اضافي مهال ویش چمتو کول دي. په دې سره د هغه مهال ویشونو شمیر چې د ملي دفاع وزارت پرې ارزول شوی دی، 49 ته رسیږي. د کورنیو چارو وزارت په 43ام مهال ویش باندې ارزول کیږي.[170] د اړونده اقدام، پروسې او مهال ویش بڼه بیلګه د ملي دفاع وزارت د منځمهالي بودجې د چوکاټ جوړولو د پروسې د یوې برخې په توګه د تجهیزاتو د یو بشپړ لست چمتو کول او جوړول دي. مهال ویش د وزارت لپاره دی څو د استراتیژیکو لاربنونو پربنسټ په دقیقه توګه د اړتیاوو، پروګرامونو او د دریو کلونو بودجې چمتو کولو وړتیا پیدا کړي.[171]

د مهمو دندو هر ریاست د هر وزارت د دفترونو د مهمو دندو د اجراکولو د وړتیاوو د ارزونې په موخه د کاري پلان او مهال ویش څخه کار اخلي.[172] دفترونه د هغه پنځه مرحله بیزدرجه بندی سیستم پربنسټ ارزول کیږي چې د راتلونکي مخ په 3.10 جدول کې ښودل شوی دی.[173] د هر دفتر ارزونه سره یوځای کیږی څو د یاد ریاست ټوله ارزونه مشخص او معلومه شي. د ټولو ریاستونو ارزونې بیا پخپل وار سره یوځای کیږی څو په مجموعي ډول د ټول وزارت ارزونه مشخص او معلومه شي.[174]

پنځمه درجه هغه درجه منعکس کوي د کو مې پواسطه چې افغان سیستم ځای پرځای، فعال او په اغیزمنه توګه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. د لوړې درجې دوامداره وړتیا ښیې چې افغان وزارت کولای شي یوه ځانګړې دنده د ائتلافي ځواکونو د سلا او مشورې یا ګډون څخه پرته ترسره او اجرا کړي.[175] د دې ربعې د پیل راهیسې نه د ملي دفاع وزارت او نه هم د کورنیو چارو وزارت مه مې دندې د دوامداره وړتیا درجه (تر ټولو لوړې درجه) یا بشپړه وړتیا (دویمه تر ټولو لوړه درجه) لکه څرنګه چې په 3.10 جدول کې ښودل شوې ده. ترلاسه کړې ده. د وړتیا مهال ویش د درجه بندی سیستم کوم چې د وزارت او نورو عمومي کارکوونکو دفترونه تر ارزونې لاندې نیولې دی. د دندې زیاتره دفترونو تر ټولو لوړې درجې (خپلواکه) یا (وړ) سره د نظارت او خارنې ترلاسه کړې وي. د درجه بندی سیستم په هکله د لا زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د سیګار د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر د میاشتې درې میاشتنی راپور 97 مخ ته مراجع وکړئ چې د امریکې متحده ایالتونو کانګرس ته چمتو او وړاندې کړی دی.[176]

د موجوده ارزونې سره سم د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو ټول پرمختیایی حالات او شرایط لړ تر لړه په لومړنی مرحله کې دي. د ملي دفاع وزارت د خپلو قسماً وړ پرمختیایي حالات او شرایط

### د سیګار ځانګړی پروژه

په دې ربع کې سیګار په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) او د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ قوماندانانو څخه په یو لیک کې د هغه معلوماتو غوښتنه کړې ده چې د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) څرنګه د خپلو پروژو پرمختګ اندازه کوي څو د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو او د افغانستان د امنیتی بنسټونو (ASI) د اغیزمنتوب او پایداری په هکله ډاډ ترلاسه کړی. د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د امنیتي ځواکونو د مرستو لاربنود کتاب د معلوماتو سره سم، نوموړې پروژې د افغانستان ملی امنیتی ځواکونو او د افغانستان د امنیتی بنسټونو (ASI) د پرمختګ او په اتو مهمو دندو باندې د تمرکز چارې پرمخ بیایی. د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره په 45 مخ کې د دوی مې برخې ته مراجعه وکړی.

جدول 3.10

**د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې پورې د وزارت د ارزنې لپاره د ناټو له سیستم څخه ګټه اخیستل**

| | د درجه بندی مفهوم | 1 مه مهمه دنده:د ځو کلنې بودجې جوړول او اجرات کول. | 2 مه مهمه دنده: روڼوالی (شفافیت)، ځواب ویڼه او څارنه (نظارت) | 3 مه مهمه دنده:د افغان امنیتي بنسټونو د ملکي کارکونکو حکومت ولي | 4 مه مهمه دنده:فورس جنریشن: هغه کړنلاره چې د ناټوځواکونو د عملیاتو او ماموریت په دوران کې د موخو د ترلاسه کولو لپاره د کافي ځواک او موادو د لرلو په هکله ډاډ ترلاسه کوي. | 5 مه مهمه دنده:ساتنه او پایداري | 6 مه مهمه دنده: کړنلاره او تګ لاره، پلان جوړول، د سرچینو جمعو کول او اجرات کول | 7 مه مهمه دنده: اطلاعات | 8 مه مې دندې: دوامداره(ستراتیژیک) اړیکې (ارتباطات) | تول تال درجه بندي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **مه مې دندې (EF)** | | | | | | | | | | |
| د ملي دفاع وزارت ارزونه | 5 درجه: د ساتنې وړتیا/اغیزمنتوب | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 4 درجه: بشپړه وړتیا/اغیزمنتوب | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 3 درجه: قسمي وړتیا/اغیزمنتوب | 1 | 0 | 2 | 0 | 6 | 2 | 0 | 3 | **14** |
| | 2 درجه: د پراختیایي چارو پیل | 3 | 2 | 1 | 5 | 7 | 2 | 5 | 3 | **28** |
| | 1 درجه: ارزول شوي/ توافق ته رسیدلي. | 2 | 3 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | **7** |
| | 0 درجه: نه ارزول شوي/توافق ته نه رسیدلي | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | **تول تال مه مې دندې** | **6** | **5** | **4** | **6** | **13** | **4** | **5** | **6** | **49** |
| د کورنیو چارو وزارت ارزونه | 5 درجه: د ساتنې وړتیا/اغیزمنتوب | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 4 درجه: بشپړه وړتیا/اغیزمنتوب | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | 3 درجه: قسمي وړتیا/اغیزمنتوب | 1 | 0 | 0 | 1 | 6 | 4 | 0 | 0 | **12** |
| | 2 درجه: د پراختیایي چارو په برخه کې نوښت رامینځته کول | 3 | 0 | 2 | 3 | 7 | 0 | 4 | 0 | **19** |
| | 1 درجه: ارزول شوي/ توافق ته رسیدلي. | 2 | 4 | 2 | 1 | 0 | 0 | 0 | 3 | **12** |
| | 0 درجه: نه ارزول شوي/توافق ته نه رسیدلي | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | **0** |
| | **تول تال مه مې دندې** | **6** | **4** | **4** | **5** | **13** | **4** | **4** | **3** | **43** |

یادښت: د لومړۍ او اوو مې مه مې دندې ارزونه، 3/1/2015: د دوی مې او پنځ مې مه مې دندې ارزونه، EF2 & EF5: د درې مې او شپږ مې مه مې دندې ارزونه، 2/12/2015: د څلور مې مه مې دندې ارزونه، 2/17/2015: د ات مې مه مې دندې ارزونه، 2/20/2015: د ساتنې او پایدارۍ وړتیا/اغیزمنتوب: د شرایطو بشپړه پوره کول ،سلا او مشورې یوازې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د همکارانو په غوښتنه په دې شرط چې فرصت او سرچینې اجازه ورکړي، بشپړه وړتیا/اغیزمنتوب: د پراختیایي چارو شرایط تقریباً ترلاسه شوي، د افغان ملي امنیتي ځواکونو عناصر بشپړ ورخو لاتراوسه پاملرنې ته اړتیا لري: پرلاره دي او د قاطع ملاتړ ماموریت تر پایه به ترلاسه شي: سلا او مشورې به ادامه پیداکړي. قسمي وړتیا/اغیزمنتوب: د پراختیایي چارو په شرایطو پوره کولو کار روان دی. د افغان ملي امنیتي ځواکونو عناصر په قسماً وړ/اغیزمن دي. د قاطع ملاتړماموریت ترپایه به شرایط ترلاسه شي. سلا او مشورې به ادامه لري، د پراختیایي چارو پیل: د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عناصرو پواسطه د لومړنی طرحې پیل: د پلې کولو چارو پلان چمتووالی. ارزونه او توافق ته رسیدل: پراختیایي دندې/مرحلې (شرایط) ارزونه او توافق: لومړنی وړتیا او اندازه کولو نه بشپړیدل. نه ارزول شوي او توافق ته دی رسیدلي: پراختیایي دندې/مرحلې (شرایط) نه ارزول شوي او توافق ته دی رسیدلي.

سرچینه: د سیګارډ معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) ځواب. 3/11/2015

د 15 سلنې څخه 28.5 سلنې ته لوړ کړه د کورنیو چارو وزارت 27.9 سلنه پرمختیایي حالات او شرایط قسماً وړ دي چې د تیرې ربعې د 10 سلنې څخه زیاتوالی ښیي.[177] د قاطع ملاتړ ماموریت د 2016 زیږدیز کال تر پایه پورې وړاندوینه کوي چې دواړه ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو به په خپلو مهال ویشونو کې تقریباً 50 سلنه دوامداره وړتیا ترلاسه کړي. سربیره پردې دوی وړاندوینه کوي چې د ملي دفاع وزارت به په ګډه توګه د بشپړې وړتیا او دوامداره وړتیا 90 سلنه او د کورنیو چارو وزارت 86 سلنه لاسته راوړي.[178] طبي قطعات یوه ساحه ده د دوامداره وړتیا د لاسته راوړلو هیله او توقع په افغانستان کې د بشپړه روزل شوو روغتیایي مسلکي کارکونکو د کموالي له کبله تر ډیرو کلونو پورې نه ترسترګو کیږي.[179]

د امریکې متحده ایالتونو 311 کارکوونکي د ملي دفاع او کورنیو چارو کارکوونکو ته سلا او مشورې ورکوي او سربېره پردې د ائتلافي ځواکونو 111 سلاکاران شتون لري.[180]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ د راپور سره سم دوی به دریو موجوده روزنیزو پروګرامونو او د سلا او مشورې په برخه کې د ملاتړ قراردادونه چې په 2015 زیږدیز کال کې په ټول ټال ډول 183.4 میلیونه امریکاي ډالره کیږي، جاری وساتي څو چې د 2016 مالي کال په لومړۍ ربع کې یو مجموعي قرارداد (تړون) چمتو او ترسره کیږي.[181] د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ د راپور سره سم ائتلافي ځواکونه تشخیصوي چې د افغانستان ملي امنیتی ځواکونه د 2017 کال په دوران کې اداري پراختیا، لوجستیکي چارو، مسلکې توب اود مدیریت د حاصلولو (لاسته راوړلو) په برخه کې ملاتړ او همکارۍ ته اړتیا لري.[182]

## افغان سیمه ییز پولیس (اربکیان)

د افغان سیمه ییز پولیس (اربکیان) د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې رامینځته او د ولسوالۍ د افغان یونیفامرپولیسو د نظارت او څارنې لاندې کار کوي. د افغان سیمه ییز پولیسو کارکوونکي چې د ساتونکو په نامه شهرت لري د د کلیو او بانډو د مشرانو یا سیمه ییزه نفوذ لرونکو مشرانو له خوا ټاکل کیږی څو د دوی ټولنې د طالبانو له حملو څخه وساتي، د ودانیو ساتنه وکړي او په سیمه کې د یاغیانو ضد ماموریتونه ترسره او پرمخ بوزي.[183] په افغانستان کې د ناتو د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A) د معلوماتو سره سم آفغان سیمه ییز پولیسو د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې 4 مې نېټې پورې 28,376 کارکوونکي پخپلو لیکو کې شامل او ګمارلي دي.[184] دغه شمیره د فبروري د 28 مې نېټې راهیسې د 74په اندازه خفیف کموالی ښیي کله چې افغان سیمه ییز پولیسو په خپلو لیکو کې 28,450 کارکوونکې شامل او ګمارلي وه چې له دې جملې څخه ټول 4,000 کارکوونکي په بشپړه توګه روزل شوي وه.[185] د روزل شوو کارکوونکو شمیر د جنګي تلفاتو (مرګ ژوبلې)، د تشکیل دوباره ترتیبولواو د پیاوړتیا د کموالي له کبله راکم شوی دی.[186] د دې کار موخه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبرمیاشتې ترپایه پوري د 29 ولایتونو د 154 ولسوالیود 1,320 تلاشیو په پوستو کې د 30,000 کارکوونکو شاملول او ګمارل وه.[187]

په افغانستان کې د ناتو د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A) د معلوماتو سره افغان سیمه ییز پولیسو کلنی لګښت 121 میلیونه امریکایي ډالره دی څود هدف وړ شمیر ته ورسیږي.[188] د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې لومړۍ نېټې پورې د افغاsن سیمه ییز پولیسو د ملاتړ په موخه 469.7 میلیونه امریکایی ډالرچمتو کړي دي.[189] د امریکې متحده ایالتونو افغان سیمه ییز پولیسو ته یو لړ تجهیزات او سامان آلات لکه توپک، ماشینګنې، سپک او کوچني لارۍ موټر، موټرسایکلونه او مخابري چمتو او ورکړي دي.[190]

په افغانستان کې د ناتو د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A)د معلوماتوسره سم افغان سیمه ییز پولیسود ساتنې او مخنیوي اندازه 93 سلنه ده.په افغانستان کې د ناتو د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ د تیر کال د راپور سره سم د پیاوړتیا د کموالي اندازه په میاشت کې 1-2 سلنه وه. د 2014 زیږدیز کال د وروستۍ ربعې په دوران کې د ا فغان سیمه ییز پولیسو 1.82 سلنه ځواکونه د جګړې په دوران کې ټپیان یا وژل شوي دي چې دغه شمیره د 2013 زیږدیز کال د همدغه وخت د راپور په پرتله 2.05 سلنه کموالی ښیي.[191]

افغان حکومت د افغان سیمه ییز پولیسو وروستني وضعیت یا تمویلوونکې سرچینې په هکله پریکړه نه ده کړې.[192] د امریکې دفاع وزارت وایي چې د امریکې متحده ایالتونو د افغان سیمه ییز پولیسو د تمویلولو په هکله لا تراوسه کومه پریکړه نه ده کړې.[193] په افغانستان کې د ناتو د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A) له خوا د یوې خپلواکې ترسره شوې ارزونې او هغه معلوماتو پربنسټ چې د یوریکا د څېړنیز او ارزونې متمرکزې ډلې له خوا د افغان سیمه ییز پولیسو په ولسوالیوکې د سروې ګانوپه دوران کې راټول شوي دي، اکثرو افغانانو افغان سیمه ییز پولیس د یو اغیزمن امنیتي عنصر او د ټیکاو (ثبات) راوستونکې ځواک په حیث یاد کړي دي.[194] دغه معلومات د 2014 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې د سروې له پایلو سره سمون لري چیرې چې د ټولنې امنیت ساتلو په برخه کې د افغان سیمه ییز پولیسو د رول د ارزښت په هکله د خلکو نظریات مثبت وه.[195] د تیرې سروې د پایلو په هکله د مفصلو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره په 98 مخ کې د سیګار د 2015 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې هغه دري میاشتې راپورته مراجعه وکړئ چې د امریکې متحده ایالتونو کانګرس ته یي چمتو او استولي وه.[196]

**د سیګار تفتیش:** د تفتیش په روان بهیر کې سیګارافغان سیمه ییز پولیسو ته د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت مرستې او همکارې تربیاکتنې لاندې نیسي څو معلومه کړي چې افغان سیمه ییز پولیسو تر کومې اندازې خپل امنیتی موخې تر لاسه کړي او همدارنګه افغان سیمه ییز پولیسو ته د معاش ورکولو او د هغوی د راتلونکو پروګرامونو د چمتو کولو بهیر وڅاري.

سرچینه : د افغانستان امنیت GAO-08-661, 6/2008, p. 18

### د سیګارارزیابی

په روانه ارزیابی کی سیګار د دفاع وزارت مرستی د ALP پروګرام سره څیړی چه ایا نوموړی پروګرام خپل امنیتی اهداف لاسته راوړی، او دا رازددوی د معاشاتو کنترول ارزیابی او راتلونکی پلانونه.

## د عامه ساتنې معينيت او امنيتي تصدي (APPF) ليږد د جمهوري رياست اقدام ته منتظر دی

د عامه ساتنې معينيت او امنيتي تصدی يو دولتي شرکت دی چې د کورنيو چارو وزارت په چوکاټ کې رامينځته شوی څو په افغانستان کې د ودانيو او کاروانونو د ساتنې په موخه د قرارداد پربنسټ امنيتي خدمتونو چمتو او وړاندي کړي. په 2013 زيږديز کال کې امر صادر شو چې دغه شرکت بايد منحل او د حفاظتي دندو مسؤليت يې بايد افغان ملي پوليسو ته وليږدول شي.[197] په هر حال په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو د ځواکونو د راپور سره سم د عامه ساتنې معينيت او امنتی تصدي اوس مهال خپلې چارې پرمخ بيايي او د کاروانونو د ساتنې په موخه په ټيټه کچه امنيتی خدمتونه چمتو کوي. د عامه ساتنې معينيت او امنيتي تصدی تړون (قرارداد) د وزيرانو شورا ته د وړندي کولو ځخه وړاندې د جمهور رئيس لاسليک ته اړتيا لري.[198] په دريو برخو کې د امنيتي خدمتونو د سکتور د تشکيل بيا جوړولو په هکله د وروستنيو مفصلو تازه معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره په 88 مخ کې د سيګار د 2014 زيږديز کال د اکتوبر د مياشتې دري مياشتني راپور ته مراجعه وکړئ چې د امريکې متحده ايالتونو کانګرس ته يې چمتو او استولی دی.[199]

## د ودانيو د ساتنې ځواک

د 2014 زيږديز کال د سپټمبر د مياشتې په 13 مه نېټه د ايساف عمومي قوماندان جنرال جان ايف کيمپبل او د افغانستان د ملي امنيت سلاکار د افغانانو، امريکې متحده ايالتونود وګړو او ناټو د اړونده ودانيو د امنيت ساتنې په هکله يوه توافقنامه لاسليک کړه. د دې موافقتنا مې سره سم د ملي دفاع وزارت به د ودانيو د ساتنې ځواک په نامه يوه اداره جوړه کړي چې 5,030 کارکوونکي به ولري څو د هغه عملياتي اډو امنيت وساتي چې د ملي دفاع وزارت ته سپارل شوي دي.[200] د ودانيو د ساتنې ځواک به د ملي دفاع وزارت له خوا ګمارل کيږي خو د افغان ملي اردو برخه به نه وي. په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو امنيتي ځواک به د يو کال لپاره د ودانيو د ساتنې ځواک د معاشونو ورکولو په موخه 13.7 ميليونه امريکايي ډالرو بودجه چمتو کړي او ممکن په نورو راتلونکو کلونو کې هم ياد ځواک تمويل کړي.[201]

د ملي دفاع وزارت به د توافقنا مې سره سم د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) ته د مالي اسنادو د تفتيش او څارني اجازه ورکړي او د امريکې متحده ايالتونود حکومت ټولې هغه اداري چې په افغانستان کې د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) او امريکې متحده ايالتونو د ځواکونو د څارنې او نظارت مسؤليت په غاړه لري کولای شي د يادې بودجې څخه څارنه وکړي.[202]

همدارنګه د نوموړې موافقتنا مې له مخې افغان ځواکونه کولای شي چې د امريکې متحده ايالتونو او ناټو ځواکونو د هغه ودانيو ساتنه وکړي چې پرې موافقه شويده او د امريکې متحده ايالتونو او ناټو ځواکونو ته اجازه ورکوي چې د ناټو او امريکې متحده ايالتونو د ځواکونو په هغه ودانيو او مرکزونوپه داخل کې د قرارداديانو مصلحو امنيتی خدمتونو څخه ګټه پورته کړي چې پرې موافقه شويده.[203]

## افغان ملي اردو

د امريکې د متحده ايالتونو د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې تر 31 مې نېټې پورې 35,5 بيليونه امريکايي ډالرتخصيص کړي دي او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) 34,4 بيليونه امريکايي ډالريې د افغان ملي اردو په جوړولو، روزلو، سمبالولو او پايداری په موخه مصرف او لګولي دي.[204]

## د افغان ملی اردو د کارکوونکو شمير په خورا ټيټه کچه بيرته خپل نورمال حالت ته راګرځي.

د قاطع ملاتړ ماموريت د معلوماتو سره سم د 2015 زيږديز کال د فبرورۍ د مياشتې 20 مې نېټې پورې د افغان ملي اردو د ټول ګمارل شوو ځواکونو شمير د افغان هوايي ځواک او ملکي وګړو په شمول 174,120 کارکوونکي وه.[205] د تيرو دريو مياشتو راهيسې د افغان ملي اردو د کارکوونکو په شمير کې 4,917 زياتوالی راغلی دی په داسې حال کې چې د 2014 زيږديز کال د نومبر مياشتې د راپور سره سم د افغان ملي اردو د ځواکونو شمير 169,203 وه او د 2014 زيږديز کال د فبرورۍ د مياشتې راهيسې د کموالي په بهير کې بدلون راغلی دی.[206] په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو امنيتي ځواک د راپور سره سم د ملي دفاع

### د سيګارتفتيش

يوه تفتيش چې سيګار پدې ربعې کې د ANA د پرسونل د وړتيا او موثريت او د هغوی د معاشاتو د لست په هکله خيره کړه، وايي چې هيڅ ډاډ وجود نلري چې دا معلومات د کره وي، همدارنګه ددې پلټنې پر بنسټ، کنټرول او نظارت ډير کمزوری دی او د کمپيوټري سيستمونو په مراحلو کې هم ضعف وجود لري او جامع ندي. پدې اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره د دوه مې برخې 23 مخ وګورئ.

وزارت د ملی اردو د کارکوونکو معلومات چمتو کوي. تر هغه وخته پورې چې افغانستان د بشري سرچینو د معلوماتو د سیستمونو د نصبولو چارې بشپړې او په یادو سیستمونو کې معلومات ځای پرځای کړی نه وي، د قاطع ملاتړ ماموریت نشي کولای چې د ملي دفاع وزارت د ځواکونو شمیر ته د اعتبار په سترګه وګوري.[207] سیګار باور لري چې حتی د سیستمونو د نصبولو او په سیستمونو کې د معلوماتو د ځای پرځای کولو څخه وروسته هم دا ډیره لیرې خبره ده چې د قاطع ملاتړ ماموریت د داسې کارکوونکي او سرچینې په لاس کې ولري چې په نوي سیستم کې د افغانانو د ځای پرځای شوو معلوماتو پربنسټ چمتو شوو راپورونو د تحلیل او شنني څخه پرته دې د افغان ملي اردو د کارکوونکو د باوري شمیر په هکله معلومات تر لاسه کړي.

په دې ربع کې د افغان ملي اردو د ځواکونو د شمیر او پیاوړتیا د کموالي په هکله معلومات په طبقه بندی شوی شکل باقي پاتې شوي. سیګار به کانګرس ته د دې راپور سره یو ځای طبقه بندي شوی ضمیمه چمتو او واستوي.

## د افغان ملي اردو د ځواکونو د شمیر او پیاوړتیا کموالی

د تیرې ربعې د راپور سره سم سیګار په خپل راپور کې د افغان ملي اردو د ځواکونو د شمیر او پیاوړتیا په کموالي اندیښنه ښکاره کړه. د 2013 زیږدیز کال د سپتمبر او 2014 زیږدیز کال د آګست د میاشتو ترمنځ د افغان ملي اردو د 36,000 څخه زیات کارکوونکي د افغان ملی اردو د لیکو څخه لیرې او حذف شوي چې په اوسط ډول د میاشتې 3,000 کسانو ته رسیږي.[208] په دې ربع کې د افغان ملي اردو 2,225 کارکوونکي له خپلو دندو څخه لیرې او حذف شوي دي.[209] په هر حال په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د امنیتي ځواکونو د راپور سره سم د افغان ملي اردو د روزنیزو پروګرامونو څپاند بهیر په پایله کې به تقریباً 5,000 سرتیري د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې په دوران کې د خپلو روزنیزو پروګرامونو د بشپړولو څخه وروسته د افغان ملي اردو په لیکو کې خپلو دندو ته ادامه ورکړي.[210]

په دې ربع کې د افغان ملي اردو د ځواکونو د شمیر او پیاوړتیا د کموالي په هکله معلومات په طبقه بندی شوی شکل باقي پاتې شوي. سیګار به د دې راپور سره یو ځای طبقه بندي شوی ضمیمه چمتو او واستوي.

## د افغان ملي اردو پایداري

د امریکې د متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نیټې پورې 14.3 بیلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي دي او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) 14.0 بیلیونه امریکایي ډالریې د افغان ملي اردو د پایداری په موخه مصرف او لګولي دي.[211] د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) د پایداری لپاره د تخصیص شوي بودجې زیاته او ښکاره برخه د سرتیرو په معاشونو او د هغوی د څښولو او تشویقولو په چارو لګیږي. نور لګښتونه لکه د مهماتو دوباره چمتو کولو او د سون موادو او روغنیاتو څخه عبارت دي. د اعاشه بودجه د 2013 زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې په 21 مه نیټه وروسته له هغې بنده او ودرول شوه چې د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) د ملي دفاع وزارت له خوا په پراخه پیمانه درغلی باندې بدګمانه او شکمنه شوه.[212]

د امریکې متحده ایالتونو کانګرس د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو، سمبالول، پایداری او تمویلولو او همدارنګه د ودانیو د ترمیمولو او جوړولو لپاره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) ته بودجه چمتو او ورکوي.[213] د امریکې متحده ایالتونه دا واک او صلاحیت لري چې د افغان حکومت ته نیغ په نیغه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه بودجه چمتو او ورکړي. د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A)، د ملي دفاع وزارت او د مالیې وزارت یو دوه اړخیزه مالي ژمن لیک لاسلیک کړی څو ډاډ ترلاسه کړي چې د امریکې د پانګو او مالي مرستو څخه د پلان شوو کارونو د پرمخ بیولو لپاره کار اخیستل کیږي.[214] د ملي دفاع وزارت باید د افغانستان د 1394 مالي کال د مالي چارو ژمن لیک د شرایطو سره سم د سون موادو او روغنیاتو د لګښتونو اسناد چمتو او اړونده اداري ته وسپاري. د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) به د راتلونکي میاشتې د سون موادو تخصیص د یادو موادو د بشپړو او باوري اسناد پربنسټ چمتو کړي. که چیرې د سون د موادو اړونده اسنادو کیفیت ښه نه کړل شي یا هم تفتیش ته اړتیا پیدا شي اویا دا چې په ټاکلي وخت چې دواړو غاړو پرې موافقه کړیده، اصلاحاتي اقدامات ترسره نشي نو په دې صورت کې به د سون موادو او روغنیاتو په تخصیص کې نور هم کموالی راشي.[215] د موجوده سون موادو او روغنیاتو د ذخیرې په هکله د معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور 135-136 مخونو ته مراجعه وکړئ.

## د افغان ملي اردو معاشونه او مکافات

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندان (CSTC-A) د 2015 د مارچ د میاشتې د 31 نیټې راپور سره سم، د امریکې متحده ایالتونو د 2009 مالي کال راهیسې د افغان ملي اردو د معاشونو، اعاشې او نورو

### د سیګار تفتیش

د تفتیش کوم بهیر چې په دې ربع کې د سیګارله خوا پیل شوی دی په هغې کې د امریکې د متحده ایالتونو د دفاع وزارت د تدارکاتو، ساتنې، کاري جاماو فردي تجهیزاتو او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره د سامان آلاتو او نورو شیانو د پیرودلو د بهیر څارنه او نظارت شامل دی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره 28 م مخ دوی مې برخې ته مراجعه وکړئ.

مکافاتو په موخه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) له لارې 2.6 بیلیونه امریکایي ډالر چمتو کړی دي.[216] همدارنګه د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د افغان ملي اردو د سږ کال معاشونو، اضافي ګټو (انعامونه) او هڅوونکو (تشویقي) امتیازاتو لپاره اړینه کلنۍ بودجه چې 710.4 میلیونه امریکایي ډالر کیږي، ټاکلي ده. د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) وایي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به کلنۍ بودجه د لوړې کچې 741.7 میلیونو امریکایي ډالرو څه تر ټیټې کچې 613.6امریکایي ډالرو پورې چې منځنۍ (اوسط) اندازه به يې 690 میلیونه امریکایي ډالره وي.[217]

د مکافاتو موخه پخپلو دندو کې د لوړ کیفیت لرونو سرتیرو او هوایي ځواک سرتیرو ساتل او پاتې کیدل دي. د افغان ملي اردو کارکوونکي د معاشونو سربیره د مختلفو هڅوونکو (تشویقي) امتیازاتو حق لري. د بیلګې په توګه شغلي مکافات (لکه د هوايي، روغتیایي، انجنیرۍ او د ناچاودلو مهماتو پاکولو د خدمتونو لګښتونه) د خطراتو قبلولو مکافات او د دریو پرله پیسې اضافي کلونو د خدمت په بدل کې د اوږد عمره خدمتونو مکافات.[218]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) په دې ښه پوهیږي چې بودجه د افغان ملي اردو د 100% د منظور شوي او تایید شوي ځواک نه د ګمارل شوي ځواک پر بنسټ چمتو کیږي.[219] د ملي دفاع وزارت باید وهڅول شي څو د معاشونو د ورکولو برښنايي سیستم څخه چې د 2015 زیږدیز کال د جولای په میاشت کې په کار پیل کوي، ګټه پورته کړي. د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قوماندانۍ (CSTC-A) په پام کې لري څو 100% بودجه یوازې د هغه منظوراو تایید شوي تشکیل کار کوونکو ته چې د برښنايي سیستم له لارې يې معاشونه او نور امتیازات ورکول کیږي، چمتو کړي او د نورو کارکوونکو د معاشونو او نورو امتیازاتو لپاره بودجه به 80% وي.[220] سربیره پردې د 2015 زیږدیز کال د جولای تر لومړۍ نیټې پورې باید د افغان ملي اردو د ټولو کارکوونکو په هکله معلومات (ریکارډونه) د افغان بشرې سرچینو د معلوماتي مدیریت سیستم کې ځای پرځای شي او ټول کارکوونکي باید د تشکیل له لارې پرندنو وګمارل شي.[221]

## د افغان ملي اردو تجهزات او وړل راوړل (ټرانسپورټیشن)

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 31 مې نیټې پورې 11.7 بیلیونه امریکایي ډالرتخصیص او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) 11.6 بیلیونه امریکایي ډالر يې د افغان ملي اردو د تجهیزاتو او وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) په برخه کې لګولي دي.[222] د دې پیسو زیاتره برخه د نقلیه وسایطو، الوتکو، مخابراتي تجهیزاتو، وسلو او نورو اړونده تجهیزاتو په پیرودلو لګول شوي دي. د امریکې متحده ایالتونو د یادې بودجې تقریباً 50% د نقلیه وسایطواو وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) اړونده تجهیزاتو لپاره وه. چې په 3.11 جدول کې ښودل شوي ده.[223]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) په تیره ربع کې څکه د راپور د نوې بڼې (فارمټ) څخه کار واخیست چې سیګار داسې راپور نه دی ورکړی چې یوه ربع د بلې ربعې سره پرتله

جدول 3.11

**د افغان ملی اردو لپاره د امریکې متحده ایالتونو په پیسو پیرودل شوو تجهیزاتو بیې (قیمتونه)**

| د تجهیزاتو ډول | پیرودل شوي | پیرودل شوی او افغان ملی اردو ته استول شوي دي | باید و پیرودل شي |
|---|---|---|---|
| وسلې | $613,581,608 | $522,336,282 | $1,700,000 |
| نقلیه وسایط | 5,405,890,683 | 4,767,803,280 | باید و پیرودل شي |
| مخابراتي تجهیزات | 709,157,101 | 688,157,101 | باید و پیرودل شي |
| طیارې | 1,091,376,104 | 649,861,508 | 441,514,596 |
| مهمات | 1,699,431,299 | 1,563,013,160 | باید و پیرودل شي |
| د وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) خدمتونه | 40,000,000 | 13,459,569 | 26,540,431 |
| د سړک د غاړې ماینونو پر ضد مبارزه | 330,656,219 | 296,489,871 | 2,700,000 |
| نور | 883,546,190 | 773,658,682 | 1,005,377 |
| **ټول ټال** | **$10,773,639,204** | **$9,274,779,453** | **$473,460,404** |

یادښت : دانفجاریه موادو ضد وسایل. دا په دې پورې اړه لرې چه څومره وران او ویجاړ وسایل د بدلولو په موخه راځی.

سرچینه: CSTC-A د سیګار د معلوماتو غوښتني په اړه، 3/24/2015

### د سیګارتفتیش

د سیګار د تفتیش روان بهیر به د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت د مرستو څخه چې د افغان ملی اردو د تخنیکي تجهیزاتو د ساتنې او ترمیمولو پروګرام (A-TEMP) سره يې کړی دي، دوباره کتنه وکړي په ځانګړې ډول سیګار په پا مې کې لري چې (1) د افغان ملی اردو د تخنیکي تجهیزاتو د ساتنې او ترمیمولو پروګرام (A-TEMP) په کومه کچه خپلې موخې تر لاسه کړي دي او (2) آیا د افغان ملی اردو د تخنیکي تجهیزاتو د ساتنې او ترمیمولو پروګرام (A-TEMP) سره د ترسره شوو تړونونو مهم شرایط پوره شوي دي

### د سیګار بازرسي

د دې ربعې د بازرسي په ورکړل شوي راپور کې سیګارد ملي اردو د مسلخ د ودانیزې پروژې د تړون پای ته رسولو ته چې کارونه يي د ځنډ سره مخامخ شوي وه او له وړاندې وربادنې 1.25 امریکایي ډلر لګښت راغلی وه، کتنه کړې ده. د لازیاتو معلوماتو لپاره د 39 مخ دوی مې برخې ته مراجعه وکړئ.

جدول 3.12

**د افغان ملي اردو د تجهيزاتو د پيرودلو لپاره د امريکې متحده ايالتونو ټول تال لګښتونه** ( ميليون امريکايي ډالر)

| | وسلې | نقليه وسايط | مخابراتي تجهيزات | ټول تال |
|---|---|---|---|---|
| د 2013 زيږديز کال د سپمبر مياشت | $447.2 | $3,955.0 | $609.3 | **$5,011.5** |
| د 2013 زيږديز کال د ډسمبر مياشت | 439.2 | 4,385.8 | 612.2 | **5,437.2** |
| د 2014 زيږديز کال د مارچ مياشت | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |
| د 2014 زيږديز کال د جون مياشت | 461.2 | 4,385.8 | 670.3 | **5,517.3** |
| د 2014 زيږديز کال د سپټمبر مياشت | 522.3 | 4,638.9 | 688.2 | **5,849.4** |
| د 2014 زيږديز کال د ډسمبر مياشت | 537.8 | 4,767.8 | 688.2 | **5,993.8** |
| د 2015 زيږديز کال د مارچ مياشت | 613.6 | 5,405.9 | 709.2 | **6,728.7** |

سرچينه: د سيګارد معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو (USFOR-A) ځواب. 10/1/2013. 12/30/2013. 3/31/2014. 7/1/2014. 9/29/2014. 2/6/2015 او 3/24/2015.

(مقايسه) کړي. د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د دې ربعې د راپور سره سم د زياترو تجهيزاتو زياتوالی راغلی دی او د مخکيني جمعي راپور اقام اصلاح شوي دي.[224] 3.12 جدول د دې خبرې ښکارندوی ده چې د

2014 زيږديز کال د سپټمبر له مياشتې راهيسې په درې ډوله تجهيزاتو کې 879.3 ميليونه امريکايي ډالر زياتوالی راغلی دی.[225] د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د راپور سره سم د افغان ملي اردو لپاره د 426,000 څخه زياتې وسلې، 104,000 ارتباطاتو ټينګولو تجهيزات او 56,000 نقليه وسايط پيرودل شوی دي.[226] په دويمه درجه کې تر ټولو زيات پيرودل شوی تجهيزات د جامو څخه عبارت دی چې په دې کې يونيفارم او فردي تجهيزات شامل دي.

د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) کانګرس ته خبرتيا ورکړې چې د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه د افغان ملي اردو لپاره يو شمير پيرودل شوي تجهيزات به د 2014 مالی کال د ملي دفاع د واک ورکولو قانون (NDAA)د مقرراتو سره سم د امريکې متحده ايالتونو د فاع وزارت ته وليږدول شي. د يادو موادو د ليږد په هکله بشپړ معلومات په 3.13 جدول کې چمتو او ځای پرځای کړل شوی دي.

په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو (USFOR-A) د امريکې متحده ايالتونو د دفاع وزارت د نقليه وسايطو د کارپوهانو يوې ډلې ته لارښوونه کړيده چې افغانانو ته د تدارکاتو او پايدارۍ هغه ستونزې او خنډونه مشخص کړي چې د اموالو او تجهيزاتو د مديريت د بشپړه مالکيت د لاسته راوړلو څخه وړاندې د دوی د بريالیتوب لپاره مهم او اړين دي. يادې کارې ډلې په دې ربع کې اضافي ستونزې او خنډونه او د هغې لپاره د حل لارې چارې مشخص کړي چې لاندې برخې په کې شامل دي:[227]

- د ساتنې او ترميمولو په ټولو منطقوي کاري ساحو کې د ساتنې او ترميمولو د مديريت روزنيزو پروګرامونو د چمتو کولو په موخه د قرارداد د شرطونو رامينځته کول.
- د افغان ملي اردو د کارکوونکو د کموالي د په ګوته کولو په موخه د ژوند د دوران اداره کولو او کنټرول په موخه د تشکيل دندې منظور کړي دي. د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM) پنځمه مهمه
- دنده د ژوند دوران د مديريت او کنټرول روزنيز پروګرامونه رامينځته، د افغان کالجونو فارغين استخدام او د تدارکاتو د توابعو او کمپيوټر سيستمونو په برخه کې روزنه ورکوي او وروسته له هغې بې د تدارکاتو مهمو ساحو (مرکزونو) ته استوي.

د مالي چارو ژمن ليک چې د 1394 مالي کال لپاره د ملي دفاع وزارت ته بودجه چمتو کوي د ملي دفاع وزارت څخه غواړي چې د خپلې اړتيا وړ نقليه وسايطو ډول او شمير مشخص او معلوم کړي څو د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) له خوا د نقليه وسايطو اضافي بودجې د چمتو کولو څخه مخکې دا خبره يقيني کړي چې د وسايطو ساتنه او ترميم د معياري لارو چارو په تعقيبولو سره ترسره او د يادو نقليه وسايطو څخه د پلان شوو او هدف وړ کارونو لپاره کار اخيستل کيږي.[228]

## د افغان ملي اردو زيربنايي پروژې

د امريکې متحده ايالتونو د 2015 زيږديز کال د مارچې د مياشتې له 31 نېټې پورې 6.2 بيليونه امريکايي دالر تخصيص کړي او د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه يي د افغان ملي اردو د زيربنايي پروژو د پرمخ بيولو لپاره 5.6 بيليونه امريکايي ډالر لګولي دي.[229]

جدول 3.13

**د افغان امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) په بودجه پيرودل شوو تجهزاتو ليږدول** (ميليون امريکايي ډالر)

| | بې کاره پرزه جات | د امريکې متحده ايالتونو دفاع وزارت ذخيرې ته |
|---|---|---|
| نقليه وسايط | $7.9 | $5.4 |
| د جنګي زره نقليه وسايطو په چتونو باندې نصب شوی وسايل | 9.0 | |
| جنګي زره وسايط | 2.9 | |
| الوتکه | 136.0 | 3.1 |
| د دفتر سامان آلات | | 1.7 |
| د وزنونو د پورته کولو لپاره جرثقيل | 1.1 | |
| د اوبو ټانکر | 0.2 | |
| زره واسکټونه | | 0.3 |
| وسلې | | 1.1 |
| جي- پي – ايس/ د شپې ليدونکې عينکې | | 0.1 |
| **ټول تال** | **$157.1** | **$11.7** |

يادښت: هغه اندازه ډالر چې روند اف شوي دي. له وړاندې موجود C-208s الوتکې چې د روزنيزو چارو لپاره مناسبې الوتکې دي، د C-182 الوتکو ځای نيولی دی او په پايله کې شپږ C-182 الوتکې د امريکې متحده ايالتونو دفاع وزارت ذخيرې ته وليږدول شوي. د جنګي زره نقليه وسايطو يا نورو نقليه وسايطو په چتونو باندې نصب شوی وسايل سرتيرو ته اجازه ورکوي چې د وسايطو په چتونو نصب شوي وسايطو په طرف د يو څو درجو په اندازه ځان خوندې وساتي. جنګي زره نقليه وسايط: جي پي ايس/د شپې له خوا ليدونکې عينکې.

سرچينه: د سيګارد معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو ځواکونو (USFOR-A) ځواب. 1/14/2015 او 3/24/2015: د سيګارد توضيحاتو غوښتنې په اړه د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM) ځواب. 2/3/2015: د سيګارد معلوماتو غوښتنې په اړه په وړاندې د OSD-P ځواب. 3/27/2015.

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د معلوماتو سره سم د امریکې متحده ایالتونو په هغه وخت کې د 4.8 بیلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت 357 زیربنایي پروژې بشپړ کړي، د 512 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 24 پروژو کار روان دی او د 81 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت دوو (2) پروژو کار پلان او په پام کې نیول شوی دي.[230]

د افغان ملي اردو د دې ربعې تر ټولو ستري زیربنایي پروژې چې کارونه یې روان دي. څرنګه چې په تیره ربع کې د کونړ په ولایت کې د 115.7 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 201 ا مې قطعې د دویم غونډ چاونۍ (لښکرکوټ)، د نیمروز په ولایت کې د 78.7 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 215 مې قطعې د دویم غونډ او د 58.6 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د ملي دفاع وزارت قوماندانیو او چاونیو درې مې مرحلې د زیربنایي پروژو چارې رواني دي او هیله ده چې دا ټولې پروژې د اوړې تر پایه بشپړې شي.[231] سربیره پردې په دې ربع کې د 7 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت یوه پروژه ورکړل شوي او د 156.3 امریکایي ډالرو په ارزښت 14 نورې پروژو کارون بشپړ شوي دي چې په هغې کې د 25.8 امریکایي ډالرو په ارزښت د کندز ولایت د 209 مې قطعې د دویم غونډ چاونۍ (لښکرکوټ) شامل دی.[232] د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د راپور سره سم یوه ودانې د ډسمبر د میاشتې د پیل راهیسې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته سپارل شوی ده او د پاتې نورو 19 د سپارلوچارې روزنیزو پروګرامونو ته د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تیارۍ نیولو او د دوی په وړتیا پورې تړلي دي څو خپلې ورسپارل شوې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړي.[233]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د معلوماتو سره سم د 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د افغان ملي اردو د زیربنایي پروژود اټکل شوو عملیاتو او ترمیم، ساتنې بیارغونې او جزیي ودانیزو چارو کلنی لګښت 168 میلیونه امریکایي ډالر دی چې ټول ټال 840 میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي. د افغا ملي اردو ته د یادو ودانیو د ساتنې په موخه د 3,100 کارکوونکو د ګمارنې واک او صلاحیت ورکړل شوی دی.[234]

د افغان ملی اردو د 1394 مالي کال د مالي چارو ژمن لیک د افغان حکومت څخه غواړي څو د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته د 2015 زیږدیز کال ترپایه د زیربنایي پروژو د امنیت ساتلو په ګډون د ورسپارل شوو ودانیو د لیږد او ساتنې پلان چمتو او وړاندې کړي.[235]

## د افغان ملی اردو او ملي دفاع وزارت روزنیز پروګرامونه او عملیات

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچې د میاشتې 31 نېټې پورې د افغان ملي اردو او ملي دفاع وزارت د عملیاتو او روزنیزو پروګرامو لپاره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه 3.3 بیلیونه امریکایي ډالر تخصیص او لګولي دي.[236]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د راپور سره سم د امریکې متحده ایالتونو په مالي ملاتړ د 18 تخنیکي روزنیزو پروګرامونو چارې رواني دي.[237] سربیره پردې په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) د مارشال فهیم د ملي دفاع پوهنتون کې د افغان ملی اردو د روزنې او تعلیم او تربیې قوماندانۍ سره د روزنیزو پروګرامونو، سلا مشورې او مرستو چمتو کولو په برخه کې د دوو قراردادونو خبراو راپور ورکړی دی او د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) څخه غواړي څو هره میاشت د قراردادیانو د اجرااتو څخه لیدنه کتنه وکړي اوپه هکله راپور چمتو او اړونده ادارې ته واستوي.[238] د امریکې متحده ایالتونو له خوا تمویل شوي روزنیزو پروګرامونو کې ځانګړي عملیات، د سړک د غاړې ماینونو پرضد مبارزه، د نا چاودلو مهماتو پاکول او د استخباراتي اطلاعاتو روزنیز پروګرامونه شامل دي.[239]

## افغان هوايي ځواک او د ځانګړي ماموریت څانګه

د امریکې متحده ایالتونو په افغان هوايي ځواک کې د پام وړ پانګونه کړیده. د امریکې متحده ایالتونو د 2010 او 2015 زیږدیزو کلونو ترمنځ د افغان هوايي ځواک 7,800 کارکوونکو د ملاتړ او وړتیا لوړولو (پرمختګ) په موخه د 6.8 بیلیونه امریکایي ډالرو څخه زیات چمتو او ورکړي دي چې په دې کې 3.3 بیلیونه امریکایي ډالر د تجهیزاتو او الوتکو د پیرودلو لپاره هم شامل دي.[240] سربیره پردې د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت 548 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیاتو پیسو غوښتنه کړیده چې په دې کې په 2016 مالي کال کې د افغان هوايي ځواک د تجهیزاتو او الوتکو د پیرودلو 22 میلیونه امریکایي ډالر هم شامل دی. په هر حال زیاتره بودجه د پایدارۍ او روزنیزو پروګرامونو لپاره غوښتل شوي ده.[241]

### د سیګار بازرسي

د امریکې متحده ایالاتو په مالي مرسته د ملي دفاع وزارت د نظامی مرکزونو د ودانیزو چارو څخه د سیګار د څارنې او تفتیش چارې رواني دي څو معلومه کړي چې د یادو مرکزونو د ودانولو چارې د تړون د شرایطو سره سم ترسره شوي او د مرکزونو اشغال شوو برخو څخه په درسته توګه ساتنه صورت نیسې او د هغه څه دپاره ورڅخه کار اخیست کیږي د کوم لپاره چې جوړ شوي دي.

### د سیګارتفتیش

د تفتیش دهغه بهیر په دوران کې چې په دې ربع کې بشپړ شو، سیګار معلومه کړه چې د یاغیانو پر وړاندې د مبارزې د اطلاعاتو روزنیز پروګرام قرارداد د حمایوي اسنادو د نشتوالي سره مخامخ دی چې په پایله کې د 134.6 میلیونه امریکایي ډالرو لګښتونو کې پوښتنې راوړلاړې شوي دي. د لا زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د 33 مخ دوی مې برخې ته مراجعه وکړئ.



**A-29 سوپرټوکانو الوتکه د مودي هوايي اډې کې د پرواز په کرښه، جورجيا، د امريکې متحده** ايالات.
(د سيګار انځور چې د نيک هيون پواسطه اخيستل شوی دی)

د افغانستان د امنيت سپارلو (ليږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) د معلوماتو سره سم افغان هوايي ځواک په دې ربع کې 136 الوتکو ته اړتيا لري چې په هغې کې لاندې الوتکې شامل دي:[242]

- Mi-17 ترانسپورتي چورلکې (هليکوپټرې)
- C-208 د سپک وزن لرونکو اموالو د وړلو راوړلو (ترانسپورټيشن) الوتکې
- MD-530 چورلکې (هليکوپټرې)
- Mi-35 جنګي بم غورځوونکې چورلکې (هليکوپټرې)
- C-130H د متوسط وزن لرونو اموالو د وړلو راوړلو (ترانسپورټيشن) الوتکې
- A-29 سوپرټوکانوس جنګي سپک وزن لرونکي بم غوځونکې چورلکې (هليکوپټرې)

تيره مياشت لومړنی MD-530 چورلکه (هليکوپټر) افغان هوايي ځواک ته وسپارل شوه.[243] د 2015 زيږديز کال په څلورمه ربع کې به د ياغيانو سره دمبارزې، هوايي ملاتړ او هوايي تحقيقاتو او څيړنو په موخه لومړنی A-29 سوپرټوکانوس جنګي سپک وزن لرونکي بم غوځونکې چورلکه (هليکوپټر) افغانستان ته چمتو او ورکړل شي.[244] په پام کې ده چې يادې الوتکې به د Mi-35 جنګي بم غورځوونکو زړو چورلکو (هليکوپټرو) ځای ونيسي.[245]

د قاطع ملاتړ ماموريت (RSM) د هوايي ځواک د روزنې، سلا مشورې او مرستو چمتو کولو قوماندانۍ (TAAC-Air) د افغان هوايي ځواک سره د ګډ کارکولو خبر ورکوي څو په هيواد کې دننه روزنيزو پروګرامونو له لارې د پرواز د انجنيرانو او اموالو د بارولو (کارګو) مسؤلينو وده چټکه کړي. د هوايي ځواک د روزنې، سلا مشورې او مرستو چمتو کولو قوماندانۍ (TAAC-Air) د معلوماتو سره سم د روزنيزو پروګرامونو لپاره پوره (کافي) شمير پيلوټان حاضر او آماده دي او هيله ده چې په 2016 او 2017 زيږديزو کلونو کې نور زيات شمير پيلوټان د هوايي ځواک په ليکو کې شامل او وګمارل شي.[246]

د هوايي ځواک د روزنې، سلا مشورې او مرستو چمتو کولو قوماندانۍ (TAAC-Air) د معلوماتو سره سم د افغان هوايي ځواک هيله لري چې د 2016 زيږديز کال په لومړيو کې د هوايي ماموريتونو په برخه کې خپلو بشپړه عملياتي وړتياوته او د 2017 زيږديز کال په لومړيو کې د جنګي ماموريت په برخه کې خپلو بشپړه عملياتي وړتياوو ته ځانونه ورسوي.[247] C-130 نوې وړتياوې چمتو کوي، که څه هم افغان هوايي ځواک به د الوتکو د چوکاټ پوټانشيل څخه د بشپړې ګټې اخيستنې لپاره وخت ته اړتيا ولري.[248] د افغان هوايي ځواک تمه نه لري چې د 2023 زيږديز کال تر پايه پورې به د ساتنې او

ترمیمولو د وړتیا په برخه کې بشپړه پایدارۍ ته ورسیږي. د افغان هوایي ځواک به د هر ډول الوتکو د ساتنې او ترمیمولو لپاره د وړتیاوو د لاسته راوړلو تر وخته پورې د زیاتره الوتکو د ساتنې او ترمیمولو په برخه کې قراردادی لوجستیکي مرستو او ملاتړ ته اړتیا ولري.[249]

د تلفاتو د راویستلو ماموریت (CASEVAC) د سرته رسولو په موخه د افغان هوایي ځواک وړتیاوې په تیرو دریو کلونو کې په دوامداره ډول زیاتې شوي دي. د ائتلافِي ځواکونو په وتلو سره د افغان هوایي ځواک د تلفاتو د راویستلو ماموریت (CASEVAC) کې د تیر کال په پرتله سږ کال 45% زیاتوالی راغلی دی.[250] د افغان هوایي ځواک او افغان ملی اردو تقریباً 140 ډاکټران د هغوی د ظرفیت او وړتیاوو د ښه کولو په موخه د ائتلافي ځواکو پواسطه د تلفاتو د راویستلو ماموریت (CASEVAC) د کرنلارو په برخه کې روزل شوي دي.[251] د امریکې متحده ایالتونو د هوایي ځواک د هوایي او فضایي سفرونو نهمه کاري ډله (ټسک فورس) – افغانستان د ارزونې سره سم افغان هوایي ځواک د تلفاتو د راویستلو ماموری (CASEVAC) په برخه کې پوره مرسته او همکاري کولای شي که چیرې په نا اصلاح شوو (ویچاړو) هوایي ډګرونو کې د C-208 الوتکو څخه د ګټې اخیستلو کچه لوړه او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه خپل ماموریتونه د دقیق نظم او ضبط ، ړومبیتوب اومنظ مې او کنټرول شوی قوماندې لاندې ترسره کړي.[252]

د کورنیوچارو وزارت، ملي دفاع وزارت او ملي امنیت ریاست مشرانو د 2014 زیږدیز کال د مۍ د میاشتې په 14 نېټه د ځانګړې ماموریت څانګې (SMW) سره تړون لاسلیک کړچي د دې تړون له مخې به د ګډې قوماندې او کنټرو د همغږۍ یو نوی مرکز (JCCC) رامینځته شي څو د SMW ماموریتونو ته د ړومبیتوب حق ورکولو لپاره لاره هواره کړي.[253] د دواړو ملی دفاع او کورنیو چارو وزارتونو د ځانګړو عملیاتو ځواکونه به د ګډې قوماندانۍ او کنټرول د همغږۍ مرکز (JCCC) سره د ګډ کار کولو په موخه د اړیکې (ارتباط) ټینګولو مسؤلین ولري. د افغان هوایي ځواک به د ځانګړې ماموریت څانګې (SMW) سره د کارکوونکو، ګمارنې او نورو اداري غیر عملیاتي چارو کې مرسته او همکاري وکړي. د ځانګړي ماموریت څانګې (SMW) قوماندان به د ځانګړو عملیاتو د واحد له مشرانو سره د ځنډول شوو عملیاتو اوله وړاندې پلان شوو اړتیاوو او ړومبیتوبونو په هکله د خبرو اترو په موخه په اونۍ کې یو ځل ګوري. د 2015 مالي کال په دوران کې دوو ماموریتونو د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې شپږو (6) او 68 ماموریتونو د تروریزم په وړاندې د مبارزې 115 تعرضي بریدونومرسته او ملاتړ کړی دی.[254] د افغان ملی امنیت سلاکار اوس مهال په یو پروپوزل کار کوي څو د ځانګړو ما موریت څانګه د ملي دفاع وزارت ته و لیږدوي.[255] د امریکې متحده ایالتونو د بیارغونې 1.75 بیلیونه امریکایي ډالر بودجه د ځانګړې ماموریت څانګې ته تخصیص او چمتو کړې ده چې له دې جملې څخه 920 میلیون امریکایي ډالر د الوتکو او تجهیزاتو لپاره ده.[256]

د ځانګړي ماموریت څانګه (SMW) به د 2020 زیږدیز کال په دوران کې تقریباً د خپلو ټولو لګښتونو لپاره د ائتلاف مالي مرستو او بودجې ته اړتیا ولري.[257] د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A) د معلوماتوسره سم د ځانګړي ماموریت څانګه 450 (SMW) غړي لري چې له دې جملې څخه 224 د کورنیو چارو وزارت او226 یې د ملي دفاع وزارت څخه دي. د ځانګړي ماموریت څانګې (SMW) د غړو په مینځ کې د پرواز 15 تجربه لرونکي خدمتګاران شتون لري چې د لندې مودې (2015) زیږدیز کال راهیسې کار کوي.[258] د ځانګړي ماموریت څانګې (SMW) په کاروان کې Mi-17 چورلکې (هلیکوپټرې) او د مسافرینو او باروړلو PC-12 الوتکې شامل دي.[259]

د ځانګړو عملیاتود قوماندانۍ (NSOCC-A) د معلوماتوسره سم د 2020 زیږدیز کال په دوران کې به د دواړو ساتنې او ترمیمولو او لوجستیکي چارو په برخه کې د قراردادیانو ملاتړ ته اړتیا وي.[260] افغانان اوس مهال دې ته ترجیح ورکوي چې تقریباً خپل 10% پلان شوی وخت د Mi-17 الوتکو په ساتنې او ترمیمولو ولګوي. د Mi-17 یا PC-12 الوتکو د ساتنې او ترمیمولو په موخه د انجنیرانو د بشپړې روزنې لپاره 60 میاشتو ته اړتیا لیدل کیږي.[261]

په دې ربع کې د افغان هوایي ځواک او د ځانګړې ماموریت څانګې په هکله بشپړه معلومات په طبقه بندي شوی شکل سره باقي پاتې دي. سیګار به په دې هکله د دې راپور په طبقه بندی شوي ضمیمه کې معلومات چمتو او ځای پرځای کړي.

### د سیګار ځانګړې پروژه

سیګار د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په 12 نېټه د A-29 الوتکو د روزنیزو پروګرام په هکله د حقایقو د معلومولوپه موخه د جورجیا په ایالت کې د هوایي ځواکونو د مودې له اډې څخه لیدنه وکړه. دغه سفر د سیګار د ځانګړو پروژو څخه د څارنې او پلټنې د لیک په تعقیب چې په تیره ربع کې صادر شوی وه، ترسره کیږي.

## افغان ملي پولیس

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچې د میاشتې 31 نېټې پورې د افغان ملي پولیسو لپاره 17.2 بیلیونه امریکایي ډالر تخصیص او چمتو کړي دي او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه 16.8 بیلیونه امریکایي ډالر د افغان ملی پولیسو په جوړولو، سمبالولو، روزنه او پایداری باندې لګولي دي.[262]

## د افغان ملي پولیسو په شمیر کې بدلون

په دې ربع کې په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) خبر ورکړ چې د افغان ملي پولیسو د کارکوونکو ټول ټال شمیر 154,685 رسیږي چې د تیرې ربعې راهیسې 1,754 کموالی ښیي چې په 3.14 جدول کې ښودل شوې.[263]

په هر حال یو بل بدلون چې څرنګه د افغان ملي پولیسو د کارکوونکو شمیرنه ترسره کیږي، ادامه لري څو د هغوی د باوریتوب په هکله پوښتنې راولاړې شي. په تیره ربع کې چې د افغان یونیفارم پولیسو د کارکوونکو د شمیر په هکله راپور خپور شوی وه په حقیقت کې هغوی نه وه شمیرل شوي بلکه د ټرافیک پولیسو کارکوونکي او د اور او ژغورنې (اطفائي) پولیس دوه ځلې شمیرل شوي وه. په دې ربع کې د کورنیو چارو وزارت د قوماندانیو مرکزونو کې د ګمارل شوو کارکوونکو د شمیر په هکله راپور خپور شوی نه وه. په هر حال د افغان یونیفارم پولیسو په شمیر کې 11,854 زیاتوالی راغلی دی، دا ځکه چې د کورنیو چارو وزارت د قوماندانیو د مرکزونو کارکوونکې ځینې وختونه د افغان یونیفارم پولیسو په ډله کې شمیر شوي وي.[264] په دې ربع کې چې د افغان ملي پولیسو د شمیر په هکله کوم راپور خپور شوی د ټول ټال چمتو شوي شمیرې سره مساوي نه ده. په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) د خپلې ارزونې په تبصره کې ټول ټال شمیره تنظیم او تعدیل کړه او د افغان ملي پولیس تر هغه ټول ټال شمیرې پورې اضافه کړل شول چې په لومړیو کې چمتو شوي وه.[265]

سیګار د خپلو تیرو دریو میاشتنیو راپورونو او تفتیش کې د افغانستان ملي امنیتي ځواک د کارکوونکو د غیرمتوازن او نا تایید شوو ارقامو په هکله راپور خپور کړی دی. په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) د راپور سره سم د 2014 زیږدیز کال د فبروري د 21 مې نېټې او د 2015 زیږدیز کال د فبروري د 20 مې نېټې ترمنځ په مشترک ډول د افغان ملی پولیسو په شمیر کې 19.72% کموالی راغلی دی چې زیاتره کموالی د ګز مې په پولیسو کې راغلی دی.[266] په عمومي ډول د کال په یوولسو (11) میاشتو

جدول 3.14

| د افغانستان د ملي پولیسو د کارکوونکو په شمیر کې د هرو دریو میاشتو (ربع) بدلون | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | تایید شوي (رسمي) | | | | | ګمارل شوي |
| د افغانستان ملي پولیسو برخې | د 2014 زیږدیز کال څلورمه ربع | د 2015 زیږدیز کال لومړۍ ربع | هر درې میاشتې (ربع) بدلون | د 2014 زیږدیز کال څلورمه ربع | د 2015 زیږدیز کال لومړۍ ربع | هر درې میاشتې (ربع) بدلون |
| آفغان یونیفارم پولیس | 92,732 | 104,695 | 11,963 | 88,180 | 100,034 | 11,854 |
| افغان سرحدي پولیس | 22,955 | 22,990 | 35 | 21,766 | 21,953 | 187 |
| د افغان ملی عامه نظم پولیس | 15,223 | 15,223 | - | 14,773 | 15,010 | 237 |
| د جنایي څیړنو ریاست | - | 11,592 | 11,592 | - | 10,847 | 10,847 |
| کارکوونکي (پرسونل) په روزنه کې | 3,000 | 2,500 | (500) | 3,422 | 3,539 | 117 |
| د کارکوونکو (پرسونل) عمومي ریاستهغه کارکوونکې دندې ته سترګې په لار کارکوونکي | - | - | - | 891 | 850 | (41) |
| د تایید شوي (رسمی) شمیر څخه پورته نامشخص کارکوونکي | - | - | - | - | 2,452 | 2,452 |
| د کورنیو چارو وزارت مرکزونه او د بنسټیز ملاتړ کارکوونکي (پرسونل) | 24,161 | - | (24,161) | 22,240 | - | (22,240) |
| د افغانستان ملي پولیسو د ټول ټال سره یوځای کیدل | - | - | - | 5,167 | - | (5,167) |
| **د افغنستان ملي پولیسو ټول ټال (د راپور سره سم)** | **158,071** | **57,000** | **(1,071)** | **156,439** | **54,685** | **(1,754)** |

یادښت: د کال څلور ربعې: د 2014 Q4 معلومات د 11/2014 پورې: د 2015 Q1 معلومات 2/2015 پورې. AUP = افغان یونیفارم پولیس: افغان:
ABP= افغان سرحدي پولیس: ANCOP= افغان ملي عامه نظم پولیس: CID= د جنایي جرمونو د څیړنې (تحقیقاتو) ریاست: NISTA= کارکوونکي (پرسونل) په روزنه کې: GDoP= د کارکوونکو (پرسونل) عمومي ریاست: IS= د بنسټیز ملاتړکارکوونکي (پرسونل).
دندې ته سترګې په لار کارکوونکي.
د 2914 زیږدیز کال د څلور مې ربعې د راپور سره سم، د تایید شوو (رسمي) افغان ملي پولیسو ټول ټال شمیر څخه داسې معلومیږي چې یو شمیر افغان یونیفارم پولیس دوه ځلې شمیرل شوي وي او ریښتینې شمیره ښایي 151,272 وي.

سرچینه: د سیګار د توضیحاتو غوښتنې په اړه د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) ځواب. 2/3/2015: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو (USFOR-A) ځواب. 3/24/2015: د سیګار د ارزونې په اړه په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو د ځواکونو (USFOR-A) ځواب. 4/10/2015.

کې د افغان ملي پولیسو د کموالي کچه په اوسط ډول د 2% څخه کښته وه.[267] د 2015 زیږدیز کال د فبروري میاشتې په دوران کې د افغان ملي پولیسو 1,844 کارکوونکي د خپلو دندو څخه لیرې او حذف شوي دي او په همدې موده کې د افغان ملي پولیسو 208 کارکوونکي د جګړې په دوران کې وژل شوي دي.[268]

لکه څرنګه چې د افغان ملي اردو راپور ورکوي، په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو ځواکونو (USFOR-A) راپور سره سم تر هغه وخته پورې چې افغان حکومت د بشري سرچینو د معلوماتو د سیستمونو د نصبولو چارې بشپړې او په یادو سیستمونو کې معلومات ځای پرځای کړي نه وي، د قاطع ملاتړ ماموریت نشي کولای چې د ځواکونو شمیر ته د اعتبار په سترګه وګوري.[269] په هر حال حتی د سیستمونو د نصبولو او په سیستمونو کې د معلوماتو د ځای پرځای کولو څخه وروسته هم دا ډېره لیرې خبره ده چې د قاطع ملاتړ ماموریت د داسې کارکوونکي او سرچینې په لاس کې ولري چې په نوي سیستم کې د افغانانو د ځای پرځای شوو معلوماتو پربنسټ چمتو شوو راپوروونو د تحلیل او شنني څخه پرته دې د افغان ملي پولیسو د کارکوونکو د باوري شمیر په هکله معلومات ترلاسه کړي.

## د افغان ملي پولیسو پایداري

د امریکې د متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې 6.8 بیلیونه امریکایي ډالرتخصیص کړي دي او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) 6.7 بیلیونه امریکایي ډالرې د افغان ملي پولیسو د پایدارۍ په موخه مصرف او لګولي دي.[270] په دې کې 1.5 بیلیونه امریکایي ډالره د متحده ایالتونو مرسته ده چې د د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام ته ورکړل شوي دي. یاد پروګرام په 1393 مالي کال کې چې د، 2013 زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې له 22 نېټې سره سمون لري په کار پیل کوي.[271] د امریکې متحده ایالتونه وروسته له هغې اعاشه بنده او ودروله چې د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قومانداني (CSTC-A) د کورنیو چارو وزارت له خوا په پراخه پیمانه درغلی باندې بدګمانه او شکمنه شوه.

## د افغان ملي پولیسو معاشونه

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قومانداني (CSTC-A) د راپور سره سم د امریکې متحده ایالتونو حکومت د 2008 زیږدیز کال څخه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر تر 31 مې نېټې پورې د د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام له لارې 1.24بیلیونه امریکایي ډالر د افغان ملي پولیسو د معاشونو، اعاشې او هڅوونکو (تشویقي) لګښتونو په موخه مرسته کړېده.[272]

د ملګرو ملتونو پراختیایی پروګرام (UNDP) د په افغانستان کې د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام د پرمخ بیولو په موخه د تمویلونکي اداري په مرسته 4% قیمت ټاکلی دی چې د اټکل شوو کلنیو لګښتونو پربنسټ د 20 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیاتیږي. د افغانستان حکومت او یو شمیر نړیوالي مرستندویه اداري غوره ګڼي چې د یادې بودجې څخه د دې پرځای د پولیسو د معاشونو لپاره کار واخیستل شي.[273]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قومانداني (CSTC-A) د معلوماتو سره سم د 157,000 رسمي کارکوونکو په موجودیت سره، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د اسعارو د تبادلې نرخ (یو امریکایي ډالر 56 افغانۍ) پربنسټ د افغان ملي پولیسو کلنې نړیوال لګښتونه 508.4 میلیونه امریکایي ډالر اټکل کړې دي. په 2015 زیږدیز کال کې د امریکې متحده ایالتونو په افغانستان کې د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام ته د افغان ملی پولیسو د معاشونو او هڅوونکو (تشویقي) لګښتونو په موخه 114.4 میلیونه امریکایي ډالر چمتو او ورکړل شوي.[274] د ټایمز اف لندن ورځپاڼې د اپریل میاشتې د راپور سره سم د برتانیې حکومت پریکړه کړېده چې د اداري فساد د موجودیت له کبله په افغانستان کې د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام ته د 70$ یورو د مالي مرستې ورکولو پلان وځنډوي.[275]

د کورنیو چارو وزارت ته د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قومانداني (CSTC-A) د 1394 مالي کال په مالي ژمن لیک کې د کورنیو چارو وزارت ته په افغانستان کې د قانونو د حاکمیت څخه د ملاتړ وجهي صندوق (LOTFA) پروګرام د مشرتابه کمیټې فرمان شامل دی چې د دې فرمان له مخې باید د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر میاشتې تر 31 مې نېټې پورې د افغان ملي پولیسو معاشونه سل په سلو (100%) کې د پیسو د لیږد برښنایي سیستم له لارې ورکړل شي.[276] د دې لپاره چې د کورنیو چارو وزارت د پیسو د لیږد د هغه برښنایي سیستم څخه چې د 2015 زیږدیز کال د جولای په میاشت کې په کار پیل کوي، ګټې اخیستلو ته وهڅول شي د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډه قومانداني (CSTC-A) په پام کې لري چې یوازې د هغه رسمي کارکوونکو د معاشونو لپاره بودجه چمتو او ورکړي چې معاشونه یې د پیسو د لیږد برښنایي سیستم له لارې ورکول کیږي.[277]

### دسیګار تفتیش

دسیګارتفتیش چه په تیره ربع کی یی د افغانستان د ملی پولیسو د معاشاتو کوم معلومات نشر کړی وه شاید صحیح نه وی. د کنترول او ارزیابی چاری یی کمزوری دی ا و کمپیوټرونو سیستم یی پوره فعال او منسجم نه دی. دلازیاتو معلوماتو لپاره دسیګا ر دجنوری میاشتی د 2015 کال دری میاشتنی راپور ته مراجعه وکړي.

## د افغان ملي پولیسو تجهزات او وړل راوړل (ټرانسپورټیشن)

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د 31 نېټې پورې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق 3.6 (ASFF) بیلیونه امریکایي ډالر د افغان ملي پولیسو د تجهیزاتو او وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) لپاره تخصیص او لګولي دي.[278] د دې پیسو زیاتره برخه د نقلیه وسایطو، الوتکو، مهماتو، وسلو او د مخابراتي تجهیزاتو په پیرودلو لګول شوي دي چې په 3.15 جدول کې ښودل شوي دي. د یادي بودجې زیاتره برخه (9.5%) د نقلیه وسایطو وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) اړونده تجهیزاتو په پیرودلو لګول شوي ده. په هغه تجهیزاتو کې چې د افغان ملي پولیسو لپاره پیرودل شوي دي پیچلي شیان لکه زره پوش

جدول 3.15

**د امریکې متحده ایالتونو له خوا تمویل شوي د افغان ملي پولیسو تجهیزات**

| د تجهیزاتو ډول | پیرودل شوي | پیرودل شوي او افغان ملي پولیسو ته سپارل شوي | د پیرودلو لپاره پاتې دي |
|---|---|---|---|
| وسلې | $224,603,779 | $205,607,238 | $208,805 |
| نقلیه وسایط | 2,205,856,127 | 2,048,056,127 | TBD |
| مخابراتي تجهیزات | 212,294,780 | 212,294,780 | TBD |
| الوتکې | 766,950,000 | 692,950,000 | 74,000,000 |
| مهمات | 667,741,562 | 324,984,471 | TBD |
| د وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) خدمتونه | 20,026,263 | 7,770,471 | 12,255,792 |
| د سړک غاړې ماینونو پروړاندې مبارزه | 119,980,508 | 86,305,626 | 0 |
| نور | 243,088,347 | 91,438,300 | 14,412,160 |
| **ټول ټال** | **$4,460,541,366** | **$3,669,407,013** | **$100,876,757** |

یادښت: Counter-IED= د سړک د غاړې ماینونو پروړاندې مبارزه، TBD= باید مشخص شي. اندازه په دې پورې اړه لري چې څومره تخریب شوي تجهیزات د تبدیلولو لپاره بیرته استول شوي دي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د افغانستان د امنیت سپارلو(لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ځواب. 3/24/2015.

موټرونه، د شپې لیدونکي دوربینونه، جي پي ایس (GPS)، د نا چاودلو مهماتو پاکولو تجهیزات او بایومټریک او همدارنګه عادي شیان لکه امبولانسونه، پرزه جات، ټومانچې، ماشنګنې، مخابرې، جا مې، د غابښونو او طبي تجهیزات او د وړلو راوړلو (ټرانسپورټیشن) خد متونه.[279]

د مالي چارو ژمن لیک چې د 1394 مالي کال لپاره د کورنیو چارو وزارت ته د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه بودجه چمتو کوي د کورنیو چارووزارت څخه غواړي چې د خپلې اړتیا وړ نقلیه وسایطو ډول او شمیر مشخص او معلوم کړي څو د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) له خوا د نقلیه وسایطو اضافي بودجې د چمتو کولو څخه مخکې دا خبره یقیني کړي چې د وسایطو ساتنه او ترمیم د معیاري لارو چارو په تعقیبولو سره ترسره او د یادو نقلیه وسایطو څخه د پلان شوو او هدف وړ کارونو لپاره کار اخیستل کیږي.[280]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) کانګرس ته خبرتیا ورکړې چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه د افغان ملي پولیسو لپاره یو شمیر پیرودل شوي تجهیزات به د 2014 مالی کال د ملي دفاع د واک ورکولو قانون (NDAA) د مقرراتو سره سم د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت ته ولیږدول شي. د یادو موادو د لیږد په هکله بشپړ معلومات په 3.16 جدول کې چمتو او ځای پرځای کړل شوی دي.

جدول 3.16

**د افغان امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) په بودجه پیرودل شوو تجهیزاتو لیږدول** (میلیون امریکایي ډالر)

| | بې کاره پرزه جات | د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت ذخیرې ته |
|---|---|---|
| د ګز مې لپاره د کلک جسامت لرونکي 8 کشتۍ | | $1.9 |
| نور | | 1.4 |
| نقلیه وسایط | $1.3 | |
| **ټول ټال** | **$1.3** | **$3.3** |

یادښت: RHIB د کلک جسامت لرونکې کشتۍ. د ډالر اندازه رونډ آف شوي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د OSD-Pځواب. 12/30/2014: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ځواب. 3/24/2015.

## د افغان ملي پولیسو زیربنایي پروژې

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې له 31 نېټې پورې 3.2 بیلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه یې د افغان ملي پولیسو د زیربنایي پروژو د پرمخ بیولو لپاره 2.9 بیلیونه امریکایي ډالر لګولي دي.[281]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د معلوماتو سره سم د امریکې متحده ایالتونو په هغه وخت کې د 3.5 بیلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت 719 زیربنایي پروژې بشپړ کړي، د 101.7 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 11 پروژو کار روان دی.[282]

په دې ربع کې د 4 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت یوه پروژه ورکړل شوې او د 106.7 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 12 پروژو چارې بشپړې شوې دي چې په هغې کې په ترتیب سره د 17.5 او 13.9 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د مهماتو پټن ځای او د سون موادو او روغنیاتو ډیپو شامل دي.[283] همدارنګه نورې پروژې لکه د کورنیو چارو وزارت په قوماندانیو کې د 35 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د ودانی او د اوبو او برق تاسیساتو دواړو د چارو د بشپړېدلو راپور ورکړل شوی دی.[284] د افغان ملي پولیسو تر ټولو سترې پروژې چې چارې یې روانې دي د پکتیا په ولایت کې د 25 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د افغانستان ملي عامه نظم پولیسو (ANCOP) د ولایتي قوماندانیو د مرکزونو ودانی او د کورنیو چارو په وزارت کې د 24.1 امریکایي ډالرو په ارزښت د افغان ملي پولیسو د قوماندې مرکز او بارکونو څخه عبارت دي.[285] د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د راپور سره سم د افغان ملي پولیسو د 214 مرکزونو په ودانیو کې د پایداری، ساتنې او ترمیمولو خد متونه ترسره شوي دي.[286]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د معلوماتو سره سم د افغان ملي پولیسو د زیربنایي پروژو د اټکل شوو عملیاتو او ترمیم، پایداری بیارغونې او کوچنیو ودانیزو چارو لګښت (د یوې پروژې لپاره د 750,000امریکایي ډالرو څخه کم) د 2015 مالي کال څخه تر 2019 مالي کال پورې د کال 147 میلیونه امریکایي ډالر دی چې له دې جملې څخه 131 امریکایي ډالره (د پنځو کالو لپاره 655 میلیونه امریکایي ډالره) او 2,184مسلکي کارکوونکي چې د یادو مرکزونو د ودانیو ساتنه به کوی، د امریکې متحده ایالاتو له خوا ورکول کیږي.[287]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د راپور سره سم د راپور ورکولو په دې موده کې د هیڅ اضافي مزکز د پایداری او ساتنې مسؤلیت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته نه دی لیږدلو شوی، نو د دوو نورو باقي پاتې مرکزونو د ودانیو د سپارلو چارې روزنیزو پروګرامونو ته د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو تیاری نیولو او د دوی په وړتیا پورې تړلې دې څو خپلې ورسپارل شوې دندې په اغیزمنه توګه ترسره کړي.[288]

## د افغان ملي پولیسو روزنیز پروګرامونه او عملیات

د امریکې متحده ایالتونو د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 31 نېټې پورې د افغان ملي پولیسو او کورنیو چارو وزارت د عملیاتو او روزنیزو پروګرامو لپاره د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF) څخه 3.6 بیلیونه امریکایي ډالر تخصیص او لګولي دي.[289]

د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د راپور سره سم د امریکې متحده ایالتونو په مالي ملاتړ د 7 تخنیکي روزنیزو پروګرامونو چارې روانې دي.[290] د امریکې متحده ایالتونو له خوا تمویل شوي روزنیزو پروګرامونو کې د ځانګړو تخصصي عملیاتو روزنیز پروګرامونه لکه د پولیسو استخباراتي اطلاعات، د سړک د غاړې ماینونو پرضد مبارزه، د نا چاودلو مهماتو باکول او د مخابرې د استعمال او ترمیمولو روزنیز پروګرامونه شامل دي.[291]

## د افغانستان د ملي امنیتی ځواکونو په لیکو کې د ښځو وضعیت

د دې ربعې د راپور سره سم د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې 1% ښځې په دندو بوخت دي که څه هم دا خورا کوچنۍ خو مهمه لاسته راوړنه ده چې د ډیرو اوږدو هلو ځلو وروسته ښځې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې استخدام او خپلو دندو ته ادامه ورکوي.[292] د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د دې ربعې له راپور سره سم 3,325 ښځې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ملي اردو او ملي پولیسو د رس مي پیاوړې ځواک په توګه شتون لري چې له دې جملې څخه یو شمیر یې په روزنیزو پروګرامونو کې د زده کوونکو په توګه او یو شمیر نوریې په دې وروستیو کې د روزنیزو پروګرامونو څخه فارغي شوي دي. د ټولو له جملې څخه 910 یې افسرانې، 1,249 معتبرې افسرانې او پاتې 1,166 سرتیرې دي.[293]

د ګمارنې روان بهیر په ټول افغانستان کې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ښځو ګډون په تېیته کچه زیات کړی دی.[294] د افغان ملي اردو په لیکو کې 10% ته د ښځینه کارکوونکو شمیر زیاتولو موخه 10 کلن پلان ته ولیږدیده داسې چې د افغان ملي اردو په لیکو کې به د افغان ښځینه کارکوونکو شمیر



**په مزار شریف کې د پولیسود ډلګی** مشرانو د روزنی اکاډمی فارغین (د RS نیوز ورځپاڼې انځور د فیلیف هافمن له خوا)

د لسو کلونو په دوران کې 10% ته لوړ کړي. د مارچ په میاشت کې د ملي دفاع وزارت پلان درلوده څو د 1394 مالي کال د پرمختګ او لاسته راوړنې پلان چې په هغې کې د کلنی ګمارنې موخې شامل وي، خپور کړي.[295] د افغان ملي اردو د دې موخې د لاسته راوړلو لپاره له هغه شرایطو لاس واخیست او سترګې يې پرې پټې کړې چې د هغې پربنسټ باید د افغانستان د مختلفو قومونو څخه ښځې په متوازن ډول وګمارل شي. څرنګه چې په تیرو څلورو ربعو کې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو شمیر مخ په زیاتیدو دی، د افغان ملي پولیس د خپلې هغې موخې د لاسته راوړلو څخه چې 2015 زیږدیز کال د مارچ تر میاشتې پورې به د افغان ملي پولیسو په لیکو کې د ښځو شمیر 5,000 ته رسوي، لیرې دي. ښځې لا تر اوسه د امنیتي ځواکونو 1.4% برخه جوړوي. د فبروري په میاشت کې د افغان ملي پولیسو په لیکو کې 190 ښځینه کارکوونکې په دندو بوخت وې چې د پولیسو له اکاډمی څخه د دویم بریدمن په رتبه بریالی شوی.[296] په کابل او مزار شریف کې د هغوی په ویاړ د فراغت مراسم ترسره شول. همدارنګه د مئ د میاشتې په پیل کې د پولیسو د روزنې یو بنسټیز او مهم کورس په ترکیه کې دایر شو چې موخه يې د 400 ښځینه پولیسو فارغول دي.[297]

سره له دې چې د ملي دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې د ښځو په وړاندې مقاومت له پخوا څخه شتون لري، جمهور رئیس، د افغانستان لومړنی میرمنې او د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مشرانو د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د ښځینه کارکوونکو له شتون څخه خپل ملاتړ اعلان کړ.[298] افغان ملي اردو او افغان مملي پولیس پخپلو لیکو کې د ښځو د شمیر زیاتوالي او د خپلو ځواکونو په غوره توګه بشپړولو او متحد کولو په موخه خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکوي.[299]

افغان ملي پولیسو خپل ټول پام د خپلو ښځینه کارکوونکو لپاره د مناسبو امکاناتو په لرلو سره د خوندې کارځایونو د میندلو او د تجربه لرونکو ښځو (چې لږ تر لږه د دولسم ټولګې څخه بریالی شوي وي) د جلب او جذب او ساتنې په موخه د یوې کړنلارې رامینځته کولو ته اړولی دی.[300] افغان ملي پولیس به د 10 کلونو په موده کې پخپلو لیکو کې 15,700 ښځینه پولیسو په ګمارلو سره خپل هدف ته ورسیږي.[301] دواړه افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس د روزنیزو پروګرامونو د فرصتونو او ښځینه کارکوونکو ته د مناسبو امکاناتو چمتو کولو په موخه خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکوي. افغان ملي اردو د ښځو د څلور کلنې ملي نظامي اکاډمی لپاره 45، د ټیټې رتبې افسرانو اکاډمی لپاره 90 او د ښوونځیو نومان شوو او غیرمعتبرو افسرانو لپاره 150 خالي ستونه لري.[302] هر سرتیری د سرتیرو لپاره 12 اونیزه بنسټیز روزنیز کورس اخلي چې په هغې کې د هغه نارینه سرتیرو لپاره چې د افغان ملي اردو په لیکو کې د ښځو سره کار کوي د نارینه سرتیرو د رفتار، سلوک او توقعاتو په هکله یوځانګړی صنف شامل دی. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو لپاره یو دوه ورځینی سیمینار ترسره کوي چې په هغې کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د له مینځه وړلو په هکله روزنیز پروګرام شامل دی.[303] تیرکال افغان ملي پولیسو 51 ورکشاپونه ترسره او لاره اچولې دي او ژمنه کوي چې په راتلونکو دوو کلونو کې به د مجرمو ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د څیړلو او تعقیبولو د کړنلارو په هکله سیمینارونه دایر کړي.[304]

د ملي دفاع د واک ورکولو قانون (NDAA) په 2014 مالي کال کې د ښځو د پروګرامونو، امکاناتو چمتو کولو، ګمارلو او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو کې د هغوی د یوځای او متحد کولو لپاره 25 میلیونه امریکایي ډالر منظوروي. همدارنګه د ښځو د هڅونې (تشویقولو) او کورنیو سفرونو لپاره د 1.05 میلیونه امریکایي ډالرو ژمنه هم شوې ده.[305] د افغانستان د امنیت سپارلو (لیږد) ګډې قوماندانی (CSTC-A) د دواړو وزارتونو د جندر د سلاکارانو سره د اړتیاوو د تایید او د ړومبیتوب حق ورکولو په موخه ولیدل. د دوی د اټکل له مخې لومړنی اړتیاوې د وذانیو ترمیمول او نوي کول او د ګمارنې کمپاین تنظیمول او تشکیل دی.[306] سربیره پردې ناټو د افغان ملي اردو په لیکو کې د ښځینه کارکوونکو د پروګرامونو لپاره د افغان ملي اردو د وجهي صندوق څخه 10 میلیونه امریکایي ډالر تخصیص کړي دي.[307]

## د افغنستان ملي امنیتی ځواکونو طبي او روغتیایي خدمتونه

د امریکې متحده ایالتونو د 2006 زیږدیز کال راهیسې د 188.2 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو 184 طبی او روغتیایي مرکزونه ودان او جوړ کړي دي.[308] د افغان ملي اردو 8 منطقوي طبي روغتونونه لري، افغان هوایي ځواک پنځه (5) کلینکونه او پنځه (5) جلا روغتیایي مرکزونه

لري او افغان ملي پولیس په کابل کې یو روغتونلري خو د پولیسو د درملنې لپاره د افغان ملي اردو سره یو تړون لاسلیک کړی دی.[309] اوس مهال د نورو روغتیایي مرکزونو د ودانولو پلان نشته.[310]

په دې ربع کې په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو امنیتي ځواکونو (USFOR-A) د راپور سره سم اوس مهال د افغانستان ملي امنیتی ځواکونو د روغتیایی خدمتونو په سیتم کې 905 ډاکټران خپلې دندې ترسره کوي. د ټول ټال رسمي ډاکترانو شمیر 1,144 ته رسیږي چې له دې جملې څخه 574 د افغان ملي اردو په لیکو کې او 331 د افغان ملی پولیسو په لیکو کې خپلې دندې ترسره کوي. افغان ملي اردو او افغان ملي پولیس په ترتیب سره 166 او 73 نورو ډاکټرانو ته اړتیا لري.[311] دغه کموالی د جګړې سیمو ته نږدې کلیوالو ولسوالیو کې چیرې چې ټپیانو ته د خدمتونو چمتو کولو اړتیا ډیره ده، ډیر خطرناک دی.[312]

همدارنګه د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه 2,440 نرسان او مرستیال ډاکټران او نور طبي کارکوونکي لري او سربیره پردې 773 روغتیایي کارکوونکو لپاره خالي ځایونه لري چې لا ډک شوي نه دي.[313] که څه هم د تیرې ربعې راهیسې د طبي کارکوونکو د خالي ځایونو شمیر 236 ته راکښته شوی دی، د ټول ټال رسمي طبي کارکوونکو شمیر هم 785 ته راکښته شوی دی.[314] د دې تشې د ډکولو په موخه د افغان ملي اردو د طبي چارو قوماندان د بیړنیو عملیاتو په دوران کې طبي کارکوونکي د جګړې سی مې ته نږدې منطقوي روغتون ته لیږدوي.[315] د ډاکترانو، نرسانو او طبي کارکوونکو د روزنې په موخه د مرستندویه نړیوالو او غیر حکومتي ادارو سره یو روزنیز چوکاټ رامینځته شوی دی څو طبی کارونکو ته د اړتیا لرلو ستونزه حل کړل شي.[316]

په افغانستان کې د امریکې متحده ایالتونو امنیتي ځواکونو (USFOR-A) د راپور سره سم د افغان ملي اردو او افغان ملي پولیسو لپاره د روغتیایي خدمتونو او اړونده لوجستیکي عملیاتو لا پیاوړې کولو په موخه هلې ځلې روانې دي. د افغان ملي اردو طبي قوماندانی خپل لومړنی پنځه کلن کړنلاریز (استراتیژیک) پلان جوړاو چمتو کړی دی. افغان ملي پولییسو د تدارکاتو، استعمال او د غوښتنې او تقاضا د وړاندوینې د سمون او بهبود په موخه د اړتیا وړ طبي سامان آلاتو یو لیست جوړ او چمتو کړی دی.[317] د قاطع ملاتړ ماموریت (RSM) د TAAC-AIR د عمومي جراحی سلاکارانو د افغان هوایي ځواک 80 طبي کارکوونکي د دریو مختلفو هوایي چوکاټونو په برخه کې او د افغان ملي اردو 336 د MI-17 چورلکو (هلیکوپټرونو) او یا C-208الوتکو په برخه کې روزلي دي.[318] د TAAC-AIR د مشورتي هلو ځلو موخه د افغان هوایي ځواک د طبي تخلیې د وړتیاوو سجوړول او وړول دي څو په الوتکه کې د روزل شوو طبي کارکوونکو په لرلو سره د لارې په مسیر کې طبي خدمتونه وړاندې کړي. په امبولانسونو کې د ورته هدف لپاره د روزل شوو طبي کارکوونکو شتون اړین دی څو د لارې په اوږدو کې د ژوند ژغورنې طبي خدمتونه وړاندې کړي.[319] د افغان ملي اردو د طبي چارو قوماندان او د افغان ملي پولیسو عمومي جراح د کارکوونکو له خوا د حفاظتي تجهیزاتو د اغوستلو په اړتیا باندې ټینګار کوي او د جګړې په دوران کې د ژوند ژغورنې مهارتونو په برخه کې د روزل شوو کارکوونکو د شمیر د زیاتوالي لپاره کار کوي.[320]

## د نا چاودلو مهماتو پاکول

سره له دې چې 1989 زیږدیزکال راهیسې 80% معلو مې سی مې له ماینونو او د جګړې د چاودیدونکو پاتې شونو څخه پاکې شوي دي، خو بیا هم افغانستان یو له هغه هیوادونو څخه دی چې زیاتره برخې یې د ماینونو او د جګړې د چاودیدونکوپاتې شونو پواسطه ککړې او ملوث دی. د 2015 زیږدیز کال د جنورۍ په میاشت کې د افغانستان د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز (MACCA) د راپور سره سم هره میاشت په اوسط ډول 38 کسانو ته مرګ ژوبله اوړي چې دغه شمیره د 2001 زیږدیز کال په پرتله چې د ورځې 16 کسانو ته مرګ ژوبله اوښته، کښته ده.[321] نا چاودیدونکې مهمات په 1,609 ټولنو، 253 ولسوالیو او 33 ولایتونو کې باقي پاتې دي او نیغ په نیغه 774,000 وګړي اغیزمن کوي.[322] هیواد د ایساف او ناتو د انداخت ساحې او اډو په شااو خوا کې د ککړتیا او ملوث کیدو د وروستنیو (نوو) ننګونو سره مخامخ دی. د افغانستان د ماین پاکۍ چارو د همغږۍ مرکز (MACCA) د 2010 زیږدیز کال څخه د 2014 زیږدیز کال د مارچ تر میاشتې پورې د 82 کسانو مرګ ژوبله ثبت کړیده چې د ایساف او ناتو د انداخت ساحې او اډو په داخل او شا او خوا کې د جګړې د چاودیدونکو پاتې شوونو سره د ټکر او تماس په پایله کې رامینځته شوي دي. 23 کسان وژل شوي او 59 ټپیان شوي دي چې د مرګ ژوبلې (تلفاتو) 83% ماشومان تشکیلوي. د ناتو او ایساف ځواکونو د

انداخت ساحې او اډو دننه او شاوخوا کې د مرګ ژوبلې (تلفاتو) کچه لوړه شوې ده ځکه چې د یادو ځواکونو په وتلو سره نوموړې اډو او د اډو شاوخوا سیمو ته د خلکو تګ راتګ او لاس رسی زیات شوی دی.[323]

د سیګار د تیرې ربعې د راپور سره سم د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او نظامي چارو ادارې د وسلو د پاکولو او کچې راټیټولو دفتر (PM/WRA) ته 901,511 امریکایي ډالر ولیږدول څو د هغه نا دولتی ادارو د هلو ځلو سره مرسته وکړي چې د امریکې متحده ایالتونو د انداخت ساحې او اډو په شا او خواکې د وروستیو پاتې شوو مهماتو د پاکولو چارې څاري.[324] په هر حال دا فقط د اړتیا وړ بودجې یوه کوچنۍ فیصدي (سلنه) ده. د 2014 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې د واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د راپور سره سم د امریکې متحده ایالتونو پوځ د راپور پربنسټ د 800 میل مربع په مساحت ځمکه د ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو پواسطه ککړه (ملوث) کړیده چې د هغې پاکول 250 میلیونه امریکایي ډالر لګښت غواړي.[325]

د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او نظامي چارو ادارې د وسلو د پاکولو او کچې راټیټولو دفتر (PM/WRA) په افغانستان کې د جګړې د قربانیانو ساتنې، ژوند ژغورونکو بشري مرستو چمتو کولو او د افغانانو د امنیت او خوندیتوب د کچې لوړولو په موخه د معمولي وسلو د له مینځه وړلو پروګرام (CWDPA) اداره او پرمخ بیایي. د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د 2002 مالي کال راهیسې د افغانستان سره د وسلو د له مینځه وړلو او ماین پاکۍ د بشري مرستو په موخه د 299.3 میلیونه امریکایي ډالرو څخه زیاتې مرستې کړې دي.[326] د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او نظامي چارو ادارې د وسلو د پاکولو او کچې راټیټولو دفتر (PM/WRA) د 2014 مالي کال ټوله بودجه تردې ربعې پورې نده لګول شوې. د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او نظامي چارو ادارې د وسلو د پاکولو او کچې راټیټولو دفتر (PM/WRA) دوه کلنه بودجه لري او د 2014 زیږدیز کال اضافي بودجې ته به د سیګار په راتلونکو راپورونو کې ځای ورکړل شي.[327]

د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت پنځو افغان، پنځو نړیوالو نا دولتي ادارو او د امریکې متحده ایالتونو یوې قراردادي ادارې ته نیغ په نیغه بودجه ورکوی. دغه بودجه د جګړې د نا چاودیدونکو پاتې شونو پواسطه دککړ (ملوث) شوو سیمو د پاکولو او د پاتې شوو یا خطرسره مخامخ معمولي وسلو د له منیځه وړلو لپاره زمنیه برابروي چې یاغیان ورڅخه د سړک غاړې بمونو او نورو تعبیه شوو چاودیدونکو توکو په جوړولو کې چې ائتلافي ځواکونه، افغان ملکي وګړي او نړیواله مرستندویه ادارو کارکوونکې تر هدف لاندې راولي. ګټه اخلي.[328] د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت له خوا تمویل شو همکارو ادارو د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې له 31 مې نېټې پورې د 166.5 میلیونه مترمربع په مساحت (نږدې 64.3 میل مربع په مساحت) څخه زیاته ځمکه له ماینونو او نا چاودیدونکو مهماتو څخه پاکه کړې ده او تقریباً 7.9 میلیونه د ځمکې ماینونه او د جګړې نا چاودیدونکې پاتې شونې لکه نا چاودیدونکې مهمات، پاتې شوی مهمات، د ګودامونو مهمات او په کورونو کې جوړ شوي چاودیدونکې مهمات پاک او له مینځه وړي دي (په راتلونکې مخ کې 3.17 جدول ته مراجعه وکړئ).[329]

ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو څخه ډکې ثبت شوې ځمکې په ټول ټال اندازه کې په دوامداره توګه بدلون راځي ځکه چې له یوې خوا د ماین پاکۍ فعالیتونه د خطرناکو سیمو کچه راکموي ا وله بلې خوا رواني سروې ګانې د ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو څخه نورې ډکې سی مې په ګوته او د ماین پاکۍ د معلوماتو د مدیریت په سیستم کې یې اضافه کوي. د دې ربعې په پیل کې ټول ټال 511.6 کیلومتر مربع (197.5 میل مربع) په مساحت د ماینونو څخه ډکه ځمکه او د جګړې ډګر شتون درلوده. د ربعې په دوران کې د 16.8 کیلومت (6.5 میل مربع) په مساحت ځمکه له ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو څخه پاکه شوې ده. په هر حال په دې ربع کې رواني سروې د 29.8 کیلومترمربع (11.5 میل مربع) په مساحت له ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو څخه ډکه اضافي ځمکه په ګوته کړې ده چې د ربعې تر پایه پورې د ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتوڅخه ډکې ځمکې ټول ټال اندازه 524.6 کیلومترمربع (202.5 میل مربع) ته رسوي.[330]

د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت د سیاسي او نظامي چارو ادارې د وسلو د پاکولو او کچې راټیټولو دفتر (PM/WRA) د تعریف سره سم د ماینونو ځمکه (MINEFIELD) هغه ځمکې ته وایي چې د ځمکې له ماینونو څخه ډکه وي، همدارنګه له ماینونو او نورو چاودیدونکو مهماتو څخه ډکه سیمه دواړه د ځمکې ماینونه او د جګړې نا چاودیدونکې پاتې شونې شامل دي.[331]

جدول 3.17

**د اساسي وسلو د له مينځه وړلو پروګرام اندازه کول، د 2013 زیږدیز کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر تر 31 مې نېټې پورې.**

| د نېټې حدود | AT/AP له مينځه وړل شوي | UXO له مينځه وړل شوي | SAA له مينځه وړل شوي | توټې (پارچې) پاکې شوي | د ماينونو سی مې پاکې شوي (m²) | اټکل شوي د ماينونوڅخه ډکې (ککړې) پاتې شوې سی مې (m²)* |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 3/31/2013-1/1 | 1,984 | 100,648 | 105,553 | 3,722,289 | 7,978,836 | 552,000,000 |
| 6/30/2013-4/1 | 1,058 | 18,735 | 49,465 | 1,079,807 | 5,586,198 | 537,000,000 |
| 9/30/2013-7/1 | 1,243 | 21,192 | 98,306 | 1,673,926 | 4,229,143 | 521,000,000 |
| 12/31/2013-10/1 | 8,211 | 2,460 | 54,240 | 3,064,570 | 5,729,023 | 518,000,000 |
| 3/31/2014-1/1 | 1,780 | 254,734 | 245,380 | 262,750 | 5,473,170 | 638,400,000 |
| 6/30/2014-4/1 | 1,077 | 3,264 | 25,362 | 3,227,697 | 5,163,035 | 519,000,000 |
| 9/30/2014-7/1 | 1,329 | 26,873 | 21,502 | 2,860,695 | 5,705,984 | 511,600,000 |
| 12/31/2014-10/1 | 465 | 20,274 | 58,369 | 538,499 | 1,604,410 | 524,600,000 |
| **ټول ټال** | **17,147** | **448,180** | **658,177** | **16,430,233** | **41,469,799** | **524,600,000** |

يادښت: AT/AP= د ټانک ضد/پرسونل ضد مهمات. UXO= ناچاودلي مهمات. SAA= د کوچنيو (خفيفه) وسلو مهمات. د ټوټو په اړه ځکه راپور ورکړ شوی دی چې د هغوی د ماهيت د څرنګوالي معلومولو تر وخته پورې د هغوی پاکولو ته د نورو مهماتو د پاکولو په شان اړتيا ليدل کيږی. د 4,047 متر مربع په مساحت ساحه موجود ده. ټول ټال ککړه ځمکه د بدلون په حال کې ده ځکه چې د ماين پاکی فعاليتونه له کبله د خطرناکو سيمو کچه مخ په کميدو ده په داسې حال کې چې روانه سروې نوې ککړې ځمکې په ګوته او د ماين پاکی د معلوماتو د مديريت د ډيټابيس په سيستم کې ورزياتې کړې دي

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د PM/WRA ځواب. 4/1/2015. 12/30/2014 او10/7/2014.

## د نشه ای توکو پر وړاندې مبارزه

د مريکې متحده ايالتونو د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې له 31 نېټې پورې 8.4 بيليونه امريکايی ډالر د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې هغه پروژو ته چې په افغانستان کې د 2002 زيږديز کال راهيسې فعاليت لری، چمتو کړي دي. کانګريس د يادې بودجې زياتره برخه د نشه ای توکو څخه د مخنيوي او نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د ملاتړ اداری (DOD CN)، د افغانستان امنيتي ځواکونو وجهي صندوق (ASFF)، د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) د بودجو له لارې چې په ترتيب سره 3.0 بيليونه، 1.6 بيليونه او 1.5 بيليونه امريکايي ډالر کيږي، چمتو او لګولي دي. د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو د کنټرو او قانون پلې کولو اداری (INCLE) د دې لپاره چې بزګران د کوکنارو د کرلو پرځای د نورو مشروع حاصلاتو کرلو ته و هڅول شي، د خپلې يوې برخې ANDA د حساب څخه (2.1 بيليون امريکايی ډالر) چمتو کړي دي.[332] د امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي اداری (USAID) د بديلې پراختيايا پروګرام (ADP)، د امريکې متحده ايالتونو د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې له موخو څخه د ملاتړ لپاره د هغه هيوادو سره مرسته او همکاري کوي چې د نشه ای توکو د توليد په بدل کې اقتصادی پروګرامونو ته پراختيا ورکوي.[333] د بيا رغونې بودجې سربيره (DEA) په افغانستان کې د عملياتو د ترسره کولو لپاره نيغ په نيغه بودجه ترلاسه کوي (د B ضمی مې ته مراجعه وکړئ).

افغانستان په نړيواله کچه د لا مشروع اپينو (ترياکو) د کرلو او توليد په برخه کې لومړی مقام خپل کړی دی.[334] د ملګرو ملتونو د نښه توکو او جرايمو په وړاندې د مبارزې اداره (UNODC) او د امريکې متحده ايالتونو دولت په افغانستان کې د کوکنارو د کرلو په هکله معلومات چمتو کوي. په 2004 زيږديز کال کې د امريکې متحده ايالتونو او د ملګرو ملتونو د نښه توکو او جرايمو په وړاندې د مبارزې اداره (UNODC) په اټکل کې د 80,000 هکتاره په اندازه توپير موجود وه.[335] د 2005 زيږديز کال راهيسې د سروې ګانو ترمنځ ورته والی زيات شو. د ملګرو ملتونو د نښه توکو او جرايمو په وړاندې د مبارزې اداری (UNODC) څخه ډيره مننه چې د لوړ کيفيت انځورونو څخه يي ګټه اخيستې ده او همدارنګه د ملګرو ملتونو د نښه توکو او جرايمو په وړاندې د مبارزې اداری (UNODC) او د امريکې متحده ايالتونوحکومت د تخنيکي کارپوهانو د نږدې او ګډو مرستو او همکاريو څخه چې د کلنې اټکل مسؤليت يي په غاړه دی هم يوه نړی مننه کوو. که څه هم په ملي کچه د کوکنارو د کرلو معلوماتو کې سمون او برابروالی راغلی دی خو بيا هم د ولايتونو په کچه لا توپير پخپل ځای پاتې دی. د 2014 زيږديز کال لپاره د امريکې متحده ايالتونو د دولت د اټکل له مخې په 211,000 هکټاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي او د خامو

### دسيګار دتير څخه دزده کړی پروژه

په دی ربع کی د تير څخه دزده کړی پروګرام يوه پروژه اعلان کړه په کومه کی به چه د افغانستان دبيا رغونی په پروګرام کی دنشه يی توکوپه ضد دمبارزی ارزونه وکړی. دلازياتو معلوماتو لپاره دويمی برخه او 46 پانه وګوری.

اپينو (تارياکو) توليد 6,300 متريک ټنه وه. د ملګرو ملتونو د نښه توکو او جرايمو په وړاندې د مبارزې اداري (UNODC) د 2014 زيږديز کال د نومبر د مياشتې د افغانستان د اپينو (تارياکو) سروې د اټکل له مخې په 224,000 هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي دي.[336] يو هکتار تقريباً د 2.5 ايکر (4046.856M²) ځمکې سره معادل دی. يو متريک ټن تقريباً 2,200 پونډه کيږي. د امريکې متحده ايالتونو د 2014 زيږديز کال ارقام ښيي چې په دې کال کې د کوکنار په کښت کې د 2013 زيږديز کال په پرتله چې په اټکلي ډول په 198,000 هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي وه، 6.6% زياتوالی راغلی دی او همدارنګه د خامو اپينو (تارياکو) په توليد کې د 2013 زيږديز کال په پرتله چې د اټکل له مخې 5,500 متريک ټنه وه.[337]

14.5% زياتوالی راغلی دی. د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيوالې اداره (INL) د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې چارې پرمخ بيايي لکه د هيواد څخه د باندې د غير قانوني نشه ای توکو د توليد او قاچاق مخنيوی او د پوليسو او مجرمينو د يو پياوړي عدلی سيستم جوړول.[338] د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيوالې اداره (INL) د امريکې متحده ايالاتو جمهور رئيس، وزارتونو او نماينده ګيو د اسې تګ لارو او پروګرامونو د رامينځته کولو په هکله لارښوونه کوي چې په نړيواله کچه د نشه ايي توکو او جرايمو سره مبارزه وکړي. په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيوالې اداري (INL) پروګرامونه د امريکې متحده ايالتونو د دوو کړنلاريزو (استراتيژيکو) موخو څخه ملاتړ کوي.

- د امريکې متحده ايالتونو ته د غير قانوني نشه ای توکو د وړلو د کچې ټيټوالی.
- د امريکې په متحده ايالتونو او امريکايانو په منځ کې د نړيوالو جرايمو د اغيزو کموالی.[339]

په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيواله اداره (INL) د افغانستان لپاره د امريکې متحده ايالتونو د نشه ای توکو په وړاندې د مبارزې کړنلارې (استراتيژۍ) او د افغانستان د نشه ای توکو د کنټرول کړنلارې (استراتيژۍ) د مهمو رومبيتوبونو څخه چې په ترتيب سره د 2012 زيږديز کال د ډسمبر او 2013 زيږديز کال د اکتوبر په مياشتو کې منظور شوي ده، ملاتړ کوي.[340] د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې په يوه نوي کړنلاره (استراتيژۍ) کار کوي چې د دې کال په وروستيو کې به بشپړه شي.[341]

د امريکې متحده ايالاتو دفاع وزات د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې له بودجې څخه د افغانستان د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې پوليسو (CNPA) د وړتياو لوړولو، د سرحد د امنيت ښه کولو، معلوماتو شريکولو او په نړيواله او منطقوي کچه همکاريو چمتو کولو په موخه بودجه تخصيص او چمتو کړې ده څو د غير قانوني نشه ای توکود سوداګرۍ او شبکو امنيتي اغيزې په ملی کچه راټيټې کړي. د افغانستان او سی مي (منطقي) لپاره د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت د 2014 زيږديز کال څخه مخکې د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې کړنلاره (استراتيژي) د 2013 زيږديز کال د اکتوبر په مياشت کې بشپړه او صادر شوه. د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت د کړنلارې په موخو کې په افغانستان کې د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې له هلو ځلو څخه ملاتړ کول، افغانانو ته د نشه ای توکو پر وړندای د مبارزې د پروګرامونو ليږد او په افغانستان کې د نشه ای توکو د جريان په وړاندې د مبارزې په موخه د منطقوي همکاريو رامينځته کول شامل دي.[342]

## د هيواد په داخل کې د نشه ای توکو استعمال: تهديدونکی روغتيايي بحران

په افغانستان کې د نشه ای توکو څخه غلطه ګټه اخيستل د اوږد مهاله ټولنيزو، سياسي او اقتصادي پايلو سره مخ په خپريدو ده.[343] د هيواد په کچه د نشه ای توکو څخه د ګټې اخيستلو د 2012 زيږديز کال سروې د اټکل له مخې چې په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيوالې اداري (INL) په مالی مرسته ترسره شوي ده، د نږدې 31 ميليونه وګړو له جملې څخه 1.6–1.3 ميليونه افغانان د نشه ای توکو څخه ګټه اخلي چې د نفوسو په تناسب په نړۍ کې تر ټولو لوړه اندازه تشکيلوي.[344] د افغانستان دولت ملي پراختيايي کړنلاره (استراتيژي) تاييدوي چې په افغانستان کې د نشه ای توکو څخه د ګټې اخيستونکو په شميراو غير قانوني نشه ای توکوکې د پام وړ زياتوالی راغلی دی او تر څنګ يې اداري فساد چې درې واړه د افغانستان راتلونکی ځوان نسل له مينځه وړي.[345] په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو او قانون پلي کولو نړيوالې اداري (INL) پخپل

تازه راپور (په نړيواله کچه د نشه ای توکو د کنټرول د کړنلارې راپور) وايي چې د نشه ای توکو وروستنيو (تازه) مطالعاتو په افغان ماشومانو کې د نشه ای توکو د استعمال پيښې په ګوته کړې دي.[346] همدارنګه INL په 2014 زيږديز کال کې په کليواله کچه يوه سروې ترسره کړې ده او لومړنيو لاسته راوړنو سپارښتنه کوې چې ممکن د نشه ای توکو استعمالوونکو شمير د ټول ټال نفوسو 10% څخه تجاوز وکړي او د نړيوالې اندازې چې UNODC يې په هکله راپور چمتو کړی دی، دوه چنده شي.[347]

په افغانستان کې د امريکې متحده ايالتونو په مالي مرسته 113 د درملنې مرکزونه جوړ شوی دي چې اوس مهال په کال کې د 30,000 ناروغانو د درملنې وړتيا (ظرفيت) لري. په ښکار ډول بايد وويل شي چې د درملنې د خدمتونو اړتياوې د ملی دولت د وړتيا (ظرفيت) څخه تجاوز کړی دی.[348] INL سيګار ته ويلي چې دوی د کولمبيا د پلان له لارې د درملنې 97 پروګرامونوسره مرسته او همکاري کوي. د INL موخه د 2015 او 2015 زيږديزو کلونو ترمنځ د درملنې د 500 څخه زياتو کارکوونکو له جملې څخه د 75 سلنې کارکوونکو روزل او لږ تر لږه د اعتياد د نړيوالو کارپوهانو (ICAPL) په ازموينه کې د 50 سلنه زده کوونکو بريالی کيدل دی.[349] INL د 2014 زيږديز کال د اکتوبر په مياشت کې د کولمبو پلان سره د 2013 مالي کال د نشه ای توکو د غوښتنې (تقاضا) د کمولو پروګرام سره د 7,609,541 امريکايي ډالرو مرسته کړې ده. INL لا تر اوسه غواړې چې د کولمبو پلان ته د 2014 او 2015 مالي کلونو بودجه ورکړي او يايبي د ورکولو ژمنه وکړي.[350]

روزنيز پروګرام وخت د 2008 زيږديز کال څخه وړاندې هغه وخت راکم کړل شو چې INL د درملنې د لومړني مرکز بنسټ کيښود. INL د 2008 او 2015 زيږديزو کلونو ترمنځ خپلې مرستې او ملاتړ 97 پروګرامونو ته پراخې کړي. INL په تيرو دوو کلونو کې هغه وخت د خپلو روزنيزو پروګرامونو کچه لوړه کړه چې خپل د نړيوالې درمنې نصاب يې و ژباړلو او په هغې کې يې بدلون راوستلو او په روزنيز پروګرامونو باندې يې د نشه ايی توکو د غوښتنې (تقاضا) د کموالی د لیږد کړنلارې (استراتيژی) د يوې برخې په توګه ټينګار کړی دی.[351] د 2003 او 2012 زيږديزو کلونو ترمنځ 506 کسان د نشه ای توکو د درملنې په برخه کې روزل شوي دي، نور 580 کسان د 2013 او 2014 زيږديزو کلونو ترمنځ روزل شوي دي.[352] په هر حال د اعتياد د روزل شوو کارپوهانو او مسلکي کسانو وروستنی جريان د اعتياد د مخ پرودې ستونزې د په ګوته کولو اوحل لارې پيداکولو لپاره کافي نه دی، په ځانګړې ډول د درملنې وروستنی وړتيا (ظرفيت) چې يوازې 30,000 کسان هر کال تر درملنې لاندې نيول کيږي. سره له دې چې د امريکې متحده ايالات د هيواد په ګوټ ګوټ کې د خارج بستر ناروغانو د درملنې مرکزونو ته بودجه ورکوی، خو بيا هم زياتره د نوو ناروغانو په تمه ناست وي.[353]

د 2015 زيږديز کال د جنوري مياشت د عا مې روغتيا وزارت ته د درملنې د هغه 13 پروګرامونو د لومړنی ډلې او همدارنګه د افغان دولت تشکيل ته د کلينک د کارکوونکو د ليږد د پيل رس مې نېټه ټاکل شوې ده چې د INL په مالي مرسته تمويل شوي دي.[354] INL د عا مې روغتيا وزارت سره له نږدې کار کوي څو د افغان حکومت تشکيل ته د کلينک د کارکوونکو د بشپړ ليږد په هکله ډاډ ترلاسه کړي. د INL د معلوماتو سره سم د 2015 زيږديز کال د جنوري د مياشتې د ليږد د نېټې د پيل لپاره ټول مهم اقدامات ترسره شوي دي، خو افغان حکومت نوو کارکوونکو ته د معاشونو په ورکولو کې ځنډ کوي. INL له نږدې حالات څاري او سيګارته يې خبر ورکړی دی چې دولت داخلی ستونزې حل کړې دي او کارکوونکو ته معاشونه ورکول کيږي چې په هغې کې د ځنډول شوو پيسو چکونه هم شام دی.[355] INL د ربعې په دوران کې د کلينک کارکوونکو روزنې، د درملنې خدمتونو او خارج بستر ناروغانو او په کليواله کچه د غوښتنې (تقاضا) د راکمولو په برخه کې خپلو مرستو او همکاريو ته ادامه ورکوي.[356]

د INL د نشه ای توکو د غوښتنې (تقاضا) د راکمولو پروګرام پر اعتياد ذ برلاسې کيدلو په موخه نارينه، ښځې او ماشومان نيغ په نيغه تر درملنې لاندې نيسي. د نشه ايی توکو وقايوي تعليمي پروګرام په ښوونځيو کې ځوانانو ته د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې تعليمي پروګرامونه چمتو کوي چې هدف يې راتلونکی نسل او موخه يې د نشه ای توکو د استعمال مخنيوی دی.[357]

د نشه ای توکو د زياتره استعمالوونکو منفي اقتصادي اغيزې به د افغان اقتصاد د پراختيا په شان په زياتيدونکې ډول محسوس شي. په نشه ايی توکو ګڼ شمير روږدو (معتادو) وګړو ته د سرپنا او درملنې چمتو کول بار لا له وړاندې د ولايتي حکومتونو له اوږو څخه په شدت راکم شوی دی.[358]

**د کولمبو پلان:** د کولمبو پلان يوه بين دولتي منطقه ای اداره ده چې موخه يې د اقتصاد او ټولنيزو چارو پراختيا ده. د دې پلان په هکله په 1950 زيږديز کال په هغه کنفرانس کې چې د سريلانکا د کولمبو په ښار (وروسته سايلون) کې داير شوی وه ، فکر وشو. په 1950 زيږديز کال کې يوازې اووه (7) هيوادونو د يادې ادارې غړي درلوده چې د يادې ادارې بنسټګر هم وه او وروسته يې د غړو شمير 26 ته ورسيده. INL په دوامداره توګه د د اعتياد د نړيوالو کارپوهانو د کولمبو پلان آسيايی مرکز د درملنې د کارپوهانو د روزنې له ځانګې سره مرسته او همکاري کوي څو د دولت سره مرسته وکړي چې په آسيا او افريقا کې د اعتياد د مسلکي کارکوونکو لپاره د مسلکي کارکوونکو د تاييد بهير رامينځته کړي.

سرچينه: د کولمبو پلان د سکرتريت ويب پاڼې تاريخ www.colombo-plan.org, accessed 4/7/2014; State, INL *په نړيواله کچه د نشه ای توکو د کنټرول کړنلارې راپور لومړی ټوک، د نشه ای توکو او کيمياوي موادو کنټرول*، 3/2013, p. 20

## د نشه ای توکو پر وړاندې مبارزې کې د ټولنې ګډون (CNCE)

INL د هیواد په ګوټ ګو ت کې د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې کې د ټولنې ګډون (CNCE) پروګرام ته هم بودجه ورکوي چې نوموړی پروګرام د کوکنارو نه کرلو ته د خلکو هڅولو، د عامه پوهاوي له لارې د نشه ای توکو د استعمال مخنیوي او د مشروع او قانوني غله جاتو او محصولاتو کښت او تولید ته د خلکو هڅولو باندې متمرکز دی.[359] INL د 2013 زیږدیز کال پورې 8.2 امریکایي ډالر تخصیص او تر دې دمه یې 6.6میلیونه امریکایي ډالر لګولي دي.[360] د سیاره د رسینو د ارتباطاتو اداره (SMC) د پروګرام د یوې برخې په توګه د اوریدونکو د راپورونو د شننې له لارې د رسنیو د کمپاینونو اغیزمنتوب څارې چې په دې کې د ولایتونو په کچه د نشه ای توکو د قاچاق او کرلو د چارو پرمخ بیوونکو (مشرانو) د په ګوته کولو او د عامو وګړو د نظریاتو د معلومولو په هکله راپور شامل دی. سریېره پردې سیاره د درجه بندې شوو ولایتونو په زیاتره برخو کې 42 خبریالان لري. ولایتونه د کوکنارو د کرلو د کچې پربنسټ د 1 درجې څخه تر 4 درجې پورې طبقه بندي شوي دي چې لومړی کټګورګی تر ټولو لوړه ده. خبریالان معلومات راټولو او د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې د کړنلارو او پیغام ورکولو د وضعیت په هکله نظریات په ګوته او اندازه کوي. همدارنګه سیاره د رسنیو د څار چارې د یوې لومړنۍ ارزونې له لارې چې څرنګه د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د رسنیو محصولات د افغان رسنیو موجوده چاپیریال سره توافق کوي، پرمخ بیایي او ورسره په رسنیو کې د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې اړوند موادو د اندازې او نوعیت (ډول) معلوماو په لومړنۍ ارزونه کې د کوم مثبت یا منفي بدلون د میاشتنۍ څارنې او ارزونې چارې پرمخ بیایي. د رسنیو د کمپاینونو د اغیزمنتوب معلومولو په موخه INL سیګارته ویلی په هغه سیمو کې چې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې رسنۍ کار کوي د اپینو (تاریاکو) د کرلو کچه راټیټه شوې ده او په هغه سیمو کې چې امنیت او حکومت ولي (حکومتداري) د یوې ستړې ننګونې په توګه باقي پاتې ده،[361] د کوکنارو د کرلو کچه لوړه شوې ده. په هر حال داسې نتیجه ګیري باید و نه شي چې د اپینو (تاریاکو) کرلو کچه د نشه ای توکو سره د مبارزې د پیغامونو د شتون او نه شتون سره نیغ په نیغه تړاو لري. په تیرو څو کلونو کې د کوکنارو د کرلو د کچې لوړیدل د کوکنارو د نه کرلو لپاره د بزګرانو د هڅولو په برخه کې د رسنیو کمپاینونو کمزوري او ناکامي ښیي. د UNODC د راپور سره سم د 2013 او 2014 زیږدیزو کلونو ترمځ د هیواد په مرکزي، ختیځو، لویدیځو او سویل لویدیځو ولایتونو لکه نیمروز، هرات، دایکندي، کابل، لغمان، کاپیسا او کنړ کې د کوکنارو کرلو کچه راټیټه شوي ده.[362] INL سیګار ته ویلي دي چې په تیره ربع کې په هغه ولایتونو کې چې د کوکنارو د کرلو کچه په کې خورا لوړه ده، پروګرام دا معلومه کړې ده چې د احصایي له مخې د هغه کسانو په فیصدي کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دې چې فکر کوي چې بزګران او د هغوی د کورنیو غړي هم په اپینو (تاریاکو) روږدي (معتاد) کیدای شي چې د ا د INL د عامه اړیکو یومهم پیغام دی.[363]

په ورته وخت کې د ولایتونو په ګوټ ګوټ کې د راډیو او تلویزیون له لارې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د پیغامونو کچه په میاشتني اوسط ډول لوړه شوي ده داسې چې د راډیویی پیغامونو کچه چې په تیره ربع کې5.4 وه 15.4 ته لوړه شویده او د تلویزیوني پیغامونو کچه چې په تیره ربع کې 5.8 وه 147.7 ته لوړه شوي ده.[364] د افغانستان د فوټبال د غوراوي لیګ چې د امریکې متحده ایالتونو په مالي مرسته د نشه ای توک پر وړاندې مبارزې د پیغامونو خپرولو بهیر پرمخ بیایي، اوس مهال د افغانستان د تلویزیونونو له لارې تر ټولو زیات لیدونکی پروګرام دی او زیات شمیر لیدونکي لري.[365] د INL د عامو وګړو څخه د پوښتلو پروګرام د معلوماتو سره سم د زیاتره پوښتل شوي افغانان وایي چې دوی د کوکنارو او د هغې د کرلو په وړاندې د مبارزې پیغامونه اوریدلي دي.[366] د CNCE پروګرام به د 2014 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې پای ته ورسیږي خو ممکن د مدني ټولنو د فرعي بسپنو (ګرنټونو) د پاتې کیدو او د INL د کوکنارو پروړاندې د مبارزې د کال تر ټولو اغیزمن کمپاین (د کوکنارو د کرولو څخه وړاندې کمپاین) څخه د ملاتړ په موخه وغزول شي.[367] د INL په مالي ملاتړ د پیغامونو بهیر خپلواکه ارزونه لا تراوسه نده ترسره شوي، خو په 2008 زیږدیز کال کې د ورته کمپاین ارزونې وښودله چې د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې په هکله دعامه پوهاوي کمپاینونو د کوکنارو د نه کرلو او د نشه ای توکو د نه استعمال او د بریالیتوب د چانس په زیاتوالي کې چې په لاندې برخو کې ورته اړتیا لیدل کیږی، کومه اغیزه نه درلوده. 1) د کوکنارو د بدیل کښت چمتو کولو په موخه

### د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزیر سلامت عظیمي



د افغانستان د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزیر تصویر

| | |
|---|---|
| **د ټاکل کیدو نېټه** | د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې 18 مه نېټه |
| **قوم** | تاجک |
| **معرفي کوونکی** | جمهور رئیس اشرف غني |
| **کاري تجربه** | • د بلخ پوهنتون استاد او مرستیال،<br>• د عدلیې وزارت د حقوقو رئیس،<br>• په مزار شریف کې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون<br>• د ماشومانو د حقونو د ځانګې مشر، په مزار شریف کې د اریانا د حقوقي بنسټ رئیس |

سرچینه: د افغان شنوونکو (تحلیل ګرانو) شبکه، بالاخره د افغانستان د یوې بشپړې کابینې په لور؟ راتلوونکو 16 نوماند وزیرانو او د هغوی ژوند لیکونو کې بدلون راغلی. 3/24/2015. پژواک افغان نیوز ورځپانه. ولسي جرګې ټول 16 نوماند وزیرانو ته د اعتماد رایه ورکړه. 4/18/2015.

د مشروع کلیوال اقتصاد د پراختیا سره همغږي کولو لپاره او 2) د جزا د رښتینو تهدیدونو سره یوځای (د کوکنارو د کروندو له مینځه وړل).[368]

## د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د وړتیا (ظرفیت) لوړول

د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د نورو وزارتونو د اقداماتو سره د همغږۍ له لارې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د تګ لارې د جوړولو او رامینځته کولو کې مخکښ او د مشرتابه رول لوبوي.[369] د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د 2014 زیږدیز کال د فبروري په میاشت کې د INL سره یوه موافقتنامه لاسلیک کړه څو د وړتیا (ظرفیت) لوړولو خپل پروګرامونه د 18 میاشتو لپاره له سره پیل کړي او د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) په وزارت کې د وړتیاوو (ظرفیتونو) د لوړولو په برخه کې د مرستې او همکارۍ په موخه 24 ملي سیمه ییزو سلاکارانو ته بودجه چمتو کوي.[370] INL د 2015 زیږدیز کال د فبروري په میاشت کې داجرااتو د اندازه کولو پلان چې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د وړتیاوو (ظرفیتونو) د لوړولو بهیر د پرمختګ د ارزونې په موخه طرحه او ډیزاین شوی دی، بشپړکړ.[371]

د نوموړې پلان به د پروګرام له خوا د خپلو کارکوونکو د اداري کولو، د امریکې متحده ایالاتو او ملي سیمه ییزو سلاکارانو د اغیزمنتوب او د یاد بهیر د اغیزمنتوب د اندازه کولو له لارې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د وړتیاوو (ظرفیتونو) د لوړولو پرمختګ ارزوي. یو شمیر شاخصونه چې باید په هرو دریو میاشتو کې راټول کړل شي چې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) په مشرتابه خپلواکه پروژو شمیر، د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د هغه کارکوونکو شمیر چې د نورو د مرستې او همکارۍ څخه پرته د ورکشاپونو، روزنیزو پرورګرامونو او نورو اړونده پروګرامونو د پلان جوړولو وړتیا ولري او د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د هغه کارکوونکو شمیر چې د دولتي اسنادو د مسودې او تمویلونکې ادارې ته د پروپوزل د لیکلو او چمتو کولو وړتیا ولري. عبارت دي.[372] د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د راپور ورکولو په دوران کې د یو شمیر لنډمهاله او اوږدمهاله کورسونو لپاره خپل پروپوزل بشپړ او واستولو. نوموړې کورسونه به د نیا پوهنتون له خوا د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د کارکوونکو د کارۍ مهارتونو او ټول ټال وړتیاوو (ظرفیتونو) د کچې لوړولو په موخه تدریس کیږي.[373]

## د حکومت په مشرتابه د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو پروګرام (GLE)

د حکومت په مشرتابه د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو پروګرام (GLE) د INL له خوا تمویلیږي. یاد پروګرام د کال په مختلفو وختونو کې فعالیت کوي چې د ولایتونو د حاصلاتو په فصل پورې اړه

لري. MCN د هغه راپورلو شوو پایلو چې وروسته بیا د UNODC له خوا تایید شوې وي، پیروي کوي.[374] په 2014 زیږدیز کال کې د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو تایید شوو پایلو کچه د دریم پرله پسې کال لپاره 2,692 هکټاره ته راکښته شوي ده چې دغه شمیره په 2013 زیږدیز کال کې د له مینځهوړل شوو حاصلاتو په پرتله چې 7,348 هکټاره وه، 63% کموالی ښیي.[375] د INL د معلوماتو سره سم د افغان حکومت چارواکي وايي چې دغه وروستی کموالی د کوکنارو د کروندو د له منځه وړلو د بهیر څخه د امنیتي ځواکونو د ویستلو او د ټاکنو بهیرد امنیت ساتلو لپاره د هغوی د ګمارلو له کبله رامینځته شوی دی.[376]

INL د 2015 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې په وروستیو کې د برتانیا عالي کمیسیون سره یوځای یو دوه ورځینی کنفرانس دایر کړ، چې په دې کنفرانس کې د نشه ای توکو پر وړاندې مبارزې وزارت، د کورنیو چارو وزارت، ملي امنیت ریاست، دفاع وزارت، د ولایتونو والیانو او نړیوالو مرستندویه ادارو ګډون کړی وو. په دې کنفرانس کې د 2015 زیږدیز کال د کوکنارو د کروندو د له منیځه وړلو پروګرام لپاره په ملي، ولایتي او ولسوالیو په کچه پلانونه جوړ او چمتو شول چې د مهال ویش سره سم به د 2015 زیږدیز کال د فبروري د 27 مې نېټې څخه د جولای تر 31 مې نېټې پورې پلې شي.[377] د INL د معلوماتو سره سم لومړني شاخصونه دادي چې د 2015 زیږدیز کال د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو پروګرام به د 2014 زیږدیز کال د پروګرام څخه زیاتې لاسته راوړنې ولري.[378] د2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې پورې 1,753 هکټاره ځمکه د کوکنارو د کروندو څخه پاکه شوي ده چې په پرتله ییز ډول په ورته وخت کې دغه شمیر تیرکال 793 هکټاره، په 2013 زیږدیز کال کې 2,721 او په 2012 زیږدیز کال کې 2,637 هکټاره وه. د دې کال تر پلان لاندې د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو پروژې د دې لپاره طرحه او ډیزاین شوي دي څو په هغه ولسوالیو کې چې کوکنار په پراخه کچه کرل کیږي، د کوکنارو د کروندو د له منیځه وړلو پروژو په پلې کولو سره د نشه ای توکو سوداګرۍ په وړاندې خنډونه رامینځته شي. د INL د معلوماتو سره سم له دې لارې به له یوې خوا د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو کچه لوړه شي او له بلې خوا به هغه بزګران چې په 2016 زیږدیز کال کې د کوکنارو د کرلو پریکړه کړې ده، په براخه کچه له خطر سره مخامخ کړي.[380]

په تیره ربع کې INL سیګار ته خبر وکړ چې MCN ته یې په ولایتونو کې د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو په موخه 47 تراکتورونه چمتو او ورکړی دي.[381] د معلوماتو سره سم د INL له خوا په دې ربع کې د چمتو شوو تراکتورونو ټول ټال بیه د 600,000 امریکایي ډالرو څخه تجاوز کوي.[382] MCN په 2013 زیږدیز کال کې 55 نوي ټراکتورونه ترلاسه کړي.[383] خو د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو په کچه چې 7,348هکټاره ده.[384] د 2012 زیږدیز کال په پرتله چې د 9,672 هکټارهوه، 24% کموالی راغلی دی. د INL د معلوماتو سره سم نوي تراکتورونه د موجوده 210 تراکتورونو څخه چې د مختلفو سرچینو څخه پیرودل شوي، لوی او پیاوړي دي.[385] MCN او د INL د کابل دفتر نوي تراکتورونه د کوکنارو د کرلو د کچې، ځمکې د اندازې او د پخوانیو تجهیزاتو د ذخیرې د بیاکتنې پربنسټ ځای پرځای کړي دي.[386] سره له دې چې په یو شمیر زیاتو ولایتونو کې د کوکنارو د کرلو کچه خورا ټیټه ده خو نومونه یې بیا هم د نوي تراکتورونو د لاسته راوړلو په موخه په لست کې لیکل شوي دي، په داسې حال کې چې په یو شمیر ولایتونو کې د کوکنارو د کرلو کچه خورا لوړه ده خو نومونه یې د نوي تراکتورونو د لاسته راوړلو له لست څخه لیرې کړل شوي دي چې بیلګې یې د راتلونکې مخ په 3.18 جدول کې ښودل شوي دي. د کونر او سرپل ولایتونو ته به دوه تراکتورونه ورکړل شي په داسې حال کې چې په 2014 زیږدیز کال کې په یادو ولایتونو کې په ترتیب سره په 754 او 195 هکټاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي وه.[387] سرپل په 2013 زیږدیز کال کې د کوکنارو څخه د یو پاک ولایت په توګه اعلان شوی وه. له بلې خوا د بادغیس، اروزګان او لغمان ولایتونو ته هیڅ تراکتور نه دی ورکړل شوی سره له دې چې په دې ولایتونو کې په زرهاوو هکټاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي دي.[388]

د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو بهیر په یو شمیر ولایتونو کې روان دی.[389] د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو کمپاینونه چې په دې وروستیو کلونو کې پراختیا ورکړل شوي وه او د 117 په 3.26 جدول کې ورڅخه یادونه شویده، په عمومي ډول د اپینو (تاریاکو) د کرلو او تولید د کچې د راټیټولو په برخه کې بې اغیزې پاتې شوه. د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو کمپاینونو او د هغې تهدیدونو په هغه سیمو کې چیرې چې شرایط مساعد وه، په سیمه ییزه کچه غوره اغیزې درلودې.

د INL د معلومامتو سره سم، لومړنی پایلې د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې وزارت (MCN)، د کورنیو چارو وزارت (MOI) او د حکومت د ولایتي ادارو چارواکو ترمنځ د غوره همکاریو ښکارندوی دي. که چیرې والیانو په ورته توګه خپل مشرتوب پیاوړی کړي وی نو په تیرو کلونو کې به

جدول 3.18

**د ولایتونو په کچه د GLE نوو تراکتورونو مرسته او د کرلو پایلي**

| ولایت | د 2014 زیږدیز کال د تراکتور مرسته | د 2014 زیږدیز کال د تراکتور مرسته (د فبروري میاشت) | د نشه ای توکو پروړاندي د مبارزي وزارت د 2015 زیږدیز کال د کوکنارو د کروندو له مینځه وړلو پلان لپاه فعال تراکتورونه | په 2013 زیږدیز کال کي د تاریاکو کښت (هکتار) | په 2014 زیږدیز کال کي د تاریاکو کښت (هکتار) |
|---|---|---|---|---|---|
| بدخشان | 2 | | 9 | 2,374 | 4,204 |
| بادغیس | - | | 0 | 3,596 | 5,721 |
| بغلان | - | | 0 | 141 | 168 |
| بلخ | - | | 4 | 410 | له کوکنارو پاک |
| بامیان | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| دایکندي | - | | 0 | 1,536 | 587 |
| فراه | 5 | | 19 | 24,492 | 27,513 |
| فاریاب | 1 | | 3 | 158 | 211 |
| غزني | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| غور | 3 | | 3 | 264 | 493 |
| هلمند | - | 14 | 39 | 100,693 | 103,240 |
| هرات | 6 | | 6 | 952 | 738 |
| جوزجان | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| کابل | - | | 0 | 298 | 233 |
| کندهار | - | | 20 | 28,335 | 33,713 |
| کاپیسا | - | | 0 | 583 | 472 |
| خوست | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| کونړ | - | 2 | 2 | 1,127 | 754 |
| کندز | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| لغمان | - | | 0 | 1,236 | 901 |
| لوګر | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| ننګرهار | 3 | | 5 | 15,719 | 18,227 |
| نیمروز | 7 | | 7 | 16,252 | 14,584 |
| نورستان | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| پکتیکا | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| پکتیا | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| پنجشیر | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| پروان | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| سمنګان | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| سرپل | 2 | | 2 | له کوکنارو پاک | 195 |
| تخار | - | | 1 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| اروزګان | - | | 5 | 9,880 | 9,277 |
| وردک | - | | 0 | له کوکنارو پاک | له کوکنارو پاک |
| زابل | 2 | | 5 | 1,335 | 2,894 |
| **ټول ټال** | **31** | **16** | **130** | **209,381** | **224,125** |

یادښت: د A "-" د معلوماتو په نه چمتو کولو دلالت کوي. د کرل شوو تاریاکو ټول ټال اندازه د هغي ارقامو سره چي د UNODC له خوا خپاره شوي، کم توپیر لري چي دا توپیر د اعشاري اعدادو د رونډ آف له کبله دی.

سرچینه: د سیګار معلوماتو غوښتني په اړه د INL ځواب. 3/27/2015: د سیګار د ارزوني په اړه د INL ځواب. 4/16/2015: UNODC، په افغانستان کي د 2014 زیږدیز کال د تاریاکو سروې: د کوکنارو کرل او تولید، 11/2014. p. 60.

شکل 3.26

**2008 – 2014 د تریاکو د کښت او له منځه وړلو پایلې** (هکتار په زر)




یادښت: یو هکتار له 10000 متر مربع سره مساوي دی.

سرچینه: UNODC، د *2014 کال د افغانستان د تریاک سروې: کښت او تولید*، 11/2014،مخ 26، 60، 67؛ UNODC، د 2014 کال د مخدره موادو راپور، 7/2014، مخ 87؛ UNODC، د *2013 د افغانستان د تریاک سروې*، 12/2013، مخ 32.

د افغانستان په زیاترو ولایتونو کې په یقیني ډول د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو کچه لوړه شوې وه.[390] په هر حال په سویل او ختیځ کې د کوکنارو د کروندو موسم چیرې چې کوکنار په پراخه پیمانه کرل کیږي، تقریباُ پای ته رسیدلی دی او ورسره د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې په 7مه نیټه د حاصلاتو راټولول هم پیل شوي دي.[391]

## د غوره اجرااتو پروګرام (GPI)

INL د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د هلوځلو سره مرسته او همکاري کوي څو ولایتونه د غوره اجرااتو پروګرام (GPI) له لارې په دوامداره توګه د کوکنارو څخه پاک کړي. لکه څرنګه چې د UNODCله خوا تایید شوی دی، هر ولایت د غوره اجرااتو پروګرام (GPI) د شرایطو سره سم د یاد پروګرام د پراختیایي پروژو له لارې د هر کال لپاره د یوې اندازې مالي مرستو مستحق دی څو یاد ولایت د کوکنارو د کښت څخه پاک شي. INL او د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د 2014 زیږدیز کال د اګست په میاشت کې د GPI II پروګرام اعلان کړاو د غوره اجرااتو پروګرام برخو ته په پراختیا ورکولو سره یې په هغې کې د عامه پوهاوي او قانونو د پلي کولو برخې هم شامل کړې چې د کوکنارو د 2014 او 2015 زیږدیزو کلونو د کرلو موسم کې پیل کیږي او د هغه پیسو اندازه یې د 1 میلیون امریکایي ډالرو څخه 500,000 امریکایي ډالرو ته راکښته کړه چې هر ولایت یې د کوکنارو څخه د بشپړه پاکوالي په بدل کې ترلاسه کوي.[392]

د هغه اندیښنو په تعقیب چې لومړنی پروګرام په نامناسب ډول پرمخ بیول شوی وه، د GPI II پروګرام لاندې پراختیایی مرستو کې به د پام وړ بدلون راشي څو د کلیوالوتولنو (وګړو) ارتیاوې د بدیل معیشت پروژو ته د رومبیتوب حق ورکولو له لارې چې بزګرانو سره د کوکنارو د کرلو څخه د مشروع حاصلاتو د کرلو لورې ته د لیرد په برخه کې مرسته او همکاری کوي، پوره کړي.[393] اوس مهال د GPI II پروګرام موافقتنامه باندې خبرې اترې رواني دي اود یاد پروګرام تر شرایطو لاندې به د پروژې په کچه شونې (ممکنه) مطالعات ترسره شي. یاد پروګرام به د پلي کیدو د نوو اسنادو د بشپړیدلو څخه وروسته د هیواد په ګوټ ګوټ کې پلي شي.[394]

د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت (MCN) د ارزوني سره سم، د GPI پروګرام د تجربو په برخه کې له ستونزو او ننګونو سره مخامخ دی. په 2014 زیږدیز کال کې د پروګرام د دوباره طرحه کولو په پایله کې د GPI د تدارکاتو بهیر د څو میاشتو لپاره ځنډول شو. د GPI یو شمیر پروژې چې په 2014 زیږدیز کال کې پلې شوې، د تدارکاتو مه مې مرحلې یې لا له وړاندې بشپړې کړې وې خو تر 2014 زیږدیز کال پورې لا نه وې ورکړل شوې. د GPI پروژې د تدارکاتو بطې بهیر په عموې ډول د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې وزارت د تدارکاتو او ارزوني د کمیټې د کارکوونکو د غیرممسلکي کار له کبله ځنډیدلې وې چې په پایله کې په 2014 زیږدیز کال کې MCN د GPI ټولې پروژې د تدارکاتو په پایپ لاین کې دوباره اعلان کړې.[395] یو شمیر نورې ننګونې موجود و لکه د پیسو ځنډول او د پروژې د پلې کولو په وړاندې امنیتي خنډونه.

د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې له 28 مې نېټې پورې د GPI ټول ټال 222 پروژې د 108.6 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت منظور شوي او له دې جملې څخه 80.5 امریکایي ډالر لګول شوي دي. د 166 پروژو د پلې کولو چارې بشپړې شوې، د 55 پروژو کار روان دی او د یوې پروژې چارې به په دې نږدې وختونو کې بشپړې شي.[396] INL د GPI پروګرام لاندې پلان شوو پروژو سره، په هر ولایت کې د ماموریت د تجربو په هکله د اداراتو ترمنځ د سلا او مشورې د طرحو له لارې د امریکې متحده ایالتونو حکومت د نور کارونود ټکر خطر راکموي. INL او همکاري اداره یې د امریکې متحده ایالتونوپر اختیایي اداري (USAID) سره د ستونزو او خطرونو څخه د مخنیوي په موخه سلا او مشوره کوي لکه د ورته ګټه اخیستونکو (مستفدینو) سره کار کول یا د سیالی کوونکو فعالیتونو وړاندې کول او په ممکنه ځایونو کې د بشپړو پروژو او فعالیتونو رامینځته کول. د افغانستان او پاکستان لپاره امریکې متحده ایالتونود بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د یو منظم کاري ګروپ کوربه توب وکړ څو د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت، دفاع وزارت، DEA، د امریکې متحده ایالتونوپر اختیایي اداري (USAID) او نورو اړونده ادارو کارکونکي د څوګونو پروګرامو په هکله د همغږۍ په موخه سره یوځای راغونډ کړي.[397]

## د بدیلې پراختیا پروګرام/بدیل معیشت پروګرام

د امریکې متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) د بدیلې پراختیاا پروګرام (ADP)، د امریکې متحده ایالتونو د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې له موخو څخه د ملاتړ لپاره د هغه هیوادو سره مرسته او همکاري کوي چې د نشه ای توکو د تولید په بدل کې اقتصادي پروګرامونو ته پراختیا ورکوي.[398] د INL د بودجې له لارې په ډیرو ساحاتو کې پروګرامونه تمویلیږي لکه د اکمالاتو د کچې کموالی او بدیله پراختیا.[399] INL سیګارته ویلي چې د امریکې متحده ایالتونو پرمختیایی اداري (USAID) سره په منظمه توګه همغږي کوي څو ډاډ ترلاسه کړي چې د INL له خوا تمویل شوې د بدیلې پراختیا پروژې تیرې او جارې پانګونې د امریکې متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) له خوا په افغانستان کې د مشروع معیشت او کلیوالو سیمو د پراختیا په برخه کې سره یوځای او بشپړوي.[400]

## د افغان حکومت پیاوړې کول او بدیل معیشت (SAGAL)

INL دخپلو هلوځلو (پروژو) د یوې برخې په توګه د بدیل معیشت پروګرام سره مرسته او همکاري کوي څو د نشه ای توکو د قاچاق پروړاندې مبارزه وکړي.[401] د آغا خان بنسټ نا دولتي اداره او همکاري اداري یې په افغانستان کې د SAGAL تر نامه لاندې د 12 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت فعالیتونه چې د INL له خوا د بسپنې (ګرنټ) په توګه ورکړل شوي، پلې کوي.[402] همکاري اداری د انفرادي پروژو څخه وړاندې د لاندې پنځو موخو سره د فعالیتونو سره مرسته او له هغې څخه ملاتړ کوي:

- د لوړ ارزښت لرونکو مشروع محصولاتو د سیستم د کرنیزو حاصلاتو اصلاح کول.
- د مشروع محصولاتو لپاره د اقتصاد بیرته راګرځیدو د کچې لوړوالی.
- پانګونې ته د بزګرانو د لاس رسي د کچې ښه کول.
- په غیرقانوني اقتصاد کې د ګډون په موخه د خطر سره مخامخ وګړو د زیان منني د کچې راټیټول.
- د سیمه ییزه حکومتي سیستم اصلاح کول.

جدول 3.19

**د بدیل معیشت پروګرام**

| اداره | د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټولټال بودجه (امریکایي ډالر) | د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر 31 مې نېټې پورې ټول ټال لګښتونه (امریکاي ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|
| د امریکې متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت | د افغان حکومت ولې او بدیل معیشت پیاوړې کولو پروګرام (SAGAL) | 7/21/2014 | 1/20/2016 | $11,884,816 | $3,926,198 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | د سوداګریزې باغدارۍ او کرنیزو توکو د بازارموندنې پروګرام (CHAMP) | 2/1/2010 | 12/30/2016 | 45,296,184 | 42,438,854 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | د بدیلو اقتصادي لارو چارو د پرمخ بیولوجایزې، شمال، ختیځ او لویدیځ (IDEA-NEW) | 3/2/2009 | 9/30/2015 | 159,878,589 | 150,702,887 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | د کندهار د خوراکي توکو زون (KFZ) | 7/31/2013 | 7/30/2015 | 18,695,804 | 12,544,000 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | په سویل کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-S) | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 22,279,151 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | په شمال کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-N) | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 4,177,911 |
| د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایي اداره | په لویدیځ کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-W) | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 3,532,601 |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID ځواب. 4/9/2015؛ د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د INL ځواب. 3/27/2015. د سیګار د ارزونې په اړه د INL ځواب. 1/14/2015.

د SAGAL فعالیتونه (پروژې) د افغانستان په ګوټ ګوټ کې په 16 ولایتونو کې پلې کیږي چې د بغلان، تخار، بامیان، کندز، پروان، فاریاب، کابل، بلخ، جوزجان، کندهار، ننګرهار، هلمند، لغمان، اروزګان او کونړخه عبارت دي.[403] INL سیګار ته خبر ورکړ چې تردې دمه 3.9 میلیونه امریکایي ډالر لګیدلي (ممصرف) شوي دي.[404]

د INL د معلوماتو سره سم د SAGAL فعالیتونه به تیرې او جاري پانګونې د امریکې متحده ایالتونو حکومت له خوا د مشروع معیشت او کلیوالو سیمو د پراختیا په برخه کې سره یوځای او بشپړې کړي. SAGAL به په ځانګړې توګه د GPI II لپاره د ملاتړ سیستم چمتو کړي. SAGAL به هغه ځایونو کې چیرې چې د ولسوالۍ پراختیایي پلان جوړولو جوړښتونه شتون ولري، د GPI II د پروژو د انتخاب د یو زیات تیت او پرک بهیر ملاتړ وکړي، چې د ولایت په کچه د GPI II پروژو د نوماندۍ په بهیر کې د سیمه ییزه ټولنو (وګړو) د اړتیاوو په ګوته کولو چارې اصلاح کوي.[405]

په 3.19 جدول کې د SAGAL او نورو بدیل معیشت پروګرامونو په هکله لنډ مالي معلومات چمتو او ځای پرځای شوي دي.

## د کندهار د خوراکي توکو زون (KFZ)

د کندهار د خوراکي توکو زون (KFZ) دوه کلنه پروژه ده چې د 18.7 امریکایي ډالرو په ارزښت د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا د INL سره یوځای د یوې ګډې کړنلارې (استراتیژۍ) او نړدې همغږۍ له لارې پلې کیږي. KFZ د کندهار ولایت په هدف لاندې ولسوالیو کې د کوکنارو د کرلو لپاره د بزګرانو د هڅونکو د معلومولو او په ګوته کولو په موخه طرحه او ډیزاین شوی دی.[406]

د امریکې متحده ایالتونونړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د ربعې په لومړیو کې د KFZ پلې کوونکې ادارې IRD کارونه د جدي خلاف کاریو له کبله په مؤقت ډول ودرول.[407] اوس مهال د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د سر څارونکې دفترد IRD مؤسسې په هکله ځکه د دې لپاره څیړنې ترسره کوي چې د امریکې متحده ایالتونو حکومت باندې ناوړه عملیاتي

لګښتونه حسابوي.[408] د دې کار په پایله کې د IRD ترون موده د موجوده پروژو د پای نېټې څخه وروسته نه اوږدېږي او نه هم کومه نوې پروژه ورکول کېږي. اوس مهال د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیايي اداره (USAID) په پام کې لري چې د KFZ د ترون موده یو کال وغځوي چې د پلي کولو چارې به یې د IRD پرځای د PIO د مؤسسې له خوا پرمخ بیول کېږي. د یو کال لپاره د پروژې د ترون غځول به د یو پل په شان رول ادار کړي په داسې حال کې چې د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیایی اداره (USAID) په ولایت کې د بدیلې پراختیا پروژې د راتلونکې پروژې لپاره د تدارکاتو بهیر طرحه او بشپړوي. د 2015 زیږدیز کال د جولای د 31 مې نېټې څخه وړاندې به د PIO سره ترون لاسلیک شي څو د KFZ د موجوده پروګرام څخه د KFZ نوې یو کلنې پروژې ته د لېږد چارې په نورماله توګه ترسره شي او هغه مزاحمت چې د پروژې د کارونو په وړاندې د IRD د کارونو د درولو له کبله رامینځته شوی دی، له مخې پورته کړي.[409]

د امریکې متحده ایالتونو نړیواله پرمختیايي اداره په دې ښه پوهېږي چې د IRD د کارونو درول به د پروژې چارې په لوړه کچه وځنډوي او د KFZ د پروژو حرکت به بطې کړي. د 2015 زیږدیز کال د جولای په میاشتې کې د تهدیدونکو کاروونکو د ترونونو د پای ته رسولو په پام کې نیولو سره د کارکوونکو ساتل به یوه ستره ننګونه وي.[410] د KFZ په پروژو کې 100 (بهرني او کورني) کارکوونکي پربشپړه وخت دندو بوخت دي.[411] د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) د دې ستونزې د لېرې کولو او حل په موخه اړینه بولي چې په چټکی سره د نوو ترونونو د ترسره کولو لپاره د چمتو والې و نیسي.[412]

د 2015 زیږدیز کال د فبروي میاشتې له 25 مې نېټې څخه د مارچ ترلومړی نېټې پورې د کانال د ودانولو او بیارغوني چارې د ژیړی په ولسوالی کې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلود کمپاین په خاطر د احتیاطي اقداماتو د نیولو په موخه د مؤقت وخت لپاره درول شي دي.[413] په نا امنه سیمو کې د کوکنارو د کروندو له مینځه وړلو هلې ځلې ځیني وختونه د وسله وال مقاومت سره مخامخ کېږي.[414] د هغه وخت راهیسې د ژیړی په ولسوالی کې د کانال د ودانولو او بیارغوني چارې له سره پیل شوې دي.د اپریل د میاشتې له 9 مې نېټې راهیسې په ولسوالی کې د پنځو پروژو له جملې څخه د څلورو د پلې کولو چارې بشپړې شوې دي او د یوې پاتې پروژې چارې %81 بشپړې شوې دي.[415] د بدیلې پراختیا نور فعالیتونه لکه د حاصلاتو د راټولولو څخه وړاندې او وروسته د بازار میندنې روزنیز پروګرامونه، د لمر پواسطه د میو او سبو وچولو لارو چارو پروژې، مسلکی روزنیز پروګرامونه د شنو خونو یا ښځو لپاره د سبو د تولید او پروسس کولو پروژې د مختلفو ولسوالیو په ګوټ ګوټ کې پرته له کموالي ادامه لري.[416]

د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې 31 مې نېټې پورې په KFZ باندې 12.5 میلیونه امریکايي ډالر لګولي دي.[417]

## د کرنیزې پراختیا منطقوی پروګرام (RADP)

د کرنیزې پراختیا منطقوی پروګرام (RADP) په پام کې لري چې د افغان بزګرانو سره د بشپړې او پایدارې اقتصادي ودې او پرمختګ په برخه کې مرسته او همکاري وکړی. د افغانستان په سویل، لویدیځ او شمالي سیمو کې د کرنیزې پراختیا د دریو منطقوي پروګرامونو چارې پرمخ رواني دي. د نوموړو پروژو ګډې موخې د غنمو ، لوړ ارزښت لرونکي حاصلاتو (لکه زینتي او کلنې کرنیز حاصلات) او څارویو محصولاتو د ښه کولو او اصلاح کولو په برخه کې د بزګرانو وړتیا (ظرفیت) لوړه او پیاوړې کړي.[418] نوموړې پروژې د ارزښتونو ځنځیر د لارو چارو څخه په ګټه اخیستلوله بزګرانو او د کرنیزو توکو له سوداګرو سره کارکوي څو هغه ځنډونه چې د تولیداتو، پروسس، د اموالو د پیرودلو او په عمومي ډول د کرنیزو ارزښتونو د ځنځیرونو د پرمختګ چارې له ځنډ سره مخامخ کوي، له مخې لیرې کړي.[419]

په سویل کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-S) د 125 میلیونه په ارزښت یوه پنځه کلنه پروژه ده چې د هلمند، کندهار، زابل او ارزوګان په ولایتونو کې خپل کارونه پرمخ بیايي. نوموړې پروژه د 2013 زیږدیز کال د اکتوبر په میاشتې کې پیل او د مهال ویش سره سم به د 2019 زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې پای ته ورسیږي.[420]

په سویل کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-S) کارونه د تولیدونکو، اتحادیو او سوداګرو د وړتیا (ظرفیت) لوړولو او پیاوړې کولو متمرکز دي څو د بازار غوښتنې (پوره) او د

---

**د ارزښتونو ځنځیر:** هغه بهیر چې په هغې کې یوه پراخه پیمانه مهم کرنیزمحصولات او خدمتونه د بزګر څخه وروستني پیرودونکي یا مصرف کونکي ته رسیږي،د ارزښتونو د ځنځیر په نامه یادیږي چې په هغې کې لومړي توکي، په کرونده کې حقیقي تولیدات، د حاصلاتو راټولولو څخه وروسته ذخیره کول، پروسس کول، بازار میندنه، لیږدول (ټرانسپورټیشن)، ټول پلونه او پرچون پلورنه شامل دي.

سرچینه: د سیګار د ارزوني په اړه د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) خواب. 4/12/2015.

ارزښتونو د ځنځیر د فعالینو ترمنځ د پیر او پلور اړیکو ټینګولو ته لاره هواره کړي[421] لکه پرچون پلورونکي، د لومړنیو موادو چمتو کوونکي، فابریکې او د کرنیزو توکو پلورنځي. په سویل کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-S) د ربعې په دوران کې د روزونکو د روزنې په موخه روزنیز پروګرام ترسره کړه څو د هغوی څخه معلومات لاربښوونکو بزګرانو او نورو ګټه اخیستونکو بزګرانو ته ولیږدوي.[422] همدارنګه نوموړی پروګرام د یوه سیمه ییزه شرکت (د کندهار د تازه میوو اتحادیه) سره کار کوي څو د حاصلاتو راټولولو څخه وروسته او د یخو خونو د لارو چارو په برخه کې د هغوی وړتیا (ظرفیت) لوړ کړي. د دې کار په پایله کې یاد شرکت په بریالیتوب سره دلومړي ځل لپاره لویدیځې آروپا ته انارصادر کړل.[423] همدارنګه په سویل کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADP-S) پاراویترنرانو ته د څارویو روغتیایی خدمتونو د ترسره کولو په موخه روزنیز پروګرامونه چمتو کړل.[424] د ربع په دوران کې د امنیتي وضعیت خرابیدل ښایي د یاد پروګرام فعالیتونو مخه ونیسي.[425]

په شمال کې د کرنیزې پراختیا منطوٍي پروګرام (RADP-N) د 78 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د 2014 زیږدیز کال د مئ په میاشت کې پیل شوه. نوموړې پروژه د بلخ، جوزجان، سمنګان، بغلان، کندز او بدخشان په ولایتونو کې کارونه پرمخ بیایي.[426] په 2014 زیږدیز کال کې په شمال کې د کرنیزې پراختیا منطوٍي پروګرام (RADP-N) فعالیتونه د څو میاشتو لپاره د پروګرام په پیلولو متمرکز وه. سربیره پردې د جوزجان، سمنګان او بغلان په ولایتونو کې د غنمو او لوړ ارزښت لرونکو حاصلاتو (خټکي، وچې میوې، مغزباب او انګور/ممیز) د ارزښتونو د ځنځیر د شننې او پلې کولو فعالیتونه پیل شوي دي.[428] په شمال کې د کرنیزې پراختیا منطوٍي پروګرام (RADP-N) د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) د 2014 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې به کرنیز نندارتون کې د ګډون په موخه د زیاتو سوداګرو سره مالی مرسته وکړه چې په پایله کې یې زیات اقتصادی بریالیتوبونه ترلاسه شول. د کرنیزو توکو د سوداګرو د معلوماتو سره سم هغوی په نندارتون کې خپل 80% کرنیز توکي او مالونه و پلورل او د نورو سترو تړونونو په هکله یې له پیرودونکو سره خبرې اترې وکړې، د کرنیزو توکو سوداګر د کرنیز نندارتون په دوران کې د ټینګو شوو اړیکو او ارتباطو څخه مننه کوي.[429]

په لویدیځ کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADAP-W) چې د هرات، فراه او بادغیس په ولایتونو کې فعالیت لري د 2014 زیږدیز کال د آګست په میاشت کې د 70 میلونه امریکایي ډالرو په ارزښت خپل فعالیتونه پیل کړل، نوموړې پروژې په لویدیځ کې د کرنیزې پراختیا منطقوي پروګرام (RADAP-W) د فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره د باالقوه سیمو او په یادو سیمو کې د موجودو ستونزو او خنډونو د په ګوته کولو لپاره د ارزښتونو د ځنځیر د شننې چارې پای ته رسوي.[430]

د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) سیګارته خبر ورکړ چې د سږکال په وروستیو کې د هیود په ختیځ کې د IDEA-NEW پروژې د پای ته رسیدلو څخه وروسته د RADP-East پروژې د پیل کولو پلان لري چې دغه پروژه په ننګرهار او یو شمیر نورو ختیځو ولایتونو کې فعالیت کوي. د یادې پروژې چارې به د ارزښتونو ځنځیر په پیاوړې کولو (د لومړنیو موادو چمتو کوونکو، د بازار دریمګړو او د کرنیزو توکو نورو سوداګرو سره کار کول، په ځانګړې توګه د جلال آباد په سیمه کې) او په ټیټه کچه د بزګرانو سره نیغ په نیغه کارکولو متمرکز وي.[431]

د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 2015 زیږدیز کال د مارچ 31 مې نېټې پورې 4.2 میلیونه امریکایي ډالر په 22.3، RADP-North میلیونه امریکایي ډالر په RADP-South او 3.5 میلونه امریکایي ډالر په RADP-West مصرف او لګولي دي.[432] د بدیل معیشت د دې پروګرام په هکله د لنډو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور د 119 مخ 3.19 جدول ته مراجعه وکړئ.

## د سوداګریزې باغدارۍ او کرنیزو توکو د بازارمیندنې پروګرام (CHAMP)

د سوداګریزې باغدارۍ او کرنیزو توکو د بازارمیندنې پروګرام (CHAMP) د امریکې متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 45 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پروګرام دی چې د کرنیزو توکو د حاصلاتو او خوراکي توکو د خوندیتوب د کچې لوړولو او سمون، د بازار میندنې فرصتونو چمتو کولو، او په هیواد کې د کوکنارو د تولید د کچې راټیټولو په موخه طرحه او ډیزاین شوی دی.[435] د سیمه ییزه افغان بزګرانو په مینځ کې د فقر او بې وزلۍ د کچې راټیټولو په موخه کار کوي چې دا کار له هغوی سره د نسبتاً کم ارزښته حاصلاتو (غنم او جوار) پرځای د لوړ ارزښت لرونکو حاصلاتو (میوې او سبو) د کرلو په برخه کې د مرستو او همکاریو د چمتو کولو له لارې ترسره کوي.[433]

CHAMP د غوره کرنيزو لارو چارو، د موادو د ذخيره کولو لپاره د ودانيو لکه سړو خونو او مميزو د وچولو خونو جوړلو په برخه کې روزنيز پروګرامونه چمتو کوي او همدارنګه د انګورو دباغونو بزګرانو سره مرسته کوي څود خپلو انګورو باغونه د ځمکې پرمخ پرتو دوديزه سيستمونو پرځاى د لوړحاصل ورکوونکو ځېږي (چيله اى) سيستمونو ته واړوي. همدارنګه CHAMP د کرنيزو توليداتو د صادرولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي چې دا کار د بزګرانو سره د سوداګرو او د سوداګرو سره د لوړ قيمت ورکوونکو بازارونو د اړيکو د ټينګولو له لارې ترسره کوي. د CHAMP په زياترو برخو کې ښځې کار کوي څوهغوى د کرنې سکتور د اصلي مسير سره يوځاى کړل شي.[434] نوموړى پروګرام د دوو نورو کلونو لپاره د 2016 زيږديز کال تر ډسمبر مياشتې پورې غزول شوى دى څو خپل فعاليتونه او سرچينې د ارزښتونو د ځنځير په هغه لارو چارو متمرکز کړى چې د حاصلاتو راټولو څخه وروسته کارونو او د بازار ميندنې فعاليتونو باندې ټينګار کوي.[435]

CHAMP د خپل نوي پروګرام د شرايطو سره سم د ارزښتونو د شپږو ځنځيرونو (انګور، بادام، انار، زردالو، مڼې، او خټکې) په برخو کې فعاليتونه ترسره کوي.[436] د نوموړي پروګرام فعاليتونه د باغدارى او بازار ميندنى په لارو چارو متمرکز دي څو د لوړارزښت لرونکو بازارونو (متحده عربي اماراتو سعودي عرب، استراليا، روسيه، او کانادا) لپاره د لوړ کيفيت ميوې توليد کړي.[437] افغان سوداګرو په لومړيو وختون کې خپل توليدات د ټول پلورنې بازارونو ته وړل چې هلته به کميشن کارانو د خپلو هيوادونو په بازارونو کې د دوى د توليداتو د پلورولو په بدل کې ورڅخه کميشن اخيستلو.اوس CHAMPافغان سوداګرو ته د دې زمينه مساعده کړيده چې د کميشن کارنو څخه پرته د يادو هيوادونو د بازارونو د پرچون پلورونکو سره اړيکې ټينګې کړي.[438]

د 2012 او 2014 کلونو په دوران کې CHAMP مختلفې لاسته راوړنې درلودې چې عبارت دى له: د کرنيزو لارو چارو د اصلاح کولو او سمون په موخه د 105,000 بزګرانو روزل چې په هغې کې 2,700 ښځې شامل دي، د نږدې درې ميليونه نيالګيو او بوټو د قلمو کرل چې 19,500 بزګرانو ورڅخه ګټه پورته کړيده، نړيوالو بازارونو ته د 33 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د 29,500 ټنو توليداتو صادرول. CHAMP د موادو د ذخيره کولو په موخه د 230 څخه زياتو ودانيو جوړولو (سړې خونې او د مميزو د وچولو خونې) او د کرنيزې سوداګرى (زراعتي تشبثاتو) په برخه کې 7,500 کسانو پربشپړه ورځ دندو ګمارلو لپاره لاره هواره کړيده.[439] CHAMP د ربعې په دوران کې د کندهار، کاپيسا، پروان، لوګر او وردکوپه ولايتونو د بزګرانو په سيمه ييزه ښوونځيو کې 264 بزګرانو ته چې له دې جملې څخه 32 تنه ښځې وې، روزنيز پروګرامونه چمتو کړي دي. د يادو روزنيزو پروګرامونو ګډون کوونکو د غوره کرنيزو لارو چارو لکه د باغونو او انګورو د ځېړو (چيلو) کنټرول او مديريت په هکله معلومات او عصري کرنيز سامان آلات تر لاسه کړل. همدارنګه CHAMP د 2015 زيږديز کال د جنورى په مياشت کې د خليج د خوراکي توکو په نندارتون کې د ګډون لپاره چې د فبروى په مياشت کې په دبى کې ترسره شو تيارى نيولى وه. په دې نندارتون کې افغاني توليدات د نړى د ګوټ ګوټ څخه راغلو پيرودونکو په وړاندې ننداري ته اېښودل شوي وه.[440] CHAMP د امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د نورو پروګرامونو سره يوځاى په هغه نندارتون کې چې د فبرورى د مياشتې له 8 مې نېټې څخه تر 12 مې نېټې پورې ترسره شو، اوو افغان سوداګرو ته د ګډون زمينه مساعده کړې وه.[441]

د امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د معلوماتو سره سم، د باغونو کرلو (کښينولو) او د انګورو د باغونو نوي کولو په پايله کې د بزګرانو عوايد دوچنده شوي دي. همدارنګه د CHAMP پروژې د کوکنارو يو د پام وړ بديل چمتو کړى او د کوکنارو د کچې راټيټولو په برخه کې يې حياتي رول لوبولى دى.[442] سربيره پردې د امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي اداره (USAID) وايي چې په ځمکو کې د ميوو انګورو د باغونو جوړول (يوځل چې باغونه ورسيږي او په مناسب ډول اداره او کنټرول شي) بزګران د کوکنارو دوباره کرلو ته نه پريږدي. سره له دې چې په ننګرهار کې د IDEA-NEW ا رزونه ښيي چې موضوع هميشه داسې نه ده او په ځينې سيمو کې باغونه له مينځه وړل کيږي او پرځاى يې دوباهر کوکنار کرل کيږي.[443] سره له دې ټولو خبرو امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د نوموړو پروژو کارونه بشپړ کړل، ځکه چې د CHAMP د فعاليتونو (پروژو) د ناکاميدواو د کوکنارو د دوباره کرلو چانس ډير کم دى.[444] د امريکې متحده ايالتونو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې له 31 مې



د کوکنارو کښت د غوټۍ (ګل) په حال کې (انځور ډیوېډ مانسفیلډ)

نېټې پورې 42.4 میلیونه امریکایی ډالر مصرف او لګولي دي.[445] د دې پروګرام د لنډو مالي معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور 110 مخ او 3.19 جدول ته مراجعه وکړئ.

## د افغانستان د شمال، ختیځ، لویدیځ لپاره د هڅوونکو اقتصادی بدیلونو پروګرام (IDEA-NEW)

د افغانستان د شمال، ختیځ، لویدیځ لپاره د هڅوونکو اقتصادی بدیلونو پروګرام (IDEA-NEW) د امریکې متحده ایالتونو د پرمختیایي اداری (USAID) د ماموریت 160 میلیونه امریکایی ډالرو پروژه ده چې د 2009 زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې یې کار پیل کړی دی. نوموړي پروګرام د هیواد په شمال، ختیځ، او لویدیځو سیمو کې مشروع او قانوني کرنیزو اقتصاد ته وده او پراختیا ورکړې ده.[446] د ربعې په دوران کې په مرکزي او ختیځو ولایتونو کې د پروژې په فعالیتونو کې د حسابداری او بازار میندنې په ګډون د موادو چمتو کوونکو او خوراکي توکو د پروسس کوونکولپاره د دندې په دوران کې د روزنیزو پروګرامونو غونډې شامل دي. په کابل او جلال آباد کې د خوراکي توکو د پروسس د شرکتونو او حکومت له استازو سره ورکشاپونه دایر کړل.[447] د IDEA-NEW په کوربه توب د SAGAL او امریکې متحده ایالتونو پرمختیایي اداری (USAID) پراختیایي پروژو سره د همغږۍ او د فعالیتونو (پروژو) د تکراري پلې کیدلو د مخنیوي په منظور د همغږۍ میاشتنی غونډې دایر او ترسره شوي دي. د امریکې متحده ایالتونو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې 150.7 میلیونه امریکایي ډالر لګولي دی.[448] د IDEA-NEW او د بدیل معیشت د نورو پروګرامونو په هکله د مالي معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور په 119 مخ کې 3.19 جدول ته مراجعه وکړئ.

## د نشه ای توکو د مخنیوي عملیات او پایلې

د امریکې متحده ایالتونو د دفاع وزارت له راپور سره سم، افغان امنیتي او د قانون پلې کولو ځواکونو د 2015 زیږدیز کال د جنوري میاشتې له 1 نېټې څخه د مارچ د میاشتې تر 17 مې نېټې پورې د نشه توکو د مخنیوي عملیات ترسره کړل چې په پایله کې 126 کسان نیول شوي دي.[449] په دې عملیاتو کې ورځینی ګز مې، د کمربند او تلاشي عملیات، د نقلیه وسایطو د مخنیوي اوتوقیف عملیات شامل وه. د امریکې متحده ایالتونو پوځ عمومی لوجستیکي او اطلاعاتي مرستي او ملاتړ پای ته رسولی دی په داسې حال

کې چې د نشه ای توکو د قانون پلې کولو ادارې (DEA) د افغانستان د څیړنې ځانګړې ځانګې (واحد) ته د مشورتی چارو په برخه کې خپلو مرستو او همکاریو ته ادامه ورکوي. د امریکې متحده ایالتونو د اطلاعاتو ټولنه د ائتلافي ځواکونو مشاورینو او استادانو ته د بشپړهدف لاندې راوستلو او تحلیل او شننې په برخه کې مرستې او همکاری چمتو کوي.[450]

د نشه ای توکو څخه د مخنیوی زیاتره فعالیتونه د ساحوی قوماندې په ختیځو او مرکزي برخو کې ترسره شوي. د نشه ای توکو دمخنیوي مخکینې عملیات د قوماندې په جنوبي سیمو کې متمرکز وه چیرې چې د تاریاکو زیاتره برخه کرل، تولید، پروسس او د افغانستان څخه د باندې قاچاق کیږی. د امریکې متحده ایالتونو دفاع وزارت وایي دوامداره کموالی ممکن د ائتلافي ځواکونود شمیر د کموالی له کبله وي کوم چې افغان ځواکونو ته یي د افغانستان په سویل او سویل لویدیځو سیمو کې د ګرځیدو لږه آزادي ورکړي وه.[451] د قاطع ملاترماموریت (RSM) د شرایطو سره سم، ائتلافي ځواکونه له دې وروسته د تروریزم پروړاندې د مبارزې د عملیاتو څخه پرته نور عملیات نه ترسره کوي.[452] د بین الاداری عملیاتو د همغږی مرکز (IOCC) په ګډون بین الاداری عناصرد نشه ای توکو د مخنیوي د افغان او ائتلافي ځواکونو د ګډو عملیاتو سره مرسته او همکاري کوي. IOCC د نشه ای توکو او یاغیانو په وړاندې د عملیاتو لپاره د لارې هوارولو په موخه د پوځ او قانون د پلې کولو سرچینو څخه معلومات ترلاسه او چمتو کړي وه.[453]

INL د افغانستان د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې پولیسو (CNPA) مرکزونو او د ځانګړې ځانګو (واحدونو) لکه افغانستان د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې پولیسو (CNPA) په چوکاټ کې د نشه ای توکو د مخنیوي ملي ځانګې (NIU) او په کابل کې د تخنیکی څیړنو (تحقیقاتو) ځانګې (واحد) سره د عملیاتو او ساتنې په برخو کې مرسته او همکاري کوي خو د ولایتونو د CNPA سره مرسته او همکاري نه کوي.[454] د امریکې متحده ایالتون دفاع وزارت افغانستان د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې پولیسو (CNPA) په چوکاټ کې د تفتیش او ارزونې ځانګې (واحد) ته روزنیز پروګرامونه، تجهیزات چمتو اود زیربنایي چارو په برخه کې مرسته او همکاري چمتو کړې ده.[455] د CNPA ځانګړی روزل شوی ځواکونه په کندهارکې د نشه ای توکو د مخنیوي ملي ځانګې (NIU) کاري ډلې سره چې په کندهار کې د قانون د پلې کولو منطقوي مرکز څخه د باندې میشت دي،یوځای خپلو عملیاتو ته ادامه ورکوي. د نشه ای توکو د مخنیوي ملي ځانګه (NIU) په ځانګړې ډول ده قضیې پرمخ بیولې دي چې په پایله کې درې قاچاق وړونکې نیول شوي او یوه کمه اندازه نشه ای توکې هم ضبط شوي دي. د یوې قضیې په پایله کې یو قاچاق وړونکی چې د حکومتي چارواکي سره اړیکې لرې، نیول شوی دی. دغه رامینځته شوي سیاسي حساسیتونه د امریکې متحده ایالتونو د مرستې او همکاری څخه پرته د نشه ای توکو د مخنیوي ملي ځانګې (NIU) د کارکوونکوله خوا په موقع حل او فصل شوي. د کورنیو چارو وزارت پولیسو د هلمند په ولایت کې د ملي دفاع وزارت د پوځیانو د عملیاتو سره په یو وخت کې د کوکنارو د کروندو د له مینځه وړلو عملیات ترسره او په لاره اچولې دي.[456]

د دې ربعې په دوران کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې د لاندې نشه ای توکو د قاچاق مخه نیول شوي او ضبط شوي دي:

- 8,077 کیلوګرامه اپین (تاریاک)
- 415 کیلوګرامه هیروین (پوډر)
- 961 کیلوګرامه چرس
- 1,027 کیلوګرام پری کرسر کیمیاوي مواد چې د هیروینو په جوړولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي لکه اسیتیک انهایدراید.[457]

نور مواد هم ضبط شوي دي خو د راپور ورکولو په دوران کې یې تفتیش او ارزونه نه ده شوي.[458]

د افغانستان حکومت د 2014 زیږدیز کال راهیسې د اسیتیک انهایدراید (هغه لومړني کیمیاوی مواد چې د هیروینو په جوړولو کې ورڅخه ګټه اخیستل کیږي) د واردولو د مخنیوي په موخه یو لړ ګامونه پورته کړي دي. د امریکې متحده ایالتونه، د سی مې هیوادونه او نور نړیوال همکاران هم هلې ځلې کوي څو افغانستان ته د دې ډول موادو واردول راکم کړي.[459]

لکه څرنګه چې په 3.20 جدول کې ښودل شوې ده، د نشه ای توکو د مخنیوي د پایلو کچه د 2012 زیږدیز کال راهیسې مخ په راټیټیدوده.

د نشه ای توکو اړوند کیمیاوي توکې هغه توکې دي چې د نشه ای توکو او رواني ناروغیو درملو په تولید، جوړولو او چمتو کولو کې ورڅخه کار اخیستل کیږي

سرچینه: UNODC د نشه توکو اړوند کیمیاوي توکو د څو ژبو قاموس

جدول 3.20

**د 2008 او 2015 مالي کلونو ترمنځ د نشه ای توکو د مخنيوي پايلي**

| | 2008 | 2009 | 2010 | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015* | ټول ټال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د عملياتو شمير | 136 | 282 | 263 | 624 | 669 | 518 | 333 | 144 | 2,969 |
| بنديان | 49 | 190 | 484 | 862 | 535 | 386 | 441 | 226 | 3,173 |
| ضبط شوي چرس (کيلوګرام) | 241,353 | 58,677 | 25,044 | 182,213 | 183,776 | 37,826 | 19,088 | 14,267 | 762,244 |
| ضبط شږي هيروين (کليوګرام) | 277 | 576 | 8,392 | 10,982 | 3,441 | 2,489 | 3,052 | 930 | 30,139 |
| ضبط شوي مورفين (کيلوګرام) | 409 | 5,195 | 2,279 | 18,040 | 10,042 | 11,067 | 5,925 | 495 | 53,452 |
| ضبط شوي اپين (ترياک) کيلوګرام | 15,361 | 79,110 | 49,750 | 98,327 | 70,814 | 41,350 | 38,307 | 17,954 | 410,973 |
| د ترياکو اړونده کيمياوي مواد (کيلوګرام) | 4,709 | 93,031 | 20,397 | 122,150 | 130,846 | 36,250 | 53,184 | 4,257 | 464,824 |

يادښت: يوکيلوګرام 2.2 = (Kg) پونډه. د لومړئ او دوی مي ربعي پايلې.

سرچينه: د سيګار معلوماتو غوښتني په اړه د امريکي متحده ايالتونو دفاع وزارت ځواب 3/31/2015.

د امريکې متحده ايالتونو دفاع وزارت د معلوماتو سره سم، د افغانستان د تفتيش او ارزونې څانګو (واحدونو) د ائتلافي ځواکونو د مرستې او همکارئ څخه پرته د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې پيچلي څيړنې (تحقيقات) او عمليات په برياليتوب سره ترسره کړي دي. په هر حال د ائتلافي ځواکونو د شمير کموالي د نشه ای توکو د مخنيوي عملياتو د پرمخ بيولو په برخه کې د افغانستان په وړتيا باندې اغيزه کړې ده. په ځانګړې توګه په کندهار او هلمند کې.[460] په 2014 زيږديز کال کې په عمومي ډول سره د نشه ای توکو پر وړاندې د مبارزې عملياتو کچه چې په 2011 زيږديز کال کې د ايساف ځواکونو د شمير په اوج کې 624 وه، 333راټيټه شوې ده چې 46.6% کموالی ښيي. په 2014 زيږديز کال کې د هيروينو د نيولو او ضبط کولوحقيقي کچه چې په2011 زيږديز کال کې 10,982کيلوګرامه وه، 3,052 کيلوګرامه ته راټيټه شوې ده چې 72% کموالی ښيي. په 2014 زيږديز کال کې د اپينو (ترياکو) د نيولو او ضبط کولوحقيقي کچه چې په 2011 زيږديز کال کې 98,327 کيلوګرامه وه، 38,307 کيلوګرامه ته راټيټه شوې ده چې 61% کموالی ښيي. د نشه ای توکو پروړاندې د ګډې مبارزې ډيټابيس د معلوماتو سره سم، په 2011 زيږديز کال کې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د ټولو عملياتو 75% په هلمند او کندهار ولايتونو کې ترسره شوي دي چې په 2014 زيږديز کال کې په ذکر شوو ولايتونو کې د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د عملياتو کچه 32% ته راټيټه شوې ده.[461]

دوه اړخيزه امنيتی تړون د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې د ماموريت کاري ډلوته د ائتلافي ځواکونو په روزنيزو پروګرامونو، سلامشورې او مرستو کې کوم بدلون نه دی راوستی. د افغانستان د نشه ای توکو پروړاندې د مبارزې پوليس (CNPA) د ائتلافي ځواکونو په سلامشورې او ملاتړ د افغانستان په ټولو برخو کې خپلو عملياتو ته ادامه ورکوي.[462]

## هوايي ملاتړ

د INL د معلوماتو سره سم، DEA ته د امريکې متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت د نشه ای توکو پروړاندې مبارزې په مرستو او همکاريو کې 116.6 ساعته پرواز چې 60.4 ساعته پرواز د نشه ای توکو د مخنيوی د پروژو، 37.3 ساعته پرواز د افغان NIU او DEA مسافرينو د وړلواو 18.9 ساعته پرواز د روزنيزو ماموريتونو لپاره شامل دی.[463]

# لړلیک (فهرست)


| | |
|---|---|
| مهمې پېښې | 127 |
| د افغانستان نوی حکومت | 128 |
| د افغانستان د حکومت له بودجې سره د متحده ایالاتو مرسته | 131 |
| ملي حاکمیت | 137 |
| د ولایتونو په سطحه حکومتولي | 141 |
| پخلاینه او بیرته یوځای کیدل | 146 |
| د قانون حاکمیت او د فساد سره مبارزه | 147 |
| بشري حقونه | 155 |

# حکومتولي

د 2015 د مارچ له 31 مې راهیسې، متحده ایالاتو تقریبا 31.9 بیلیونه ډالر د دې له پاره ورکړي دي چې په افغانستان کې د حکومتولی او اقتصادي پرمختګ ملاتړ وکړي. د دغې مرستې له جملې څخه له 18.6 بیلیونو ډالرو څخه ډېر د اقتصادي ملاتړ صندوق (ESF) ته ورکول شوي دي چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا اداره کېږي. د 4.7 بیلیونه ډالرو بل مبلغ د نشه یېزو توکو د کنټرول او د قانون د حاکمیت ادارې (INCLE)، چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت د نشه یېزو توکو او د قانون د تنفیذ د چارو د نړیوالې بیرو (INL) له خوا اداره کېږي، حساب ته تخصیص کړای شوي دي. د ESF او INCLE ادارې په ګډه په افغانستان کې د حکومتولی او اقتصادي پرمختګ د ملاتړ له پاره د ورکول شویو پیسو د تقریبا 73.2% حساب پرغاړه لري. د مالي کال په حساب د افغانستان د مرستې او بیارغونې د تخصیصاتو په هکله د معلوماتو له پاره د B ضمیمه وګورئ.

## مهمې پېښې

د 2015 د مارچ له 22 څخه تر 25 پورې، جمهور رییس اشرف غني او اجراییه رییس عبدالله عبدالله د لوړې کچې د یو لړ ملاقاتونو او بیانیو له پاره له واشنګټن ډي سي څخه لیدنه وکړه.[464] د افغانستان او پاکستان له پاره د ځانګړي استازي ډانیل فلیډمن په وینا، دغه ملاقات په دې متمرکز وو چې "دا تازه کړي چې متحده ایالات او افغانستان څنګه کولی شي چې په ګډه سره کار وکړي."[465] د دغه ملاقات په نتیجه کې متحده ایالاتو په افغانستان کې د حکومتولی د ملاتړ له پاره د لاندې هغو په شمول ګڼې مالي ژمنې وکړې:



**د سیګار** کارمندان او ځانګړی عمومي مفتش د ولسمشر غني سره په فبروري کې د ولسمشری ماڼی کې ناسته ترسره کوي. (د افغانستان اسلامي جمهوري دولت عکس)



**د سیګار** کارمندان او ځانګړی عمومي مفتش د عبدالله عبدالله او د هغه کارمندانو سره په اپریل کې ناسته ترسره کوي. (د افغانستان اسلامي جمهوري دولت عکس)

- د 800 میلیونه ډالرو په ارزښت یو پنځه کلن "نوی د ملګرتیا انکشافي" د تشویقاتو په اساس پروګرام چې د جمهور رییس غني د ریفورمونو د اجنډا ملا وتړي. د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) له خوا اداره کېدونکی دغه اقدام به مخکې ترمخکې تادیه شوې یا غوښتل شوې پیسې ولګوي او د نړیوال بانک د افغانستان د بیارغونې د وجهي صندوق (ARTF) له خوا به ترسره شي. د متحده ایالاتو د یوه جګپوړي افسر په وینا، د دغه پروګرام توپیر دا دی چې د تشویقاتو نښې "به یې لنډمهالې نه وي، بکس وګورئ، دا کار وکړئ، دا اصلاح راولئ" طریقې به د تشویقاتو په اساس پخوانیو پروګرامونو څخه وي، خو تمرکز به یې "په پراخو ریفورمونو یا انکشافي نتایجو باندې وي؛"[466]
- د انتخاباتي اصلاحاتو او عملیاتو د ملاتړ له پاره د 30 میلیونه ډالرو مالي مرسته به د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) له خوا تطبیق شي چې د سبا له پاره به د حقوقي او انتخاباتي ظرفیت – II دورې (UNDP/ELECT II) پروګرام پیاوړی کړي؛ او
- تر 10 میلیونه ډالرو پورې د UNDP له خوا حمایه کېدونکي د افغانستان د سولې او بیامېشتونې پروګرام (APRP) د ملاتړ له پاره څو د افغانستان د سولې عالي شورا (HPC) سره له هڅو سره مرسته وکړي.[467]

په داسې حال کې چې د غنی او عبدالله سفر په پراخه کچه بریالیتوب وګڼل شو، د ملي وحدت لا هم د درې میاشتنۍ مودې په پای کې پوره کابینه نه لرله او نه هم د درې میاشتنۍ دورې تر پایه حکومت له طالبانو سره د سولې د خبرو په پیلولو بریالی شو. د اپریل په اوایلو کې، یوې افغاني خبري ادارې د عبدالله له خولې راپور ورکړ چې ویل یې "زه د حکومت په کړنو هېڅ قانع نه یم؛ دوی غفلت کوي."[468]

په مارچ کې، یوه ځوانه ښځه چې فرخنده نومېده په کابل کې وروسته له هغه چې تورونه پرې ولګېدل چې قران کریم یې سوزولی دی د خلکو د یوې پارېدلې ډلې له خوا په مرګ ووهل شوه او وسوزول شوه. دغې وژنې به کابل کې پراخې مظاهرې رامنځته کړې.[469] د افغان حکومت د حقیقت موندنې د یوه راپور په اساس، د 27 کلنې فرخندې په مقابل کې لګېدلي تورونه غلط ول. که څه هم چې د پېښې په سر کې پولیسو هڅه وکړه چې مداخله وکړي، خو کله چې پارېدلي خلک لا ډېر په قهر شول هغوی هم ودرېدل.[470] د افغانستان لوی څارنوالۍ اعلان وکړ چې 49 کسان، چې 20 یې پولیس ول، د فرخندې د وژنې په تړاو نیول شوي دي.[471]

د ولایتي شوراګانو غړو د درې میاشتنۍ مودې له سر نه ترپایه وروسته له هغې مظاهرې وکړې چې ولسي جرګې د جنورۍ په 28مه داسې پرېکړه وکړه چې له ولایتي شوراګانو څخه یې د افغانستان د حکومت د ادارو د اجرأتو د څارنې واک واخیست. لږ تر لږه 22 ولایتي شوراګانو د احتجاج په لړ کې خپل دفترونه وتړل. دغه احتجاجونه وروسته له هغه پای ته ورسېدل چې جمهور رییس غني د یوه فرمان له مخې د ولایتي شوراګانو دغه صلاحیت بېرته پرځای کړ.[472]



**د مارچ په 26**، د متحده ایالاتو کابل سفارت په کابل کې د یوې ځوانې میرمنې وحشیانه قتل په یاد لمانځغونډه په لاره واچوله. (د بهرنیو چارو وزارت عکس)

## د افغانستان نوی حکومت

### لومړنۍ مقررۍ

د کمپاین پر وخت د دې وعدې چې حکومت به په سپتمبر کې له افتتاح څخه نیولې په 45 ورځو کې جوړېږي او د لندن د ډسمبر د 4 مې کانفرانس پر وخت وعدې سره چې کابینه به د یوې میاشتې په جریان

کي جوړېږي،[474] جمهور رييس غني په دې کې پاتې راغی چې د جنورۍ تر 12 مي يا د نوي حکومت له افتتاح څخه تر دري مياشتو ډېره موده کې، د حکومت د مهمو پستونو له پاره نوماندان اعلان کړي.[475]

د جنورۍ پر 28 مه، ولسي جرګې د کابينې له پاره د 19 نوماندانو له ډلې څخه نهه نوماندان تاييد کړل او ګڼ نور يې د دوه ګوني تابعيت، جنايي تعقيب، او نامکملو تعليمي اسنادو لرلو له امله له مخې ليرې کړل.[476]

د اپريل پر 1، د ولسمشر دويم مرستيال محمد سرور دانش د دفاع وزارت او لوی څارنوال د ياد وړ پستونو له نوماندانو پرته د کابينې پاتې غړي پارلمان ته معرفي کړل.[477] د اپريل پر 8مه، جنرال محمد افضل لودين چې د پخوانی کمونستي دورې يو قوماندان وو او د جمهور رييس غني له خوا د اپريل پر 6مه د دفاع وزارت له پاره نومول شوی وو، خپله نوماندي بېرته واخيسته او ويې ويل چې "زه نه غواړم چې زما د خلکو ترمنځ نفاق رامنځته شي." د اپريل پر 18مه، ولسي جرګې د کابينې ټول 16 غړي چې د اپريل پر 1 ورمعرفی شوي ول تاييد کړل. د دفاع وزير، د سترې محکمې د قاضی القضات، لوی څارنوال، او د افغانستان بانک د رييس په شمول ګڼ مهم پستونه تش پاتې شول؛ خو، د اپريل پر 20 مه د ولسي جرګې دويم مرستيال اعلان وکړ چې هغه د ملي وحدت د حکومت له دواړو مشرانو سره ليدلي دي او دا چې نوماندان به ژر اعلان شي.[478]

## د انتخاباتي اصلاحاتو ننګونې

لکه څنګه چې په تېره دري مياشتنی دوره کې راپور ورکول شوی وو، د 2014 انتخاباتو د انتخاباتي اصلاحاتو د دوامدارو اصلاحاتو له پاره ضرورت په ګوته کړ.[479] د 2014 د سپتمبر موافقي چې په نتيجه کې يې د ملي وحدت حکومت رامنځته شو د انتخاباتي اصلاحاتو په هکله د لاندې هغو په شمول ګڼ مواد لرل: (1) د انتخاباتي اصلاحاتو له پاره د يوه ځانګړي کمېسيون عاجل تاسيس څو د 2015 له پارلماني انتخاباتو څخه مخکې اصلاحات پلي کړي او (2) څومره ژر چې ممکنه وي افغان اتباعو ته د کمپيوټري تذکرو وېشل.[480] د دولت په وينا، افغان حکومت د دري مياشتنی مودې په بهير کې د انتخاباتي اصلاحاتو په برخه کې هېڅ مهم پرمختګ نه دی کړی.[481] د افغانستان پر انتخاباتو تمرکز کوونکي غيرحکومتي موسسې، د افغانستان د شفافو انتخاباتو فاونډېشن (TEFA) مشر هم ورته نظر څرګند کړ او د مارچ په اواخرو کې يې وويل، "زه د حکومت له خوا داسي سياسي اراده نه وينم چې انتخاباتي اصلاحات دې راولي."[482]

افغان او نړيوالو کتونکو د راتلونکيو پارلماني انتخاباتو څخه مخکې د انتخاباتي اصلاحاتو غوښتنه کړې وه. په اپريل کې، د افغانستان پر انتخاباتو تمرکز کوونکي غيرحکومتي موسسې، د افغانستان د شفافو انتخاباتو فاونډېشن (TEFA) د پارلمان له 125 غړو څخه د سروې نتايج خپاره کړل. د سروې نتايجو وښودله چې 92% ځواب ويونکيو د انتخاباتي قوانينو او د انتخاباتي ادارو د اصلاحاتو ملاتړ کړی وو.[483]

ټاکل شوې ده چې د پارلمان موجوده دوره د 2015 د جون پر 21 مه پای ته ورسېږي. د افغانستان اساسي قانون غوښتنه کوي چې د ولسي جرګې انتخابات د دورې له پای ته رسېدلو څخه 30 – 60 ورځې مخکې ترسره شي.[484] په فبرورۍ کې، د افغانستان له پاره د برتانيا سفير، ريچارډ سټګ، په يوه مرکه کې وويل چې د انتخاباتي ادارو له اصلاح څخه مخکې د انتخاباتو ترسره کول به "يوه لويه غلطي" وي.[485] د

مارچ په اواخرو کې په یوه مرکه کې له عبدالله څخه داسې رانقل شوي ول چې ویل یې، "تر هغه وخته پورې چې انتخاباتي سیستم اصلاح نه شي، انتخابات به ترسره نشي."[486] د اپریل پر 1، د ولسمشر دویم مرستیال دانش پارلمان ته وویل چې که انتخاباتي اصلاحات په وخت سره ترسره نشي کېدای شي چې پارلماني انتخابات د یوه کال په مخه وځنډول شي.[487]

د 2014 د سپتمبر په موافقه کې چې په نتیجه کې یې د ملي وحدت حکومت رامنځته شو د انتخاباتي اصلاحاتو د یوه کمېسیون د جوړولو له پاره یوه ژمنتیا شامله وه. د مارچ پر 21 مه، د ولسمشر دفتر اعلان وکړ چې جمهور رییس غني د انتخاباتي اصلاحاتو ځانګړی کمېسیون (SERC) جوړ کړی دی. د بیانیې تر مخه، جمهور رییس غني د انتخاباتي اصلاحاتو ځانګړی کمېسیون د دې له پاره جوړ کړی دی چې د افغانستان د انتخاباتو په سیستم کې "بنیادي اصلاحات" راولي، د قانون رول او دیموکراتیکه پروسه پیاوړې کړي، او له انتخاباتي قوانینو او اصولو څخه د سرغړونو مخه ونیسي. په بیانیه کې راغلي ول چې د انتخاباتي اصلاحاتو ځانګړی کمېسیون به 15 غړي ولري.[488] په اپریل کې، د انتخاباتي اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون د مرستیال له خولې نقل شوي ول چې کمېسیون د جمهور رییس غني او عبدالله تر منځ د "مخالفتونو" له امله کار نه دی پیل کړی. د انتخاباتي اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون له مرستیال څخه دا هم رانقل شوي ول چې د انتخاباتي اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون د غړو تر منځ د کمېسیون د ارزښت په هکله داخلي جنجال هم موجود وو، ځکه چې هغه یوه مشورتي اداره ده او د تصمیم نیونې صلاحیت یې له جمهور رییس غني سره دی.[489]

له 2009 کال راهیسې داسې پلانونه موجود ول چې بایومټریک کمپیوټري تذکرې توزیع کړای شي او د رایه ورکوونې په برخه کې د تقلب مخه ونیول شي. دغه پلانونه د لوجیستیکي ستونزو او په دې برخه کې د مخالفتونو له امله وځنډول شول چې د تابعیت د کټګوریو د په ګوته کولو له پاره په تذکرو کې کوم اصطلاحات وکارول شي.[490] د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) وینا، د کمپیوټري تذکرو توزیع د ملي وحدت د حکومت ترموافقې لاندې یو لومړیتوب وو، او افغان ولسمشر او اجرائیه رییس دواړو د دغه ډول تذکرو د کارونې ملاتړ کاوه. د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره او اروپایي اتحادیه دا مهال په کابل کې په یوه 90 ورځنۍ ازمېښتي دوره باندې کار کوي چې په هغې کې د کورنیو چارو وزارت له دولتي کارمندانو څخه د تذکرو له پاره د هغوی او د هغوی د کورنیومعلومات راټولوي.[491] د تذکرو پروژه همدارنګه له UNDP ELECT II سره کار کوي چې په کابل ښار کې په یوه ټاکلې ناحیه کې په راتلونکیو انتخاباتو کې یوه ازمېښتي پروژه ترسره کړي. د تذکرو پروژه به د وګړو هغه معلومات ټول کړي چې کېدای شي د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون له خوا د بایومټریک ډېټا په واسطه د کمپیوټري هویت پېژندنې په اساس د رایه ورکوونکیو د لست د جوړولو له پاره وکارول کیږي.[492]

د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) او نور مرستندویان دا مهال د راتلونکیو انتخاباتو له پاره د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام (UNDP) د ELECT II له خوا په وړاندیز شوې بودجه او د عمل په پلان باندې بحث کوي. د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) په وینا، په داسې حال کې چې د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) او نور مرستندویان غواړي چې ELECT II له راتلونکیو انتخاباتو سره مرسته وکړي، هغوی د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) ته روښانه پیغام لیږلی دی چې د رایه ورکوونکیو د نوم لیکنې او حدودو، د انتخاباتو د بشپړتیا، د پایښت د وړتیا، مالي ځارنې، او تقلب ضد ستراتیژۍ په برخو کې پرمختګونو ته اړتیا ده. UNDP ELECT II د مرستندویانو اندېښنې درک کړي او د افغانستان د انتخاباتو د مدیریت له ادارو سره کار کوي چې د عمل یو لا ښه پلان جوړ کړي.[493]

په فبروری کې، ډیموکراسي انټرنېشنل (DI) د یوې انتخاباتي سروې، چې د 2014 په اکتوبر او نومبر کې یې د 4020 افغانانو نظرونه راټول کړي ول، نتیجې خپرې کړې. ډیموکراسي انټرنېشنل ومونده

چې 62.1% ځواب ویونکیو دا منلې وه چې د 2014 کال انتخاباتو د خلکو اراده تمثیل کړه. د ځواب ویونکیو یو پراخ اکثریت (92.3%) په دې باور دی چې په افغانستان کې له پارلماني انتخاباتو څخه مخکې انتخاباتي اصلاحاتو ته ضرورت شته. یوازې 19.5% او 14.9% ځواب ویونکیو په ترتیب سره د افغانستان د انتخاباتو په خپلواک کمېسیون او د انتخاباتي شکایتونو په خپلواک کمېسیون ډېر باور ښودلی وو. له 2013 کال راهیسې د هغو ځواب ویونکیو شمېر چې د انتخاباتو په خپلواک کمېسیون او د انتخاباتي شکایتونو په خپلواک کمېسیون یې اعتماد نه درلود په ترتیب سره 13.5 او 10.9 نومرې زیات شو.[494]

د مارچ په اوایلو کې، د انتخاباتي شکایتونو خپلواک کمېسیون د هغې درې میاشتنۍ پلټنې نتایج اعلان کړل چې د 2014 په انتخاباتو کې یې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون د غړو د تقلب د تورونو د سپینولو له پاره کړې وه. د انتخاباتي شکایتونو د خپلواک کمېسیون په وینا، د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون په تقریبا 13000 موقتو او 20 دایمي کارمندانو باندې د تقلب او نورو سرغړونو تورونه ولګېدل.[495] وروسته د انتخاباتي شکایتونو خپلواک کمېسیون اعلان وکړ چې د فاریاب، خوست، او پکتیکا ولایتونو له پاره د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون جګپوړو ولایتي چارواکو تقلب یا نورې سرغړونې کړې دي او د 10 کالو په مخه له خپلو موقفونو څخه لیرې کړای شوي دي. د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون تقریبا 10000 موقت پرسونل د تقلب یا نورو سرغړونو له امله په تور لست کې ونیول شول.[496]

د مارچ په وروستیو کې، د ولسي جرګې د حقوقي او عدلي کمېسیون مشر د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون په چارواکو او د پارلمان پر غړو د انتخاباتو په قانون کې د تعدیلاتو د نه ملاتړ په بدل کې په راتلونکیو پارلماني انتخاباتو کې د هغوی د بریالي کولو د معاملې د وعدې تور ولګولو.[497]

## د افغانستان د حکومت له بودجې سره د متحده ایالاتو مرسته په منل شوې بودجه کې موافقو لنډیز

د حکومتولۍ د ودې او له افغاني اولویتونو سره د انکشافي هڅو د برابرولو له پاره، په 2010 کال نړیوالو مرستندویانو په کابل کانفرانس کې وعده وکړه چې د ملکي انکشاف د مرستو تناسب چې د افغان حکومت له بودجې سره یې کوي 50% ته لوړ کړي.[498] مرستندویانو، د متحده ایالاتو په شمول، دغه ژمنه د توکیو د 2012 د جولای په کانفرانس کې تکرار کړه او بیا یې د 2014 په ډسمبر کې د لندن په کانفرانس کې یو ځل بیا تازه کړه.[499]

لکه څنګه چې په راتلونکي مخ کې په 3.21 جدول کې ښودل شوي دي، د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) ته لرې چې 1.32 بیلیونه ډالره په فعالو مستقیمو دوه اړخیزو مرستندویو پروګرامونو ولګوي. هغه همدارنګه تمه لري چې 1.9 بیلیونه ډالره له ARTF سره مرسته وکړي. دا په هغو 1.37 بیلیونو ډالرو دپاسه بل مبلغ دی چې د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) او نړیوال بانک ترمنځ د بلاعوضه مرستې تړېخوانې موافقې لاندې تادیه شوی وو.[500] د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د زېربنا مرستندویې ادارې (AITF) ته 105 میلیونه ډالر تادیه کړي دي.[501]

د شیکاګو د 2012 په کانفرانس کې، نړیوالې ټولنې ژمنه وکړه چې په ابتدایي توګه د 228000 پرسونل له پاره د 4.1 بیلیون ډالرو کلنۍ بودجې په واسطه د اردو او پولیسو له پاره د جلا میکانیزمونو له لارې د افغان امنیتي ځواکونو مالي ملاتړ وکړي.[502] د ویلز د 2014 د سپتمبر په غونډه کې، د ناټو متحدینو او شریکانو خپله ژمنه بیا تازه کړه چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د مالي استحکام له پاره به د 2017 کال تر پایه پورې خپله مرسته جاري وساتي او دا چې تر راتلونکیو 10 کالونو پورې به له افغان ملي امنیتي ځواکونو سره مرستې ته دوام ورکړي. نړیوالې ټولنې له 2015 څخه د تقریبا 1 بیلیون

**مستقیم بودیجه:** د ډونرانو هغه بسپنو مجموعه ده چې د افغان دولت پلانونو سره ترتیب کیږي، د افغان دولت بودیجې اسنادو کې شامل شي، او د پارلمان لخوا مختص شي او د افغان خزانې سیستم لخوا اداره شي. د مستقیم بودیجې مرسته اساسا یا د ډونر او افغان دولت نهادونو ترمینځ مستقیم دوه اړخیز تړونونو له لارې وړاندې کیږي یا د څو ډونره وجهي صندوقونو له لارې.

سرچینه: سیګار، د متحده ایالاتو کانګریس ته درې میاشتنۍ راپور، 7/30/2014، مخ 130؛ د مالیه وزارت، "د انتقال او هغې نه وروسته لپاره د مرستې مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، مخ 8.

جدول 3.21

**د USAID مستقیم بودیجي مرستي**

| د پروژې/وجهي صندوق نوم | د افغان دولت مستقیم بودیجي ملګری | خانګړی بانکي حساب؟ | د پیل نیټه | د پای نیټه | ټولټال اټکل شوی لګښت ($) | د 3/31/2015 پورې مجموعي ورکړې ($) |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **له دولت څخه دولت ته دوه اړخیزې پروژې** | | | | | | |
| د بریښنا انتقال پراخولو او نښلولو پروژه (PTEC) | د افغانستان د بریښنا شرکت (DABS) | هو | 1/1/2013 | 12/31/2016 | $670,000,000 | $28,049,353 |
| د روغتیا خدماتو (PCH) برنامې لپاره د ملګرتیا قراردادونه | د عامې روغتیا وزارت (MOPH) | هو | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 210,034,769 |
| د شبرغان د ګازو پراختیا پروژه (SGDP) | د کانونو او پطرولیم وزارت (MOMP) | هو | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 0 |
| د کجکي واحد 2 پروژه (د کجکي هایدروپاور پلانټ ډیم کې د توربین جنراتور 2 نصب) | DABS | هو | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 18,424,853 |
| د کرنې پراختیا فنډ (ADF) | د کرنې، اوبو لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) | هو | 7/18/2010 | *12/31/2014 | 74,407,662 | 54,000,000 |
| لومړنۍ زده کړه او د سواد زده کړه او حرفه ای زده کړې او روزنه (BELT) - د ټولنې میشته زده کړه | د معارف وزارت (MOE) | هو | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |
| د افغانستان کاري ځواک پراختیا پروژه (AWDP) | MOE | هو | 9/18/2013 | 4/3/2016 | 30,000,000 | 664,275 |
| لومړنۍ زده کړه او د سواد زده کړه او حرفه ای زده کړې او روزنه (BELT) - د درسي کتابونو چاپ او توزیع | MOE | هو | 11/16/2011 | 12/31/2018 | 57,000,000 | 24,436,268 |
| د ای – حکومت سرچینې مرکز (EGRC) | د مخابراتو او معلوماتي ټیکنالوژۍ وزارت (MOCIT) | هو | 8/28/2013 | 6/1/2016 | 3,900,000 | 30,000 |
| **د څو بونړانو وجهي صندوق** | | | | | | |
| د افغانستان د بیارغوني صندوق (ARTF) (اوسنی ګومارنه) ** | څو | نه | 3/31/2012 | 3/31/2017 | 1,900,000,000 | 1,033,302,620 |
| د افغانستان د زیربنا صندوق (AITF) *** | څو | نه | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 105,670,184 | 105,000,000 |

یادونه: *غزول یې تر پروسس لاندې دي. **USAID د ARTF ته مخکینی ګومارنه لرې چې په مارچ 2012 کې جمعه بندي شوي او ټولټال 1,371,991,195 ډالر پکې توزیع شوي. د ARTF دوه ګومارنو څخه مجموعي ورکړې دامهال 2,405,293,815 دي. ***د اکتوبر په 9، 2014 کې، له AITF څخه USAID تر 179,500,000 ډالر له سره مکلف کړل.

سرچینه: USAID، OPPD، د سیګار د معلوماتو غوښتني ته ځواب، 3/26/2015 او 4/9/2015؛ USAID، د سیګار ارزوني ته ځواب، 4/12/2015.

یورو، چې خواوشا 1.29 بیلیونه ډالرکیږي کلنۍ[503] مرستې ژمنه کړې ده څو د 2017 تر پایه پورې د افغان ملي امنیتي ځواکونو مالي ملاتړ وکړي. د دفاع وزارت په 2015 مالي کال کې د 4.1 بیلیون ډالرو بودجې غوښتنه وکړه او ترلاسه یې کړل[504] چې دا به په 2015 کال کې د 352000 افغان ملي امنیتي ځواکونو په ثابت ساتلو کې مرسته وکړي.[505] د متحده ایالاتو حکومت په مارچ کې اعلان وکړ چې هغوی اراده لري چې پیسې برابرې کړي او لږ تر لږه تر 2017 کال پورې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د 352000 پرسونل مالي ملاتړ وکړي.[506]

د متحده ایالاتو د دفاع وزارت (DOD) تمه لري چې په 2015 کې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت سره د افغانستان له پاره د قانون او نظم د مرستندوی صندوق (LOTFA) له لارې 112 میلیون ډالره مرسته وکړي.[507] نورو نړیوالو مرستندویانو له LOTFA سره خپلې مرستې زیاتې کړې، او په دې توګه هغوی مرسته وکړه چې له[508] LOTFA سره د متحده ایالاتو د مرستو اندازه چې په تېر کال کې تقریبا 308 میلیونه ډالره وه راکمه شي.[509] د متحده ایالاتو د دفاع وزارت همدارنګه تمه لري چې سږ

کال د افغانستان د دفاع وزارت سره په مستقیمه توګه 1.597 بیلیونه ډالره او د افغانستان د کورنیو چارو وزارت سره په مستقیمه توګه 553 میلیونه ډالره مرسته وکړي.[510]
د لندن د ټایمز د اپریل د یوه راپور له مخې، د برتانیا حکومت پرېکړه کړې ده چې د اداري فساد د اندېښنو له امله له LOTFA سره خپله د 70 میلیونه پونډو (تقریبا 105 میلیونه ډالرو) مرسته وځنډوي.[511]

## په بودجه کې منل شوې ملکي مرسته

د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) (1) د افغانستان د حکومت له اوو ادارو سره د دوه اړخیزو موافقو له لارې او (2) د افغانستان د بیارغونې له مرستندوی صندوق (ARTF) او د افغانستان د زېربنا د مرستندوی صندوق (AITF) په نامه دوه داسې مرستندویو ادارو سره چې د ګنو مرستندویانو له خوا حمایه کیږي په منل شوې بودجه کې ملکی مرستې برابروي.[512] د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) په وینا، د دوه اړخیزې مرستې ټول فنډونه په جلا جلا بانکي حسابونو کې چې د مالیې وزارت له خوا د هر پروګرام له پاره تاسیس شوی دی، اچول کیږي.[513]

د افغانستان د بیا رغونې مرستندوی صندوق (ARTF) چې د نړیوال بانک له خوا اداره کیږي، د افغان حکومت د عملیاتي او انکشافي بوجو دواړو له پاره فنډونه برابروي او په دې توګه د افغانستان د حکومت د عملیاتو، د پالیسیو د ریفورمونو، او ملي اولویتي پروګرامونو په برخو کې مرسته کوي.[514] د افغانستان د زېربنا مرستندوی صندوق (AITF) چې د ګنو مرستندویانو له خوا مرستې ترلاسه کوي د اسیایي پرمختیایي بانک له خوا اداره کیږي، په افغانستان کې د بیارغونې د پروژو له پاره د مرستندویانو مرستې سره همغږې کوي.[515] د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) په وینا، په بودجه کې د منل شویو فنډونو ډېره برخه د ګنو مرستندویانو په مرسته چلېدونکیو ادارو، په ځانګړې توګه د افغانستان د بیارغونې د مرستندوی صندوق (ARTF) له لارې لګېدله او دغه لړۍ به په راتلونکي کې هم دوام ولري.[516]

نړیوال بانک، د ARTF د مدیر په توګه، داسې یوه سیستماتیکه قاعده په کار اچولې ده چې د هغې په اساس د ARTF فنډونه د اعتماد له خطر سره لړ مخامخ کیږي. په دې کې د خطر د په ګوته کولو، تحلیل، ارزونې، او بیا یې د له منځه وړلو او څارلو په هکله پالیسی، تګلارې، او مشقونه شامل دي. نړیوال بانک افغان حکومت ته تخنیکي مرسته برابروي څو یقیني کړي چې دغه ډول سیستمونه پرځای دي او پیاوړي کیږي.[517]

د متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) په وینا، د افغان حکومت د کنټرول په خپلو سیستمونو سربېره، نړیوال بانک له نږدې څخه د ARTF فنډونه څارې. نړیوال بانک په خپل نورمال نظارتي سیستم کې د ARTF د کتنې او مشورې د استازي او د ARTF د څارنې د استازي په بنه کنټرولونه ورزیات کړي دي. د افغانستان حکومت ته تادیات په منظمه توګه د کېدونکیو لګښتونو تر کړکۍ لاندې د حکومت له خوا د مستحقو ملکي عملیاتي لګښتونو له پاره کیږي. بانک یو د کتنې او مشورې استازی (Monitoring Agent) مقرر کړی دی چې په منظمه توګه کېدونکي لګښتونه له نظره تېر کړي. د کتنې او مشورې د استازي د تقرر هدف دا دی څو یقیني کړي چې په منظمه توګه د کېدونکیو لګښتونو تر کړکۍ لاندې شوی لګښتونه مناسب دي او چې نامناسب لګښتونه ترې لیرې کړي. د کتنې او مشورې د استازي کار په دوه مرحلو کې ترسره کیږي: د مېز په سر بیاکتنې پسې وروسته له اړوندې ساحې څخه لیدنه کیږي څو یقیني شي چې حمایه کوونکي تایید موجود دی.[518]

د تېرو درېوو درې میاشتنیو مودو پر وخت، سیګار د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداری (USAID) څخه غوښتنه وکړه چې د عملیاتي لګښتونو (د منظمو کېدونکیو لګښتونو د کړکۍ) له پاره د ARTF MA په هکله معلومات وړاندې کړي. د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) وویل چې هغوی نه پوهیږي چې MA څومره لړ یا ډېر له ولایتونو څخه لیدنې کوي او د دغو لیدنو په هکله معلومات نه لري. دغې اداری زیاته کړه چې په داسې حال کې چې نړیوال بانک ښایي له

مرستندویانو سره د MA راپورونه په خپله خوښه شریک کړي، خو هغوی ته یې په منظم توګه نه ورکوي.[519] د سیګار له غوښتنې سره هم، د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) په دې کې پاتې راغله چې د هغو راپورونه نمونې په لاس ورکړي. د نورو معلوماتو له پاره، د متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري سیګار د نړیوال بانک عامه راپور ورکوونې ته رهبري کړ، چې تر ټولو وروستی او تازه یې ښیي چې MA او نړیوال بانک د اخیستل کېدونکیو حقوقو لست (payroll) او د عملیاتو او مراقبت لګښتونه چې د 1393 مالي کال (د 2013 د ډسمبر 22 – د 2014 د ډسمبر 21) له پاره سپارل شوي ول، 100% تایید کړل. په تېرو کالونو کې، د ARTF په منظمو توګه کېدونکیو لګښتونو د کړکی کتونکي او مشوره ورکوونکي (MA) او نړیوال بانک د اخیستل کیدونکیو حقوقو د لست (payroll) له 73% څخه کمې تسلیمی (د افغانستان 1391 لمریز کال، د 2012 د مارچ 21 – د 2012 د ډسمبر 20) او د عملیاتو او مراقبت له 13.89% څخه کمې تسلیمی (1382، د 2003 د مارچ 21 – د 2004 د مارچ 19) تایید کړې وې.[521]

په دې درې میاشتنۍ دوره کې، USAID وښودله چې په منظمه توګه د کېدونکیو لګښتونو د کړکۍ، او همدارنګه د ټول ARTF په برخه کې د نړیوال بانک په مدیریت باندې د هغوی اعتماد د متحده ایالاتو د حکومت د دې تصمیم په اساس دی چې نړیوال بانک د 1 کټګورۍ عامه نړیواله موسسه ده. د USAID په وینا، د متحده ایالاتو قانون او پالیسی دا معنی لري چې USAID د ARTF د څارنې په برخه کې د نړیوال بانک له خوا په نړیواله توګه د منل شویو معیارونو په تطبیق باندې حساب کوي.[522] البته، سیګار د یوې بلې مرستندویې اداري، LOTFA، چې په منظمه توګه کېدونکی لګښتونه تر پوښښ لاندې نیسي او د 1 کټګورۍ د بلې عامه نړیوالې موسسې، UNDP له خوا اداره کېږي، د مدیریت په هکله اندېښنې راپورته کړې دي.[523] په یوه آډیټ کې چې په تېره درې میاشتنۍ دوره کې خپور شو، سیګار وموندله چې د UNDP له خوا په منظمه توګه د کېدونکیو لګښتونو لکه تنخاګانو د بیاکتنې له پاره مقرر شوی MA داسې یوه پروسه کاروله وه چې ښایي په مصنوعي توګه یې په بریالیتوب سره د تایید شوي پولیس پرسونل فیصدي له 59% څخه 84% ته لوړه کړې وي.[524]

## له افغان امنیتي ځواکونو سره په بودجه کې منل شوې مرسته

په بودجه کې د منل شوې مرستې یوه لویه برخه د افغان امنیتي ځواکونو له پاره ده. د متحده ایالاتو د دفاع وزارت افغان حکومت ته په بودجه کې منل شوې مرسته (1) د افغانستان د امنیتي ځواکونو مرستندوی صندوق (ASFF) څخه په مستقیمه توګه د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ته، او (2) د ګڼو مرستندویانو له خوا حمایه کېدونکیو LOTFA سره د ASFF د مرستو په بڼه کوي. LOTFA چې د UNDP له خوا اداره کیږي په لومړي سر کې د افغان امنیتي پولیسوتنخاګانې تمویلوي.[525] د مستقیمې مرستې فنډ د افغانستان د مالیې وزارت ته ورکول کیږي، چې هغه یې له اړتیا سره سم د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت ته ورکوي.[526]

د 2011 کال په فبرورۍ کې، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت یوه چارواکې په افغانستان کې د امنیتي چارو د انتقال ګډې قوماندانۍ (CSTC-A) ته صلاحیت ورکړ چې له ASFF څخه د افغانستان حکومت ته نېغ په نېغه مرسته ورکړي څو د بودجې د انکشاف او اجرأتو، تهیې او تدارکاتو له پاره د پلان نیونې په برخو کې د وزارت ظرفیت او وړتیا پیاوړې کړي. CSTC-A د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت سره د ASFF د ټولومرستو مدیریت کوي. CSTC-A د هغو فنډونو آډیټونه او اجرأت په رسمي توګه څارې څو د وزارت ظرفیت وارزوي، د مناسبو کنټرولونو او د محاسبې له مستندو پروسیجرونو سره د مطابقت، او د ژمنتیا یا تعهد په کلنیو لیکونو کې له موجودو شرایطو سره د مطابقت په برخه کې ډاډ ترلاسه کړي.[527] CSTC-A یوه د آډیټ څانګه لري چې له اتو آډیټورانو څخه تشکیل شوې ده چې د افغانستان د حکومت د مالي پروسو خپلواکه ارزونه ترسره کوي.[528] CSTC-A د افغانستان

د مالي مدیریت معلوماتي سیستم (AFMIS) څخه په اونیزه کچه ترلاسه کېدونکو معلوماتو باندې بیاکتنه کوي او د فنډونو د کفایت او د لګښتونو د اندازې په اساس د لګښتونو څارنه کوي.[529]

CSTC-A د AFMIS د لګښت معلومات تحلیلوي څو غیرنورمال حالتونه په کې په ګوته کړي. غیرنورمال حالتونه د هغو لګښتونو په هکله د AFMIS راپورونه دي چې په داسې کوډونو کې طبقه بندي شوي دي چې CSTC-A یې نه تمویلوي. داسې ښکاري چې د افغانستان حکومت په دې برخه کې کار کوي چې د دفاع د وزارت د لګښتونو غیرنورمال حالتونه محدود کړي، او په بالفعل توګه د لګښتونو په هکله د یوښتنو راکمولو ته لاره هواره کړي. کله چې CSTC-A د AFMIS په کوډبندی کې غیرنورمال حالتونه په ګوته کوي، دغه غیرنورمال حالتونه د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت ته ورلندې کېږي چې تصحیح یې کړي.[530] د CSTC-A د تحلیلونو په اساس، "په AFMIS کې [د دفاع وزارت د لګښتونو له پاره] د صحیح کوډبندۍ اندازه چې په 1392 مالي کال (د 2012 د ډسمبر 22 – د 2013 د ډسمبر 21) کې له 50% صحیح کوډبندۍ څخه په 1393 مالي کال (د 2013 د ډسمبر 22 – د 2014 د ډسمبر 21) کې 99% صحیح کوډبندۍ ته پورته شوې ده." CSTC-A وایي داسې ښکاري چې د افغانستان د دفاع وزارت "د پروسې په داسې یوه بدلون" باندې لاس پورې کړی دی چې "داسې ورانديز کوي چې [افغان حکومت] د CSTC-A د ناسمې کوډبندۍ د پروسیجر په هکله معلومات لري." د CSTC-A له خوا برابره شوې بسپنه چې په ناسم ډول کوډبندي شوې وي او د 30 ورځو په موده کې تصحیح نشي به په راتلونکي وخت کې له تادیاتو څخه پاتې شي.[531]

CSTC-A مني چې د AFMIS معلومات د افغانستان د وزارت د کارکوونکو له خوا درج کیږي، او د AFMIS د معلوماتو اعتبار د افغانستان د هماغه وزارت په کارمندانو پورې اړه لري. د مثال په توګه، که چېرې یوه معامله حذف کړای شي، CSTC-A به ترې خبره نه شي. CSTC-A د AFMIS له خوا د معلوماتو د کیفیت[532] د کومو نوبتي کتنو په هکله معلومات نه لري، خو راپور ورکوي چې CSTC-A په اونیز ډول د AFMIS بیاکتنې ترسره کوي او "معلومات یا ډېټا ترممکن اعظمي حده پورې تصحیح او اعتباري کوي."[533]

په تېره درې میاشتنۍ دوره کې، CSTC-A نوې موافقې وکړې، چې د ژمنتیا لیکونه ورته وایي، چې د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت سره مستقیمې مرستې کنټرولوي. د دفاع وزارت د 1394 مالي کال له بودجې سره د CSTC-A ټوله مرسته 89.47 بیلیونه افغانۍ ده (چې د یوه ډالر په مقابل کې د 56 افغانیو د ارزښت په اساس تقریبا 1.6 بیلیونه ډالر کیږي).[534] د کورنیو چارو وزارت د 1394 مالي کال له بودجې سره د CSTC-A ټوله مرسته 30.99 بیلیونه افغانۍ ده (چې د یوه ډالر په مقابل کې د 56 افغانیو د ارزښت په اساس تقریبا 550 میلیونه ډالرکیږي).[535]

د 1394 د موافقې مرستوCSTC-A ته دا اجازه ورکړه چې د سون توکو د خدمتونو په شمول په بودجه کې د نه راغلیو پخوانیو مرستو مدیریت افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ورانتقال شي. د ژمن لیکونو یا موافقه شویو مرستو په پام کې نیولو سره، د دفاع وزارت د تېلو اټکلې کلنۍ قیمت 262 میلیونه ډالر دی،[536] په داسې حال کې چې د کورنیو چارو د وزارت هغه په اټکلي توګه 150 میلیونه ډالر دی. CSTC-A دا حق له ځان سره خوندي ساتي چې له منل شوې بودجې څخه بهر د سون توکي وپېري.[537] CSTC-A د دفاع وزارت او د کورنیو چارو د وزارت دواړو په ژمن لیکونو کې لیدلې دي چې د تېلو په پېرودنه او انتقال کې فساد په ځانګړې توګه د اندېښنې وړ ټکی دی.[538]

لکه څنګه چې په تېره درې کلنه کې دوره کې راپور ورکول شو، سیګار د هغو جدي تورونو په هکله یوه جنایي څېړنه وکړه چې د دفاع وزارت د تېلو په قرارداد کې د قراردادي د توطیې، د قیمت ساتنې، او رشوت له امله فساد شوی دی.[539] په دې درې میاشتنۍ دوره کې، جمهور رییس غني د پېرودنې په برخه کې د فساد له تورونوڅخه وروسته د تقریبا 1 بیلیون ډالرو قرارداد، چې افغان ملي اردو ته به یې د درې کالونو په مخه د سون توکي رسول، فسخه کړ. همدارنګه جمهور رییس غني، وروسته له هغه چې د قرارداد د ګټونکي او یوه بل احتمالي قرارداد ګټونکي د مزایدې تر منځ د 214 میلیونه ډالرو د توپیر په

**له بودیجې غیر مستقیم مرسته:** د ډونر هغه فنډونو درلودونکې دي چې د افغان ملي بودیجې څخه خارج دي او د افغان دولت سیستمونو له لارې نه اداره کیږي.

سرچینه: سیګار، د متحده ایالاتو کانګریس ته درې میاشتنۍ خواب، 7/30/2014، مخ 130؛ د مالیه وزارت، "د انتقال او له هغې وروسته لپاره د مرستې مدیریت پالیسي،" 12/10/2012، مخ 8.

هکله خبر شو، په پلټنه لاس په کار شو.[540] د وال سټریټ جورنال د راپور له مخې، د جمهور رییس غني پلټنه په دې باندې تمرکز کوي چې آیا افغان چارواکو له ګټونکي غوښتنلیک ورکوونکي سره په ګډه توطیه کړې ده چې شرکت ته یې قرارداد په یوه غټ قیمت ورکړي. د ټیټ غوښتنلیک ورکوونکي شرکت استازو ادعا کړې وه چې پولیسو هغوی په ټاکلي وخت سره د غوښتنلیک له سپارلو څخه منع کړي ول. د راپور له مخې دا چې د هغوی غوښتنلیک له ټاکلي وخت څخه 15 دقیقې وروسته سپارل شوی وو نو مسترد کړای شوی وو. د پنځو جګپوړو افغان نظامي افسرانو او د وزارت د یوه ملکي چارواکي وظیفې د پلټنې د نتایجو تر پایه پورې ځنډول شوي دي.[541] په اپریل کې، د افغانستان د دفاع وزارت د قراردادونو د څارنې کمېټې وموندله چې احتمالي غوښتنلیک ورکوونکیو له یو بل او وزارت، د افغانستان د بیارغوني او انکشاف ریاست، او د افغانستان د تدارکاتو څانګړي کمیسیون سره همکاري کړې وه چې د سون توکو له پاره د بازار له نرخ څخه 100 میلیونه ډالر زیاتي پیسې حساب کړي. کمېټې راپور ورکړی وو چې د دغو کمپنیو له جملې څخه له یوې سره د قرارداد له لاسلیکولو څخه وروسته، یوه افغان چارواکي ته 5 میلیونه ډالر د رشوت په توګه ورکول شوي ول. دغې کمېټې سپارښتنه وکړه چې دخیل حکومتي چارواکي دې له کاره ګوښه کړای شي او د افغانستان حکومت دې د هغوی پر ضد قانوني ګام واخلي.[542] د جمهوري ریاست یوه ویاند وویل چې جمهور رییس غني به د کمېټې د سپارښتنو په اساس پرېکړه وکړي.[543]

د CSTC-A په وینا، د سون توکو د تدارکاتو څېړنه د دې سبب ګرځېدلې ده چې CSTC-A او افغان حکومت له بودجې څخه بهرحالت څخه په بودجه کې دننه حالت ته د سون او نورو توکو د تدارکاتو قرارداد انتقال بیا وازمویي او په ځینې حالتونو کې یې وځنډوي. CSTC-A د افغان حکومت د تدارکاتو پروسه بیا ازمویي چې د اجراَتو ستونزې، د ظرفیت کمزورتیا، د افغانستان د تدارکاتو له قانون سره په سمون کې پاتې راتګ، او نورې سیستمي ستونزې یې له منځه وېسي.[544] د 1394 ژمن لیکونه د سون توکو د قراردادونه په هرو دوه اونیو کې یو ځل له هر وزارت (د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت)، قراردادي پلورونکیو، او د ایتلاف استازو سره د اسنادو بیاکتنې ته اړتیا لري. CSTC-A د تنخاګانو او مهماتو په شمول د نورو اولویتونو تر څنګ خپلې د آډېټ هڅې د سون توکو په برخه کې متمرکزې کړې دي.[545]

د مرستندویانو او د کورنیو چارو وزارت ترمنځ له یوې موافقې څخه وروسته، د 2014 په ډسمبر کې LOTFA د موبایل فونونو له لارې د پولیسو د تنخاګانو لېږلو ازمېښتي پروګرام پای ته ورساوه. د موبایل له لارې د پیسو لېږلو ازمېښتي پروژه د دې له پاره وه چې د تنخاګانو په تادیاتو کې اداري فساد کم کړي، په ځانګړې توګه په هغو سیمو کې چې هلته بانکي خدمتونه نه وي. (په عادي توګه، یو "باوري استازی یا معتمد" نورې تنخاګانې په نغد ډول ورکوي.)[546] د موبایل له لارې د پیسو لېږلو پروګرام همدارنګه په داسې سیمو کې هم کار کاوه چې هلته تجارتي بانکونه موجود ول، خو ښه کاري نه ښکارېدل. د پولیسو وروستی ګروپ چې د موبایل له لارې ورته تادیات وشول هغه په غور ولایت کې 79 پولیس پرسونل او په بدخشان ولایت کې 221 تنه ول.[547]

د LOTFA له خوا د موبایل له لارې د پیسو د تادیاتو د ازمېښتي پروګرام له پای ته رسېدلو سره سره، د مالیې وزارت د خپلو 50 کارمندانو له پاره د موبایل له لارې د پیسو ورکړه پیل کړه. یو ځل چې ازمېښتي پروګرام بشپړ شي، د مالیې وزارت پلان لري چې پروګرام په ملي سطحه په چټکۍ سره پراخ کړي. د CSTC-A په وینا، دا به د موبایل له لارې د ټولو افغان ملي پولیسو د تنخاګانو په تادیاتو باندې په بالفعل

**د تدارکاتو ځانګړی کمیسیون (SPC):** د افغان دولت یو نهاد چې د قرارداد ګومارنو لپاره تدارکاتو کې دخیل دی چې د منظم تدارکاتو تصویب سرحد څخه تیری کوي (کوم چې د تدارک ډول پورې اړوند توپیر لري)، دا نهاد د دفاع وزارت سونګ توکو تدارک ناورین ناشایستګۍ باندې تورن شوی و. دا کمیسون د مالیه، عدلیه او اقتصاد وزیرانو څخه جوړ دی. د دفاع وزارت د سونګ توکو تدارک په وخت کې، SPC د مالیه وزیر عمر ضاخیلوال لخوا مشري کیده چې اوس د غني اقتصادي مشاور دی.

په نومبر 2014 کې، د فبروري 2015 اعلان دمخه چې غني د سونګ توکو تدارک پورې اړوند د دفاع وزارت چارواکي تعلیق کړل، د مالیه وزارت د تدارکاتو لوی قراردادونو د غني تر مستقیم نظارت لاندې مرکزي کولو پلان اعلان کړ. په فبروري کې غني یو فرمان صادر کړ چې د افغان تدارکاتو قانون یې تعدیل کړ او د SPC پرځای یې د تدارکاتو ملي کمیسیون (NPC) تاسیس کړ. د غني په وینا، هغه پلان لري د لوی قراردادونو تدراک د "څو کلونو" لپاره د ولسمشری کمیسیون لاندې راوړي چې د مهمو چارواکو ډلو څخه "د صداقت لپاره بې عیب او نقص اعتبار سره"جوړ دی او وروسته به تدارکاتو واک نورو افغان نهادونو ته وګرځوي. د NPC مشري د غني لخوا کیږي، او د ولسمشری لومړي او دوهم معاون، او د عدلیه، مالیه، او اقتصاد وزیرانو څخه جوړ شوی دی. دواړه غني او عبدالله په فعال ډول NPC کې برخه اخیستې.

سرچینه: *طلوع نیوز*، "غني د تدارکاتو دفتر رامینځته کوي ترڅو قراردادونه وڅاري،" 11/9/2014؛ *طلوع نیوز*، "د دفاع وزارت د سونګ توکو 100 میلیون ډالرو دسیسه راوسپړل شوه،" 4/9/2015؛ ملي عامه راډیو، "ټرانسکریپټ: د افغان ولسمشر اشرف غني سره د ملي راډیو مرکه،" 3/23/2015؛ پژواک، "د دفاع وزارت چارواکو دنده د لاس لرلو په تور تعلیق شوې،" 2/1/2015؛ د افغانستان اسلامي جمهوریت دولت، د تدارکاتو قانون، 2008 په جنوري 2009 کې د تعدیلاتو سره، 1/2009؛ USAID، OEGI، د سیګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/26/2015؛ پژواک، "ولسمشر د وزارتونو قراردادونه په دقت سره ګوري،" 4/12/2015.

توګه تاثیر وکړي. د CSTC-A سلاکارانو ته ویل شوي دي چې جمهور رییس غني غوښتنه کړې ده چې د پولیسو تنخاګانې دې د موبایل له لارې تادیه شي، خو دغه سلاکارانو په دې برخه کې لیکلي اسناد نه دي لیدلي. د CSTC-A په وینا، د LOTFA مرستندویان د دغه نوي ازمېښتي پروګرام ملاتړ کوي.[548]

په یوه تفتیش کې چې په دې درې میاشتنۍ دوره کې خپور شو، د متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي مفتش (DOD IG) وروسته له هغه اندېښمن شو چې د سیګار له لارې یې وموندل چې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پاینت له پاره د متحده ایالاتو د مستقیمي مرستې له پاره د قراردادونو په مدیریت باندې مؤثر کنټرولونه نه لري. په ځانګړې توګه، وزارتونو هغه انفرادي قراردادونه چې د متحده ایالاتو د مستقیمي مرستې له لارې تمویل کېږي په کافي اندازه جوړ کړي، ورکړي، اجرأ کړي، یا څارلي نه دي. د دفاع وزارت د عمومي مفتش په وینا، د افغانستان د مالیې وزارت د متحده ایالاتو د مستقیمي مرستې په برخه کې د دفاع وزارت او د کورنیو چارو د وزارت پلان نیونه، محاسبه، او لګښتونه په کافي اندازه نه دي څارلي، او نه هم د افغانستان د دفاع وزارت او د کورنیو چارو وزارت د مطابقت په برخو کې خپلې وظیفې داسې ترسره کړې چې د افغانستان د تدارکاتو له قانون او ژمن لیکونو سره سر وخوري.[549]

د CSTC-A د چارواکو، چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي مفتش (DOD IG) له خوا ورسره مرکې شوې دي، په وینا یو له هغو عمده دلایلو څخه چې د افغانستان وزارتونه د ظرفیت اړتیا وړسطحې ته ونه رسېدل "داخلي فشار وو چې پرې نه ږدي چې افغانان پاتې راشي." سربېره پر دې، د CSTC-A چارواکو څرګنده کړه چې بل دا فشار وو چې په سخته ترلاسه شوې لاسته راوړنې وساتل شي او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتو په برخه کې جوړجاړی وشي چې دا د دې باعث وګرځېدل چې ایتلاف د وزارتونو کمزورتیاوې په پام کې ونه نیسي. په پای کې، د CSTC-A چارواکو اکثر وختونه د وزارتونو دندې ترسره کولې، د ژمن لیکونو په شرایطو یې فشار نه اچولو، او د مالیې وزارت ته یې اجازه ورکړه چې ښوونکي په کې شامل نه کړي.[550] د CSTC-A په وینا، د د دفاع وزارت د عمومي مفتش (DOD IG) له خوا پېژندل شوې قاعده د CSTC-A رسمي موقف نه منعکسوي ځکه چې د CSTC-A پرسونل چې د وزارتونو دندې پرمخ بیایي نه تشویق شوي او نه هم تایید شوي دي.[551]

## ملي حاکمیت

متحده ایالات د افغانستان له حکومتي موسساتو سره مرسته کوي چې خپل ظرفیت داسې جوړ کړي چې مهم خدمتونه ترسره کړي او په دې توګه د افغانانو په منځ کې خپل مشروعیت ته وده ورکړي. مرسته په دوه طریقو سره وړاندې کېږي: (1) د قراردادونو، بلاعوضه مرستو، او د همکارۍ د قراردادونو په بڼه، او په مخ پر ودې توګه، (2) په بودجه کې د منل شوې مرستې له لارې. د متحده ایالاتو حکومت په دې تمرکز کوي چې د ظرفیت جوړوني او په بودجه کې د منل شویو پروګرامونو له لارې د افغانستان د حکومت د موسساتو د مالي او پروګرامي مدیریت ظرفیتونو ته وده ورکړي.[552]

د ټوکیو د دوه اړخیزمسؤلیت چوکاټ (TMAF) د نړیوالې ښکېلتیا د بنسټ د ډېرې په توګه کار کوي او د دوه اړخیزې مسؤلیت منلې د اندازه کولو یوه منل شوې تله ده.[553] نړیواله ټولنه او افغان حکومت د 2012 په جولای کې د ټوکیو په کانفرانس کې د TMAF په هکله سره یوه خوله شول. وروسته، TMAF ته د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې عاجل هدفونه ورپه غاړه شول چې "سخت اجرأت" نوم ورکول شو، لکه د کانونو د قانون تصویبول.[554] د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت ترمخه، داسې اراده موجوده

ده چې TMAF او اړوند شاخصونه افغان اتباعو، نړیوالو مرستندویانو، او نورو نړیوالو کتونکیو ته داسي یو تیار موجود میکانیزم په لاس ورکړي چې د اصلاحاتو په برخه کې د افغان حکومت ژمنتیا وارزوي او په دې توګه د مرستندویانو له پاره دا لاره پاکه کړي چې هغوی ورسره لا پراخي مرستي وکړي. د نه اجرأتو په صورت کې به د دوامدارو مرستو توجیه کمزوري وي.[555]

د متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) راپور ورکړی چې، د پالیسی له مخي، په کابل کي د متحده ایالاتو سفارت تر دي وروسته د سختو اجرأتو اصلي نسخه نه ارزوي او نه یې تازه کوي. د USAID په وینا، د سختو اجرأتو پخوانی ګروپ نور د بحث له دایرې څخه وتلی دی.[556] د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو د وزارت په وینا، نړیوال مرستندویان او افغان حکومت په دې اړتیا دې باندې بحث کړی دی چې TMAF بیا تازه کړي او په دې سره موافقه وکړي چې تغیرات باید د افغان حکومت د هغه سند؛ په ځان د بسیاینې پیژندل: د ریفورمونو او بیا تازه شوي ملګرتیا ژمنې په اساس وي چې د لندن د 2014 د ډسمبر په کانفرانس کې وړاندي شوي وه. افغان حکومت په دې کار کوي چې دغه سند د اولویتونو د عمل په پلان باندې چې د ملي اولویت پروګرامونه (NPPs) ورسره همغږي وي واړوي. په پام کې ده چې جګپوړي چارواکي د 2015 په سپتمبر کې سره جرګه شي.[557]

## د ظرفیت جوړوني پروګرامونه

د متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) د ظرفیت جوړوني پروګرامونه د دې له پاره دي چې د افغانستان د وزارتونو وړتیا داسي لوړه کړي چې په بودجه کې د منل شوي مرستي له پاره چمتووالی، مدیریت، او د حساب ورکووني مسؤلیت پرغاړه واخلي. دغه پروګرامونه همدارنګه د افغان حکومت د موسساتو د پراخ بشري او موسساتي ظرفیت جوړوني په برخو کې عمومي مرسته برابروي.[558] لکه څنګه چې په 3.22 جدول کې ښودل شوي دي، په دغو پروګرامونو کې د USAID له خوا د 31 میلیونه ډالرو په ارزښت د رهبری، مدیریت، او حکومتولی پروژه هم شامله ده چې هدف یې د افغانستان د مالي مدیریت د سیستمونو او د عامي روغتیا د وزارت او د ښووني او روزني د وزارت د ظرفیت پیاوړتیا ده څو په هغو شرایطو برابر شي چې په 2010 کال په کابل کانفرانس کې د مخ پر ودې په بودجه کې منل شوي مرستي له پاره ټاکل شوي ول.[559] د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) همدارنګه د ښځو د چارو د وزارت د تشکیلاتو د بیاجوړوني او پیاوړتیا پروژه تمویلوي. دا یوه 15 میلیون ډالري پروژه ده چې د نورو شیانو تر منځ له وزارت سره مرسته کوي چې د هغه مالي مدیریت هغسي پیاوړی کړي چې په راتلونکي وخت کې په بودجه کې د منل شوي مرستي له پاره ورته اړتیا ده.[560]

د دې له پاره چې د افغانستان وزارتونه وهڅول شي چې تر ډېره په ملکی خدمت تکیه وکړي او په "موازي ملکي خدمت" چې د مرستندویانو له خوا د ځانګړیو تمویل شویو پروګرامونو له لاري رامنځته شوی دي تکیه کمه شي او په لوړه کچه مستحق ملکي کارمندانو ته تنخاګاني تادیه شي، USAID پرېکړه کړې ده چې مرسته له مستقلو پروګرامونو څخه د ARTF اړوند ظرفیت جوړونه د نتایجو له پاره (CBR) پروګرام ته ور انتقال شي.[561] سي بي آر په ټول حکومت کې د عامه اداري د روانو ریفورمونو، د ټاکلیو ملکی مامورینو، او د وزارت د ریفورمونو د ملاتړ له پاره د محدودې مرستي ملاتړ کوي.[562]

په جنوری کې، نړیوال بانک وموندله چې سي بي آر د ورو تطبیق له امله په ځانګړې توګه د سي بي آر له خوا د حمایه کېدونکیو افغان ملکي مامورینو مقررې په برخه کې غیرقانع کوونکی پرمختګ کوي چې په نتیجه کې یې د نتایجو د شاخصونو په برخه کې پرمختګ محدودېږي. بانک وویل چې سي بي آر نشي کولی چې په تطبیق او قاعده کې له پام وړ بدلونونو څخه پرته خپل متوقع پرمختیایي هدفونه ترسره

جدول 3.22

**په ملي کچه د USAID د ظرفيت جوړونې برنامې**

| د پروژې نوم | د افغان دولت ملګرى | د پيل نيټه | د پاى نيټه | ټولټال اټکل شوى لګښت ($) | تر 3/31/2015 پورې مجموعي ورکړې ($) |
|---|---|---|---|---|---|
| د رهبريت، مديريت او حکومتولۍ پروژه | د عامې روغتيا وزارت<br>د معارف وزارت | 9/25/2012 | 6/30/2015 | $37,853,384 | $32,007,979 |
| د افغانستان قانون جوړونې نهادونو سره مرسته (ALBA) | پارلمان | 3/28/2013 | 3/27/2018 | 24,990,827 | 8,342,392 |
| د ښځو چارو وزارت نهادي جوړښت او واکمن کول (MORE) | د ښځو چارو وزارت | 12/20/2012 | 12/19/2015 | 14,182,944 | 5,268,555 |

سرچينه: USAID، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 4/9/2015.

کړي. د افغانستان نوى حکومت سي بي آر ته د ملي اولويت د پروګرامونو د تطبيق له پاره د يوې مهمې وسيلې په سترګه ګوري. د پروژې د ډيزاين، د ظرفيت د ستونزو، او سياسي/اقتصادي فکټورونو له امله د پرمختيايي هدفونو له پاره د اجرأتو په ترسره کولو کې د هغې عمومي پرمختګ کم وو.[563]

د نړيوال بانک په وينا، د چاپيرإل په پام کې نيولو سره، د ريفورمونو او روزنې له پاره د يوه جامع پروګرام جوړول چې د اندراج قوي معيارونه، د تنخا ګانو مناسبه اندازه، او د مديريت ضروري سيستمونه ولري يو مغلق کار وو. په ټاکلي مهالوېش کې د پروژې د تطبيق مرحله د پروژې هدفونو ته د رسېدلو له پاره د پام وړ چټکتيا ته ضرورت لري.[564]

د نړيوال بانک په وينا، د پروژې پرمختګ محدود وو. په څلورو وزارتونو کې د سي بي آر تاييد شوي پروګرامونه موجود دي چې دوه يې د 2014 په جولاى کې تاييد شول. ياد وزارتونه د کرنې، اوبه لګولو او مالدارۍ وزارت؛ د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجي وزارت؛ د کانونو او پيټروليم وزارت؛ او د کار او ټولنيزو چارو، شهيدانو، او معيوبينو وزارت دي. دغو وزارتونو له 600 څخه د ډېرو داسي ملکي کارمندانو د تقرر غوښتنه کړې وه چې د سي بي آر له خوا يې حمايه کېدلو ته ضرورت وو. نړيوال بانک تمه لرله چې د استخدام مرحله به وروسته له هغه چې سي بي آر د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون د حمايه کولو له پاره د بشري ځواک د استخدام يوه اداره له ځان سره ونيوله چټک شي، خو دا کار هغه وخت ناشونى وګرځېد چې افغان حکومت د 2014 په سپتمبر کې د ملکي خدمت د کارمندانو په تقرر بنديز ولګولو.[565] د اپريل پر 6مه، اعلان وکړ چې د پارلمان له خوا تاييد شوي وزيران کولى شي چې د اړتيا په صورت کې نوې مقررۍ وکړي.[566]

## ملي شورا

د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو د وزارت په وينا، د افغانستان پارلمان په مخ پر ودې توګه خپل مخ پر ودې ظرفيت او سياسي پوخوالى له ځانه ښيي. پارلمان سره له دې چې ستونزې لري خو بيا هم کولى شي چې له اجرائي څانګې سره خپلې قانوني بې طرفې وساتي او په وزارتونو باندې د عامو خلکو تمرکز رهبري کړي. مقننه څانګه لا تر اوسه هم د اجرائيه څانګې په نسبت کمزورې پاتې ده، خو داسې ښکاري چې د پارلمان غړي هڅه کوي چې خپل مټ پياوړى کړي. له هر څه سره سره، د اشخاصو په تقرر کې هڅې، اداري فساد، او د ښوونې او روزنې او تجربې ټيټې سطحې لا هم هغه ستونزې دي چې دغه موسسه ورسره لاس او ګرېوان ده.[567]

ولسي جرګه (وړه خونه) او د مشرانو جرګه (لويه خونه) د جنورۍ له 30 څخه د مارچ تر 6 پورې، د درې میاشتنې دورې په اکثره برخه کې، په خپلو ژمنيو رخصتيو وې.[568]

د ژمنيو رخصتيو له پیلولو څخه مخکې، د جنورۍ په 28 مه، ولسي جرګې د جمهور رييس غني او عبدالله له خوا د 19 نومول شويو وزيرانو له ډلې څخه 9 تنه تاييد کړل. هغه چې تاييد شوي وو په لاندې ډول ول:

- **د ماليې وزير:** اکليل حکيمي (د جمهور رييس غني انتخاب)، په متحده ايالاتو کې د افغانستان پخوانی سفير او د بهرنيو چارو پخوانی مرستيال وزير؛
- **د حج او اوقافو وزير:** فيض محمد عثماني (د جمهور رييس غني انتخاب)، پخوانی د پوهنتون استاد؛
- **د کانونو وزير:** داودشاه صبا (د جمهور رييس غني انتخاب)، د هرات پخوانی والي؛
- **د بهرنيو چارو وزير:** صلاح الدين رباني (د عبدالله انتخاب)، د سولې دعالي شورا پخوانی رييس؛
- **د کورنيو چارو وزير:** نورالحق علومي (د عبدالله انتخاب)، د کندهار پخوانی والي، د ولسي جرګې پخوانی غړی؛
- **د کډوالو او راستنېدونکيو وزير:** سيدحسين عالمي بلخي (د عبدالله انتخاب)، د ولسي جرګې پخوانی غړی؛
- **د کليو د بيارغوني او پراختيا وزير:** نصير درانی (د عبدالله انتخاب)؛
- **د عامې روغتيا وزير:** فيروزالدين فيروز (د عبدالله انتخاب)، د عامې روغتيا پخوانی مرستيال وزير؛
- **د ملي امنيت د رياست رييس:** رحمت الله نبيل (خپلواک)، د ملي امنيت پخوانی مشر.[569]

د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) په وينا، په داسې حال کې چې پخوا د پارلمان له پاره د نصاب حد پوره کول يوه ننګونه وه، په دې درې مياشتنۍ موده کې د پارلمان دواړو جرګو د مهمو قوانينو په سر د رايې ورکولو پر وخت د نصاب حد پوره کولو. په دې درې مياشتنۍ موده کې، ولسي جرګې د وزيرانو د پروګرامونو د اورېدلو پر وخت د نصاب د حد د پوره کولو په برخه کې ستونزه نه لرله.[570]

پارلمان همدارنګه خپلې ناستې هم ترسره کړې او د درې مياشتنۍ مودې پر وخت يې د لاندې هغو په شمول بېلابېل حکومتي چارواکي د استيضاح له پاره ور وغوښتل:

- د مارچ پر 15 مه، د مشرانې جرګې د بهرنيو چارو وزير او د کډوالو وزير په پاکستان کې د افغان کډوالو د مسئلې پر سر ور وغوښتل. د کډوالو وزير همدارنګه د عين مسئلې په سر د بحث کولو له پاره د مارچ پر 16 مه د ولسي جرګې په وړاندې هم حاضر شو.
- د مارچ پر 18 مه، ولسي جرګې د بهرنيو چارو وزير، د سولې د عالي شورا غړي، او د ملي امنيت د شورا مرستيال ورو غوښتل چې د روغې جوړې په هکله پوښتنې ځواب کړي.
- د مارچ پر 23 مه، ولسي جرګې د کورنيو چارو وزير، د دفاع مرستيال وزير، او د ملي امنيت د رياست مرستيال ور وغوښتل چې په هېواد کې د نا امنۍ په هکله پوښتنې ځواب کړي.[571]

د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID ) د 23 میلیونه ډالرو په ارزښت د افغانستان د مقننه ادارو مرستندویه پروژه (ALBA) د دې له پاره تمویلوي چې د افغانستان له پارلمان سره مرسته وکړي چې د یوه خپلواکي او مؤثرې مقننه، نماینده، او څارونکي موسسې په توګه عمل وکړي.[572]

د تېرې درې میاشتنۍ مودې پر وخت، ALBA له لاندې پارلماني کمېسیونونو سره مرسته وکړه چې په ولایتونو کې د کتنې له پاره سفرونه وکړي:

- **ننګرهار:** د مشرانو جرګې د معیوبینو او کډوالوکمېسیون؛
- **کندز:** د مشرانو جرګې د اقتصادي او بودجوي چارو کمېسیونونه؛ او
- **ننګرهار، کونړ، او لغمان:** د مشرانو جرګې د عامه ګټو د چارو، طبیعي منابعو او چاپېریال، او مذهبي چارو، لوړو زده کړو، ښوونې او روزنې، کلتوري چارو د کمېسیونونو ګډه کتنه.[573]

## د ولایتونو په سطحه حکومتولي

د متحده ایالاتو حکومت د ولایتونو په سطحه نوښتونو ملاتړ کوي څو افغانانو ته د هغوی په خپل حکومت کې د لا پراخې ونډې د برابرولو له پاره لاره هواره کړي. د دغه کار هدف دا دی چې ځایي حکومت لا ډېر د لیدلو وړ، حساب ورکوونکی او مسؤل، او د افغانانو په وړاندې ځواب ورکوونکی وګرځي.[574]

## د کلیوالي ثبات پروګرامونه

د متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) د ثبات ټینګولو ګڼ پروګرامونه لري چې هدف یې دا دی چې له افغان حکومت سره مرسته وشي څو خپل لاس بې ثباته سیمو ته ورسوي او د محلي حکومت ظرفیت جوړ کړي. په دغو پروګرامونو کې د USAID د ثبات په مهمو سیمو کې (SIKA) څلور پروژې، دوه د ټولنې د انسجام نوښت (CCI) پروګرامونه، د افغانستان د ملکي مرستو پروګرام (ACAP II)، او د ARTF د ملي پیوستون پروګرام (NSP) شامل دي. متحده ایالاتو غوښتنه کړې وه چې د ARTF د مرستو 865 میلیونه ډالر د ملي پیوستون پروګرام د ملاتړ له پاره وکارول شي، خو له 2012 راهیسې یې د ملي پیوستون پروګرام (NSP) سره د ARTF کومې اضافي مرستې نه دي مشخصې کړې.[575] د 3.23 جدول تر دې دمه د پروګرام ټول لګښتونه او تادیات ښيي.

### د سیګار تفتیش

سیګار د ثبات د نوښتونو د تاثیراتو د ارزونې (MISTI) د پروژې یو روان تفتیش لري. دغه آډیټ په پلان کې لري چې (1) هغه حد وارزوي چې په هغه کې د MISTI قراردادي د قرارداد له شرایطو سره سم د دریېم لوري په توګه د څارنې خدمتونه وړاندې کړي وي؛ (2) هغه حد وارزوي چې په هغه کې USAID د MISTI د پروګرام نتایج د ثبات پروګرامونو په پلانولو او تطبیقولو کې په پام کې نیولي وي؛ او (3) په MISTI کې نګونې په ګوته کړي، که موجودې وي، هسې چې USAID د دریېم لوري د څارنې په کارولو سره د ثبات د بیارغونې پروګرامونه او هغه حد چې په هغه کې USAID دغه نګونې له منځه وړې وي، وارزوي.

جدول 3.23

**د USAID نیمه ملي (کلیوالي) برنامې**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټولټال اټکل شوی لګښت ($) | تر 3/31/2015 پورې مجموعي ورکړې ($) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان بیارغونې صندوق (ARTF) له لارې د ملي پیوستون برنامه (NSP)* | 2004 | 2012 | $865,000,000 | $865,000,000 |
| په کلیدي سیمو کې ثبات (SIKA) ختیځ | 12/7/2011 | 9/6/2015 | 177,054,663 | 107,849,917 |
| SIKA سویل** | 4/10/2012 | 4/9/2015 | 116,888,836 | 67,472,586 |
| د ټولنې یووالي نوښت (ختیځ، سویل، سویل لویدیز) | 3/1/2012 | 2/28/2015 | 161,499,422 | 80,516,780 |
| د افغانستان ملکي مرستې برنامه (ACAP II) | 9/27/2011 | 2/15/2015 | 64,000,000 | 52,219,722 |
| SIKA لویدیز | 1/29/2012 | 8/31/2015 | 54,000,000 | 42,837,673 |
| SIKA شمال | 3/15/2012 | 4/30/2015 | 38,000,000 | 33,061,508 |
| د ټولنې یووالي نوښت (شمال، لویدیز) | 9/10/2013 | 9/9/2015 | 36,221,640 | 13,859,275 |

یادونه: *پدې کې ARTF ته د USAID مرستې د ملي پیوستون برنامې (NSP) ته په ترجیح سره شامل دي. د نړیوال بانک سره د تړون په وینا، ډونران یوازې د دوی ټولټال مرستې تر 50% په اړه د کارولو څرنګوالي په اړه ترجیح بیانولی شي. پاتې نا ترجیح شوی فنډ چې ARTF ته ورکړل شوی هم ممکن د NSP ملاتړ لپاره وکارول شي.
**د ورکړې معلوماتو کې د SIKA سویل دواړه ګومارنو لپاره ټولټال شامل دي.

سرچینه: USAID، د سیګار د معلوماتو غوښتنو ته ځواب، 4/1/2015 او 4/9/2015.

د USAID د ثبات د نوښتونو د تاثيراتو ارزونه (MISTI) پروژه يو د درېيم لوري د څارنې او ارزونې پروګرام دی چې د USAID د ثبات د پروګرامونو اغېزه ارزوي. په دې درې مياشتنۍ موده کې، سيګار له USAID څخه غوښتنه وکړه چې آيا MISTI په دې خبره ده چې د هغې ډېټا او معلومات په ځانګړې توګه د MISTI له خوا تمويل شوي سروې ګانې او په نتيجه کې رامنځته شوی د ثبات شاخص دې له پاره کارول کيږي چې د USAID د ثبات د پروګرامونو تاثير پرې معلوم شي. د MISTI تر مخه، د MISTI د سروې د ډېټا لومړنی هدف دا دی چې د کليو په سطحه د اغېزو داسې ارزونه وشي چې د کليو په سطحه د ثبات په هکله معلومات د USAID د پروګرام جوړونې په برخه کې خپل اغېز وښيي او دا چې دا به د وخت په تېرېدلو سره څنګه تغيرکوي.[576] خو د USAID اداره چې د MISTI څارنه کوي ځواب ورکړ چې

> د هغو پروګرامونو له پاره چې MISTI يې حمايه کوي د [USAID قرارداد کوونکې استازي] CORs تر ټولو ښه اشخاص دي چې دا ځواب کړي چې د [USAID افغانستان] ماموريت د ثبات په هکله ځانګړې ارزونې او تمايلات څنګه کاروي. MISTI په دې کې لاس نه لري چې [USAID افغانستان] ماموريت دغه نتايج په څه ډول کاروي، او نه هغه په دې کې لاس لري چې د دغو نتايجو په اساس تغيرات رهبري کړي يا د انفرادي CORs له خوا په دې برخه کې کېدونکې سمونې تعقيب کړي. د دغو پروګرامونو CORs کولی شي ځواب ورکړي چې هر پروګرام د MISTI ډېټا څنګه کاروي. د قرارداد په اساس، MISTI دا مسؤليت نه لري چې د دې څرک ولګوي چې هغه ډېټا يا معلومات چې هغه يې وړاندې کوي څنګه کارول کيږي.[577]

سيګار ته دغه ځواب متناقض ښکاره شو ځکه چې MISTI د يو لړغونډو کوربه توب کړی وو، چې USAID او د ثبات د پروګرام تطبيقوونکي شريکان ورته حاضر شوي ول چې په تېرو تجربو يې تمرکز کړی وو. البته، USAID وويل چې سره له دې چې MISTI په دغو غونډو کې خپلې موندنې وړاندې کوي، MISTI د USAID ماموريت د تصميم نيولو په پروسه کې چې دغه ډېټا يا معلومات څنګه کارول کيږي هېڅ دخالت نه لري.[578]

## ثبات په مهمو سيمو کې (SIKA)

د ثبات په مهمو سيمو کې (سيکا) هدف دا دی چې د ولسواليو او ولايتونو په سطحه د افغان حکومت له چارواکو سره مرسته وشي چې د ځايي خلکو انکشافي او حکومتي اندېښنې ځواب کړي، او په دې توګه يې په حکومت او د ثبات په ډېرېدلو کې اعتماد زيات شي.[579] د سيکا له څلورو پروګرامونو څخه د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) هدف دا وو "چې [د افغان حکومت] د يوې پراختيا په نظر ورته وکتل شي، نه د ډېرېدونکي بهرني حضور په توګه،" او دا يې روښانه کړه چې سيکا "بايد په افغاني ادارو کې کار وکړي" او په دې توګه د افغانستان د کليو د بيارغونې او پراختيا له وزارت سره په کار کې شريکه شي.[580]

د سيکا څلورواړو پروګرامونو ټولو، د سيمه ييزو اورګانونو له خپلواکې ادارې، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت، او د متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې سره يو ځای د 2014 له اکتوبر څخه د 2015 تر جنورۍ پورې د پايښت د وړتيا او انتقال په ورکشاپونو کې برخه واخيسته. د سيکا هر تطبيقوونکي شريک په راتلونکي کې د استعمال له پاره يو معلومات پکيج جوړ کړچې د پروګرام د پای ته رسېدلو د پلان په هکله يې معلومات وړاندې کول.[581]

د USAID د يوه ځواب په اساس، "د SIKAs له جملې څخه يوه هم د نتايجو د شاخصونو د يوې جامع دستې په هکله [ډېټا يامعلومات] نه ټولوي." د سيکا د پروګرام د څارنې او ارزونې يونټونو په پراخه پيمانه د ډېټا د تصفيه خانو په توګه کار کړی دی چې د تمرکز د يو شمېر ګروپونو په کارولو سره يې د اغېزو څو ارزونې او مخکې او وروسته ازموينې ترسره کړي دي. د MISTI له ليدلوري څخه، د سيکا



**په هرات ولايت کې د SIKA** لويديز 220 ميتره کانال پروژه. (د USAID/SIKA لويديز عکس)



**په وردګ ولايت کې د SIKA** ختيځ ملاتړ شوې ښوونځي د لوبو ميدان. (د USAID/ SIKAختيځ عکس)

هڅې هېڅکله هم دومره دقيقې يا په کافي اندازه سيستماتيکې نه وې چې د خپلو پروګرامونو د نتايجو په هکله دې پوه شي.[582] په ځواب کې، د USAID ادارې چې د سيکا پروګرامونه څاري داسې نظر ورکړچې د سيکا د څلورو پروګرامونو د اجرأتو د څارنې پلانونه بايد د نتايجو او اغېزو د هغو شاخصونو لنډيز واخلي چې د سيکا د پروګرامونو په واسطه راټولېږي.[583]

## د ټولنې د پيوستون نوښت (CCI)

د متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د ټولنې د پيوستون د نوښت (CCI) پروګرامونه، چې يو يې د ختيځ، جنوب، او جنوب ختيځ سيمې پوښي او بل يې د شمال او لويديځ سيمې تر پوښښ لاندې راولي د دې هدف له پاره کار کوي چې په هغو سيمو کې چې د ناوتريخوالي او د ياغيانو د ورانې له امله کم وسه شوي وي هغه څه چې USAID ورته "بيارغېدنه" وايي ترسره کړي. CCI داسې نوښتونه پلي کوي چې په هغو کې د ټولنې رهبري طبقه او حکومتي چارواکي د محلي او د ټولنې د انکشافي پروژو په ګوته کولو او نظارت کې بوخت کړي. همدارنګه CCI د سپورټ يا ورزش په پروګرامونو کې د سولې په پلوۍ کمپاينونه ترسره کوي.[584]

په دې درې مياشتنۍ موده کې، د CCI هغه پروګرام چې ختيځ، جنوب، او جنوب ختيځ سيمې تر پوښښ لاندې لري د فبرورۍ پر 28 مه پای ته ورسېد.[585]

د CCI د څارنې خپلواک يونټ (IMU) د ځوانانو او بيارغېدنې په هکله يوه څېړنه خپره کړه چې هدف يې دا وو چې د CCI د پروژو اغېزه چې هدف يې د ځوانانو او د هغوی د ټولنو او محلي حکومت ترمنځ اړيکو ته وده ورکول وو وارزوي. راپور وموندل چې د ناوتريخوالي کچه او د ټولنې انسجام په هغو ولسواليو کې چې د CCI ملاتړ يې ترلاسه کړی وو يو له بل سره فرق لري؛[586] البته، له راپور څخه دا نه وه روښانه شوې چې CCI د دغو شاخصونو په برابرولو کې څه رول لوبولی وو. د CCI په هدفونو کې د سوله ييز انتقال او د ناوتريخوالي د تهديدونو د له منځه وړلوپه برخه کې د ټولنې د ظرفيتونو پياوړي کول شامل وو.[587] البته د USAID په وينا، CCI "دا ادعا نه کوي او نه اراده لري چې په دغو سيمو کې په امنيت باندې کوم ډول تاثير وکړي."[588] د IMU په وينا، "ټولې [پروژې

---

**بيارغېدنه:** د متحده ايالاتو د نړيوالې پراختيايي ادارې ترمخه، "د خلکو، کورنيو، ټولنو، هېوادونو او سيستمونو داسې وړتيا چې ور رسېدلي ټکانونه او پرېشانۍ داسې کمې کړي، ځانونه ورسره عيار کړي او ترې راوځي چې مزمنه بې وسي په کې کمېږي او يوه کلي وده اسانوي،" او زياتوي چې، "د انعطافي هوساينې مفهوم او اندازه پېچلي دي."

سرچينه: USAID، "د پراختيا اجنډا: په USIAD کې د پراختيا سنجول،" 6/2013.

---

چې ځوانانو ته د ګټې رسونې له پاره وې] ګټورې وګڼل شوې." چې د مهارتونو په اساس روزنې ته چې کولی شي د استخدام فرصتونو ته وده ورکړي په کې پراخ ملاتړ موجود وو.[589]

خو د IMU راپور په دې هکله ډېر اسناد نه دي وړاندې کړي چې د CCI د ځوانانو پروژې په امنیت یا سیاسي وضعه باندې داسې بریالۍ شوې چې خلکو ته لا ډېر سکون او پیوستون ور په برخه کړي. په یوه قضیه کې چې په راپور کې روښانه شوې ده، IMU هغه رواني ستونزې په نښه کړې دي چې د ځوانانو یوه ټولنه چې له CCI څخه مخکې موسسې، د افغانستان د ثبات نوښت- ختیځ (ASI-E) له خوا حمایه کېدله ورسره مخامخ ده. د افغانستان د ثبات نوښت- ختیځ (ASI-E) له خوا حمایه کېدونکې د ځوانانو ټولنه وروسته له هغه منحل شوه چې بهرنۍ مالیه مرسته ورسره پای ته ورسېده. حتی هغه وخت چې مالي مرسته یې تر لاسه کوله، د ځوانانود ټولنې برخه والو موندلې وه چې په ولسوالۍ کې رواني نا امنۍ په نورو کلیو کې د ټولنې د فعالیت مخه نیوله او د ولسوالۍ په نورو برخو کې یې ځوانانو ته د هغوی لاس رسی محدودولو. د ټولنې غړیتوب یوه کلي پورې چې په هغه کې افغان امنیتي ځواکونو ښکاره کنټرول درلود محدود شو.[590]

د تر لاسه شویو تجربو تر منځ، راپور دا یادونه کړې وه چې د طالبان له خوا په کنټرولېدونکیو ټولنو کې ځوانان نشي کولی چې خپل غړ. پورته کړي او د طالبانو له خوا هغوی ته د ځاني زیانونو د رسېدلو له امله د ځوانانو په نوښتونو کې برخه واخلي. همدارنګه، په ډېرو ځایونو کې، ځوانان راپور ورکوي چې د هغوی ټولنې د هغوی د فعالیتونوپه هکله شکونه لري.[591]

## د افغانستان د ملکي مرستو پروګرام II (ACAP II)

په دې درې میاشتنۍ موده کې، د MISTI پروګرام د ACAP II د اجرأتو د ارزونې وروستی راپور خپور کړ. ACAP II هغو کورنیو ته چې د ایتلاف د پوځي ځواکونو او طالبانو او نورو یاغیانو ترمنځ د ټکر په نتیجه کې زیانمنې شوې وې بشري مرستې برابرې کړې.[592] د ACAP II په مرستو کې عاجلې مرستې (مهم توکي چې د پروګرام په لومړي کال کې یې تر 50 ډالرو پورې ارزښت درلود او په دویم او دریم کال یې ارزښت تر 400 ډالرو پورې لوړ شو)، طبي مرستې او مراجعې، متممې مرستې (د ویجاړو شویو زېربناوو، د کورنۍ د شیانو، فرنیچر، او نورو شتمنیو چې د پېښو په نتیجه کې له منځه تللي ول)، او مناسبې ګڼل شوې مرستې (د 4000 ډالرو څخه تر 7000 ډالرو په ارزښت مواد او روزنه چې یو کوچنی کار پرې پیل کړي) شاملې وې.[593] د MISTI په وینا، ACAP II خپل ټاکلي هدفونه او مقصدونه پوره کړل. د MISTI سروې ګانې او د تمرکز د ګروپ نتایج ښیي چې مناسبې ګڼل شوې مرستې له خلکو سره مرسته وکړه چې د خپل ژوند چارې بیا جوړې کړي.[594]

که څه هم چې، د ACAP II مرسته د ټول هېواد په سطحه وړاندې شوې وه، د مرستې له 80% څخه ډېره برخه په جنوب، جنوب ختیځ، ختیځ باندې متمرکزه وه. د MISTI په وینا، ACAP II یوازنی په نړیواله سطحه تمویل شوی پروګرام وو چې له افرادو او کورنیو سره یې د هغوی له شرایطو سره برابره په نسبي توګه لنډمهاله، مناسبه ګڼل شوې، غیرپولي مرسته وکړه. ACAP II د تاوان ورکولو پروګرام نه دی، نه هم په دې پار کار کوي چې د غمرازۍ په نامه تادیات وکړي. مرستې د کورنیو د اړتیا په پام کې نیولو سره ورکول شوې او د زخم یا مړینې په اساس نه وي. ACAP II دا نه غواړي چې د پېښې د دلیل په هکله پرېکړه وکړي چې څوک په غلطه وو او نه دا له ژوبلو شویو افغان ملکیانو سره د مرستې د مخکې تر مخکې شرط په توګه په پام کې نیسي.[595]

MISTI داسې سپارښتنه وکړه چې د راتلونکي وخت د پروګرامونو له پاره د پېښې د وړتیا شرایط باید

د افغانانو پراخ رول چې اوس يې پخپله د خپل امنيت ساتنې په برخه کې لوبوي، د افغان امنيتي ځواکونو او نړيوالو پوځي ځواکونو د عملياتو ترمنځ دمهغږی رامنځته کولو له لارې، منعکس کړي. MISTI همدارنګه سپارښتنه وکړه چې ACAP II بايد د ډېټابيس منجمنټ او د معلوماتو د شريکولو، د ورټيا او د ګټه اخيستونکي – د معلوموني د روزنې، او د افغانستان د وزارت د کارمندانو، د ACAP II د کارمندانو، او په ساحه کې د کارکوونکيو غيرحکومتي او نړيوالو موسسو ترمنځ د شبکه جوړوني يا نيټ ورکينګ په شمول تر ډېره په ظرفيت جوړونه باندې تمرکز وکړي – څو د ACAP II د قاعدي پاينت ته وده ورکړي.[596]

## ولايتي او د ښاروالی په سطحه پروګرامونه

په وروستيو وختونو کې USAID دوه د ولايتي سطحي پروګرامونه پيل کړل چې د ولايتونو په مرکزونو او ښاروالیو باندې تمرکز کوي: د محلي ادارو د پياوړتيا نوښت (ISLA) او د افغاني هيلي او هوسايني له پاره قوي مرکزونه (SHAHAR) پروګرامونه. 3.24 جدول تر ننه د پروګرام ټول قيمتونه او تاديات ښيي.

جدول 3.24

**د USAID فرعي (ولايتي او ښاروالی) برنامې**

| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت ($) | تر 3/31/2015 پورې مجموعي ورکړه ($) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د اميد او پراختيا قوي مرکزونه (SHAHAR) | 11/30/2014 | 11/29/2017 | $73,499,999 | $648,596 |
| د ځايی ادارو پياوړي کولو نوښت (ISLA) | 2/1/2015 | 1/31/2020 | 62,364,687 | 8,353 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته د USAID ځواب، 4/9/2015.

### د محلي ادارو د پياوړتيا نوښت (ISLA)

د ISLA د پروګرام معنی دا ده چې افغان حکومت ته دا ورتيا ورکړي چې ولايتي حاکميت ته د مالي او انکشافي پلان جوړونې، د اتباعو د استازيتوب، او د عامه خدمتونو د ښې سر ته رسونې په برخو کې وده ورکړي. د ISLA هدف دا دی چې د پلان جوړونې، عملياتو، مواصلاتو، استازيتوب کولو، او د اتباعو د مشغولتيا په برخو کې د ولايتي کچې سيستمونه پياوړي کړي. دا بايد د داسې خدمتونو د ترسره کولو سبب وګرځي چې هغه په لا نژدې ډول د ټولو وګړو روغتيايي، تعليمي، امنيتي، عدلي، او د ښاري خدمتونو اړتياوې ځوابوي.[597]

ISLA به له پنځو سيمه ييزو مرکزونو کابل، مزارشريف، جلال اباد، کندهار، او هرات څخه خپل عمليات ترسره کوي، او د افغان حکومت د موافقې په صورت کې په 16 ولايتونو؛ بادغيس، بغلان، بلخ، فراه، فارياب، غزنې، غور، هرات، کندهار، کونړ، لغمان، لوګر، ننګرهار، پروان، وردک، او زابل کې د کار کولو پلان لري.[598]

ISLA په روان حالت کې ده؛ او داسې مهم پرمختګونه نشته چې راپور يې ورکول شي.[599]

### د افغانستان د اميد او پراختيا قوي مرکزونه (SHAHAR)

د SHAHAR برنامې هدف د ښه اداره لرونکي، پياوړي افغان ښاروالیو رامينځته کول دي ترڅو وکولی شي د مخ پر ودې ښاري نفوس اړتياو پوره کولو ورتيا ولري. دا برنامه د ښاروالی اداري، په بيله بيا د ښاروالیو چارو عمومي رياست او د ښاروالی مشورتي هييت خپل هدف ګرځوي، ترڅو وکولی شي د

ښاروالیو مالي مدیریت، د ښاري خدماتو وړاندې کولو او د ښاریانو مشورت ته وده ورکړي. برنامه په 16 کوچني او مینځنۍ کچې ولایتي مرکزونو باندې تمرکز وکړي چې د USAID درې ټاکل شوي سیمه ایزه اقتصادي زونونو (REZ) کې موقعیت لري، په بیله بیا څلور ساحوي مرکزونه؛ د کندهار ښار، هیرات، مزار شریف او جلال آباد.[600]

د SHAHAR برنامه د حرکت په مرحله کې ده؛ د راپور ورکولو لپاره د پام وړ پرمختګ یې ندی کړی.[601]

**سیمه ایزه اقتصادي زونونو:** په افغانستان کې هغه سیمې چې د ډیریدونکي تولید او سوداګری له مخې جغرافیه ای مرکزونو په څیر د ودی پوتانسیال لري او لوړ او هراړخیزې اقتصادي ودې ته ژمن دي. تمه کیږي دغه زونونه په کلیدي سیکتورونو کې د پانګوونې په نښه کولو سره چې د اقتصادي ودې اصلي پرمخ وړونکې ګڼل کیږي، د پرمختللي خواړو امنیت، اقتصادي ودې، د دندو رامینځته کیدو او ډیریدونکي سیمه ایزې سوداګرۍ لپاره د کتلیست په حیث کار وکړي.

سرچینه: USAID، "د REZ پیش لیک ستراتیژۍ" 12/3/2014.

## پخلاینه او بیرته یوځای کیدل

افغان دولت د افغانانو په مشرۍ رسمي پروسې له لارې ملي پخلاینې او سولې ترلاسه کولو باندې خورا ډیر ټاکید کړی.[602] د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وینا، "یو لړ فاکتورونه شتون لري [چې] د [پخلاینې] لپاره نوې امکانات برابروي پشمول د نړیوال نظامي ځواکونو وتل؛ په کابل کې نوې اداره؛ د سیمې ډیره شوې ښکیلتیا لکه چین او د پاکستان سره د دوه اړخیزو اړیکو ښه کیدل."[603]

په جنورۍ کې، طالبانو په خپله ویب پاڼه کې یوه اعلامیه خپره کړه چې د دوی لخوا د "سولې لپاره" غوښتل شوې ځینې شرایط پوره شوي. د دوی په شرایطو کې د بهرني نظامي ځواکونو شتون پای ته رسول، د اسلامي دولت رامینځته کول او د شریعت پلي کول شامل دي.[604] په هرصورت، د حتمي خبرو اعلانولو سربیره، یو څه ښکاره پرمختګ شوی.[605] د تیر مارچ پورې، د SRAP فیلډمن په ګوته کړې "تر اوسه د [افغان دولت او طالبانو ترمینځ] هیڅ خبرې ندي شوي."[606] د اپریل په 3، د غني ویاند د افغان دولت او طالبانو ترمینځ ناستو شایعات رد کړل.[607]

په اپریل کې، د ملي یووالي حکومت د اجرایوي ریاست لومړي معاون محمد خان وویل، چې د افغانستان د سولې عالي شورا (HPC) ته هیڅ اړتیا نه وه، دا چې HPC د دولت له پیل راهیسې هیڅ مزاکراتو کې دخیل نده او غني د HPC څخه پرته په خپلواک ډول هڅې پرمخ وړي.[608]

## پخلاینه

داسې ښکاري چې په پاکستان کې د دسمبر په میاشت کې په یوه ښوونځي د پاکستاني طالبانو لخوا برید په ترځ کې 132 ماشونو مړینې په تعقیب دې ربع کې د افغانستان او پاکستان ترمینځ اړیکو کې پرمختګ شوی دی.[609] سفیر فیلډمن وویل هغه باور لري چې د پخلاینې اسانولو لپاره د پاکستان لخوا "ریښتنیې هڅې شتون" لري. هغه نور هم ویل چې "ما په پاکستان کې ډیری ځله اوریدلي چې دوی د پیښور تولوژني ته د پاکستان 9/11 شرح ورکوي."[610]

د متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ سره په خبرو کې غني په سوله کې د پاکستان پر اهمیت ټینګار وکړ. هغه په نښه کړه چې د طالبانو سره سوله ننګونه نده،

> بلکه ستونزه اساسا د پاکستان او افغانستان ترمینځ سوله ده. موږ د دیارلس کالو لپاره نا اعلان شوې جګړه کې یو او همدا تعریف موږ خپلو پاکستاني سیالانو ته وړاندې کړی او

هغيو د ستونزي دا تعريف منلی. دا پيل دی... زه دي ته خورا خوش بين يم او د پايلو په
تمه يم [د پاکستان ملکي او نظامي چارواکو سره].

په ورته خبرو کې غني افغان طالبانو څخه ډيری څلې د "افغان ښاريانو" او "سياسي مخالفينو" په حيث
يادونه وکړه څوک چې يولړ سياسي مشروعيت لري او د ځيني مشروع مظالمو نمايندګي کوي.[611]

تيرې ربع کې والسټريټ ژورنال راپور ورکړ چې چين په دسمبر کې د افغان طالبانو يوه پلاوي
کوربه توب کړی. د راپورونو له مخې پلاوي غوښتل د افغان دولت سره خبرو پرانيستلو امکان باندې
وغږيږي.[612] د جنوري په 27، طالبانو لخوا يوه اعلاميه خپره شوه چې پکې ويل شوي و بيجنګ ته
طالبانو پلاوي وروستی سفر د چين څخه د مينځګړيتوب نقش غوښتلو هڅې لپاره نه و.[613]

## د افغانستان د سولې او بيرته يوځای کيدو برنامه

د افغانستان د سولې او بيرته يوځای کيدو برنامه (APRP) د افغانانو په مشرۍ يوه برنامه ده چې د
ټيټې کچې ترهګر جنګياليو او د دوی قوماندانانو افغان ټولنې سره يوځای کولو هدف لري، دې برنامې
د 12 ډونر ملتونو لخوا 182.3 ميليون ډالر مرسته د تمويل په شکل کې لاسته راوړې. اوه ډونر ملتونه
د جاپان او آلمان په مشرۍ دې برنامې ته عملياتي تمويل چمتو کوي. متحده ايالات د نړيوال بانک لخوا
اداره کيدونکي د ټولنې – بيا موندلو هڅو پورې اړوند بيا يوځای کيدو لپاره تمويل چمتو کوي.[614] د نورو
معلوماتو لپاره د متحده ايالاتو کانګريس ته د اکتوبر 2014 درې مياشتنی راپور، مخونه 149–151
وګورئ.

د امريکا دفاع او بهرنيو چارو وزارتونو د APRP لخوا پدې يا تيرې ربع کې د بيرته يوځای شويو
شمير په اړه تازه معلومات ندي وړاندې کړي. سره لدې، د متحده ايالاتو حکومت پدې وروستيو کې د
APRP او HPC لپاره تر 10 ميليون ډالرو پورې ژمنه کړې.[615] د بهرنيو چارو وزارت ويلي لدې 10
ميليون ډالرو څخه 5 ميليون ډالر به د UNDP لخوا اداره کيدونکي مستقيم بوديجې تمويل ميکانيزم له
لارې د APRP دارالانشا عملياتي بوديجه ملاتړ کړي.[616]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، APRP د يو شمير پخواني ترهګر جنګياليو بيرته افغان ټولنې سره
يوځای کولو کې بريالی و، مګر ترهګرۍ باندې د دې بشپړ هدف ممکن د راتلونکي کلونو په موده کې
روښانه نه شي. نوی افغان حکومت غواړي APRP د سولې او پخلاينې فعاليتونو لپاره د خپلې لومړنۍ
وسيلې په توګه وکاروي.[617]

## د قانون حاکميت او د فساد سره مبارزه

### د پروژې لنډيز

متحده ايالاتو د ډيری ميکانيزمونو له لارې د قضا رسمي او غير رسمي سيکتورونو سره مرسته کړې.
پدې کې د بهرنيو چارو وزارت د قضا سيکتور ملاتړ برنامه (JSSP)، او د قضا روزنې انتقال برنامه
(JTTP) شامل دي. دا او د قانون حاکميت او فساد سره مبارزې نورې برنامې د راتلونکي مخ 3.25
جدول کې بنودل شوي دي.

جدول 3.25

**د بهرنيو چارو وزارت د قانون حاکميت او فساد سره مبارزي برنامي**

| د پروژې نوم | د پيل نيټه | د پای نيټه | ټولټال اټکل شوی لګښت ($) | تر 3/26/2015 پورې مجموعي ورکړې ($) |
|---|---|---|---|---|
| د قضا سيستم ملاتړ برنامه II ‏(JSSP II) | 6/16/2010 | 6/30/2015 | $200,552,518 | $190,078,391 |
| د سمون سيسټم ملاتړ برنامه ‏(CSSP III) | 1/1/2015 | 8/1/2015 | 12,000,000 | 2,010,605 |
| د قضا روزنې انتقال برنامه (JTTP) | 1/2/2013 | 9/30/2015 | 26,500,000 | 26,500,000 |

سرچينه: د بهرنيو چارو وزارت، د سيګار د معلوماتو غوښتنې ته ځواب، 3/27/2015.

## د سيګار تفتيش

سيګار په افغانستان کې د قانون حاکميت مرستې او پرمختګ په اړه د متحده ایالاتو حکومت هڅو يوه روانه تفتيش لري. سيګار پلان لري مشخص کړي چې تر کوم حد پورې (1) د متحده ایالاتو حکومت ملاتړ لاربنود کونکي ستراتيژياني او اهداف جاري دي او د قانون حاکميت مرستې بنه يې په نامتناقص ډول تعريف کړې؛ (2) د متحده ایالاتو اداري په بشپړ ډول کولی شي د متحده ایالاتو حکومت برنامې او تمويل وپيژني او محاسبه کړي؛ (3) د قانون حاکميت اوسنې برنامو د فعاليت مديريت سيستمونه د برنامې اهدافو لاسته راوړو پرمختګ سنجوي او د متحده ایالاتو ستراتيژيک اهدافو سره په همغږۍ کې؛ او (4) د متحده ایالاتو حکومت د خپلو اهدافو ترلاسه کولو کې ننګونو سره مخ شوی او ترکوم حد پورې يې دغه ننګونې په ګوته کړې دي.

USAID د افغانستان لپاره د فساد سره مبارزې يوه خپلواکه برنامه جوړوي. د USAID په وينا، برنامه به د افغان حکومت نهادونو کې روڼتيا او حساب ورکووني ډيرولو لپاره هڅه وکړي، پداسې حال کې چې د فساد سره مبارزې پورې اړوند مسلو لپاره د نظارت، تحقيق او مشاورې په تکل د مدني ټولنې او خصوصي سيکټور ورتياوې به ډيروي.[618] دا برنامه اوسمهال د ډيزاين کيدو په مرحله کې ده.[619]

د بهرنيو چارو وزارت د JSSP اهدافو کې د افغانستان عدلي سيستم په اوږدو کې د قضيو تعقيب لپاره د قضيې مديريت سيستم (CMS) رامينځته کول او د وزارت چارواکو ظرفيت جوړول او اداري مهارتونو ښه کول شامل دي.[620]

د CMS سيستم د نيول کيدو وخت څخه نيولې تر د زندان پای ته رسيدو پورې انفرادي او ټوليز ډول باندې د جنايي قضيو نظارت لپاره کارول کيږي. په رسمي جنايي قضا سيکټور کې ټول وزارتونه CMS ته لاسرسی لري. د CMS سيستم په جنايي قضا سيستم کې د دې په ګوته کولو سره چې کله قضيې قانون سره سمې نه پروسس کيږي، د تشو په ګوته کولو لپاره کارول کيږي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، ډيرې وزارتونه د بيلابيل معلوماتي راپورونو رامينځته کولو لپاره CMS کاروي، پشمول د لوی څارنوال دفتر (AGO) چې نوي افغان دولت لپاره يې يو راپور رامينځته کړی دی. د داخلي او بيروني دندو غوښتونکو د "تسويه" تضمين لپاره د جنايي شاليد چيک کولو لپاره د CMS کارولو سربيره، د کورنيو چارو وزارت په کابل ښار کې د جرم ډول له مخې د نيولو يو اونۍ وار راپور هم رامينځته کوي.[621]

علاوه لدې وزارتونه د قضا رسمي سيکټور فعاليت په اړه پوهيدو لپاره هم CMS په منظم ډول کاروي. د مثال په توګه، CMS کولی شي د يوه انفرادي څارنوال د قضيې حجم او د محکوميت ارقام په ګوته کولو کې مرسته وکړي او هغه معلومات چې د هڅولو وړنيا ټاکلو لپاره ګټور وي. که څه هم CMS ته هيڅ عامه مستقيم لاسرسی شتون نلري، مدافع وکيلان او د مدافع/تورن کس د کورنۍ غړي کولی شي د CMS خيني ډيټا وکاروي. مدافع وکيلان کولی شي دې سيستم ته د نورو شيانو ترمينځ د خپلو پيرودونکو يا موکلينو د محکمې نيټو او تورونو لپاره لاسرسی ومومي. د مدافع/تورن کس د کورنۍ غړي هم کولی شي په يو له اړوند وزارتونو کې د CMS دفتر سره اړيکه نيولو يا غوښتنه کولو له لارې د تورن کس معلوماتو تثبيت لپاره لاسرسی ولري.[622]

د بهرنيو چارو وزارت JTTP برنامه جنايي قضا ډيرې موضوعاتو په اړه د قضا سيکټور چارواکو ته سيمه ايزه روزنه ورکوي.[623] د JTTP مقصد د افغان ښاريانو د دوی قضا سيکټور باندې باور ډيرول



**په فبروري کې، افغان** حقوقو محصیلینو د سوداګریزې داورۍ تمریني محکمې سیالۍ ترلو غونده کې برخه واخیستله. (د USAID افغانستان عکس)

او د پایلو ترلاسه کول دي: (1) د افغانستان قانون سره سم عدالت پلي کولو کې د افغان قضا سیکتور مسلکیانو د ظرفیت او وړتیاو ډیرول او (2) ډاډ ترلاسه کول چې افغان قضایی نهادونه د روزنې برنامو پیاوړي اجرا د اداره کولو وړتیا لري.[624]

د JTTP برنامه محدود محکمې پروسې څاري، چې د ولایت او ولسوالۍ په کچه جنایی برخې پورې اړوند قضیو باندې تمرکز کوي. د JTTP برنامه یوازې د محکمې هغه اقدامات او د قضیو استیناف غوښتنه څاري چې د جنایی طرزالعمل قانون (CPC) سره مخ وي. د JTTP څار او راپور ورکول په دقت سره د یووستوې محکمې شاخص باندې اعتراضي پرتله ایز ډیټا راټولولو باندې متمرکز وي، مثلا ایا محکمه د CPC پراساس برابر شوي طرزالعمل مطابق ,آزاده، ګڼل کیږي. د JTTP برنامې INL ته د رسمي قضا اقداماتو کې ډیری موارد راپور کړي چیرې چې څارنوالانو او قاضیانو مخ په ډیریدونکي کچه درست قوانین او د محکومیت اړتیاوې پلي کړي.[625]

د JTTP حقوقي مشاورین د هغه قاضیانو محکمې خونو څخه لیدنه کوي څوک د JTTP کورسونو څخه فارغ شوي یا فارغ به شي. که چیرې حقوقي مشاور ته د روانې محکمې لپاره د محکمې خونې ته اجازه ورکړل شي، نو محکمه د "آزادې" په توګه راپور کیږي. که چیرې دوی ته د روانې محکمې لپاره د محکمې خونې ته اجازه ورنکړل شي او هیڅ مجاز موانع شتون ونلري، نو محکمه "تړلې" په حیث راپور کیږي.[626]

له جولای 2013 څخه تر فبروري 2015 پورې، JTTP ټولټال 754 محکمې څارلي، چې لدې څخه 93% آزادې وې. په 2015 کې د JTTP لخوا څارل شوې ټولې 46 محکمې آزادې وې. په ولایاتو کې، ننګرهار ولایت تردې نیټې پورې د آزادو محکمو ترټولو ټیټه کچه درلوده چې 38% وې.[627]

## ستره محکمه او د قضا رسمي سیکتور

د ملګرو ملتونو عمومي منشي په وینا، د سترې محکمې قاضي القضات رشید راشد د محکمو سیستم کې اصلاحاتو باندې پیل کړی دی، پشمول د ټولو قضا کارمندانو د اسنادو یا جوازونو هراړخیزې بیاکتنې ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې کارمندان وړ دي. سترې محکمې د افغانستان اساسي قانون سره سم د وزیرانو

لپاره ځانګړې یا اختصاصي محکمه هم رامینځته کړې، ترڅو د فساد او مالي جرمونو لپاره د لوی څارنوال دفتر لخوا د اوه پخواني وزیرانو سپارل شوي تورونه وګوري.[628]

## د افغانستان سمون سیستم

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د زندانونو او توقیف مرکزونو عمومي ریاست (GDPDC) لخوا د افغانستان زندانونو اداره کیدونکی زنداني نفس په تیرو پنځه کلونو کې هرکال 16.7% ډیر شوی. تر د جنوري 31 پورې، GDPDC تر 28,598 نارینه افراد محبوس کړي پداسې حال کې چې د عدلیه وزارت د تنکي ځوانانو د سمون ریاست (JRD)1,021 نارینه تنکي ځوانان او 110 تنکی پیغلې انجونې محبوس کړي. پدې کې د افغان حکومت نورو نهادونو لخوا توقیف شویو شمیر ندی شامل ځکه چې INL د نورو نهادونو معلوماتو ته لاسرسی نلري.[629]

د جمعیت ډیروالی یا ګڼه ګونه د GDPDC تسهیلاتو تلپاتې، اساسي او پراخه ستونزه ده، که څه هم د بهرنیو چارو وزارت لخوا تمویل شوي زندان جوړوني په زندان کې یو څه ځایونه ډیر کړي او د ولسمشری د عفوه یا بخښني فرمانونو د زندان نفوس تر پام وړ کچې کم کړی. د جنوري تر 31 پورې، د ولایتي زندانونو ټولټال نارینه نفوس کچه د ظرفیت تر 214% وه، چې د تیرې ربعې له 290% څخه کم و، د هغه تعریف پراساس چې د سره صلیب نړیوالې کمیټې (ICRC) د هر زنداني لپاره لږترلږه 3.4 متر مربع ځای وړاندیز شوی. د ولایتي زندان ټولټال ښځینه محبوسینو شمیر د ICRC وړاندیز شوي ظرفیت 66% و چې له تیرې ربعې 123% ټیټ و. د GDPDC ولسوالیو توقیف مرکزونو او د JRD تنکي ځوانانو سمون مرکزونو ظرفیت په اړه معلومات شتون نلري. په هرصورت، د INL هغه مشاورینو لخوا حکایتي راپورونو له مخې چې له تسهیلاتو یې لیدنه کړې ښیې چې ګڼه ګونه یا د جمعیت ډیروالی د ډیری ولایتونو اساسي ستونزه ده.[630]

## د فساد سره مبارزه

د کانګریس ګډې غونډې ته د غني وینا پرمهال، هغه فساد ته د "سرطان" نوم ورکړ چې په افغان دولت د افغانانو او امریکا مالیه ورکونکو باور له اساس څخه له مینځه وړي، او ژمنه یې وکړه چې "فساد له ریښې وباسي."[631] د کابل بانک ناورین څخه د بسپنو بیرته لاسته راوړل او د دفاع وزارت د سونګ توکو قرارداد ردول او په تعقیب یې د تحقیق هڅې د دې ربع په جریان کې د افغان دولت لخوا د فساد پروړاندې سرته رسیدلي لوی ګامونه دي.

په تیره ربع کې د افغانستان استیناف یوې محکمې د کابل بانک 2010 کال راپرزیدو پورې اړوند جرمونو باندې دوه مشر چارواکي او نهه ټیټ رتبه کارمندان محکوم کړل. د کابل بانک دغه دوه چارواکي هر یو په دری مواردو محکوم شول او د 10 کالو همزمان حبس سزا ورته واورول شوه. سربیره پردې، یو چارواکی 513 میلیون ډالر او بل 278 میلیون ډالر جریمه شول. د کابل بانک نور نهه ټیټ رتبه کم جریمه او په یو کال حبس محکوم شول. سربیره پردې، د خبري راپورونو په وینا، محکمې د 19 افرادو

او شرکتونو د پانګو کنګل کولو امر هم وکړ چې د پور درغليز دسيسې يې ترسره کړې وې او د بانک د راپرزيدو لامل شوي ول، او د پور بيرته ورکولو کې پاتې راغلي و.[632]

د دسمبر په 14، 2014، ستري محکمې او د ستري محکمې عامه امنيت محکمې د استيناف محکمې دغه حکم تاييد کړ. لوی څارنوالی راپور ورکړ چې دوی به د ستري محکمې حکم پلي کړي او په اکتوبر کې د قضيې بيرته پرانيستو راهيسې يې تر دسمبر پيل پورې ټولټال 12 ميليون ډالر بيرته ترلاسه کړي دي.[633]

تر د تير مارچ پورې، د کابل بانک څارنوالانو راپور ورکړ چې د کابل بانک شېر لوی پور وړو د 72 ميليون ډالرو بيرته ورکړې ژمنه کړې.[634] د ملي يووالي حکومت لخوا د کابل بانک قضيې له سره پرانيستو سربيره، د فساد متمرکز اداري، د افغانستان غير دولتي سازمان د افغانستان د روڼتيا څار اداري خبريالانو ته وويل چې افغان دولت د قضيې حل کولو کې ناکافي پرمختګ کړی او دا چې حکومت د غلاشوي 977 ميليون ډالرو څخه يوازې 228 ميليون ډالر بيرته لاسته راوړي دي.[635] د نورو معلوماتو لپاره د دې راپور 168–169 مخونه وګورئ.

پدې ربع کې، غني د تدارکاتو اړوند فساد تورونو په تعقيب د افغان اردو لپاره د درې کالو د سونګ توکو نږدې 1 ميليارد ډالرو قرارداد فسخ کړ.[636] غني د ګټونکي قراردادي او بل احتمالي داوطلب لوړې داوطلبۍ ترمينځ د راپور شوي 214 ميليون ډالرو توپير په اړه پوښې ترلاسه کولو وروسته تحقيقات هم پيل کړل.[637] د افغان اردو شېر چارواکو او د وزارت يو ملکي چارواکی دندې د تحقيق تر پايلو پورې تعليق شوی.[638]

طلوع نيوز سره په يوه مرکه کې، د څار او فساد سره مبارزې عالي اداري (HOO) عمومي رييس وويل چې د فساد سره مبارزې په اړه د نوی اداری ژمنو سربيره، "فساد د ډيريدو په حال کې دی." د افغانستان د سوداګری او صنايع خوني يو وياند هم په فبرورې کې راپور ورکړ چې "فساد لکه د تير حکومت په څير پرځای پاتې دی."[639]

په بهرني اړيکو شورا کې د خبرو پرمهال، غني وويل "فساد سيسټم دی" او په ځانګړې ډول د ګمرکونو سيسټم د اصلاح کولو ننګونه يې په ګوته کړه. په ټرانسپورټ د ګمرکونو محصول ته د "نغدي غوا" نوم په ورکولو سره، غني ننګونه د پاکستان څخه وارداتو ارزښت ترمينځ 1.7 ميليارد ډالرو توپير په يادولو سره بيان کړه چې د افغان وزارتونو لخوا (800 ميليون ډالر) او د پاکستان دولت لخوا افغانستان ته د صادراتو ارزښت (2.5 ميليارد ډالر) راپور شوی.[640]

### د افغانستان لوی څارنوالی دفتر

د ربعې په جريان کې، غني لوی څارنوال له دندې ګوښه کړ او د لوی څارنوال معاون يې د سرپرست په حيث وګوماره.[641] د متحده اياالاتو عدليه وزارت په وينا (DOJ)، په لوی څارنوالی کې د لوی جرمونو او فساد قضيو تعقيب په اړه هيڅ سياسي ليوالتيا نه ترسترګو کيږي. په هرصورت، ممکن دا نظر بدل شي که چيرې يو وړ او د فساد په اړه جدي لوی څارنوال وګومارل شي.[642] د تيرو ربعو برعکس، سرپرست لوی څارنوال له DOJ د 50 څارنوالانو د روزنې غوښتنه وکړه.[643]

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د لوی څارنوالی د فساد سره مبارزې واحد (ACU) د ټیټې کچې فساد قضیو د تعقیب وړتیا لري، مګر د سیاسي لیوالتیا نشتون له امله د لوی کچې فساد قضیو په تعقیب کې د ممانعتونو سره مخ کیږي. د فساد سره مبارزې واحد له ټیټ مورال څخه ځوریږي. په هرصورت، ACU پدې وروستیو کې د خپلو څارنوالانو لپاره د DOJ لخوا ملاتړ شوي روزنیز فرصتونو ته لیوالتیا ښودلې ده.[644]

### د لوی (سنګین) جرمونو کاري ځواک

د لوی جرمونو کاري ځواک (MCTF) د کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست تحقیقاتي څانګه ده.[645] د امریکا دفاع وزارت په وینا، د ملي یووالي حکومت رامینځته کیدو راهیسي، MCTF په ډیر تهاجمي ډول د لوی کچې فساد هدف لاندې نیولی دی. د تیرو څو اونیو په جریان کې، MCTF د فساد پنځه جلا قضیې نورو تحقیقاتو او پلټنو لپاره لوی څارنوالی ته راجع کړې چې پکې معین وزیر او د کورنیو چارو وزارت او افغان عامه محافظت ځواک (APPF) مشر چارواکي شامل دي. په راجع کولو کې دې ډیروالي سربیره، MCTF په لوی څارنوالی کې د قضیې پروسس کولو پرمختګ ندی ترسترګو کړی.[646]

لوی څارنوالي د MCTF راجع شوي قضیو باندې پرمختګ په اړه تازه معلوماتو کې پاتې راغلې. په 2014 اګست کې، د MCTF عمومي رییس د دغه قضیو په اړه تازه معلوماتو غوښتلو لپاره لوی څارنوالی ته رسمي مکتوب ولیږه. تر نن نیټې هغه دې غوښتني ته بشپړ ځواب ندی ترلاسه کړی. د ملي امنیت رییس هم ورته رسمي مکتوب د پنځه لوی فساد قضیو په اړه معلوماتو لپاره لیږلی چې د 2014 په څلورمه ربع کې سپارل شوی، او ځواب یې ندی ترلاسه کړی. د امریکا دفاع وزارت په وینا، MCTF د لوی څارنوالي د فساد تعقیب شفاهي یا حکایتي شواهد ترلاسه کوي چیرې چې څارنوالان د تعقیب پرته د تورنو کسانو خوښي کولو په بدل کې بډې ترلاسه کوي.[647]

په تیرو دوه ربعو کې، MCTF لوی څارنوالی ته د فساد 10 جلا قضیې د نورو تحقیقاتو او پلټنو لپاره راجع کړي چې دوه معیینان، دوه ښاروالان، درې د کورنیو چارو وزارت چارواکي، د APPF یو مشر افسر او د وزارت کارمندانو غړي پکې شامل دي. د جنایی طرزالعمل قانون پراساس، د خیانت – کچې قضیې باید د نیول کیدو په 75 ورځو کې محکمې ته وړاندې کړل شي. د یادو 10 قضیو په اوه و کې لوی څارنوالی ته راجع کیدو دمخه هیڅ توقیف سرته نه و رسیدلی، پدې معنی چې د لوی څارنوالی تحقیق یا تعقیب پریکړې لپاره هیڅ د وخت محدودیت شتون نلري. له هغه وخته چې لدې 10 قضیو 5 یې لوی څارنوالی ته راجع شوي له 90 څخه ډیرې ورځې تیرې شوي دي. په یوه قضیه کې چې حکم یې صادر شوی، د پل علم ښاروال د بډې اخیستو په جرم محکوم او دا مهال اوه میاشتې حبس په زندان کې تیروي.[648]

په تیره ربع کې، د MCTF کشف کونکو د روزنې ټول مسؤلیتونه په غاړه واخیستل پداسې حال کې چې بهرني ښوونکي د روزنې پرځای فقط بررسي ترسره کوي.[649]

### د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC)

د بهرنیو چارو وزارت په وینا، د فساد سره مبارزې نظارت او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه (MEC) د وړ اداري او تخنیکي ظرفیت درلودو ته دوام ورکوي. په هرصورت د بهرنیو چارو وزارت یادونه کوي، چې MEC هغه واک نلري ترڅو د ضعیف او فساد ډکو کړنو رابرسیره کولو سربیره نور ډیر څه وکړي.[650]

د ربع په جریان کې، MEC د فساد پروړاندې ملګرو ملتونو کنوانسیون (UNCAC) سره په اجابت کې د HOO د افغانستان پخپله ارزوني باندې وړاندیزونه وکړل. افغانستان په 2004 کې UNCAC لاسلیک او په 2008 کال کې یې قبول کړ. افغان دولت اړ دی د دې وړاندوینو یا مقرراتو سره اجابت وکړي او پلي کول یې په دوه مرحلو کې بیاوګوري. د MEC په وینا، HOO د UNCAC سره د افغانستان اجابت په سمه توګه ارزولو کې پاتې راغلی. د HOO هڅو ته د "سطحي، نامکمل او اکثرا ګمراه کونکي" په نوم ورکولو سره MEC وړاندیز کړی چې د غني دولت (1) د دې تشو او ضعفونو په سمه توګه تحلیل کولو لپاره د ځان ارزوني لومړی مرحلې هراړخیزه بیاکتنه پرمخ ویسي او (2) د ځان ارزوني دوهمې مرحلې ځارلو لپاره لانوره وړ اداره وګوماري.[651]

د MEC د راپور په تعقیب، HOO راپور ورکړ چې د اساسي قانون له مخې دا چې د افغان دولت ټول دولتي چارواکي اړ دي د حکومتي دندې دمخه او په تعقیب یې خپل ملکیتونه یا پانګې ثبت کړي، یوازې پخواني ولسمشر کرزي او د کار او عامه چارو پخواني وزیر نجیب الله ازهان په سمه توګه د دوی ملکیتونه ورته حساب کړي دي. د HOO په وینا، د ملکیت ثبت 9,457 فورمو څخه چې د کرزي اداری حکومتي چارواکو ته ورکړل شوي وې، یوازې 5,358 فورمې د فساد سره مبارزې نهاد کې سپارل شوي دي. د HOO لخوا بیاکتل شوي 1,378 فورمو څخه 900 یې ناسمې موندل شوې. د تیر مارچ پورې، HOO راپور ورکړی چې د نوي اداري یوازې دوه غړو، د بهرنیو چارو وزیر او د کانونو وزیر خپل ملکیتونه راجستر کړي دي.[652]

## امنیتي خدمات

په یوې وروستي مرکه کې، د CSTC-A قوماندان تورن جنرال ټوډ سیمونیټ وویل "د [ملي یووالي حکومت له رامینځته کیدو راهیسې] د فساد کچه نا معلومه ده او د پایلې په توګه زه نه شم کولی تر یوې کچې د مقدار شمیره یې تاسو ته وړاندې کړم،" او اضافه کړه چې افغان دولت د فساد محدودولو لپاره اضافي کنټرولونه پرځای کړي دي.[653] د امریکا دفاع وزارت په وینا، دواړه د دفاع او کورنیو چارو وزارت د فساد پروړاندې نهادونه تاسیس کړي دي؛ په هرصورت، داسې نه ښکاري چې نوموړي نهادونو ډیره مثبت اغیزه کړې وي.[654] د امریکا دفاع وزارت وویل چې ځینې ډالې شوي داخلي نهادونه په واقعیت کې د کار اسانولو پرځای خنډ ګرځي، او د فساد سره مبارزې هڅې د "ګمراه کونکي اصلاح" په تعقیب د ډونرانو اراملو معنی لري.[655]

## د دفاع وزارت

د امریکا دفاع وزارت په وینا، له هغې مودې راهیسې چې د غني اداره رامینځته شوې، د دفاع وزارت د فساد سره مبارزې او د فساد پروړاندې هڅو باندې خپل تمرکز ډیر کړی دی. د امریکا دفاع وزارت د دفاع وزارت او لوی درستیز پوستونو لپاره د وړتیا پراساس نوماندانو ګومارلو په پام کې نیول؛ د دې دوه پوستونو لپاره د هغه نوماندانو ردول چې د پام وړ ملاتړ او/یا فساد باندې تورن دي؛ او د تدارکاتو فساد شواهدو په تعقیب د مسؤل چارواکو د غني لخوا سمدستي تعلیق او د قراردادونو فسخ کول فساد سره د

**د فساد په وړاندې:** هغه اقدامات چې هدف یې د فساد لپاره د فرصتونو محدودل وي. پدې کې د روټیا او حساب ورکولو کنټرول ګامونه، تفتیش، بازرسي، او د افرادو چلند باندې اغیزه کولو کړني شامل دي.

**د فساد سره مبارزه:** په اصل کې اصلاحي ګامونه دي چې د مفسد افرادو بندیز باندې تمرکز کوي، د فساد په وړاندې مخنیوی کوي. د فساد سره مبارزې ګامونه په قوي ډول مؤثره قانوني سیستم، په ځانګړي ډول خپلواکه قضا باندې تکیه کوي.

سرچینه: ګډ او ایتلافي عملیاتي تحلیل (JCOA)، د ګډ درستیز فرقه J-7 (د ګډ خواک پراختیا)، عملیاتي کول، *د فساد پروړاندې/مبارزې مطالعه*، 2/28/2014، مخ 3.

مبارزې لپاره د نوي تمرکز مثالونو په توګه په ګوته کوي. د چارواکو تعلیق د راپورونو له مخې خلک خبرو ته اړ ایستلي او په مفسد کړنو کې بخت مشر چارواکو ترمینځ "د اضطراب او فشار" لامل شوي.[656]

دا مهال په دفاع وزارت کې د فساد مسایلو ته رسیدني لپاره دوه نهادونه شتون لري: د فساد سره مبارزې کاري ګروپ (CCWG) او د فساد سره مبارزې مشره عالي کمیټه (SHCAC). دواړه نهادونه د فساد سره مبارزې یا فساد پروړاندې هڅو کې د پام وړ عمل کولو کې بې اغیزې وي. دا نهادونه اساسا د ورته مشر چارواکو لخوا اداره، کنټرول او پرمخ وړل کیږي ځوک چې مفسد کړنو کې بوخت دي. د امریکا دفاع وزارت په وینا، دا نهادونه د مفسد مشر چارواکو لخوا د تحقیقاتو درولو یا اړولو لپاره کارول کیږي. په استثنا د فساد کوچني مسلو، د امریکا دفاع وزارت تراوسه د CCWG یا SHCAC لخوا د فساد ننګونو حلول ندي تر سترګو کړي.[657]

که څه هم د افغان ملي اردو هرو شپږو قل اردو ګانو د روڼتیا او حساب ورکولو کمیټو (TAC) کې خپل غړي ګومارلي، د TAC ټول غړي د قل اردو ګانو د کارمندانو غړي دي (د قل اردو معاون لخوا یې مشري کیږي) او هیڅکله د قل اردو قوماندان په اړه حساس او مهم معلوماتو راپور نه ورکوي.[658] دا جوړښت د تدارکاتو پریکړو باندې ځار څخه د قل اردو معاون قوماندان هم جلا کوي (ځوک چې د قل اردو لپاره د تدارکاتو رییس هم دی).[659] د TACs دې خپلواکې نشتون له امله، د دفاع وزارت د عمومي کارمندانو عمومي مفتش (GS IG) د TACs طرح بې اغیزې ارزوي.[660] د امریکا دفاع وزارت باور لري چې د روڼتیا او حساب ورکولو ودې یوه لاره به په هرې قل اردو کې د GS IG لپاره دا وي چې د TACs مشري د قل اردو قوماندان کارمندانو غړي پرځای په غاړه واخلي. که څه هم دا نظر دواړه CCWG او SHCAC کې د تیرو نهه میاشتو راهیسې وړاندې شوی، لدغه مودې راهیسې نه خو د دفاع وزارت مشرۍ او نه هم د قل اردو قوماندانو دا وړاندیز په غاړه اخیستی، د امریکا دفاع وزارت له نظره، دوی د روڼتیا او حساب ورکولو اوسني نشتون څخه ګټه پورته کوي.[661]

## د کورنیو چارو وزارت

د امریکا دفاع وزارت په وینا، داسې ښکاري غني د ورتیا پراساس بیاکتنه او د ګومارنې پروسه تعقیب کړې کله چې هغه نور الحق علومي د کورنیو چارو وزیر په حیث مقرر کړ. په هرصورت د امریکا دفاع وزارت یادونه کوي چې د کورنیو چارو وزارت د مفسد مشرۍ څخه خلاصولو لپاره لاهم د پام وړ پریکړو ته اړتیا ده، وزیر علومي بې شمیره ځل ویلي چې هغه د رهبرۍ کچې کارمندانو ګومارنې په اړه د پریکړو کولو دمخه په کورنیو چارو وزارت کې د نوماندانو مهارتونه او د مشرۍ وړتیاوې ارزوي.[662]

د کورنیو چارو وزارت TAC هره اونۍ د کمیټې غړو سره د فساد مسلو باندې غږیدو په اړه غونډه کوله. په هرصورت، TAC هغه مهال منحل شو کله چې نږدې یو کال وړاندې د کورنیو چارو وزارت اوسنی عمومي مفتش په دنده وګومارل شو. دا مهال د کورنیو چارو وزارت د علومي په مشرۍ د روڼتیا کاري ګروپ او د روڼتیا لاربښود ګروپ د رامینځته کولو په پیلي مرحله کې دی چې د امریکا دفاع وزارت امید لري دا به د کورنیو چارو وزارت کې روڼتیا، حساب ورکول او ځار ډیر کړي.[663]

### د کورنیو چارو وزارت د فساد – شکایاتو پروسې په اړه نوی راپور

د UNDP په لاره اچول شې د کورنیو چارو وزارت د فسا – شکایاتو پروسې میکانیزم یوې وروستی ارزونې موندلي چې په MOI IG کې د فساد کچه د MOI IG هغه تحقیق کونکو یا مدیرانو لپاره چې د فساد شکایاتو پروسه کې دخیل دي بې کاره تخنیکي روزنه وړاندې کوي. راپور نور هم وړاندیز کوي چې د MOI IG او ټول فرعي مشران باید له دندې و ایستل شي. راپور وایی چې "په [کورنیو چارو وزارت] کې د فساد راټوکیدو اغیزمن کونکی بوازینې ترټولو لوی لامل د مشرتابه یا رهبرۍ ناکامي ده، پشمول د روڼتیا، د ځواک روحیه او ډسپلین. سیستماتیک فساد دې نهاد ته مختص دی ځکه چې رهبري نه یوازې فساد زغملی دی بلکه دوی ورته لاره اسانه کړې او په ډیرو مواردو کې یې پکې برخه اخیستې." راپور یوازې د MOI IG د نقد لپاره یادوې او وایی "چې دا د دوه مخې مشرۍ څخه راپورته کیدونکې جدي اخلاقي انحراف سره مخ دی. دا دوه مخې رتبو کې تر هغه حد پورې نفوذ کوي چې یو جنرال افسر نظر ورکړ چې تحقیق غیر لدې چې د یوځای لپاره راټولیدو او د تحقیقاتو سبوتاژ کولو لپاره د پیسو راټولولو چانس پرته بل څه شی ندی."

*سرچینه: جیفري کونیفن، نهایی کاري راپور، د فساد شکایاتو پروسې ارزول: د افغانستان د کورنیو چارو وزارت،* 1/23/2015، مخونه i، 1–2، 10.

## بشري حقونه

### کډوال او کورني بېځايه شوي

د مارچ تر 15 پورې، د کډوالی لپاره د ملګرو ملتونو عالي کميسون (UNHCR) اټکل کړی چې په ګاونډي شمالي وزيرستان کې له جون 2014 راهيسې د پاکستان لوی نظامي عملياتو له امله د پاکستان څخه د افغانستان خوست او پکتيکا ولايتونو ته له 254,537 څخه ډير وګړي له پولو راتير شوي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، دغه کډوال د ټولټال نفوس مشخص کولو او د اړتياو ارزولو لپاره راجستر کيدو په کال کې دي.[664]

د بهرنيو چارو وزارت د افغانستان څخه وتونکو کډوالو شمير کې هيڅ خورا ډيروالی يا لږوالی ندی راپور کړی. د پاکستان او ايران څخه په جنوري او فبروي 2015 کې UNHCR بيرته راستنيدونکي 7,045 کډوال ثبت کړي دي، د اکتوبر څخه تر دسمبر 2014 په موده کې د 3,025 راستنيدونکو په پرتله.[665]

د دسمبر 2014 پرمهال پيښور کې پر ښوونځي د بريدونو او پاکستاني امنيت غبرګون په تعقيب UNHCR د پاکستان څخه د 6,762 راجستر افغان کډوالو راستنيدو ګرندي ډيروالي راپور ورکړی. د پاکستان څخه له جنوري 2015 راهيسې د بيرته راستنيدو مقدار په 2014 کې د ورته مودې په پرتله خورا ډير دی چې هغه مهال يوازې 995 راجستر افغان کډوال راستانه شوي ول. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، ډيری راستنه شوي کډوالو د پاکستان ځايی چارواکو لخوا راپور شوي نيولو، توقيف، شکنجه او ځوروني له امله افغانستان ته راستنيدو کې د فشار لاندې ول.[666]

د پاکستان او افغانستان حکومتونو په ګډه د UNHCR سره د کډوالو مسايلو باندې چې په دواړه هيوادونو اغيزه لري په مارچ کې د دری طرفه کميسون 25مه ناسته ترسره کړه. برخه اخيستونکو د خپلې خوښې سره بيرته راستنيدو اصل ته د دوی ژمنتيا له سره تاييد کړه، خبرداری يې ورکړ چې بشپړ او موثره بيرته يوځای کيدل به يو تدريجي او ننګونکی کوښښ وي او د خپلې خوښې بيرته ستنيدو لپاره رياليستيک مهالويشونو سره د هراړخيز پلان جوړولو لپاره مشوره کې بوختيدو باندې يې موافقت وکړ.[667]

تر فبروري 28 پورې، UNHCR د اکتوبر څخه تر دسمبر 31، 2014 پورې د 782,162 راجستر شوي کورني بېځايه شوي وګړو په پرتله د جګړو له امله ټولټال 829,295 کورني بېځايه شوي وګړي (IPDs) ثبت کړي دي. د بهرنيو چارو وزارت په وينا، د کورني بېځايه شويو واقعيی شمير لدې خورا ډير کيدی شي او تاييد کول يې مشکل دي. د ربع په جريان کې د UNHCR لخوا د بېځايه کيدو لوی لاملونه د وسله والو ډلو او افغان امنيتي ځواکونو ترمينځ جګړې، او د واسله والو ډلو لخوا ځورول راپور کړي دي.[668]

د فبروري تر 28 پورې، د IDPs لپاره د UNHCR راپور شوي 10 د ورتګ غوره ولايتونه کابل، کندوز، ننګرهار، وردګ، پکتيا، هرات، کنړ، لوګر، فارياب او بدخشان و. اصل ولايتونه او د ورتګ ولايتونه ورته ول.[669]

د بهرنيو چارو وزارت په وينا، غني او د کډوالو او بيرته راستنيدونکو نوي وزير سيد بلخي د کورني بېځايه شويو ملي پاليسي پلي کول د اجندا کليدي مورد ګرځولی. وزير بلخي په خپل وزارت تاکيد کړی چې د ولايتي حکومتونو سره د ولايتي عمل پلانونو جوړولو کې مرستې لپاره د UNHCR سره کار وکړي کوم چې د IDP پاليسي د 2015 بوديجې پلان کې ترکيب کوي.[670]

### د سيګار تفتيش

سيګار په پاکستان او ايران کې افغان کډوالو او بيرته راستنيدونکو سره د بهرنيو چارو وزارت د مرستې څخه يوه روانه تفتيش لري. تفتيش پلان لري وارزوي چې تر کوم حد پورې (1) د بهرنيو چارو وزارت او UNHCR په پاکستان او ايران کې د افغان کډوالو شمير تاييدوي، او (2) وارزوي ترکوم پورې افغان دولت د افغان کډوالو لپاره د حلونو ستراتيژي پلي کړی ترڅو په خپله خوښه راستنيدو، پياوړي بيرته يوځای کيدو ملاتړ وکړي او د کوربه هيوادونو سره مرسته وکړي.



يوه ميرمن په کابل ښار کې د خواړو توزيع ځای کې د کړکی له لاري خپل د خواړو ووچر وړاندې کوي.
(د USAID افغانستان عکس)

## جنډر

د USAID په تاریخ کې په جنډر متمرکز ترټولو لوی نوښت د Promote ملګرتیا ده چې هدف یې د 75,000 افغان میرمنو سره د ټولنې ټولو برخو کې د مشرۍ نقش لاسته راوړو لپاره مرسته ده، پدې کې له سوداګرۍ نیولي تر اکاډمیک او سیاست او عامه پالیسي په تیرو پنځه کلونو کې.[671] USAID تر دې دمه Promote ته 216 میلیون ډالر ورکړي او هیله لري چې له نورو نړیوال ډونرانو څخه نور 200 میلیون ډالر مرسته ورته برابره کړي.[672] د همدې هدف لپاره USAID د Promote څلور برخو (د ښځو د مشرۍ پراختیا) لپاره یو قرارداد ورکړی چې د اټکل له مخې 42 میلیون ډالر ارزښت لري.[673]

USAID لاهم د نورو ډونر ادارو سره د دوی د ښځو واکمن کولو اوسني او راتلونکي برنامو ګډون راسپړلو لپاره مزاکره کوي. USAID وړاندوینه کوي چې دا مرستې به په دوه لارو کې سرته ورسي: (1) ډونران د USAID لخوا اداره کیدونکي موجود نوښتونو سره مرستې کوي یا (2) ډونر ادارې د دوی برنامې پخپله په مستقیم ډول د خپل قراردادي لخوا ترتیب کوي یا د Promote ګډو ګټو لپاره کار کوي.[674]

USAID خورا "قوي باور لري" چې Promote به ګټه پورته کونکو سره د دوی کارونو کې مرسته وکړي او/یا نوي اسانتیاوې او اقتصادي او ټولنیز فرصتونه ورته اسانه کړي. USAID د USAID د افغان کاري ځواک پراختیا برنامې (AWDP) تجربه د دې باور سرچینې په حیث ملاحظه کوي.[675] د 2015 اپریل پورې، له 2012 راهیسې AWDP شاوخوا 2,100 میرمنو سره د دوی ځای په ځای کولو او/یا هڅولو کې مرسته کړې. د AWDP هدف د څلورو کالو مودې برنامه کې لږترلږه 6,250 ښځو لپاره د دندو او مزد ډیرول دي.[676]

د Promote برنامې ته USAID د "غیر سنتي برنامې" په حیث ګوري چې باید اوښتونکي پروژې لومړیتوبونو ته ځواب ویونکي اوسي، پیلوټ فعالیتونه وکاروي، او د میتودولوژي دوامداره تهذیب سره پلي کولو ته تدریجي طریقه وکارول شي.[677]

په اکتوبر 2014 کې د Promote پلي کونکو سره یوې ناستې په جریان کې، USAID په نښه کړي چې برنامې پورې اړوند د پام وړ سیاسي حساسیتونه شتون درلود. د دې حساسیتونو له امله، د Promote پلي کونکو لپاره حیاتي و ترڅو د افغان حکومت چارواکو سره ناستې همغږي کړي یا د USAID سره د Promote اړوند ناستې. په عین غونډه کې، USAID د اهمیت منعکس کولو اړتیا باندې تاکید کړی چې د متحده ایالاتو حکومت په افغانستان کې د کلیدي میراث پراختیا برنامې په توګه Promote باندې ځای پرځای کوي.[678]

د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي له مینځه وړو قانون (EVAW) راتلونکي باندې خبرو دې ربع کې هم دوام درلود. په اکتوبر 2014 کې، د عدلیه وزارت په مشرۍ د جنایی قانون اصلاح کاري ګروپ (CLRWG) پریکړه وکړه په برخه ایی ډول EVAW د جزا قانون طرحې سره یوځای کړي. د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي EVAW جرمي کړنو کې فزیکي ګټه اخیستنه، جنسي تیری، د ماشومتوب واده، جبري واده، کورنی تاوتریخوالی، او د شخړو جوړجاړي لپاره د ښځو تبادله کول (د بد په نوم پیژندل کیدونکی عمل) شامل دي. قانون د دې ډیری جرمونو لپاره اوږدمهاله زندان تحمیل وړاندوینه کوي.[679]

د CLRWG په فبروري ناسته کې، د جزا قانون طرحې ته د EVAW قانون جنایی وړاندوینو ترکیب کولو حکمت په اړه د مدني ټولنې نماینده ګانو او عدلیه سرپرست وزیر ترمینځ اختلاف شتون درلود. د مدني ټولنې نماینده ګانو پدې وروستیو کې غني ته عریضه کړې چې د جنایی قانون طرحې ته

### د سیګار ځانګړې پروژه

پدې ربع کې، سیګار د Promote په اړه یو د معلوماتو غوښتني لیک خپور کړ، کوم چې په نړۍ کې د USAID د ښځو واکمن کولو ترټولو لوی برنامه ګڼل کیږي. لیک په ګوته کوي چې د Promote په اړه د USAID ویناو سیګار د یوشمیر ځورونکي اندیښنو او پوښتنو سره مخ کړی. د نورو معلوماتو لپاره برخه 2، مخ 44 وګورئ.

**د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي له مینځه وړو قانون (EVAW):** په 2008 کې طرح شوی او د ولسمشرۍ فرمان لخوا تصویب شوی؛ په هرصورت، د قانون مشروطیت پوښتني پاتې دي. په 2013 میی کې، ملاتړ کونکو په پارلمان کې د EVAW تصویب کول وغوښتل، مګر قانون پرته له رایی ورکولو هغه مهال و ایستل شو چې ځینې محافظه کار غړو دا غیر اسلامي اعلام کړ.

سرچینه: د افغانستان د قضا سیکتور ملاتړ برنامه، "د JSSP قانون جوړوني اصلاح میاشتنی راپور،" 10/2014، مخ 3.

د EVAW عناصرو ترکيب کيدو مخه ونيسي. د مدني ټولني نماينده ګانو په وينا، که چيرې د EVAW عناصر د جنايي قانون طرحې سره ترکيب شي، نو دولت به په نهايت کې په EVAW سترګې پټې کړي. د عدليه سرپرست وزير يادونه کړې چې د افغانستان قضا نهادونه پشمول د محاکمو، EVAW ته د ولسمشرۍ قانوني فرمان په سترګه ګوري؛ نو په پايله کې يې په سمه توګه نه پلي کوي.[680]

په اپريل کې، د بخښني نړيوال سازمان يو راپور خپور کړ چې له 13 ولاياتو څخه د ميرمنو حقوقو شاوخوا 50 مدافعينو د نظرونو لنډيز پکې وړاندې شوی.[681] د مرکه کيدونکو په وينا، د ښځو حقونو مدافعين يو لړ ناوړه چلند سره مخ کيږي چې د افغان دولت لخوا داسې چاپيريال چمتو کولو لپاره سيستماتيک ناکامي ده چې په هغې کې دوی خوندي وي يا د ناوړه چلند مرتکبين قضا ته معرفي کړي. د راپور په وينا، د ښځو حقونو مدافعينو پروړاندې د تاوتريخوالي او ناوړه چلند لپاره ترټولو ډير طالبان او نور وسله والې ډلې شامل دي، مګر د دولت چارواکي او هغوی چې د ځايي چارواکو لخوا ملاتړ کيږي هم د ښځو حقونو مدافعينو پروړاندې د بشري حقونو تيري لامل کيږي.[682] د بخښني نړيوال سازمان لخوا ورسره مرکه شوي کارپوهانو په وينا، په افغانستان کې اوسنی قانوني کاري چوکاټ د ښځو حقونو مدافعينو لپاره مناسب محافظت وړاندې کوي، مګر "دولت د خپلو قوانينو پلي کولو کې سيستماتيک ناکامی سره مخ دي."[683] د غني په وينا، د قانون حاکميت پلي کولو ته يو له ننګونو څخه، په ځانګړي توګه د ښځو محافظت پورې اړوند، دا ده چې "زموږ د پوليسو نوي سلنه د تروريستانو سره په جګړه کې دي."[684]

# لړلیک (فهرست)


| | |
|---|---|
| مهمې پیښې | 159 |
| د اقتصادي راپور لنډیز | 160 |
| بانکداري او مالي چارې | 165 |
| د امریکې متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ کړنلارې | 169 |
| کرنه | 173 |
| مهم خدمتونه او پراختیا | 175 |
| وړل راوړل (ترانسپورت) | 178 |
| اقتصادی وده | 179 |
| پوهنه | 180 |
| روغتیا | 182 |

# اقتصادي او ټولنيزه پراختيا

د امريکي متحده ايالاتو حکومت د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې 31 مې نېټې پورې نږدې 31.9 ميليونه امريکايي ډالر په افغانستان کې د حکومت ولی، اقتصادي او ټولنيزې پراختيا په موخه چمتو کړي دي. د دې پيسو زياتره برخه د امريکي متحده ايالاتو د نړيوالي اداري د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) ته تخصيص شوې وه. د 2015 زيږديز کال د تخصيص ګډ او دوامداره قانونو 900 ميليونه اضافي امريکايي ډالر د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) چمتو کړي چې ټول ټال اندازه 18.6 ميلیارده امريکايي ډالرو ته رسوي. له دې جملې څخه 16.3 ميلیارده امريکايي ډالر چمتو شوي او 13.1 ميلیارده امريکايي ډالر لګول شوي دي. په 2015 مالی کال کې 900 ميليونه ESF ته تخصيص شوې چې دغه اندازه د 2014 مالي کال د 852 ميلیارده تخصيص شويو امريکايي ډالرو څخه زياتوالی ښيي، خو د 2010 مالي کال د تخصيص شوې بودجې څخه چې 3.3 ميلیارده امريکايي ډالره وه د پام وړ کموالي ښيي.[685]

## مهمې پيښې

سږکال زيات پراختيايي کارونه ترسره شوي چې د افغانستان اقتصادي او ټولنيز چاپيريال اغيزمن کولای شي:

- د امريکي متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير جان کيري او جمهور رئيس غني د نوو پراختيايي همکاريو اعلان وکړ چې په دې کې د افغانستان حکومت پرخپل ځان د باوري کيدو او پرخپلو پښو دريدلو په موخه يو پنځه کلن پلان شامل دی چې دغه کار به د امريکي متحده ايالاتو د 800 ميليونه امريکايي ډالرو مرستو څخه د ګټې اخيستلو له لارې ترسره شي څو د ټاکلو پراختيايي ننګونو او د افغانانو په مشرۍ د اجرااتو او پراختيايي کارونو اندازه کولو په موخه افغاني حل لارې وهڅول شي.[686]
- د امريکي متحده ايالاتو د مالیي وزارت د افغانستان د مالیي وزارت لپاره د تخنيکي مرستو او وړتيا لوړولو پروګرامونو د رامينځته کولو په موخه د اقتصادي همکاريو د چوکاټ تړون لاسليک کړ څو د افغانستان د حکومت د مالي مديريت او کنټرول سيستمونه او د مالي سکتور د نظارت ځانګې پياوړې کړي.[687] دا په افغانستان کې د 2013 زيږديز کال د آګست د مياشتې راهيسې لومړنی مالي رسمي پروګرام دی.[688]
- د 1393 مالي کال (د 2013 زيږديز کال د ډسمبر له 22 مې نېټې څخه د 2014 زيږديز کال د ډسمبر تر 21 مې نېټې پورې) راټول شوي کورني عوايد د مالیي وزارت د ټاکل شوې بودجې څخه 35% او د 1392 مالي کال د راټول شويو کورنيو عوايدو څخه 9.9% کم دي.[689]
- د افغانستان *ولسي جرګې* د 1394 مالي کال (د 2014 زيږديز کال د ډسمبر له 22 مې نېټې څخه د 2015 زيږديز کال د ډسمبر تر 21 مې نېټې پورې) ملي بودجه تصويب کړه. ياده بودجه ټول ټال 7.65 ميلیارده امريکايي ډالره ده چې د 1393 مالي کال د بودجې څخه 1.8% زياته ده.[691]
- د پيسو نړيوال صندوق (IMF) د افغانستان د سترو ټګلارو او ساختاري اصلاحاتو اجندا د پلي کولو د څارنې او تفتيش په موخه له افغانستان سره د کارکوونکو په کچه يو نهه مياشتنی توافق ته ورسيدل.[692]

## د اقتصادي راپور لنډیز

تیر کال د سیاسي او امنیتي نامعلومو (مبهمو) حالاتو د کچې لوړوالي له کبله د افغانستان د کورنیو ناخالصو تولیداتو په حقیقي وده کې (پرته له تاریاکو څخه) د پام وړ کموالی راغلی دی چې په اټکلي ډول په 2013 زیږدیز کال کې 3–4% او د نړیوال بانک د وړاندوینې سره سم په 2014 زیږدیز کال کې 1.5% وو. دغه کار د پانګوالو د فعالیتونو د رکود او د مصرف کوونکو د باور د کچې د ټیټوالي سبب شوی دی او داسې ښکاري چې لږ تر لږه د 2015 زیږدیز کال تر لومړۍ نیمایي پورې دوام وکړي او ورسره د بهرنیانو نیغ په نیغه پانګونې لا له وړاندې د کموالي په حالت کې دي. دوامداره نا امني، بې ثباتي او سیستمیک اداري فساد به نور هم په خصوصي پانګونې اود ودې په کموالي باندې منفي اغیزه وکړي.[693]

## د افغانستان مالي بحران

د افغانستان حکومت د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې د مالي بحران راپور ورکړ.[694] دوه میاشتې وروسته یې د 1393 مالي کال په بودجه کې د 537 میلیونه امریکایي ډالرو د کموالي راپور ورکړ.[695] د افغانستان د مالیې وزارت د راپور سره سم، په 1393 مالي کال کې ټول ټال کورني عواید – مالیاتي او غیر مالیاتي عواید، ګمرکي محصولات د کلنۍ بودجې څخه د 602 میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه چې (-35%) کیږي او همدارنګه د 1392 مالي کال د کورنیو عوایدو څخه 187 میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه چې (-9.9%) کیږي، وروسته پاتې شول.[696] په 1393 مالي کال کې د افغانستان د ټول ټال بودجې (5.2 میلیارده امریکایي ډالرو) 33% (1.7 میلیونه امریکایي ډالر) د کورنیو عوایدو څخه او پاتې برخه یې د تمویلوونکو هیوادونو د مرستو څخه چمتو شوي. په 1393 مالي کال کې د افغانستان حکومت لګښتونه د 1392 مالي کال په پرتله 9.2% زیات شوي.[697]

د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت وایي چې د افغانستان حکومت د 1393 مالي کال یوه اندازه باقیداریو د ادا کولو مسؤلیت په غاړه اخیستی دی اوپه 1394 مالي کال کې به په ورته ډول د بودجې د کموالي سره مخامخ شي.[698] د پیسو د نړیوال صندوق (IMF) د معلوماتو سره سم، افغانستان په نړۍ کې د کورنیو عوایدو یو له ټولو ټیټې کچې لرونکی هیواد دی چې د 2006 زیږدیز کال څخه تر 2013 زیږدیز کال پورې د کورنیو عوایدو اوسطه اندازه 9% وه په داسې حال کې چې د ټیټې کچې عوایدو لرونکو هیوادونو په پرتله چې د عوایدو کچه یې د 21% په شا او خواکې ده، ټیټه ده.[699]

د نړیوال بانک د وړاندوینې سره سم، په امنیتي، خدمتونو لیږد، مهمو زیربنایي پروژو او عملیاتو او ساتنې برخو کې د لګښتونو د کچې لوړوالي له کبله به په 1395 (2016) مالي کال کې د لګښتونه کچه د 1393 مالي کال په پرتله چې 27.3% وه، د کورنیو ناخالصو تولیداتو 30.5% ته لوړ شي.[700] لکه څرنګه چې په 3.27 شکل کې ښودل شویده، مالي تشه پراخه او مخ پرودې ده. د تمویلوونکو هیوادونو او ادارو مرستې یې راتنګولای شي خو ډکولای یې نشي.

## ورک شوي ګمرکي عواید

د افغانستان د مالیې وزارت په 1393 مالي کال کې د ګمرکي محصولاتو له درکه 396.7 میلیونه امریکایی ډالر راټول کړي چې د 1392 مالي کال څخه 91.3 میلیونه امریکایي ډالر او د کلنۍ ټاکل شوي بودجې (622 میلیونه امریکایي ډالرو) څخه 255.3 میلیونه امریکایی ډالر کم دي.[701] د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) وایي چې د اداري فساد له کبله د ورکو شوو ګمرکي محصولاتو اندازه معلومه نده او نه هم په دې برخه کې د باور وړ اټکل شته.[702] د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت وایي چې د امریکې متحده ایالاتو د خپلو ملکی او نظامي کارکوونکو د کموالي د روان بهیر له کبله د افغانستان د ګمرکي محصولاتو د راټولولو د بهیر د څارنې او ارزونې په برخه کې خپله وړتیا په پراخه کچه له لاسه ورکړې ده. همدارنګه په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت هم د افغانستان د ګمرکونو په ملي اکاډمۍ کې د ا فغانستان د ګمرکونو د روزنې د مرکزونو یا روزنیزو پروګرامونو او عملیاتو څخه نیغ په نیغه څارنه او نظارت نه کوی.[703]

د *طلوع نیوز* د راپور سره سم، د افغانستان د ګمرکونو ریاست (ACD) څخه د 1 میلیارد امریکایی ډالرو اسناد لیرې او ورک شوي دي چې د هیواد د کورنیو ناخالصو تولیداتو 4.8% کیږي.[705] چې په

اداري فساد د افغانستان د ګمرکونو به ریاست (ACD) کې په پراخه پیمان وجود لري. سره له دې چې د سوداګرۍ ټولنه د اداري فساد په برخه کې رول لوبوي، دا ډول اداري فساد د ګمرکونو ریاست د کارکوونکو سره (په ځینو برخو کې) د ګډو مرستو او همکاریو پرته په بریالیتوب سره نه ترسره کیږي.

سرچینه: USAID، *د افغانستان د سوداګرۍ او عوایدو پروژه* (ATAR). د تړون شمیره. AID-OAA-I-12-00035، د 2013 زیږدیز کال د نومبر د 7 مې نېټې څخه د 2014 زیږدیز کال د نومبر تر 6 مې نېټې پورې کلنی راپور. 2/14/2015

**د 1394 مالي کال په لومړی ربع کې د دولت د عوايدو راټولولو په برخه کې ضد او نقيض راپورونه خپاره شوي دي. د مالیي وزارت کارکوونکو په يو راپور کې د 1393 مالي کال د ورته وخت په پرتله د سږ کال په عوايدو کې د 4% زياتوالي اعلان وکړ. د مالیي وزارت کارکوونکو په يو بل راپور کې ويلی دي چې د عوايدو راټولول د خپل اصلي هدف څخه 7% وروسته پاتي دی. د مالیي وزارت په 1394 مالی کال کې د 2015 زیږدیز کال د اپریل د میاشتې تر 17 مې نېټې پورې هيڅ ډول مال خبرونه نشر او خپاره کړي نه وه څو نوموړې ادعا تاييد شي.**

د خامه مطبوعات. د دولت مالی عوايدو کې 4% زياتوالی راغلی دی. 4/1/2015: طلوع نيوز. د ماليي وزارت د عوايدو په راټولولو کې د 7% د کموالي راپور ورکوي. 3/24/2015

شکل 3.27

**د پرمختیايي او عملیاتي بوديجي له لګولو سره په پرتله کې د افغانستان داخلي عواید**

($ میلیون)




یادښت: تر همدي آخرو وختونو پورې، د افغانستان مالي کال تقریباً د میلادي کال د مارچ له 20 څخه د (بل) مارچ تر 20 پورې وو. د 1388 مالي کال سره سمون خوري د 2009 کال د مارچ د 20 نېټې څخه د 2010 کال د مارچ تر 20 نېټې پورې، او همداسې نور. نهه میاشتنی اطلاعات په 1391 مالي کال کې د افغانستان د مالي کال په وخت کې بدلون ته انعکاس ورکوي. د افغانستان مالي کال اوس د دسمبر د میاشتې له 22 څخه د ورپسې دسمبر تر 21 پورې وي.

سرچينه: منبع: د افغانستان ماليې وزارت، د1391 مالي کال کلنی راپور، د ماليې وزارت د 6/20/2013؛ د لاس رسی وړ "د 1393 کال ملي بوديجه د ماليې وزارت د/14/2014؛ نېټې د لاس رسی وړ "د1392 مالي کال میاشتنی اخبار، 12 میاشت،" 2/14/2014؛ ماليې وزارت؛ 1/26/2015؛ "د افغانستان بانک، "په افغانيو د ټاکل شوو اسعارو د تبادلې د ورځې نرخ،" 2/14/2014؛ "د افغانستان بانک، په افغانيو د ټاکل شوو اسعارو د تبادلې د ورځې نرخ" 1/10/2015؛ نړيوال بانک، "د ARTF کلنی راپور: د دسمبر 22، 2013 د دسمبر 21، 2014 کال."

دولتی ادارو کې د سوداګرۍ دقيقو اسنادو او معلوماتو د نشتوالی ستونزه ښيي. جمهور رئيس غني د 2015 زيږديز کال د مارچ په میاشت کې د امریکې متحده ایالاتو غونډه والو ته وويل چې د افغانستان د احصايي مرکزي اداري (CSO) د راپور سره سم، افغانستان له پاکستان څخه د 800 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت سوداګريز توکي واردوي، په داسې حال کې چې پاکستان افغان مقاماتو ته ويلي دي چې دوی افغانستان ته د 2.5 بيلونو په ارزښت سوداګريز توکي صادروي.[706] د امریکې متحده ایالاتو نړيوالي پرمختیایي اداري (USAID) د افغانستان د سوداګری او عوايدو (ATAR) پروژې د افغانستان د احصايي مرکزي اداري (CSO)، د افغانستان د ګمرکونو رياست (ACD) او د افغانستان د صادراتو د پراختیا اداري (EPPA) ترمنځ د يو درې اړخيزه تړون د لاسليک کولو او پلي کولو په برخه کې مرسته او همکاري کړې څو د سوداګريزو احصايیو په برخه کې د توپير کچه راټيټه کړل شي.[707]

په دې ربع کې د هرات د سوداګری خونو د یاد ولایت د ګمرکونو دفتر د څارني ګرځنده (سيار) واحدونه په اداري فساد او لاقانونه وارداتو ته د اجازې ورکولو په قاچاق کې په لاس لرلو تورن کړل

چې نوموړي لاقانونه واردات د سيمه ييزو فابريکو د دروازو د تړلو سبب ګرځي. د طلوع نيوز راپور ورکړی چې د هرات لوی څارنوالي ويلي دي چې د قاچاق د پنځو قضيو د څېړنو (تحقيقاتو) اسناد لا درکه شوي دي.[708] جمهور رئيس غنی د 2014 زېږديز کال د ډسمبر په مياشتې کې د هرات د ګمرکونو رئيس له خپلې دندې څخه ګوښه کړ او د هغه او د هغه د سوداګريزو مالونو د برخې کارکوونکو په هکله يي د څېړنو (تحقيقاتو) د ترسره کولو امر وکړ.[709]

## د تمويلوونکو ادارو مرستي د 1393 مالی کال مالي تشه ډکوي

د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د راپور سره سم، افغانستان په 2014 زېږديز کال کې د مالي چارو روڼوالي (شفافيت) د حد اقل شرايطو د پوره کولو په لور د پام وړ پرمختګ نه دی کړی او د داچې د افغانستان د عوايدو اسناد د باور وړ نه دي.[710] په تيره ربع کې د امريکې متحده ايالاتو د افغانستان حکومت ته 100 ميليونه امريکايي ډالر چمتو او ورکړل څو د 1393 مالي کال په کلني بودجه کې 537 ميليونه امريکايي ډالرو د کموالی ستونزه په قسمي ډول حل او فصل کړي. د نوموړو 100 ميليونه امريکايي ډالرو له جملې څخه 75 ميليونه امريکايي ډالر يې د افغانستان حکومت د هغه اقداماتو لپاره چې له وړاندې ترسره شوی وه، لګول شوي: د دوه اړخيزه امنيتي او ځواکونو د وضعيت تړونونو او د کابل بانک د قضيې د بيرته پرانيستلو په هکله د جمهور رئيس غني پريکړه.[711] پاتې 25 ميليونه امريکايي ډالر هم ولګول شول سره له دې چې د افغانستان حکومت د امريکې متحده ايالاتو د سفير يې ميکايل مککينلی هغه غوښتنې ته محدود ځواب ورکړچې د پورته ذکر شوو 75 ميليونه امريکايي ډالرو د لګښت د مناسبو اسنادو د چمتو کولو او وړاندې کولو په هکله يې کړې وه.[712]

د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت سيګار ته خبر ورکړی چې د 25 ميليونه امريکايي ډالرو په هکله هغه دوه شرايط چې سيګار د *2015 زېږديز کال د جنورۍ د مياشتې په درې مياشتني راپور کې د امريکې متحده ايالاتو کانګرس ته چمتو او وړاندې کړي دي* - د ولسي جرګې له خوا د حقيقي بودجې تصويب او په رسمي ډول د پيسو د نړيوال صندوق (IMF) د کارکوونکو د څارنې پروګرام رامينځته کول- يوازې لومړني شرايط وه.[713] د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت وايي چې افغانستان د پيسو د لاسته راوړلو لپاره دوه وروستني شرايط پوره کړي دي چې عبارت دي له: (1) د افغانستان د مالي چارو د مديريت او کنټرول معلوماتي سيستم (AFMIS) ته چې د افغانستان د حکومت د حسابدارۍ يو پراخه سيستم دی، په کابل کې د امريکې متحده ايالاتو د سفارت د کارکوونکو لاس رسی او (2) د افغانستان حکومت له خوا د ملکي هوايي چلند لپاره د سټلايټ سيستم د نصبولو د نوي پروژې د تړون ترسره کولو په موخه د مناسبو ګامونو د پورته کولو په هکله د تاييد ليک چمتو کول.[714]

## د 1394 مالي کال بودجه منظور شوه

د افغانستان ولسي جرګې د 1394 مالي کال (د 2014 زېږديز کال د ډسمبر له 22 مې نېټې څخه د 2015 زېږديز کال د ډسمبر تر 21 مې نېټې پورې) ملي بودجه د 2015 زېږديز کال د جنورۍ د مياشتې په 28 مه نېټه منظور کړه.[715] د 7.65 ميليارده امريکايي ډالرو کلني بودجې څخه چې د 1393 مالي کال په پرتله يې کې 1.8% زياتوالی راغلی دی، 4.97 ميليارده امريکايي ډالر يې عملياتي (عادي) او 2.68 ميليارده امريکايي ډالر انکشافي بودجه تشکيليوي. د ټول ټال بودجې 44% د امنيتي چارو، 16% زيربنايي پروژو، 13% پوهنې، 10% کرنې او 4.2% روغتياي خدمتونو ته ځانګړې شوې ده.[716]

د 1394 مالي کال د وړاندويني سره سم، کورني عوايد به 2.2 ميلياره امريکايي ډالرو ته چې د 1393 مالی کال په پرتله 30% زياتوالی ښيي، لوړ شي. د بودجې د معلوماتو سره سم، د دې کار د ترسره کولو لپاره بايد ولسي جرګه ماليات او د ګمرک محصول لوړ کړی چې د دې کار لپاره په اړونده قوانينو کې بايد بدلون راوستل شي. سربيره پردې بودجه د 1394 مالي کال په کورنيو ناخالصو توليداتو کې 9% وده قبلوي، سره له دې چې په 1393 مالي کال کې د کورنيو ناخالصو توليداتو وده 1.9% ته راکښته شوې وه. افغانستان په مکرر ډول د ټاکل شوي کلني بودجې هدف ته د رسيدلو څخه وروسته پاتې

### د سيګار ځانګړې پروژه

په دې ربع کې سيګار د امريکې متحده ايالاتو دفاع وزارت، بهرنيو چارو وزارت او USAID ته د هغه اندېښنو د شريکولو په موخه يو ليک استولی دی چې د 2015 زېږديز کال د فبرورۍ په مياشت کې افغانستان ته د ځانګړي څارونکي (مفتش) جنرال سوپکو د سفر په دوران کې په کابل کې د امريکې متحده ايالاتو د سفارت د زياتره کارکوونکو له خوا راپورته شوي چې افغانستان په عوايدو کې د کموالي له کبله نشي کولای د خپلې بودجې مالي ژمنې پوره کړي. د امريکې متحده ايالاتو چارواکو دې خبرې ته اشاره کړې ده چې په عوايدو کې په لوړه کچه کموالی د انديښنو د رامينځته کيدلو سبب کيږي. د افغانستان د 1393 مالی کال د ګمرکونو د محصول تقريباً نيمايي برخه غلا شوې ده. د لا زياتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د 43 مخ دويمې برخې ته مراجعه وکړئ.

### د سيګار ځانګړې پروژه

په دې ربع کې سيګار د امريکې متحده ايالاتو سفير مک کينلي ته د هغه پريکړې په هکله چې 100 امريکايي ډالر به د افغانستان د 1393 مالي کال په بودجه کې د کموالی د رامينځته کيدو په ځواب کې لګوي، يو ليک استولی دی. په دې ليک کې د نورو پوښتنو ترڅنګ له مک کينلي څخه پوښتلي دي چې د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت څرنګه بودجه معلومه او اټکل کړې وه چې په پايله کې افغانستان دولت د بودجې د کموالی سره مخامخ شو او ايا دا چې د امريکې متحده ايالاتو د نړيوال بانک سره د 100 ميليونه امريکايي ډالرو د لګولو د څرنګوالي په برخه کې تحقيق او څېړنه کړې ده. د لا زياتو معلوماتو لپاره د 44 مخ دويمې برخې ته مراجعه وکړئ.

شوی دی او د د غو اټکلونو په حقیقت بدلول ستونزمن کار دی.[717] نړیوال بانک د مخکینیو پیشنهاد شوو بودجود د عوایدو طرحې هیله مندې بللې دي او د اعتبار وړ طرحو په اهمیت یي چې د کافي اقداماتو پواسطه راګرځول شوي، ټینګار کړی دی.[719] د 1394 مالي کال بودجه د \پراختیايي بودجې احتیاطی برخه کې د 1393 مالي کال په پرتله 43% کموالی راولي. د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت وایي افغان چارواکو په مکرر ډول د امریکې متحده ایالاتو چارواکو ته ډاډ ورکړی دی چې په دې مالي کال کې به د پراختیايي احتیاطي بودجې څخه نوي لګښتونه نه ترسره کیږي.[720] په هرحال نړیوال بانک وړاندوینه کړیده چې که څه هم د لګښتونو کچه راټیټه او د تمویلوونکو ادارو څخه بیړنې مالي مرستې ترلاسه شي خو بیا به هم پاتې 1393 مالي کال مالي تشه دولت باقیدار او د 1394 مالي کال په بودجه کې کموالی رامینځته شي چې زیاتو مالي مرستو ته به اړتیا وي.[721]

**هیله ده چې د 1394 مالي کال ټول ټال ملي بودجې جې (7.65) میلیارده امریکایي ډالره ده، 5.3 میلیارده امریکایي ډالر د تمویلوونکو ادارو د بسپنو (ګرنټونو) څخه ترلاسه کړي. د تمویلوونکو ادارو د بسپنې تقریباً 2.8 میلیارده امریکایي ډالر د عملیاتي (عادي) بودجې او پاتې 2.5 میلیارده امریکایي ډالر به د انکشافي بودجې لپاره ولګول شي.**

سرچینه: د مالیي وزارت، د ملي بودجې سند، 1394 مالي کال، 1/28/2015

## د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د کارکوونکو د څارنې پروګرام (SMP)

د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې په 20 مه نېټه منظور شو، IMF د افغانستان له حکومت سره د کارکوونکو د څارنې نهه میاشتني پروګرام (SMP) د شرایطو پر سره توافق ته د رسیدلو اعلان وکړ. دغه غیر رسمي تړون چې په جزئیاتو یي لا تراوسه خبرې رواني دي، د IMF کارکوونکو ته اجازه ورکوي چې په 2015 زیږدیز کال کې د افغانستان د سترو اقتصادي ننګلارو او ساختاري اصلاحاتو اجندا د پلې کولو چارې و څارې.[722] د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت وایي چې SMP په ژوره توګه فکر کوي چې د پیسو نړیوال صندوق (IMF) د یو رسمې پروګرام د رامینځته کولو لپاره د خپلو کړو ژمنو پوره کولو په برخه کې د افغان دولت په اراده او وړتیا باندې ډیر کم باور لري.[723] د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کې د امریکې متحده ایالاتو سفیر مک کینلی د افغانستان مالیي وزارت ته په یو استولي لیک کې ویلي چې یو منظور شوی SMP به د راتلونکې بودجې د لګښتو په برخه کې د امریکې متحده ایالاتو دولت وړتیا په ساتلو کې مرسته او همکاري وکړي.[724]

SMP کارونه به په مالي تګلارو متمرکز وي لکه د نړیوالو بودجو او سیالۍ د ساتنې په موخه د بیو د کچې لوړوالی او اسعارو د تبادې نرخ د ټیټ ساتلو تګلاره، د مالي سکتور سمون او اصلاح کول لکه د کمزورو بانکونو سره معامله کول، د بانکدارۍ د نوی قانونو تصویبول او د بانکدارۍ د څار او نظارت بهیر پیاوړې کول: او غوره اقتصادي حکومت ولي لکه د اداري فساد او پیسو سپینولو ضد او تروریستانو ته د مالي سرچینو د چمتو کولو پر وړاندې د مبارزې قوانینوپیاوړې کول.[725]

د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت وایي چې د SMP وروستنۍ موخه د IMF د یو رسمې پروګرام د شرایطو پوره کولو ترڅنګ بالقوه مالي سرچینو ته لاس رسي څخه عبارت ده. د SMP پروګرامونه مالي مرستو یا د IMF د اجرائیه هیئت ملاتړ او منظورۍ ته اړتیا نه لري بلکه د IMF کارکوونکو ته د افغان مقاماتو سره د کارکولو موقع چمتو کوي څو وګوري چې آیا دولتي مقامات د IMF له خوا تجویز شوي پروګرام د پرمخ بیولو او سرته رسولو او د اجراآتو او لاسته راوړنو د یو مثبت ریکارډ لپاره اراده او د خپلو کړو ژمنو د ترسره کولو وړتیا لري. د مالیی وزارت د IMF د کیفیت په آزموینه کې د بریالیتوب په موخه د افغانستان د اقتصادي تګلارو او مدیریت او کنټرول له وړتیاوو څخه کتنه کوي، په آزموینه کې بریالیتوب د IMF څخه د مالي مرستو د لاسته راوړلو څخه زیات اهمیت لري.په بریالیتوب سره د SMP بشپړیدل د IMF کارکوونکو ته ډاډ ورکوي چې ملي مقامات به د یو رسمي پروګرام لاندې خپلې ژمنې پوره کړي.[726]

د مالي وزارت وایي چې د IMF د 129 میلیونه امریکایي ډالرو د پورچمتو کولو د اسانتیاوو د غزولو (ECF) درې کلن رسمي پروګرام سره چې د 2014 زیږدیز کال د نومبر په میاشت کې تړون پای ته رسیدلای، د افغانستان بدې او کمزورې مخینې ته په پاملرنې سره د IMF کارکوونکي باور

لري چې د افغانستان حکومت بايد د نوي رسمي پروګرام د پيل څخه وړاندې خپل باور اعاده کړي.[727] د امريکې متحده ايالاتو د مالي وزارت زياتوي چې د امريکې متحده ايالات او نور تمويلوونکي هيوادونه او اداري په پام کې لري چې د ملي يووالي حکومت سره کار وکړي او هيله لري چې د يو استراتيژيک ملګري (همکار) په توګه د افغانستان وړتيا (ظرفيت) لوړه او اصلاح کړي.[728]

## سوداګري (تجارت)

د 2015 زيږديز کال د مارچ په مايشت کې واشنګټن ډي سي ته د جمهور رئيس غنِ او اجرائيه رئيس عبدالله د سفر په دوران کې د امريکې متحده ايالاتو د سوداګرۍ وزارت او د افغانستان حکومت اعلان وکړ چې سږکال به د سوداګرۍ او پانګونې په بره کې د همکاريو د بهبود او فرصتونو د کچې لوړولو په موخه د سوداګرۍ او پانګونې چوکاټ د تړون شورا غونډه دايروي.[729] د امريکې متحده ايالاتو په 2014 زيږديز کال کې د 63 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت افغان مالونه وارد کړي دي په داسي حال کې چې تقريباً د 782 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت مالونه يې افغانستان ته صادر کړي دي.[730]

د دې سفر په دوران کې جمهور رئيس غني وويل چې د افغانستان لپاره د هغه موخه داده چې افغانستان د سيمې د اقتصاد د يووالي لپاره د سوداګرۍ او ترانزيت په مرکز بدل شي.[731] د دې خوب په حقيقت بدلولو لپاره، افغانستان په دې ربع کې د سيمه ييز اقتصاد او سوداګريزو همکاريو د کچې لوړولو په موخه خپلو هلو ځلو ته ادامه ورکړې. افغان او تاجک چارواکو د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې په 10–11 نېټه سره وليدل څو د پاکستان سره د ترانزيت او سوداګرۍ درې اړخيزه تړون مسوده د دوباره کتنې لاندې ونيسي. د درې اړخيزه تړون کاري ډلې د اپريل د مياشتې په 9 مه نېټه په دوشنبې کې سره وليدل څو د تړون د جزئياتو د پای ته رسولو په برخه کې سره مرسته او همکاري وکړي.[732] سربېره پردې افغانستان ته د سويلي آسيا د سوداګرۍ د آزادې سيمې په چوکاټ کې د هندوستان بازارونو ته په وړيا توګه د توکو د صادرولو وړانديز وشو.[733] همدارنګه افغانستان به په دې ربع کې د خپلې سوداګرۍ او اقتصادي پراختيا د کچې پراخولو په موخه د خپلو هلو ځلو د يوې برخې په توګه د اروپا، ققفاز او آسيا د ترانسپور دهليز کې ګډون وکړي. په 2005 زيږديز کال کې افغانستان ته په ياد دهليز کې د ګډون بلنه ورکړل شوې وه، خو د منظورۍ چارې يې 10 کاله وځنډېدلې.[734] بالاخره د ترانزيت نوی درې اخيزه تړون چې د ايران د چابهار بندر به د افغانستان او هند د سوداګريزه توکو پرمخ خلاص کړي، د بياکتنې به وروستنې مرحله کې دی.[735]

### د صادراتو او وارداتو اسناد او معلومات

د 2006 زيږديزکال څخه تر 2013 زيږديز کال پورې د افغانستان د ټول ټال مالياتي عوايدو 45% سوداګريز ماليات تشکيلوي.[736] سره له دې چې د افغانستان په سوداګرۍ کې هره ورځ په پراخه کچه کموالی راځي، خو بيا هم د تمويلوونکو ادارو مرستې د هيواد د کورنيو ناخالصو توليداتو د موجوده جاري حساب بيلانس 4.1% په ساتلو کې مرسته او همکاري کوي.[737] سربېره پردې د پيسو نړيوال صندوق (IMF) د اټکل سره سم، د افغانستان جاري حساب به د کسرسره مخامخ شي چې د کورنيو ناخالصو توليداتو 41% سره برابر دی.[738]

د پيسو نړيوال صندوق (IMF) د اټکل سره سم، افغانستان د 2011–2014 زيږديزو کلونو په دوران کې هر کال د 3–3.3 ميلیارده امريکايي ډالرو په ارزښت توکي (اموال) او خدمتونه له هيواد څخه د باندې صادر کړي دي چې په دې کې غيرقانوني ترياک شامل نه دي.[739] نړيوال بانک وايي افغانستان يوازې يوکم شمير توليدات له هيواد څخه د باندې صادروي او يو څو محدود سوداګريزملګري (شريکان) لري.[740] چې دا کار افغانستان دې ته اړباسي چې د پيسو د لاسته راوړلو لپاره په يو څو محدودو توکو (مالونو) اتکا وکړي اوپه نتيجه کې د بې ثباته بيو او سوداګريزو صدمو د خطر سره مخامخ شي.[741]

د پيسو نړيوال صندوق (IMF) د وړاندوينې سره سم، افغانستان به په 2014 زيږديز کال کې د 11 ميليونو په ارزښت څخه زيات توکي (مالونه) او خدمتونه وارد کړي چې د 8 ميلیارده څخه زياتې پيسې به د رسمي تمويلوونکو ادارو او هيوادونو د بسپنو (ګرنټونو) څخه ورکړل شي. د امريکې متحده ايالاتو د مالي وزارت له وړاندوينې سره سم، د افغانستان د وارداتو حقيقي کلنی وړتيا (د ترياکو غير

قانوني عوايدو څخه پرته) په هيواد کې د ميشتو بهرنيو وګړو د اړتياوو څخه پرته له 2 ميليارده امريکايي ډالرو څخه کمه ده. د امريکې متحده ايالاتو د ماليې وزارت وايي چې د لوړې کچې بهرنيو مرستو څخه پرته به د وارداتو کچه راټيټه شي، خو دغه اندازه په هيواد کې د ميشتو بهرنيو وګړو په اړتياوو پورې اړه لري. د افغانستان واردات، يو ځل چې د ميشتو بهرنيو وګړو د اړتياوو کچه راکښته شي، هغه بهرنيو مرستو او همکاريو ته چې د نورمالو اقتصادي فعاليتونو او ودې د پاييښت لپاره ورته ضرورت وي، اړتيا لري. دا ضروري نده چې د وارداتو کموالی دې په اقتصاد بده او ناوړه اغيزه وکړي.[742]

## د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروژه

| د پروژې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال اټکل شوی قيمت (امريکايي ډالر) | د 2015 زيږديز کال د مارچ تر 31 مې نېټې پورې ټول ټال لګښتونه |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو پروګرام | 11/7/2013 | 11/6/2017 | $77,754,267 | $21,775,243 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ځواب، 4/9/2015.

په دې ربع کې د اقتصادي ودې لپاره د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د لومړنيو ږومبيتوبونو څخه يو هم د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروژه ده چې د سوداګرۍ لپاره لاره هواروي او د لاندې موخو د لاسته راوړلو لپاره طرحه او ډيزان شوې ده: (1) د سوداګرۍ د لبرالي کولو (د هيوادونو ترمنځ د توکو په راکړې ورکړې باندې د ګمرکي محصولاتو د کچې راکمول يا ليرې کول) تګلارو اصلاح کول چې په دې کې د سوداګرۍ نړيوالې ادارې (WTO) ته د افغانستان د لاس رسي لپاره مرستې او همکارۍ شامل دي: (2) د حکومت د ورتيا ښه کول او د اغيزو د کچې لوړول څو د افغانستان د ګمرکونو د ادارو او لارو چارو د نوي کولو له لارې عوايد ترلاسه کړي: او (3) دوه اړخيزه او درې اړخيزه سيمه ييزو سوداګريزو تړونونو ته لاره هوارول.[743]

په دې ربع کې د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروژې د افغانستان د ګمرکونو له رياست (ACD) څخه د 2014 زيږديزکال د وارداتو، صادراتو او عوايدو په هکله اسناد او معلومات راټول کړي دي:ياد اسناد او معلومات په وارداتو کې 2–3% لوړوالی ښيي، خو د افغانستان د ګمرکونو رياست له خوا راټولو شوو عوايدو په کچه کې 8.3% کموالی راغلی دی. د افغانستان د ګمرکونو رياست (ACD) د کورنيو توليداتو د صادرولو د ارزونې په بهير کې د بهرنيو توکو بيرته صادرول هم ريکارد کړي دي چې بايد ليرې او دوباره حساب شي. همدارنګه د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروژې په جرمني کې د غاليو نړيوال ننداړتون په دوران کې د افغان سوداګرو سره د 3.6 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت معاملاتو په برياليتوب سره ترسره کولو کې په برخه کې مرسته او همکاري کړې ده او همدارنګه د سوداګرو سره د 12 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د مرمرو د هغه معاملې په برياليتوب ترسره کولو په برخه کې چې د اونکس او لاپس لازول ترمنځ په هندوستان کې د يوې غونډې پرمهال ترسره کيږي، مرسته او همکاري کوي.[744] د افغانستان د سوداګرۍ او عوايدو (ATAR) پروژې د افغان سوداګرو او د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د کارکوونکو لپاره د سوداګريزې علامې د عامه پوهاوي ورکشاپ د چمتو کولو او پرمخ بيولو په برخه کې مالي مرسته کړې ده چې موخه يې د دولت او سوداګرو ترمنځ د يو همکار چاپيريال د رامينځته کولو په برخه کې مرسته او همکاري کول دي څو د سوداګرۍ اړونده ستونزو په هکله خبرې اترې ترسره او د حل لاره ورته پيدا کړي.[745]

## بانکداري او مالي چارې

د 10% څخه کم افغان وګړي له بانکونو څخه کار اخلي: تقريباً 90% مالي معاملات د حواله غير رسمي سيستم له لارې ترسره کيږي. د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د راپور سره سم، د حواله او رسمي بانکدارۍ د سيستمونو ترمنځ ځرګند توپير نشته – حواله دار بانکي حسابونه ساتي او د برښنايي سيستم له لارې د پيسو د ليږد خدمتونو څخه کار اخلي، په داسې حال کې چې بانکونه د افغانستان ليرې پرتو سيمو ته د پيسو د ليږد لپاره له حواله څخه کار اخلي. د افغانستان د مالی اطلاعاتو واحد د معلوماتو سره سم، تر دې دمه د پيسو د خدمتونو هيڅ افغان کاروباري يا حواله دار د افغانستان قانون د شرايطو سره سم، د مشکوکو معاملاتو په هکله افغان دولت ته راپور نه دی ورکړی.[746]

## د امریکې متحده ایالاتو د مالی مرستو ترون لاسلیک شو

د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې په 23 مه نېټه د امریکې متحده ایالاتو د مالیې وزیر جک لیو موافقه وکړه چې د افغانستان مالی وزارت لپاره به د تخنیکی مرستو او وړتیا (ظرفیت) لوړولو پروګرامونه رامینځته کړي. د امریکې متحده ایالاتو د مالیې وزارت د تخنیکی مرستو دفتر موخې د افغانستان حکومت د مالي مدیریت او کنټرول سیستمونو (بودجې، نغدي پیسې، عواید، د تقاعد پیسې، مسؤلیت منل او خطر، په ملی اود ولایتونو په کچه اړیکې) پیاوړی کول او د مالي سکتورونو د څارنې او نظارت د کچې (بانکداري، پلټنه، وړتیا، قوانین او مقررات) لوړول دي. همدارنګه د امریکې متحده ایالاتو د مالیې وزارت به د افغانستان د مالي اطلاعاتو څانګې (واحد) ته د مهمو دندو د وړتیا لوړولو او د پیسو سپینولو پروړاندې د مبارزې/ تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولو پروړاندې مبارزې د خپلو اړونده مسؤلیتونو د بوهاوي د کچې لوړولو په برخه کې هم تخنیکي مرستې چمتو کړي.[747] په پام کې ده چې نوموړی کار افغانستان ته د متناوبو ماموریتونو، د لیرې لارو څخه د مرستو چمتو کولو او په یو درېیم هیواد کې د روزنیزو پورګرامونو له لارې ترسره کړي.[748]

## د پیسو سپینول

د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت افغانستان د پیسو سپینولو د یو ستر هیواد په توګه په لست کې شامل کړی دی. د دغه هیواد مالي بنسټونه یا خود پام وړ لاقانونه ګټو په معاملاتو کې ښکېله لاس لري یا خو دې کار ته اړ شوي دي چې دا ټول د افغانستان امنیت او پرمختګ د یو ستر ګواښ سره مخامخ کوي. نشه ای توکي، اداري فساد په قراردادونو کې درغلی د هیواد د لاقانونه عوایدو او سپینو شوو بودجو تر ټولې سترې سرچینې ګڼل کیږي. افغانستان د اداري فساد پروړاندې د مبارزې په موخه د څارنې او پلي کولو کمزوری او غیرواقعې رژیمونه او کمزوری سیاسي اراده لري.[749] د امریکې متحده ایالاتو د مالیې وزارت خبرداری ورکړی دی که چیرې افغانستان د پیسو سپینو پروړاندې د مبارزې/ تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولو په وړاندې د مبارزې د قوانینو د پلي کولو په برخه کې له ناکامی سره مخامخ شي، نو د بانکداری سیستم به یې د ټولې نړۍ د سیستمونو څخه جلا او د مهمو مالي خدمتونو د چمتو کولو توان به ونلري.[750]

### د پیسو سپینولو پروړاندې د مبارزې او تروریستانو ته د مالي سرچینو د چمتو کولو پروړاندې د مبارزې د قانون جوړولو نیمګړتیاوې

د افغانستان د مرکزي بانک د راپور سره سم، په 2014 زیږدیز کال کې تقریباً 3.7 میلیونه امریکایي ډالر نغد د کابل نړیوال هوایي ډګر او تقریباً 83,200 امریکایي ډالر د مزار شریف د هوایی ډګر له لارې له هیواد څخه ویستل شوي دی، په داسې حال کې چې له هیواد څخه د 20,000 امریکایي ډالرو څخه زیاتو نغدو پیسو ویستل غیرقانوني کار دی. د افغانستان د قانونو سره سم، د هیواد وګړي اړتیا نه لري چې د هیواد څخه د باندې پیسو په هکله راپور ورکړي. د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د راپور سره سم، د هیواد په رسمي پولو او د ګمرکونو په ادارو کې د اداری فساد د شتون له کبله زیاتره مالونه پرته له تلاشی او څارنې څخه پریښودل کیږي:په عمومي ډول سره زیاتره سرحدي سیمې د کنټرول یا د کنټرول لاندې نه وي. سربیره پردې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د لوړ رتبه کسانو لپاره د ځانګړې لارې په ګډون د ټولو مسافرینو د تلاشي او کنټرول لپاره کوم ځانګړې اقدامات په پام کې نیول شوی نه دي.[751]

د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو سره سم، سره له دې چې افغانستان د پیسو د سپینولو پروړاندې دمبارزې/ تروریستانو ته د مالي سرچینو د چمتو کولو پروړاندې مبارزې خپلو رژیمونو د بهود او اصلاح کولو لپاره یو لړ ګامونه پورته کړي دي، خونوموړی قوانین لا تراوسه د نړیوالو معیارونو سره مطابقت، وضاحت او اغیزمنتوب نلري. د امریکې متحده ایالاتود بهرنیو چارو وزارت وایي چې د یو شمیر حواله شبکو بانکي حسابونه یې کنګل او تړلي دي، خو هیڅ بانکي حساب لا ضبط شوی نه دی او د پانګو د شریکولو هیڅ قانوني میکانیزم شتون نلري. راپور سپارښتنه کوي چې افغانستان د پیسو سپینولو او تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولو بهیرونو د لاقانونه ګرځولو په موخه خپلو لاندې ذکر

### د سیګار ځانګړې پروژه

سیګار په 2012 زیږدیز کال کې د امریکې متحده ایالاتو د پروژو په هکله د پروژې یو ځانګړی راپور خپور کړ څو په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو نغدي پیسې تعقیب او خوندي کړي چې په هغې کې د کابل نړیوال هوایي ډګر کې د زیاتو پیسو د شمېرلو ماشینونه او له هیواد څخه د باندې د پیسو د ویستلو د څارنې لپاره نور طرحه او ډیزاین شوي اقدامات شامل دي. سیګار معلومه کړې ده چې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د پیسو د شمېرلو موجوده ماشینونو څخه د ټاکلو دندو لپاره کټه نده اخیستل شوې او لوړ رتبه کسان په دوامداره ډول پرته له کنټرول څخه د هیواد څخه نغدي پیسې وباسي. د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د سیګار ځانګړې پروژې — 13 — 1 د اداري فساد پروړاندې د مبارزې اقدامات: د *کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د زیاتو نقدو پیسو د جریان د څارنې په برخه کې ثابتې ستونزې شتون لري.*

شووکارونو ته ادامه ورکړی ده: د تروریستانو او پیسو سپینولو اړونده پانګو د په ګوته کولو، تعقیبولو، ضبطولو او کنګل کولو په موخه د یو چوکاټ جوړول او پلې کول: د حقوقي ادارو مقاماتو د خپلو څارانې او څېړنیزو (تحقیقاتي) دندو په ښه ډول سره پیژندلو او ترسره کولو په موخه د روزنیزو پروګرامونو او سرچینو چمتو کول: د مالی اطلاعاتو د څانګې او د افغانستان دمالي معاملاتو او راپورونو د شننې مرکزد وړتیا لوړول: د هیواد د پولو څخه د باندې د نغدي معاملاتو د کنټرول د کچې پیاوړې کول.[752]

د امریکې متحده ایالاتو د عدلیی وزارت درې روزنیز کورسونه لري چې د افغانستان د پیسو سپینولو په وړاندې د مبارزې/تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولو په وړاندې د مبارزې په قوانینو او نړیوالو پانګو تعقیبولو باندې متمرکز دي. نوموړې کورسونه د لومړی ځل لپاره د 2014 زیږدیز کال د نومبر په میاشت کې افغان استازو ته وړاندې شول او وروسته له هغې د 2015 زیږدیز کال د فبروري په میاشت کې د لوی څارنوالۍ په دفتر کې سرحدي چارواکو ته وړاندې شوه. د 2015 زیږدیز کال د مارچ په میاشت کې د لوی څارنوالۍ سرپرست هغه څارنوالاتو ته د نوموړو کورسونو د چمتو کولو غوښتنه وکړه چې د امریکې متحده ایالاتو په وینا د یادو قوانینو په هکله ډیر کم معلومات لري.[753]

## د مالي اقداماتو کاري ځواک

د 2015 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې 12–14 نېټې د پیسو د سپینولو د آسیا د ارام اوقیانوس کاري ډلې (APG) چې افغانستان یې هم غړیتوب لري، د استرالیا د سیډني په ایالات کې د افغانستان د مرکزي بانک له چارواکو سره وکتل چې د افغانستان د مالی اقداماتو کاري ځواک د کاري پلان د پلې کولو په هکله سره خبرې اترې وکړي څو د پیسو سپینولوبهیر او د پیسو د سپینولو اړونده پانګو د ضبطولو لپاره د پلې کولو کړنلارې په بشپړه ډول لاقانونه وګرځوي: د تروریستانو د پانګو د په ګوته کولو، تعقیبولو او کنګل کولو لپاره د یو قانوني چوکاټ جوړول او پلې کول: د ټولو مالي سکتورو لپاره د پیسو د سپینولو پروړاندې مبارزې/تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولوپروړاندې مبارزې د څارنې او نظارت د یو بشپړپروګرام پلې کول: او د هیواد د پولو څخه د باندې د نغدی معاملاتو اغیزمن کنټرول. APG د FATF یو مشترک غړی دی. غونډه په مالي منظوریو، د مالي ادارو په څارنې، د مالي اطلاعاتو د څانګې (واحد) په عملیاتو او د پیسو سپینولو او تروریستانو ته د مالی سرچینو چمتو کولو په څارنې متمرکز وه. APG د افغانستان د پرمختګ ستاینه وکړه.[754]

همدارنګه د افغانستان چارواکو د جنوري د میاشتې په 14 مه نېټه د FATF د یو شمیر غړو سره په جلا ډول وکتل څو د افغانستان د پرمختګ په هکله سره خبرې اترې وکړي. د سیډنې د غونډو پایلود افغانستان د دې راپور د په ګوته کولو په برخه کې چې FATF د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په عمومی غونډه کې په پام کې نیولی وه، مرسته او همکاري وکړې.[755] FATF پریکړه کړې ده چې د افغانستان سره د پیسو سپینولو پروړاندې مبارزې/تروریستانو ته د مالی سرچینو چمتو کولو پروړاندې مبارزې قوانینو کې د نړیوال مطابقت د اسنادو سره سم، بهبود او ښه والی رامینځته کړي، چې د خړ رنګه لست په نامه هم یادیږی. دا په دې مانا چې افغانستان د پیسو سپینولو پروړاندې مبارزې/تروریستانو ته د مالی سرچینو چمتو کولو پروړاندې مبارزې قوانینوپه برخه کې د دوامداره (استراتیژیکو) نیمګړتیاوو سره لاس او ګریوان دی. د افغانستان دولت د یادو نیمګړتیاوو د په ګوته کولو او پرمختګ په موخه یو کاري پلان جوړ او په لوړه کچه سیاسي ژمنې ترلاسه کړي. افغانستان د 2014 زیږدیزکال د فبروري په میاشت کې له هغه راهیسې چېتور خړرنګه لست ته راکښته شوی دی، دا دریمه پرله پسې عمومي غونډه ده چې افغانستان په کې دا وضعیت او موقف ساتي.[756]

د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت وایي افغانستان پخپل کاري پلان کې د FATF یو شمیر تخنیکی اړتیاوو د په ګوته کولو له لارې خپل ځان د FATF په تور لست کې د داخلیدلو څخه ساتلی دی د بیلګې په توګه، افغانستان د پیسو سپینولو پروړاندې د مبارزې او تروریستانو ته د مالی سرچینو چمتو کولو پروړاندې د مبارزې قوانین تصویب کړل چې د FATF د پریکړې سره سم، ستره لاسته راوړنه وه، سره له دې چې د پیسو سپینولوپه قانون کې د هیواد د پولو څخه د باندې د پیسو د سپینولو اړوند جرایموپه برخه کې لا پوښتنې پخپل ځای پاتې دي (د پیسو د سپینولو بهیر د لاقانونه ګرځولو لپاره د FATF شرایط د هیواد د پولو څخه د باندې جرایمو د کنرول لپاره د عملیاتو د غزولو غوښتنه

په افغانستان کې د 2012 زیږدیز کال د جون د میاشتې راهیسې د FATF د ارزونې او څارنې بهیر روان دی.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت ځواب، 3/27/2015.

### د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت او FATF

د مالي وزارت د امریکې متحده ایالاتو یو هیئت ته د FATF په عمومی غونډه او د ټولو کاري ګروپونو په خبرو اترو کې له نږدې څخه د ګډون لاربښوونه وکړه. په ځانګړي ډول د FATF دننه د نړیوالو مرستو او همکاریو د بیاکتنې ډلې (ICRG) سره چې مشري یې د امریکې متحده ایالات او آیټالیا په ګډه سره کوي او موخه یې د هغه هیوادونو په ګوته کول او څارنه ده چې د پیسو سپینولو قانون پروړاندې د مبارزې او تروریستانو ته د مالي سرچینو چمتو کولو په وړاندې مبارزې په برخه کې د نیمګړتیاوو سره مخامخ دي. افغانستان یو له هغه 20 هیوادونو څخه وه چې د FATF په وروستنۍ غونډه کې چې د 2015 زیږدیز کال د فبروري په میاشت کې جوړه شوې وه، د ICRG له خوا تر بیاکتنې لاندې ونیول شو. د ICRG د هرې غونډې څخه مخکې، د مالیي وزارت د څارل شوو هیوادونو معلومات چې په هغې کې قوانین او مقررات، نور حقوقي اسناد او حمایه کوونکی مواد شامل دی، تر بیاکتنې لاندې نیسي او وروسته له هغې د امریکې متحده ایالاتو په هیئت کې د نورو ادارو سره پرې خبرې اترې کوي چې د FATF په عمومی غونډه کې د په ګوته شوو هیوادونو په هکله باید کوم ګامونه پورته شي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکې متحده ایالاتو د مالیي وزارت ځواب، 3/27/2015.

کوي) همدارنګه افغانستان د تروريستانو د پانګو د کنټرل کولو د پروسې او قانوني چوکاټ په هکله قوانين او مقررات صادر کړي دي، خولا تر اوسه د کړنلاريزو اسنادو بشپړولو ته اړتيا ليدل کيږي څو د ملګرو ملتونو د امنيت شورا 1267 او 1373 ګڼه فرمانونه چې د ټاکلو اشخاصو د پانګو د کنټرل کولو غوښتنه کوي، په بشپړه توګه عملي کړي.[757]

يو شمير نور مسايل او موضوعګانې چې د امريکې متحده ايالاتو د ماليې وزارت راپورته کړي او اصلاحاتو او سمون ته اړتيا لري، لکه د افغانستان د بانکدارۍ قانون په مسوده کې دهغه شرايطو شاملول چې په راتلونکې کې د بانکونو د ښتنانو د عقايدو او باور سره سمون ولري. په دغه قانون کې د هرڅا لپاره چې د يوې رسمي محکمې له خوا په يو جرم او خطا باندې متهم شوی وي، مبهمو حالاتو ته ځای ورکړل شوی دی چې د هغې له کبله په بند محکوم شوی دی، مګر *داچې نوموړی حکم د هغه د مذهبي او سياسي نظريې او فعاليتونو پواسطه تنبه او تحريک شوی وي*. همدارنګه افغانستان د پيسو سپينولو او تروريستانو ته د مالی سرچينو چمتو کولو اړونده اسعارو د ليږدولو د په ګوته کولو په موخه د هيواد د پولو څخه د باندې سيستم د پلي کولو لپاره د يو قانوني چوکاټ رامينځته کولو او ځای پرځای کولو ته اړتيا لري. د افغانستان د مالي اطلاعاتو څانګه (واحد) د افغانستان د ګمرکونو له رياست سره د راپور ورکولو ميکانيزم د لا پراختيا په موخه کارکوي. د امريکې متحده ايالاتو د ماليې وزارت زياتوي چې افغانستان به تر هغه وخته پورې د FATF د بياکتنې لاندې (په خړرنګه لست کې) پاتې شي چې پاتې اقدامات په بشپړه ډول په ګوته شوي نه وي او FATF په ساحه کې بياکتنه نه وي ترسره کړې څو د اصلاحاتو او سمون راوستلو د پلي کولو چارو د پيل په هکله ارزونه ترسره کړي.[758]

## د کابل بانک د غلا شوو پيسو په اړه ځواب ورکول

جمهور رئيس اشرف غني په خپلو لومړنيو اقداماتو کې چې د 2014 زيږديز کال د لوړې په مراسمو کې يې په هکله لوړه کړې وه، د افغانستان دولتي چارواکو ته امر وکړ چې د کابل بانک قضيه د بې له درنګه بيرته پرانيستل شي او غلا شوې پيسې بيرته ترلاسه او هغه کسان چې د 982.6 ميليونه امريکايي ډالرو په غلا کې يې لاس درلود، مسؤل و ګڼل شي.[759] په هر حال په دې ربع کې د بخښنې کميټې چې د پخواني جمهوررئيس کرزي د فرمان د اړخيزو عوارضو په رامينځته شوې وه، هڅه وکړه چې د کابل بانک د پخواني رئيس شيرخان فرنود او اجرائيه رئيس خليل الله فيروزي د قيد موده راکمه کړي.[760] په دې ربع کې د افغانستان لوی څارنوالی سرپرست د امريکې متحده ايالاتو د عدليې وزارت سره په يوه ليدنه کې وويل چې کله يې د بخښنې په هکله واوريدل نو سمدستي يې ياد بهير ودراوه او له دې نه وروسته بخښنه نشته. لوی څارنوالی د امريکې متحده ايالاتو د عدليې وزارت ته وويل چې نه يوازې داچې د مجرمينو د بند موده به راکمه نشي بلکه هغه د بخښنې د کميټې مشر له دندې ګوښه کړاو د بخښنې د کميټې د غړو څخه تحقيقات پيل شول څو معلومه کړي چې دوی د جمهور رئيس د قانوني فرمان څخه د غلط مفهوم اخيستلو له کبله دا ګام پورته کړی وه او که نه د دې کار د ترسره کولو لپاره پيسې (بډې) ورکړل شوې وې. د تحقيقاتو بهير همداسې پرانيستل شوی په ځای پاتې دی او تر اوسه څوک متهم شوی نه دی.[761]

د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې په 3 مه نېټه د لوی څارنوالۍ دفتر د افغانستان د مرکزي بانک د پخواني مرستيال صوفي نثاراحمد چې په کابل بانکې 1.7% برخه درلوده، د نيولو اعلان وکړ. صوفي هغه څوک دی چې د کابل بانک د پيسو په غلا کولو او سقوط کې په لاس لرلو متهم کيدلو او يو کال بند محکوميدلو څخه وروسته له افغانستان څخه تښتيدلی وه، په دې ربع کې د لوی څارنوالی دفتر ته حاضر شو څو پر هغه د لګيدلو تورونو په هکله خبري اترې ترسره شي. د دې انفرادي قضيې څخه پرته، لوی څارنوالی د امريکې متحده ايالاتو د عدليې وزارت ته وويل چې ټول پوروړي حسابونه او پانګې د کابل بانک د املاکو مديريت له خوا په ګوته شوي دي او هڅه کوي څوټول بد پورونه او نورې کنټرل او ضبط

شوې پانګې بېرته ادا او راوګرځوي.[762] د اداري فساد ضد فعالیتونو او کابل بانک د قضیې په هکله د لازیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور په 151 مخ کې د حکومتولۍ برخې ته مراجعه وکړئ.

## د نغدو پیسو او پانګو بېرته ترلاسه کول

د 2015 زیږدیز کال د فبروي په میاشت کې د کابل بانک د املاکو مدیریت د امریکې متحده ایالاتو د عدلیې وزارت ته خبر ورکړ چې 40 میلیونه اضافي امریکایي ډالر یې راټول کړي دي خو دایي ونه ویل چې نوموړې پیسې یې له کوم ځایه او په څومره وخت کې راټولې کړي دي. د راپور سره سم، د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر تر میاشتې پورې ټول ټال 227.9 امریکایي ډالر نقدې پیسې، بخښل شوي پورونه او پانګې ضبط او راګرځول شوې دي.[763] دغه مقدار د هغه 175.2 میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله چې د 2014 زیږدیز کال د اپریل په میاشت کې د اداري فساد ضد د څارنې او ارزونې د ګډې خپلواکې کمیټې له خوا راپور ورکړل شوی وه، د 52.7 میلیونه امریکایي ډالرو په اندازه زیات دي.[764] جمهور رئیس غني د 2015 زیږدیز کال د مارچ په 31 مه نېټه د کابل بانک د قضیې د ځېرونوکو سره د یوې غونډې پرمهال وویل چې د محکمې د 2014 زیږدیز کال د نومبرمیاشتې له پرېکړې راهیسې شپږ.و پوروړو موافقه کړې چې خپل پورونه بېرته ادا کړي چې ټول ټال 72 میلیونه امریکایي ډالر کېږ.ي. د امریکې متحده ایالاتو د عدلیې وزارت ویلي دي چې دوی د یوې خپلواکې پلټنې پرته دغه ارقام نشي تاییدولای او د املاکو مدیریت د نور توضیحاتو د ورکولو څخه ډډه وکړه.[765]

د املاکو مدیریت وایي چې د زیاتو ملکیتونو او پانګو د په ګوته کولو په موخه اضافي سیاسي ملاتړ او د یادو پانګو د ضبطولو او کنګل کولولپاره نړیوالو مرستو ته اړتیا لیدل کېږ.ي. د املاکو مدیریت وایي، د نغدو پیسو اوملکیتونو د بېرته راګرځولو په وړاندې لومړنۍ ننګونه د کافي فشار نه موجودیت دی چې پوروړي یې د خپلو پورونو د بېرته ادا کولو لپاره محسوسوي. د امریکې متحده ایالاتو د عدلیې وزارت د معلوماتو سره سم، د فشار کموالی ښایي له دې کبله وي چې زیاتره پوروړي مهم او د پام وړ سیاسي اړیکې او ملګري لري او همدارنګه د دولت کابینه لا بشپړه شوې نه ده او زیاتره وزیران د سرپرست په توګه خپلې دندې پرمخ بیایي او د زیات فشار واردولو قدرت او صلاحیت نلري. د املاکو مدیریت باور لري یو ځل چې د ارګ د کمیشن کارانو د بېرته اداکولو تړونونه او د حسابونو د تصفیې شرایط بشپړ شي، پوروړي به د خپلو پورونو د بېرته اداکولو لړۍ پیل کړي.[766]

## د مرکزي بانک له څانګې څخه غلا وشوه

د ورځپاڼې د راپور سره سم. په دې ربع کې د کندهار په ولایت کې د افغانستان د مرکزي بانک د سپین بولدک له څانګې څخه غلا وشوه. د ادعا سره سم، د یادې څانګې مدیر او دوو کارکوونکو د 872,000 او 1.4 میلیونه امریکایي ډالرو ترمنځ پانګه له بانک څخه غلا کړې او پاکستان ته تښتیدلي دي. د مرکزي بانک چارواکو ورکړل شوي معلومات نه دي تایید کړي.[767] د *طلوع نیوز* راپور ورکړی دی چې د بانک د څانګې پنځه چارواکي چې د اعا سره سم یې د غلا په برخه کې له غلو سره مرسته او همکاري کړیده، نیول شوي دي.[768]

## د امریکې متحده ایالاتو د اقتصادي ملاتړ کړنلارې

د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې په 23 مه نېټه د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر جان کیري او جمهور رئیس غني د 800 میلیونه امریکایي ډالرو د نوو پراختیایي همکاریو (NDP) اعلان وکړ، هغه پلان چې د افغانستان حکومت به د پنځو کلونو په موده کې پرخپل ځان متکي او په خپلو پښو ودرېږ.ی څو د ټاکلو پراختیایي ننګونو او د افغانانو په مشرۍ اجرااتو او پراختیایی کارونو اندازه کولو په موخه افغاني حل لارې وهڅول شي. د دې کار موخه د افغانستان د حکومت د ادارو د پایدارۍ او مالي روڼوالي (شفافیت) پیاوړې کول دی او د ملي یووالي نوي حکومت ته فرصت برابروی څو خپله پراختیایي تګلاره پرمخ بوزي.[769]

**په 2010 زیږدیز کال کې کابل بانک سقوط ته له نږدې کیدو مخکې د افغانستان یو له سترو خصوصي بانکونو څخه وه او د زیاتره دولتي مامورینو معاشونه د همدې بانک له لارې ورکول کیده. د هغه وخت د راپور سره سم د 92% څخه زیات چې 935 میلیونه امریکایي ډالر کیږ.ي، غلا او د 19 کسانو او شرکتونو لاسونو ته چې د بانک سره یې تړاؤ درلوده، ورغلل. د افغانستان مرکزي بانک، د افغانستان بانک دغه زیانونه پوره کړل چې په هغه وخت کې د افغانستان د کورنیو ناخالصو تولیداتو5–6% سره برابر وه.**

سرچینه: د اداري فساد پروړاندې مبارزې د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه، د کابل بانک د بحران په هکله د د دولت له خوا د ترسره شوې پلټنې راپور، pp. 2, 9 ,11/15/2012

دغه پيسي به مخکينی بودجي يا غوښتل شوي بودجي څخه چمتو ا ورکړل شي.[770] د امريکي متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت وايي چې دغه ملګرتيا (همکاري) به د توکيو دوه اړخيزه ځواب ويني چوکاټ د شرايطو لاندې چې په لنډمهاله تګلارو باندي متمرکز دي، د امريکي متحده ايالاتو د هڅوني موجوده دوه اړخيزه پروګرام دوامداره (استراتيژيکو) هلو ځلو ته د پام وړ پراختيا ورکولو او کچې لوړولو په موخه د امريکي د متحه ايالاتو له مرستو څخه ګټه پورته کړي. د مکافاتو په هکله بايد د افغانستان حکومت سره خبري اترې وشي. د امريکي متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) به د NDP بودجه چې د ARTF له لارې لګول کيږي يوازې وروسته له هغې د کنترول اوڅارني لاندې ونيسي چې توافق ته رسيدلي اصلاحاتو يا پراختيايي پايلو اړونده کارونه لکه څرنګه چې د لاسته راوړنو د څرګندو او هدفي شاخصونو پواسطه اندازه شوي وی، ترسره شوي وي.[771]

## د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) پراختيايی مرستې

د اقتصادي ملاتړ وجهي صندوق (ESF) زياتره مرستې د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) د پراختيايي پروګرامونو له لارې ترسره کيږي. 3.28 شکل د د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) مرستې د سکتور په کچه ښيي.

شکل 3.28

**د USAID پرمختيايي مرسته، مجموعي ورکړي، د 2015 کال د مارچ تر 31 پورې**
(ميليونونه ډالر)




يادونه: عددونه ګردي شوي دي. د کرنې پروګرامونو کې بديل پرمختيا شامل ده. زيربنايي پروګرامونو کې انرژئ او سړکونه شامل دي. *له ترجيحت پرته بسپنې هماغه په ARTF کې د متحده ايالاتو ونډه ده چې کيدای شي د ARTF ملاتړ شوي هر ډول نوښتونو لپاره وکارول شي.

سرچينه: د سيګار معلوماتو غوښتنې ته د USAID د ځواب څخه د سيګار تحليل او تجزيه، 4/9/2015؛ د سيګار لخوا د نړيوال بانک تحليل او تجزيه، "ARTF، د 2015 کال د مارچ تر 20 پورې د مالي وضعيت په هکله د هغه د مدير راپور،" په 4/16/2015 خپور شوی.

## د طبيعي زيرمو پراختيا

د کانونو او پټروليم نوي ګمارل شوي وزير ډاکتر داؤد صبا په دې ربع کې اعلان وکړ چې د قراردادونو د ورکولو په بهير کې د روڼوالي (شفافيت) د نه شتون له کبله به د کانونو زياتره تړونونه دوباره و ارزول شي.[772] معلومه نده چې دا کار به له وړاندې ترسره شوې تړونونه څرنګه تر اغيزې لاندې راولي، مګر هغه تړونونه چې لا لاسليک شوي نه دي او د پانګه اچوونکې د لا زيات بې باوره کيدو سبب ګرځي. د تړونونو يو لست د کابينې وروستنی منظورۍ ته سترګې په لاره دی. په 161 مخ کې د امريکي متحده ايالاتو کانګرس ته د 2015 *زيږديز کال د جنورې د مياشتي درې مياشتني وړاندې شوي راپور ته مراجعه وکړئ.*

سره له دې چې کانونو د هيواد د کورنيو ناخالصو توليداتو په برخه کې په خورا ټيټه کچه برخه اخيستي ده. خو بيا هم نړيوال بانک باور لري چې د افغانستان د طبيعي زيرمو پراختيا کولای شي چې د

بهرنیو مرستو د کموالي په صورت کې راتلونکې اقتصادي وده پیاوړې او له هغې څخه ملاتړ وکړي.[773] خو معلومه نده چې له دې سکتور څخه د عوایدو لاسته راوړل به څه وخت په حقیقت بدل شي، ځکه چې له یوې خوا زیربنایي پروژې د مالي مرستو د نشتوالی سره مخامخ دي او له بلې خوا د افغانستان د قانون او قانونو جوړولو د چوکاټ پرمختګ ډیر کمزوری او بطي دی.[774] سره له دې چې په 1393 (2014) مالي کال کې د افغانستان بودجې د وړاندوینې سره سم، د کانونو کلني عواید 13 میلیونه امریکایي ډالر وه خو د حق الامتیاز او فیس له درکه یوازې 7 میلیونه امریکایي ډالر لاسته راغلی دي.[775] د 1394 مالي کال د بودجې د وړاندوینې سره سم، دولت د کانونو د عوایدو له درکه د 35 میلیونه امریکایي ډالرو د لاسته راوړلو توقع لري، سره له دې چې د پرمختګ داسې هیڅ نښې نښانې نه لیدل کیږی چې د تیر کال په پرتله دې سږکال دعوایدو په کچه کې زیاتوالی راشي.[776]

## د پانګونې په وړاندې خنډونه

د نړیوال بانک د معلوماتو سره سم، په افغانستان کې د امنیت نشتوالي د پانګونې په وړاندې ټول خنډونه تر خپل سیورې لاندې راوستي دي.[777] د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) وایي کانونه په لیرې پرتو او نا امنه سیمو کې موقعیت لري او ښایي نوموړې سیمې د ځمکې ماینونو او ناچاودلو مهماتو پواسطه احاطه شوي وي. اداري فساد، بې سواده کاري قوه، د کار د خوندي لارو چارو نشتوالی او د کانونو د راویستلو ساده لارې چارې هم د کانونو د راویستلو په وړاندې مخنیوونکې (نهې کوونکي) لاملونه دي.[778] د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي ادارې (USAID). نورو مسایلو ته چې د پانګوالو د بې باورۍ سبب ګرځي، اشاره کړې ده: د 2014 زیږدیزکال د نومبر په میاشت کې د کانونو د نوي تصویب شوي قانون د ملاتړ په موخه مقررات لا تر اوسه د رامینځته کیدو په حال کې دي: د کانونو په قانون کې رامینځته شوی اصلاحات او بدلونونه لا تر اوسه په قانون کې د څو حساسومادو د کموالي د پوره کولو له کبله د جمهور رئیس غنی له خوا لاسلیک شوي نه دي: او د سوداګریزو مالیاتو، صادراتو او وارداتو محصول، تولیدي حق الامتیاز (فیسونو) او نورو فیسونو یوځای کول\چې د کانونو په تولیداتو باندې 80% مالیاتو سره سیالی نشي کولای.[779]

## د کانونو لاقانونه راویستل

د طالبانو او نورو یاغي ډلو له خوا د ا فغانستان د طبیعي زیرمو په لاقانونه توګه راویستلو له لارې د عوایدو د لاسته راوړلو په موخه له تاوتریخوالي څخه کار اخیستل نورو افغان وګړو ته اجازه نه ورکوي چې د دې غلا شوو زیرمو څخه خپله برخه ترلاسه کړي. د ملګرو ملتونو د 2015 زیږدیزکال د فبروري د میاشتې له راپور سره سم، طالبانو په طبیعي زیرمو کې ژور نفوذ کړی دی او په دې سکتور کې د غصب بهیر په نسبي ډول خپریدونکی دی. په یو مورد کې هغه شرکت چې د دولت له خوا ورته د کانونو د راویستلوپاره په قانوني ډول اجازه ورکړل شوې ده، وروسته له هغې د راویستلو عملیات دروي چې په یوو خت کې د طالبانو، حقانی شبکې او د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي ډلې له خوا ګواښل کیږی، مګر داچې شرکت ورته پیسې ورکړي نه دولت. طالبان له دریو لارو څخه د کانونو د لاقانونه راویستلو په بهیر کې ګډون لري. راویستل (دوی لږ تر لږه د اونکس شرکت د مرمرو د راویستلو 35 فعال عملیات کنټرولوي). غصب (که چیرې پیسې ورنکړل شي نو د ګواښلو او تاوتریخوالي څخه به کار واخلي) او د خدمتونو چمتو کوونکو به توګه (امنیت ساتل، وړلو راوړلو خدمتونه او قاچاق).[780]

## د افغانستان د ثبات له پاره د پانګونې او د کانونو د پراختیا پروژه (MIDAS)

په دې ربع کې د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د افغانستان د ثبات له پاره د پانګونې او د کانونو د پراختیا پروژه (MIDAS) د 50 میلیونه امریکایي ډالرو پنځه کلن پروګرام د افغانستان د کانونو او پټرولیم وزارت سره بولۍ (مناقصې او مزایدې)، قراردادونو په هکله خبرو اترو او د قراردادونو د کنټرول او مدیریت په برخه کې د تخنیکی مرستې کوي. همدارنګه MIDAS د کانونو

### د سیګار تفتیش

سیګار د دې ربعې په تفتیش کې د دې کار ارزونه کوي چې د سوداګرۍ او ثبات عملیاتو کاري ځواک (TFBSO) او USAID پروګرامونه تر کومه حده خپلو موخو ته رسیدلي او د افغانستان د کانونو د راویستلو صنعت د پراختیا په موخه یې کومې ننګونې په ګوته کړې دي. د تفتیش په دوران کې معلومه شوه چې د امریکې متحده ایالات د کانونو د راویستلو صنعت د پراختیا لپاره یوه بشپړه او جامع کړنلاره نه درلوده او په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت د اداراتو د داخلي فعالیتونو د همغږۍ لپاره یو څه کارونه کړي دي د تفتیش په دوران کې دا هم معلومه شوه چې د کانونو او پټرولیم وزارت د بهرنیو مرستو څخه پرته په یوازې ځان د قراردادونو د ترسره کولو د بهیر د پرمخ بیولو توان او وړتیا نلري او همدارنګه TFBSO نوښتونو (پروژو) د پایدارۍ په موخه د پلان جوړولو په برخه کې د وړتیا د کموالی سره مخامخ دی. همدارنګه د پلټنې په دوران کې معلومه شوه چې د USAID د MIDAS هغه سیمې په ګوته کړی چې د کانونو د سکتور د پراختیا لپاره د کړنلارو د بیانولو، د USAID د پانګونې لپاره د باالقوه سیمو د ټاکلو په موخه د یو ګروپ څرګندو معیارونو وضع کولو په برخو کې مرستو ته اړتیا لري. د دې تفتیش لاسته راغلې پایلې به د راتلونکې راپور د پاملرنې مرکز وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د 25 مخ دویمې برخې ته مراجعه وکړئ.



**د افغانستان د جيولوجيکي** سروې په اداره کې د ګوګل ايرت (ځمکي) روزنيز پروګرام. (انځور د USAID MIDAS)

او پټروليم وزارت (MOMP) او ولسي جرګې ته د پانګوالو او چاپيريال ته ضرر نه رسوونکو قوانينو او مقرراتو د خپلولو او قبلولو په برخه کې چې د نړيوالو غوره لارو چارو سره سمون ولري، هم لارښوونه کوي.[781] همدارنګه MIDAS د د کانونو او پټروليم وزارت (MOMP) وزارت او د جيولوجيکي سروې له کارکوونکو سره د معدني موادو د کشف او کښيندلو او د هغوی د وړتياوو (ظرفيتونو) لوړولو په برخه کې هم مرسته او همکاري کوي څو تخنيکي راپورونه او د معدني ډبرو د رسوب درې بعدي موډلونو توليد او همدارنګه د هغه معدني پروژو اسناد چې بولۍ (مناقصی او مزايدې) ته چمتو وي، د کانونو او پټروليم وزارت ته وليږدوي. MIDAS په دې ربع کې د عمومي بودجې څخه په دريو ساحو کې د نمونه ای کيندنو د خدمتونولپاره د بودجې څخه خارج تړون (قرارداد) ته 10 ميليونه امريکايی ډالر ليږدولي دي چې نوموړې ساحې د سالنګ درې تنتلوم، په سمنګانو کې موليبدينيم او باميانو کې ګرانيت څخه عبارت دي.[782] همدارنګه په دې ربع کې د MIDAS سلاکارانو د کانونو د نوي قانون د انګليسي ژباړنې چارې بشپړې کړې او په ورته وخت کې د تخنيکي او مالي مقرراتو د مسودې تيارولو په موخه د کانونو او پټروليم د وزارت له هلو ځلو سره مرسته او همکاري کوي څو نوی قانون پلې کړی چې په هغې کې کانونو مالکيت، بولي (مزايده او مناقصه)، جوازليکونه، حق الامتياز، فيسونه او جرمانې شامل دي.[783]

د امريکې متحده ايالاتو نړيوله پرمختيايی اداره (USAID) د MOMP د تدارکاتو دايمې رئيس له خوا د دې خبرې تاييد ته سترګې په لاره ده چې د تدارکاتو رياست د لوړې بودجې لرونکو تړونونو د فعاليتونو د ترسره کولو او د يو دريم پلاوي له خوا د ياد وزارت د داخلي کنټرول او مالي مديريت اړونده مسايلو د ارزونې، وړتيا لري، تر ټولو وروستنۍ پلټنه چې د امريکې متحده ايالاتو نړيوله پرمختيايی اداره (USAID) پرې باور لري، د 2011 زيږديز کال پلټنه ده. تر هغه چې نوې پلټنه (چې د مهال ويش سره سم به د 2015 زيږديز کال د مئ په مياشتې کې ترسره شي) بشپړيږي، د امريکې متحده ايالاتو نړيوله پرمختيايی اداره (USAID) به د عمومي بوجې د کنټرول او مديريت څخه وړاندې اضافي شرايط مشخص او په ګوته کړي. د MIDAS او امريکې متحده ايالاتو نړيولې پرمختيايی ادارې (USAID) د کانونو د راويستلو په برخه کې نور مرستندويه پروګرامونه په 3.26 جدول کې ښودل شوي دي.

## هايدروکاربنونه

افغانستان خپلې هلې ځلې د خپلو تيلو او ګارو ذخايرو د پرمختګ په موخه چې د افغانستان په شمال کې د آموسيند او افغان تاجک په حوضو کې موقعيت لري، متمرکز کړي دي.[785] افغانستان د پروسس محدودې فابريکې لري چې يوازې د اومه نفتو د پټروليم محدود اجزا پروسس کولای شي او د خپلې اړتيا وړ سون موادو لپاره په پراخه پيمانه په وارداتي سون موادو متکي دی.[786] افغانستان هره ورځ 10,000 ټنه تيل د ترکمنستان، ازبکستان، روسيې، پاکستان او ايران له هيوادونو څخه واردوي.[787]

### د شبرغان پروګرامونه

د نړيوال بانک د معلوماتو سره سم، شبرغان د طبيعي ګاز د توليد ارزانه قدرت لرونکې سيمه ده چې کولای شي د ازبکستان څخه د ګازو له وارداتو سره سيالي وکړي.[788] د امريکې متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) د شبرغان پروژې څخه ملاتړ کوي څو له افغانستان سره د ګاز د سرچينو په ګوته کولو اوکنټرول کې مرسته او همکاري وکړي چې له دې سرچينو څخه د برښنا د توليد په موخه د دوو ميکانيزمونو له لارې ګټه اخيستل کيږي: (1) د 90 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د شبرغان د ګاز پرمختيايی پروژې (SGDP) له لارې څو د آمو سيند په حوضه کې د ګازو د څاګانو د بيارغونې او کښيندلو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي او همدارنګه د ګاز ټولولو سيستم او پروسس کولو فابريکې ته بودجه ورکړي. او (2) د 35 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د شبرغان ګاز د توليد پروژو (SGGA) له لارې څو د کانونو او پټروليم وزارت د وړتيا (ظرفيت) لوړولو او تخنيکي مرستو د چمتو کولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي.[789]

د سيګار د تيرې ربعې د راپور سره سم، د SGDP لپاره د څاګانو د کښيندلو قراردادي، د ترکيې پټروليم شرکت د کانونو او پټروليم وزارت (MOMP) ته خبر ورکړ چې د دوی کارونه د مهال ويش څخه وروسته پاتې دي او د څاګانو د کښيندلو چارې به د 2015 زيږديز کال د مئ تر مياشتې پيل نه شي

جدول 3.26

**د USAID د کانونو راويستلو مرستو پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال بودجه (امريکايي ډالر) | د 2015 زېږديز کال د مارچ د مياشتې تر 31 مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امريکايي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د شبرغان د ګازو د توليد پروژه | 12/21/2011 | 7/31/2016 | $30,440,958 | $19,400,618 |
| د شبرغان د ګازو د پراختيا پروژه | 5/15/2012 | 4/30/2015 | 90,000,000 | 0 |
| د افغانستان د ثبات له پاره د پانګونې او د کانونو د پراختيا پروژه (MIDAS) | 3/31/2013 | 3/20/2016 | 50,096,175 | 15,818,556 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) ځواب، 4/9/2015.

چې په ترون کې د ذکر شوی مودې دوه چنده وخت نيسي.[790] په دې ربع کې د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) وويل چې دوی د 2015 زېږديز کال د اګست تر مياشتې پورې د څاګانو د کښيندلو چارو د بشپړولو سره موافق دي او د يادې مودې د لا غزولو سره موافقه نلري. تر اوسه پورې د پروګرام په داخل بودجه برخه کې هيڅ لګښت نه دی شوی ځکه چې قراردادي شرکت لا تر اوسه هيواد ته د تجهيزاتو په راوړلو او چمتو کولو مشغول دی خو د خارج بودجې برخې (ورتيا لوړولو) چارې رواني دي خو په دې ربع کې د يو شمير ننګونو سره مخامخ شوې. د کانونو او پټروليم نوی ګمارل شوی وزير نوې کارکوونکې ګمارلي دی چې په هغې کې د ګاز سکتور د پراختيا نوې کميټه هم شامل ده او د امريکې متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) هيله لري چې د پخوانی کميټې څخه به ډېره اغيزمنه وي.[791]

## کرنه

کرنه د افغانستان د وګړو کار اوږوند تېرولو تر ټولو مهمه سرچينه ده او د نړيوال بانک د معلوماتو سره سم، د کورنيو ناخالصو توليداتو 31% له کرنې تر لاسه کيږي او د کاري قوې 59% په همدې برخه کې په دندو مشغول ده.[792] د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د 2002 او 2013 مالي کلونو ترمنځ 1.25 ميلياره امريکايي ډالر د کرنيزو توليداتو د اصلاح کولو او بازار ته د لاس رسي او 1.38 ميلياره امريکايي ډالر د کوکنارو د کرلو د بديلو عوايدو د رامينځته کولو په موخه تخصيص کړي دي.[793] د دې درې مياشتني راپور په 118–125 مخونو کې د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د بديلې پراختيا پروګرامونو په هکله معلومات ځای پرځای کړل شوي دي.

د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) راپور ورکړی دی چې د CHAMP او ACE د پروګرامونو موده به وغزوي او همدارنګه د امريکې متحده ايالاتو د کرنې وزارت د دوو نورو پروژو د پرمخ بيولو مسؤليت چې د افغانستان د کرنې پراختيا پروګرام (AAEP) او ورتيا (ظرفيت) لوړولوا په مديريت کې بدلون راوستلو پروګرام (CBCMP) څخه عبارت او موخه يې د کرنې، اوبولګونې او مالداري وزارت (MAIL) کې د ورتياوو (ظرفيتونو) لوړول دي، په غاړه اخيستی دی.[794] د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) د کرنې د فعالو پروګرامونو لست د راتلونکې مخ په 3.27 کې موجود دی.

د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) وايي چې د يادې ادارې د پيرودلو او مرستو دفتر (OAA) د خپلې ادارې د قراردادونو د مسؤل استازې د ټاکنې مکتوبونه نوي کړې او د قراردادونو د مسؤل استازې په شتون باندې ټينګار کوي ترڅو د ځومرحله ايزې څارنې په دوران کې مرکزي رول و لوبوي.او ډاډ ورکړي چې د امريکې متحده ايالاتو د دولت کارکوونکې هر وخت فعاليتونه تاييد او تصديقوي او همدارنګه د څارنې او تفتيش د اغيزمنتوب په هکله ډاډ تر لاسه کولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي. OAA هم په دې ربع کې د پروژې مديرانو ته د مکتوبونو د صادرولو لړۍ پيل کړې ده څو د امريکې متحده ايالاتو دولت د څارنې او تفتيش هلې ځلې پياوړې کړي.

جدول 3.27

**د USAID د کرنې فعال پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول ټاکل بودجه (امريکايي ډالر) | د 2014 زيږديز کال د ډ سمبر د مياشتې تر 31 مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امريکايي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د افغانستان د کرنيزې پراختيا پروګرام دويمه مرحله (AAEP-II) | 10/1/2014 | 9/30/2017 | $19,814,702 | $1,147,103 |
| د کرنيزو پورونو د کچې لوړولو (ACE) پروګرام | 7/15/2010 | 2/25/2015 | 75,175,296 | 72,346,632 |
| د وړتيا (ظرفيت) لوړولواو په مديريت کې بدلون راوستلو پروګرام دويمه مرحله (CBCMP- II) | 7/10/2014 | 7/9/2017 | 19,999,989 | 3,961,994 |
| په افغانستان کې د کرنيزې پراختيا د کچې لوړوالي په موخه ډيجيټالي يووالي (DIAAEA) پروګرام | 11/30/2014 | 11/29/2015 | 391,000 | 0 |
| د قحطى په هکله د وختي خبرداري شبکې دريمه مرحله (FEWSNET-III) | 12/29/2011 | 12/28/2016 | 78,011,630 | 2,420,553 |
| د بديلو اقتصادی لارو چارو د پرمخ بيولوجايزې، شمال، ختيځ او لويديځ (IDEA-NEW) | 3/2/2009 | 9/30/2015 | 159,878,589 | 150,702,887 |
| د افغانستان د کرنې پوهنځيو د پياوړې کولو (SAAF) پروګرام | 3/25/2011 | 12/31/2016 | 7,824,209 | 6,236,596 |
| په سويل کې د کرنيزې پراختيا منطقوي پروګرام (RADP-S) | 10/7/2013 | 10/6/2018 | 125,075,172 | 22,279,151 |
| په شمال کې د کرنيزې پراختيا منطقوي پروګرام (RADP-N) | 5/21/2014 | 5/20/2019 | 78,429,714 | 4,177,911 |
| په لويديځ کې د کرنيزې پراختيا منطقوي پروګرام (RADP-W) | 8/10/2014 | 8/9/2019 | 69,973,376 | 3,532,601 |
| [د پروژې نوم نه دی مشخص شوی] | 9/12/2013 | 9/30/2018 | 4,950,692 | 0 |
| [د پروژې نوم نه دی مشخص شوی] | 10/1/2013 | 9/30/2018 | 26,606,514 | 0 |
| [د پروژې نوم نه دی مشخص شوی] | 12/16/2014 | 12/31/2016 | 5,000,000 | 5,000,000 |

يادښت: ACE د 2015 زيږديز کال د فبرورۍ په 25 مه نېټه پای ته رسيدلی.

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) ځواب، 4/9/2015.

سربېره پردې، د امريکې متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) د څارنې او تفتيش چارې د يو دريم پلاوي (اداري) پواسطه ترسره کوی او د پروژو د قراردادونو او ټرونونو د مسؤلينو استازې د يو شمير خدمتونو لکه ساحوي څارنه او تفتيش، ارزونه، د مديريت او کنټرول معلومات او راپور ورکول او د ويب پاڼې محتوياتو ته پراختيا ورکولو ټرونونه لاسليک کولای شي.[795]

## د کرنيزو پورونو د کچې لوړولو (ACE) پروګرام

د 75 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د کرنيزو پورونو د کچې لوړولو 55 (ACE) مياشتنی پروګرام چې د 2015 زيږديز کال د فبرورۍ په مياشت کې پای ته ورسيده، د افغانستان د کرنې د پراختيا وجهي صندوق سره يې مرسته او همکاري وکړه چې د بانکونو، کرنيزو توکو پلورنځيو، اجاره ورکوونکو شرکتونو او خوړکي توکو پروسس سکوونکو له لارې يې د کرنيزو ارزښتونو د ځنځير په ټولو برخو کې پورونه چمتو کړل. وروسته بيا د دې پورونو لړۍ بزګرانو ته وغزول شوه. ACE د تخنيکي مرستو برخه وه چې د ADF د پور ورکولو ټولې پروژې يې اداره او کنټرولولې او د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) د وړتياوو (ظرفيتونو) لوړولو په برخه کې يې مرسته او همکاري کوله.[796]

د افغانستان د 34 ولايتونو څخه په 33 ولايتونو کې 31,000 کروندګرو کورنيواو د کرنيزو توکو سوداګرو ته د 106 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت 234 پورونه ورکړل شول چې په دې کار 60 ميليونه امريکايي ډالرلګښت راغلی دی. د راپور سره سم، ACE د خپلو 19 موخو څخه 16 موخې ترلاسه کړي دي او د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) ته يې ليږدولې دي، يو بشپړه فعاله مالی او د ودې په حال کې پروژه وه، خو دا هم د ADF د بودجې لپاره چې د USAID د ارزونې پروسې ځنډ اود پور ورکولو د يوې فعاله پراختيايي ادارې د مرکزونو نشتوالی له کبله وځنډيده، د دريم ګړی په توګه د کار کولو په برخه کې د افغانستان د بانکارۍ ادارو د بې ميلې او زړه نا زړه توب سره مخامخ شوه. د ADF د ځلورو کلونو د پانګې د پور اداکولو ټول ټاکل اندازه 4.5% وه.[797]

## د وړتيا (ظرفيت) لوړولواو په مديريت کې بدلون راوستلو پروګرام دويمه مرحله (CBCMP-II)

CBCMP-II د 20 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د USAID درې کلن پروګرام دی \چې د 2014 زيږديز کال د جولای په مياشتې کې يې کار پيل کړی دی څو د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت، په ولايتونو کې د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ رياستونو او په ولسواليو کې د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ مديريتونو د کارکوونکو وړتيا د مديريت او ادارې په برخه کې لوړه کړي. د دې پروګرام موخه د افغانستان د کرنې سکتور سره د حکومتي چارو په ښه او اغيزمنه توګه پرمخ بيولو په برخه کې مرسته او همکاري کول دی، په ځانګړې دول د ولسواليو د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ مديريتونو سره چې د سيمه ييزه بزګرانو او رمه لرونکو سره نيغ په نيغه کار کوي. د CBCMP فعاليتونه د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ په وزارت کې د مالي چارو او حسابدارۍ، څارنې او ارزونې او تدارکاتو او قراردادونو رياستونو باندې متمرکز دي. همدارنګه CBCMP به د ولسواليو د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ مديريتونو سره پلان، بودجې او خوندي سرچينوته د رومبيتوب حق ورکولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي څوبزګرانو ته لاره هواره کړي چې د کرنې عصري ټکنالوجۍ ته لاس رسی پيدا کړي او همدارنګه د يادو مديريتونو سره مرسته کوي څو مرکزي حکومت او د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت ته ګټور کرنيز او مالي راپورونه چمتو او وړاندې کړي. همدارنګه USAID به د کرنې، اوبولګونې او مالدارۍ وزارت سره مرسته وکړي څو خپلې د وړتيا (ظرفيت) لوړولو پروژې د پايلو لپاره د وړتيا لوړولو (CBR) پروګرام ته چې د نړيوال بانک په مالي مرسته ترسره کيږي، وليږدوي.[798] CBCMP-II د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې تر 12 مې نېټې پورې د مديريت د بدلون د 81 کارپوهانو له جملې څخه 66 پر دندو ګمارلي دي او د USAID د هغه پروګرامونو څخه چې د بنديدو په حال کې دي، د معلوماتي ټکنالوجۍ استعمال شوی تجهيزات او سامان آلات ترلاسه کړی دي.[799]

## مهم خدمتونه او پراختيا

د امريکې متحده ايالاتو د 2002 زيږديز کال راهيسې د بيارغونې مالي مرستې چمتو کړي څو په افغانستان کې برښنا زياته، سړکونه او پلونه جوړاو روغتيا او پوهنه ښه او اصلاح کړي. دغه برخه د امريکې متحده ايالاتو په پروژو کې مهمې پراختيايي چارې په ګوته کوي څو د مهمو خدمتونو لکه برښنا، وړل راوړل (ټرانسپورټيشن) روغتيا او پوهنې چارو د پرمخ بيولو په موخه د دولت وړتيا اصلاح او لوړه کړي.

## د برښنا چمتو کول

افغانستان په نړۍ کې يو له هغه هيوادونو څخه دی چې په خورا ټيټه کچه برښنا لري. يوازې 25% وګړي د برښنا له شبکې سره وصل دي – په عين تناسب څوک چې په ښارونو کې اوسيږي. افغانستان د خپلې ټول ټال برښنا تقريباً 73% واردوي. د نړيوال بانک د وروستني راپور سره سم، به دې نږدې وختونو کې به د برښنا واردولو کچه لوړه شي همدارنګه په راپور کې راغلي دي چې برښنا ته محدود لاس رسی د افغانستان د خصوصي سکتور د پراختيا په وړاندې يو له سترو خنډونو څخه ګڼل کيږي.[801]

### د امريکې متحده ايالاتو او افغانستان د سيمه ييزې (منطقوي) انرژۍ نوې ګډه کاري ډله

د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزير جان کيري د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې په 23 مه نېټه د امريکې متحده ايالاتو او افغانستان د سيمه ييزې (منطقوي) انرژۍ د نوې ګډې کارې ډلې اعلان وکړ چې دنده يې د سيمې د انرژۍ له بازارونو سره د افغانستان د يوځای کولو په برخه کې د مرستو او همکاريو په موخه د لارو چارو لټول دي. د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت، د امريکې متحده ايالاتونړيواله پرمختيايي اداره (USAID)، د متحده ايالاتو د ماليې وزارت او د امريکې متحده ايالاتو نورې اړونده ادارې به په دې پروژه کې ګډون وکړي. جمهور رئيس غني وړاندوينه کړې ده چې دغه نوښت به مرسته وکړي څو افغانستا په يو مرکز تبديل کړی له کومه ځايه چې په مرکزي آسيا کې توليد شوې برښنا او همدارنګه په تدريجي ډول سره له افغانستانه سويلي آسيا ته وليږدول شي.[802]

د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې له 31 مې نېټې څخه د اپريل د مياشتې تر لومړۍ نېټې پورې، د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي ادارې (USAID) په دوبۍ کې د امريکې متحده ايالاتو

**د منطقوي انرژۍ موجوده پروژې چې افغانستان هم په کې برخه لري، عبارت دي له: د ترکمنستان – ازبکستان – تاجکستان – افغانستان – پاکستان د برښنا ليږدونکي مزي (لين) پروژه چې د ترکمنستان څخه پاکستان ته برښنا ليږدوي: د کاسا (CASA-1000) د برښنال ليږدونکي مزي (لين) پروژه چې د کرغزستان څخه تاجکستان او له تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته برښنا ليږدوي او د ترکمنستان – افغانستان – پاکستان – هندوستان (TAPI) د طبيعي ګاز د نل ليکې پروژه چې د دې نل ليکې له لارې به د ترکمنستان نه نوموړو ذکر شوو هيوادونو ته طبيعي ګار ليږدول کيږي.**

سرچينه: آسيايي پراختيايي بانک. 44463-013: ترکمنستان – افغانستان – پاکستان – هندوستان د طبيعي ګار نل ليکه دريمه مرحله، لاس رسی 4/8/2015 CASA-1000, http://www.casa-1000.org/اصلی مخونه/: CASAAbout.php; : د سيګار ارزونې په اړه د USAID ځواب 4/12/2015.

داخلي(اداراتو ترمنځ) او منطقوي انرژۍ یو کنفرانس جوړ کړ. د نوموړي کنفرانس دوه مهمې دندې عبارت وې له: (1) د ورښمو د لارې د منظقوي انرژۍ په موجوده حالاتو د پوهیدلو د کچې ښه کول او اصلاح کول، په ټوله منطقه کې د امریکې متحده ایالاتو د دولت د انرژۍ موجود پانګونې، د امریکې متحده ایالاتو سیاسي (ډیپلوماتیکې) پروژې او نور مهم نوښتونه (پروګرامونه): او (2) په دې خبره باندې توافق ته رسیدل چې د امریکې متحده ایالات چیرې د غوره او اغیزمنو پایلو په موخه په ټیټه کچه پانګونه وکړي او ایا دوامداره (استراتیژیک) بدلون ته اړتیا شته.[803]

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 2002 نه تر 2014 زیږدیز کال پورې په یوازې ځان د جراتورونو، فرعی مرکزونو او د برښنا لیږدونکو مزو (لاینونو) د جوړولو او په سکتور کې د تخنیکي مرستو چمتو کولو په موخه د 2.7 میلیونه څخه زیات امریکایي ډالر تخصیص کړي دي.[804] سربیره پردې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د برښنا د پروژې لپاره 292 میلیونه امریکایي ډالر د قوماندان د بیړني غبرګون پروګرام (CERP) له لارې او تقریباً 1.1 میلیارد امریکایي ډالر د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AIF) له لارې چې د امریکې متحده ایالاتو دفاع او بهرنیو چارو وزارتونو له خوا په ګډه توګه اداره او کنټرول کیږي.[805] د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AIF) پروګرامونو په هکله د لا زیاتو معلوماتو لاسته راوړلو لپاره په 165–166 مخونو کې د امریکې متحده ایالاتو کانګرس ته د 2015 *زیږدیز کال د جنوري د میاشتې درې میاشتنې راپور ته مراجعه وکړئ.*

د ا فغانستان د برښنا دوه لومړي سیستمونه د شمال ختیځ د برښنا سیستم (NEPS) او سویل ختیځ د برښنا سیستم (SEPS) څخه عبارت دي. د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) د دواړو سیستمونو د وصلولو او په نوموړو سیستمونو کې د برښنا د کچې لوړولو په موخه درې پروژې لري: (1) د برښنا د لیږد د کچې پراخولو او اتصال (PTEC) پروژه چې موخه یې د برښنا د لیږد (انتقال) د مزي (لاین) جوړول دي چې کابل له کندهار سره نښلوي او د افغانستان د برښنا ملي ځانګې، د افغانستان د برښنا شرکت (DABS) د وړتیا (ظرفیت) لوړول څو د انرژۍ د زیربناء پانګونې حفظ او وساتي: (2) د شبرغان د ګاز پراختیایي پروژه (SGDP) چې موخه یې په شبرغان کې د ګاز د سرچینو د پراختیا لپاره د خصوصي پانګو جلب او جذب او د برښنا فابریکو جوړول دي: او (3) د کندهار هلمند د برښنا پروژه (KHPP) چې په هغې کې د کجکي په بند کې د دریم توربین نصبول او د کجکي او کندهار تر منځ د برښنا د لیږدونکي سیستم اصلاح کول شامل دي.[806] د امریکې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایی آدارې (USAID) د برښنا ټولې زیربنایي فعالې پروژې په 3.28 جدول کې ښودل شوي دي.

**NEPS:** د مرکزي آسیا له جمهوریتونو څخه برښنا واردوي او کابل او د کابل په شمال کې میشتو وګړو ته یې چمتو کوي.

**SEPS:** د خپلې برښنا زیاته برخه د کجکي بند او د کندهار ښار د ډیزلي جنراتورونو څخه لاسته راوړي او د هلمند او کندهار سیمو ته برښنا ورکوي.

*سرچینه: د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت، په افغانستان کې د امیت او ټیکاو (ثبات) په لورې د پرمختګ په اړه راپور*، 11/2013، لاس رسی 12/29/2013.

## د کندهار هلمند د برښنا پروژه (KHPP)

د کندهار هلمند د برښنا پروژه د دې لپاره په پام کې نیول شوې ده چې په کندهار او هلمند کې برښنا ته د لاس رسي کچه لوړه او اعتماد زیات کړي. د Black and Veatch شرکت سره د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د تخنیکي مرستندویه خدمتونو تړون څخه پرته چې د افغانستان د برښنا شرکت د پروژو سره د کجکي په بند کې د دریم تورین د نصبولو له لارې د اوبو د اوږد مهاله او پایداره برښنا د کچې لوړولو په موخه مرسته او همکاري کوي، نور د دې پروژې ټولې برخې تړلې دي.[808]

په دې ربع کې د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) وویل چې د 2015 زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې 31 مه چې د توربین د نصبولو چارو د بشپړولو نېټه وه، باید وغزول شي. د روانو پوځي عملیاتو په دوران کې د تجهیزاتو او موادو د لیږدولو چارې د تړون د مهال ویش سره سم، ترسره نه شوې: د افغان برښنا شرکت د توربین د نصبولو مرحلې د ادارې او کنټرول د اړتیاوو پوره کولو په موخه کافي شمیر کارکوونکي نه لري او د GFA مشورتي شرکت چې د افغان برښنا شرکت ته د ودانیزو ادارې چارو په برخه کې سلا او مشوره ورکوي، د پروژې د ادارې او کنټرول په برخه کې له ځانه کمزورتیا ښودلې ده: د افغان برښنا شرکت د GFA تړون د 15 نورو میاشتو لپاره د 2016 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې تر 29 مې نېټې پورې غزولې او د تړون بودجه یې د 21 امریکایي ډالرو څخه 36 امریکایي ډالرو ته لوړه کړه. قراردادیانو ته پخپل وخت پیسې نه دې ورکړل شوي او د افغان برښنا شرکت د لوړې کچې تخنیکی تړونونو د ادارې او کنټرول په موخه د وړتیا لوړولو په برخه کې د ننګونو سره مخامخ کیږي. د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د وړتیا (ظرفیت) لوړولو په برخه کې د خپلو دوامداره مرستو په اړتیاوو ټینګار وکړ او هغه یې تایید کړي.[809]

د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د 2011 مالي کال راهیسې د ډیزل تیلو د رانیولو په موخه 136 امریکايي ډالر لګولي دي څو د کندهار په ښار کې د KBS له لارې جنراتورونه فعال وساتي. او ورسره په ورته وخت کې د کجکي په بند کې د توربین د نصبولو چارې رواني دي. د سون موادو بسپنې (یوازې د 2014 مالي کال په بودجه کې 20 میلیونه امریکایی ډالر تخصیص شوي دي) به د مهال ویش سره سم د 2015 زیږدیز کال د سپټمبر په میاشت کې پای ته ورسیږي.[810] د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیایي اداره (USAID) وایي چې د برښنا شرکت په پام کې لري چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د بسپنو د پای ته رسیدلو څخه وروسته د ډیزلو د پیسو ورکولو په موخه د تعرفې نرخونه لوړ کړي او تیر کال یې د دغه موضوع په هکله د کندهار والي او وګړو سره خبرې اترې ترسره کړي، خو هغوی ته د قناعت ورکولو په برخه کې له ستونزو سره مخامخ شو.[811]

## د برښنا د لیږد د کچې پراخولو او اتصال (PTEC) پروګرام

د برښنا د لیږد د کچې پراخولو او اتصال (PTEC) پروګرام د امریکې متحده ایالاتو په مالي مرسته د دې لپاره طرحه شوی دی چې د برښنا د تولید، لیږد او ویشلو سیستمونه پیاوړي او پراخه کړي چې په دې کې د کابل کندهار ترمنځ د برښنا د لیږد مزي (لین) بودجه هم شامل ده څو NEPS د SEPS سره ونښلوي.[812] د PTEC د سوداګرۍ او وړتیا (ظرفیت) لوړولو څانګو موخه د تخنیکی او سوداګریزو زیانونو د کچې کموالی دی.[813] د ارغندي او غزني ترمنځ د برښنا د لیږدونکي مزي (لین) او فرعی مرکز د ودانولو چارې پیل شوي دي چې د NEPS او SEPS د نښلولو پروژې لومړۍ برخه ده. تر دې دمه د PTEC قراردادیانو ته د دې پروژې د لګښتونو لپاره د افغان برښنا شرکت/مالیي وزارت له لارې 17 میلیونه امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.[814]

د NEPS او SEPS د نښلولو پروژې د دویمې برخې غزني څخه کندهار ته د برښنا د لیږدونکي مزی (لین) د غزولو چارو د ترسره کولو لپاره 179.5 امریکایي ډالر د AIF څخه USAID ته لیږدول شوي دي.[815] سربیره پردې 300 میلیونه امریکایي ډالر چې د آسیایي پراختیایی بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF) له لارې تخصیص شوي وې، بیرته PTEC ته ورکول شوې ځکه چې USAID دا خبره احساس کړه چې آسیایي پراختیایي بانک لکه څرنګه چې په لومړی سر کې موافقه کړې وه، پروژې ته د ړومبیتوب حق نه دی ورکړی.[816]

د دې پرځای USAID د افغان برښنا شرکت سره نیغ په نیغه مرسته وکړه چې په دې کار سره به د NEPS او SEPS ترمنځ د برښنا د لیږدونکي مزي (لین) د غزولو او ودانولو موده یو کال را لنډه شي. USAID د دې برخې د لیږدونکي مزي (لین) او پنځو فرعی مرکزونو د ډیزان چارې بشپړې کړې

جدول 3.28

**د USAID د برښنا د زیربنا فعاله پروژې**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال بودجه (امریکایي ډالر) | د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امریکایي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د کندهار هلمند د برښنا پروژه (KHPP) | 12/9/2010 | 11/30/2015 | $226,669,100 | $224,010,474 |
| د برښنا د لیږد د کچې پراخولو او اتصال (PTEC) پروګرام | 1/1/2013 | 12/31/2016 | 670,000,000 | 28,049,353 |
| د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF) ته د مرستو چمتو کولو پروګرام | 3/7/2013 | 3/6/2018 | 285,170,184 | 105,000,000 |
| د کجکي بند دویمه څانګه (واحد) | 4/22/2013 | 12/31/2015 | 75,000,000 | 18,424,853 |
| د انرژۍ د پراختیایي پروګرامونو په هکله د افغانانو د معلوماتو د کچې لوړولو په موخه د عامه پوهاوي کمپاین (PACIAKEDP) | 2/1/2014 | 1/31/2016 | 1,789,224 | 929,863 |
| UEE | 9/30/2007 | 9/30/2017 | 698,555 | 698,555 |
| د افغانستان د انجنیرۍ د ملاتړ پروګرام (AESP) | 11/9/2009 | 11/8/2015 | 72,000,000 | 62,706,294 |
| بسپنې (ګرنټونه)PEER د | 7/25/2011 | 7/24/2016 | 133,492,138 | 5,440,647 |

یادښت: د شبرغان د ګارو د تولید پروژه (SGGA). د شبرغان د ګازو پراختیایي پروژه (SGDP) او د افغانستان د ثبات له پاره د پانګونې او د کانونو د پراختیا پروژه (MIDAS) چې د امریکې متحده ایالاتو نړیوالي پرمختیایي اداري (USAID) په راپور کې د برښنا د سکتور لاندې طبقه بندي شوې دي، په 170–173مخونو کې د کانونو د راویستلو پروګرامونو په فرعي برخه کې ځای پرځای شوې دي.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداري (USAID) ځواب، 4/9/2015.

**د سیګار تفتیش**

سیګار په یوه روانه تفتیش کې د 2011 مالي کال د افغانستان د زیربنایي پروژ، د زیربنا په نورو ړومبیتوبونو اغیزو، د یاغیانو پرضد مبارزې د اهدافو او د ساتنې او پایدارۍ د ننګونو په برخه کې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت په پرمختګ تمرکز کړی دی.

**د سیګار ځانګړې پروژه**

سیګار په دې ربع کې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو، په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو ځواکونو (USFOR-A) او د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ته د 2015 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتې څخه وروسته د کندهار ښار لپاره د برښنا د باور وړ او پایداره سرچینې د رامینځته کولو په موخه د امریکې متحده ایالاتو د پروژو د وضعیت په هکله د څیړنو او تحقیقاتو د ترسره کولو لپاره یو لیک استولی دی. د لازیاتو معلوماتو لپاره د 45 مخ دویمې برخې ته مراجعه وکړئ.

دي چې په هغې کې د داوطلبی د اسنادو تیارول او د بولی (مزایدې) بهير کې مرسته او همکاري چې د 2015 زيږديز کال د فبروري په 9 مه نېټه اعلان شوی دی، شامل دي.[817]

USAID خپلو کارونو ته ادامه ورکوي خو آيا داچې د PTEC لاسته راغلی ټرون به د افغانستان د تدارکاتو ملي کميسيون (NPC) له خوا منظورشي او که نه. د افغانستان د تدارکاتو ملي کميسيون (NPC) د 2015 زيږديز کال د فبروري په 20 مه نېټه د جمهور رئيس د 60 م ګڼه فرمان سره سم جوړ او رامينځته شوی دی.چې له دې لارې په بوجه کې داخل ټول پخواني قراردادونه د افغان دولت د منظورۍ په موخه استول شوي دي. په پایله کې USAID ویلي دي چې ممکن پروګرام وځنډيږي.[818] د NPC په هکله د لا زیاتو معلوماتو د لاسته راوړلو لپاره د دې راپور په 136 مخ کې د حکومت ولۍ برخې ته مراجعه وکړئ.

USAID د NEPS او SEPS ترمنځ د برښنا د ليږدونکي مزي (لين) د غزولو چارو تر بشپړولو پورې د کندهار د برښنا د توليد او اړتيا ترمنځ د تشې ډکولو په برخه کې د مرستې او همکارۍ کولو په موخه ويلي، PTEC معکوسه بولي (ليلام) په لاره اچوي چې د هغې له لارې به د برښنا خپلواکه توليدونکي شرکتونه د افغان برښنا شرکت ته د شمسي برښنا د فابريکې د ودانولو او د شمسي برښنا د چمتو کولو او پلورلو په برخه کې سيالي وکړي. هیله ده چې نوموړې فابريکه د 2016 زيږديز کال تر نيمايي پورې په فعاليت پيل وکړي. د 10 ميګا واټه برښنا توليد به کافي او ډيره لويه لاسته راوړنه وي.[819]

## ورل راوړل (ترانسپورت)

په افغانستان کې د وړلو راوړلو (ترانسپورت) د زيربنا کموالی د نړيوال تجارت، بهرني سوداګرۍ او اقتصادي ودې مخه نيسي. نړيوال بانک وايي چې د ملي اقتصادي پراختيا لپاره د ترانسپورت سکتور جوړول ډير مهم دي.[820] د افغانستان د ترانسپورت زيربنا کمزورې او نيمګړتياوې د خدمتونو چمتو کولو او کرني سکتورونو د فعاليتونو مخنيوی کوي چې اوس مهال د کورنيو ناخالصو توليداتو تر ټولو ستر مرسته کوونکي سکتورونه دي.[821] همدارنګه د ترانسپورت د زيربنا کموالي د کانونو د راويستلو صنعت پر وړاندې هم يو ستر خنډ دی چې د افغانستان دولت او نړيوالو تمويلوونکو ادارو په وينا د دې سکتور راتلوونکي عوايد به د نړيوالو مرستو کموالی جبران او د هغې ځای به ونيسي.[822] په دې ربع کې د امريکې متحده ايالاتو خپلو هلوځلو ته ادامه ورکړې څو د افغانستان سره د ترانسپور وزارت د وړتيا (ظرفيت) لوړولو او د عملياتو او ساتنې چارو د پايدارۍ په برخه کې مرسته او همکاري وکړي.[823]

## سړکونه

سره له دې چې د امريکې متحده ايالاتو ټول ټال 2.36 ميليارده امريکايي ډالر د سړکونو د ودانولو او عملياتو او ساتنط په موخه چمتو کړي دي او سږکال به هم په عملياتو او ساتنې باندې 5 ميليونه امريکايي ډالر ولګوي، نړيوال بانک ويلي دي چې د افغانستان 85% سړکونه په ډير خراب حال کې دي او زياتره يې د موټرونو د چلولو لپاره د استفادې وړ نه دي.[825] د امريکې متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) د معلوماتو سره سم، افغانستان اوس مهال د سړکونو او لويو لارو د ساتنې لپاره بودجه او تخنيکي وړتيا (ظرفيت) نلري.[826] د امريکې متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي ادارې (USAID) د سړکونو د ودانولو، عملياتو او ساتنې فعال پروګرامونه په 3.29 جدول کې ځای پرځای شوي دي.

### د سړکونو سکتور د پايدارۍ پروژه (RSSP)

د سړکونو سکتور د پايدارۍ پروژه (RSSP) د افغانستان د سړکونو د زيربنا په غوره توګه ساتنې او تميلولو په موخه د ټولګټو وزارت د وړتيا (ظرفيت) لوړولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي. نوموړې پروژه څلور مهم فعاليتونه پرمخ بيايي:[827]

- **لومړی (1) فعاليت:** د 5 ميلينه امريکايي ډالرو په ارزښت دبيړنيو عملياتو او ساتنې فعاليت چې 12 مياشتې به دوام وکړي. تر دې دمه د ترسب شوو خټو په پاکولو 8,000 امريکايي ډالر لګيدلي دي.

جدول 3.29

**د USAID د سړکونو د ودانولو، عملیاتو او ساتنې فعال پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال بودجه (امریکايي ډالر) | د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امریکايي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د ټولګټو وزارت ته د تخنیکي مرستو چمتو کولو پروګرام | 8/3/2014 | 8/2/2017 | $21,366,222 | $2,339,998 |
| د ګردیز خوست سړک – پنځمه مرحله | 6/26/2014 | 12/31/2016 | 31,963,736 | 14,554,611 |
| د سالنګ تونل ترمیم او بیارغونه | 4/1/2013 | 3/30/2016 | 3,533,950 | 1,469,001 |
| د انجنیرۍ، د کیفیت تضمین او لوجستیکي چارو په برخه کې د مرستو او همکاریو (EQUALS) پروګرام | 4/18/2011 | 4/17/2016 | 126,307,645 | 102,069,140 |
| د USAID د روغتیا او پوهنې د مرکزونو د ودانولو پروګرام څخه ملاتړ کول | 1/19/2008 | 7/31/2015 | 57,160,749 | 56,355,660 |

یادښت: د ټولګټو وزارت ته د تخنیکي مرستو د چمتو کولو پروګرام د USAID د سړکونوسکتور د پایداری د پروژې یوه برخه ده.

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي اداری (USAID) خواب، 3/26/2015 او 4/9/2015.

- **دویم (2) فعالیت:** د ټولګټو وزارت سره د سړکونو د اداري او سړکونو د وجهي صندوق د رامینځته کولو په موخه د تخنیکي مرستو چمتو کول چې د لومړۍ مرحلې لپاره 21.4 میلیونه امریکايي ډالر او د دویمې مرحلې لپاره 14 میلیونه امریکايي ډالر په پام کې نیول شوي دي. د لومړۍ مرحلې درې کلن ترون د 2014 زیږدیز کال د آګست په میاشت کې پیل شوی. هغه افغان اداري چې په لومړي مرحلې کې رامینځته شوي د دویمې مرحلې (جوړول، تجهیزات او روزنه) د پیل څخه وړاندې د ولسي جرګې منظورۍ ته اړتیا لري.
- **دریم (3) فعالیت:** د 38 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت د ټولګټو وزارت د وړتیا لوړولو فعالیت. کاري لایحه د اړتیاوو د ارزوني رواني سروې پربنسټ جوړه او رامینځته کیږي. د دریم فعالیت د پیل څخه وړاندې د ولسي جرګې له خوا د دویم فعالیت د لومړۍ مرحلې منظوري اړینه ده.
- **څلورم (4) فعالیت:** د سړکونو، عملیاتو او ساتنې لپاره د انتقالي مکافاتو بودجه چې 33 میلیونه امریکايی ډالر کیږي. یو ځل چې آسیايي پراختیای بانک د عملیاتو او ساتنې د مکافاتو لپاره لاره هواره کړه، د امریکې متحده ایالاتو نړیواله پرمختیايي آداره (USAID) به د آسیايي پراختیايی بانک د افغانستان د زیربنا وجهي صندوق (AITF) له لارې بودجه چمتو کړي.

### د ګردیز خوست د لویې لارې سړک بیارغوني پنځمه مرحله

د خوست او پکتیا ولایتونو د څلورو مرحلو 233 میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت 63 میله په اوږدوالی قیر سړک پروژې له لارې د پاکستان او کابل سترو سوداګریزو لارو او همدارنګه حلقوی سړک ته چې کابل کندهار او هرات ولایتونه سره نښلوي، لاس رسی پیدا کړی دی.[828] د دې پروژې په کارونو کې پلونه، هوایي پلونه، د آبرو جوړښتونه، کښېنده، د سیند غاړې (څنډې) هغه جوړښتونه چې د اوبو جریان او د ترسب عملیه کنټرولوي او قیر پوخ سړک شامل دی. د څلورو مرحلو له جملې څخه دزې یې د 55 میله په اوږدوالي سړک پخولو سره بشپړې شوي او د پاتې سړک او یو پل د ودانولو چارې به ډېر ژرر پیل شي.(د بل پل د ودانو چارې په پنځمه مرحله کې له وړاندې جریان لري).[829]

## اقتصادی وده

د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیايي اداري (USAID) په افغانستان کې د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې تقریباً 977 میلیونه امریکايي ډالر د اقتصادي ودې پروګرام باندې لګولي دي.[830]

## د افغانستان د کاري قوې د پراختيا پروګرام (AWDP)

د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د 62.6 ميليونه امريکايي ډالرو په ارزښت د افغانستان د کاري قوې د پراختيا پروګرام (AWDP) موخه 25,000 افغان نارينه (75%) او افغان ښځو (25%) ته د کار او بازار د کنټرول او پرمخ بيولو مسلکي زده کړ او روزنيزو پروګرامونو، سوداګريزې پراختيا مرستو او همکاريو، د سوداګرۍ د مديريت او کنټرول روزنيزو پروګرامونو، مالي پورونواو دندو ميندلو خدمتونو ته د لاس رسي لپاره لاره هوارول دي. AWDP د بې کارۍ لوړې کچې او تخنيکي مسلکي افغان کارګرانو او روزل شوو افغان سوداګر مديرانو د کموالی ستونزې د حل لپاره هلې ځلې کوي. د پروګرام موخه په افغانستان کې د دندو رامينځته کولو لپاره لاره هوارولو، د مسلکي او نيمه مسلکي کاري قوې رامينځته کول، د شخصي کارونو د کچې لوړول او د اقتصادی بهبود او ښه والی د کچې لوړول دي.[831]

همدارنګه AWDP د هغه پروژو سره مرسته او ملاتړ کوي چې د فني/مسلکي استادانو او روزونکو د وړتيا (ظرفيت) د لوړولو په برخه کې کار کوي. AWDP هڅه کوي چې د دولتي او خصوصي سکتور د ملګرتيا (همکاری) او روزنيزو پروګرامونو ته د لاس رسي د زياتولي له لارې د روزنيزو پروګرامونو کيفيت او څرنګوالی ښه کړي. د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د راپور سره سم، د 2014 زيږديز کال د ډسمبر د مياشتي تر 31 مې نېټې پورې له 11,000 څخه زيات افغانان روزل شوي دي او 6,700 کسان يا خو پر دندو ګمارل شوي يا په نيمه مسلکي دندو کې پرمختګ کړی دی. دا معلومه نده چې پروګرام د 2015 زيږديز کال د اپريل تر مياشتي پورې خپل هدف ته چې د 21,000 کسانو روزل او د 17,500 کسانو پردندو ګمارل يا پخپلو دندو کې د هغوی پرمختګ کول دي، ورسيږي. د افغانستان د اقتصادي فعاليتونو بطي بهير به پروګرام زيانمن کړي. په هر حال پروګرام تر دې دمه د ښځو د روزنې او پردندو ګمارلو په برخه کې خپل هدف (25%) ته رسيدلی دی. 31% ښځې پر دندو ګمارل شوي او 34% يي پخپلو دندو کې پرمختګ کړی دی.[832] AWDP د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتي تر 31 مې نېټې پورې تقريباً 18.3 ميليونه امريکايی ډالر لګولي دی.

## پوهنه

د امريکي متحده ايالات په پام کې لري چې د وړتيا (ظرفيت) لوړولو پروګرامونو د زياتولو، د زده کړې موادو، ښوونځيو او ښوونکو د پرمختګ په برخه کې بيرنيو اړتياوو پوره کولو، لويانو ته د سواد زده کړې فرصتونو د کچې لوړولو، د کار ميندلو مهارتونو او ځوانانو د پرمختګ له لارې لوړ کيفيت لرونکې پوهنې ته د افغانانو د لاس رسي کچه لوړه او ښه کړي.[834]

د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) په افغانستا ن کې د 2014 زيږديز کال د ډسمبر د مياشتي تر 31 مې نېټې پورې $768 ميليونه امريکايي ډالر د پوهنې په پروګرامونو لګولي دي.[835]

د هغه بشپړه اسنادو او معلوماتو سره سم، چې د پوهنې وزارت (MOE) د پوهنې معلوماتي سيستم (EMIS) څخه ترلاسه شوي دي، افغانستا په 1393 لمريز کال کې ټول ټال 14,226 دولتي ښوونځي چې 8.35 ميليونه حاضر زده کوونکي په کې په زده کړه بوخت وه، درلودل.[836] په 1392 لمريز کال کې په ښوونځيو کې د شاملو زده کوونکو ټول ټال شميره 8.12 ميليونه وه چې د بشپړه اسنادو او معلوماتو په رڼا کې له دې جملې څخه 6.6 ميليونه سوب (حاضر) زده کوونکي او 1.55 ناسوب (غيرحاضر) زده کوونکي وه.[837] د پوهنې معلوماتي سيستم (EMIS) هيڅ وخت نه خلاص او تړلي ښوونځي او نه هم د ښوونکو او زده کوونکو د حاضری کتابونو څرګ معلوم کړی. ارقام په خپلواکه توګه تاييد شوي نه دي.[838]

د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د پوهنې هغه پروګرامونه چې ړومبيتوب ورکړل شوي او د ESF له لارې تمويليږي پخپل حال پاتې دي:[839]

- **د اساسي و زده کړې، سواد زده کړې او تخنيکي او مسلکي زده کړې او روزنې (BELT) پروګرام:** د دې پروګرام موخه په هغه ټولنو او سيمو کې چې دولت لاس رسی نلري د اساسي زده کړو د کيفيت ښه کول او اصلاح کول دي. په دې ربع کې د امريکي متحده ايالاتو نړيوالي پرمختيايي اداري (USAID) د دويمو او څلورمو ټولګيو زده کوونکو د لوستلو ارزونې لپاره د پروپوزل د لاسته راوړلو غوښتن ليک صادر کړ.

### د سيګار تفتيش

سيګار په يوه روانه تفتيش کې د امريکي متحده ايالاتو هغه پروژو باندې تمرکز کړی دی چې پوهنې ته د لاس رسي کچې د ښه والي او د لومړنيو او منځنيو ښوونځو د پوهنې سيستمونو د کيفيت د لوړوالي لپاره کار کوي.

جدول 3.30

**د USAID د پوهنې فعال پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پیل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال بودجه (امریکایي ډالر) | د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امریکایي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د پوهنې لپاره د نړیوالې همکارۍ (GPE) پروګرام | 10/11/2012 | 3/31/2015 | $3,108,580 | $1,009,674 |
| د افغانستان امریکایي پوهنتون د مسلکی زده کړو د پراختیا انستیتیوت | 8/1/2013 | 7/31/2018 | 40,000,000 | 12,075,066 |
| د افغانستان د تخنیکی او مسلکي زده کړو انستیتیوت | 6/15/2013 | 6/14/2015 | 1,000,000 | 700,000 |
| په افغانستان کې د پوهنې د پیاوړې کولو (SEA) پروګرام | 5/19/2014 | 5/18/2019 | 29,835,920 | 2,076,818 |
| د افغانستان د تدریسي تحصیلي بورسونو (سکالرشیپونو) پروګرام | 8/21/2011 | 7/31/2017 | 7,384,665 | 6,398,771 |
| په سیمه ییزه کچه پوهنې پروګرام (CBE)<br>کې د زده کړې د پایلو او ټولنیزو اغیزو ارزونه | 1/1/2014 | 12/31/2017 | 7,262,016 | 699,801 |
| د افغانستان د پوهنتونونو د ملاتړ او کارې قوې د پراختیا پروګرام (USWDP) | 1/1/2014 | 12/31/2018 | 91,927,769 | 11,224,116 |
| اساسي زده کړې او د جندر د برابرۍ (مساوات) ته د لاس رسي د کچې لوړول پروګرام | 9/17/2014 | 9/16/2019 | 54,027,000 | 54,027,000 |
| د BELT په سیمه ییزه کچه پوهنې پروګرام (CBE) | 10/29/2013 | 10/28/2017 | 56,000,000 | 0 |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) ځواب، 4/9/2015.

- **د BELT په سیمه ییزه کچه پوهنې پروګرام (CBE) BELT:** په سیمه ییزه کچه پوهنې پروګرام (CBE) له لارې په 10 ولایتونو کې اساسي زده کړې چمتو کوي.
- د افغانستان امریکایی پوهنتون (AUAF): د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د 8 محصلینو او 5 فارغ التحصیل زده کوونکو د تمویلولو په موخه یو تړون لاسلیک کړ.
- **د افغانستان د پوهنتونونو د ملاتړ او کارې قوې د پراختیا پروګرام (USWDP):** د بازار د غوښتنې او اړتیاوو سره سم د لوړو زده کړو تدریسي نصاب په جوړولو او په هغې کې د بدلو راوستلو په برخه کې مرسته او همکاري کوي.
- **د پوهنې د کیفیت د بهبود او اصلاح کولو پروژه (EQUIP):** د دې پروژې فعالیتونه د ښوونکو په روزنه متمرکز دي. د امریکې متحده ایالاتو په مرسته له 84,000 څخه زیات ښوونکي روزل شوي دي.

د امریکې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې د پوهنې د فعالو پروګرامونو بشپړ لست په 3.30 جدول کې ځای پرځای شوی دی.

## د افغانستان د پوهنتونونو د ملاتړ او کارې قوې د پراختیا پروګرام (USWDP)

د افغانستان د پوهنتونونو د ملاتړ او کارې قوې د پراختیا پروګرام (USWDP) د 92 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت پنځه کلن پروګرام دی چې موخه یې د لوړو زده کړو وزارت (MOHE) او 10 پوهنتونونو د اداري وړتیا (ظرفیت) لوړول او اصلاح کول دي څو په دولتي او خصوصي سکتور کې د مسلکي او تجربه لرونکو افغان نارینه او ښځینه کارکوونکو شمیر زیات شي. همدارنګه نوموړی پروګرام پوهنتونونه او ګمارونکې اداري سره نښلوي، د بازار د غوښتنې او اړتیا سره سم، په تدریسي نصاب کې د بدلون راوستلو په برخه کې مرسته او همکاري کوي او هڅه کوي چې په هر پوهنتون کې نوې او د پام وړ لوړه درجه لرونکی پوهنځې رامینځته کړي.[840]

تر دې دمه د کابل پولې تخنیک پوهنتون کې د معلوماتي ټکنالوجۍ په برخه کې د مسلکی کالجونو پروګرام په کار پیل کړی دی. په ټولګي کې ټول ټال 38 محصلین په زده کړه بوخت دي چې له دې جملې څخه 8 ښځې دي. همدارنګه د کابل په پوهنتو کې 28 محصلین(د 8 ښځو په ګډون) د عامه پالیسۍ

او اداري د ماسټرۍ پروګرام په دويم ګروپ کې په زده کړو بوخت دي. په ورته وخت کې د سوداګرۍ مديريت په برخه کې د ليسانس او ماسټرۍ پروګرامونو خپل کارونه پيل کړي دي. د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) خبرداري ورکړې دی چې د نوو پوهنځيو رامينځته کول له ننګونو سره يوځای وي نو د لوړو زده کړو وزارت او پوهنتون مشرتابه ته په کار دي چې د ورکړل شوو د پام وړ تګلارو (پاليسيو) سره سم کارونه پرمخ يوسي.[841]

## روغتيا

د نړيوال بانک د معلوماتو سره سم، افغانستان د 2002 زيږديز کال راهيسې پخپلو روغتيايي شاخصونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. سره له دې چې دا هيواد د ټيټ عايد لرونکو هيوادونو لپاره د اوسط څخه لاندې پاتې دی او د نړۍ په کچه د ماشومانو د خوار ځواکۍ لوړه کچه لري.[842] د عامې روغتيا وزارت (MOPH) سره د امريکې متحده ايالاتو په مرستو کې د مرکز او ولايتونو په کچه د وړتيا (ظرفيت) لوړولو روزنيز پروګرامونه او د کيفيت د تضمين فعاليتونه شامل دي، په ځانګړې ډول د هيواد په سويل او ختيځو ولايتونو کې چيرې چې خلک په پراخه پيمانه د روغتيايي خدمتونو د کموالی سره مخامخ دي.[843]

د عامې روغتيا وزارت سره د امريکې متحده ايالاتو مرستې په 2015 زيږديز کال کې به د احصايې مرکزي اداره (CSO) او د عامې روغتيا وزارت (MOPH) د USAID په همکاري د هيواد به کچه د نفوس شميرنې او روغتيا لومړنی سروې ترسره کړی څو د افغانستان دولت سره د روغتيا او ټولنيزو چارو عصري پروګرامونو په رامينځته کولو کې مرسته او همکاري وکړي. USAID وايي چې د سروې به څيرنه کې به له طلای معيار څخه کار واخيستل شي، د هيواد په ټولو 34 ولايتونو کې به د مختلفو موضوع ګانو لکه د ودونو اندازه، د حمل اندازه او ترجيحات، د کورنی تنظيمول، د مور او ماشوم تغذيه، د مړيني اندازه، روغتيا او همدارنګه ټولنيزو شاخصونو په هکله به کټ مټ معلومات راغونډ او چمتو کړي. پايلې به د نړيوالو معيارونو سره سم، راټولې ا وسره يوځای کړل شي او په نورو هيوادونو کې د راټولو شوو پايلو سره به په ډيره آسانی سره د پرتله کيدلو وړ وي.[844]

## د امريکې متحده ايالتونو نړيوالې پرمختيايي آدارې (USAID) مالی مرستې

د امريکې متحده ايالاتو د 2002 مالي کال څخه تر 2013 مالی کال پورې د داخل د بودجې اوخارج د بودجې مرستو له لارې د افغانستان د روغتيا په سکتور ټول ټال د 913 ميليونه امريکايي ډالرو څخه زيات لګولي دي.[845] د 2014 مالی کال څخه تر 2018 مالی کال پورې به د USAID ټول ټا مرستې 383 ميليونه امريکايي ډالر وي.[846] د عامې روغتيا وزارت ته په داخل بودجه مرستو کې د امريکې متحده ايالاتو له خوا تمويل شوو مرکزونو کې د کارکوونکو معاشات، د داخل خدمت روزنيزو پروګرامونو لپاره اکمالات او تجهيزات، د ودانيو د بيارغوني کوچنی کارونه او ځارنه او نظارت شامل دي او په خارج بودجه مرستو کې د روغتيايي سيستمونو د پياوړې کولو فعاليتونه، د خصوصي سکتور ګډون او د درملو او حمل ضد دواګانو پيرودل او چمتو کول شامل دي.[847] د امريکې متحده ايالاتو د نړيوالې پرمختيايي اداري د روغتيايي پروګرامونو بشپړ لست په 3.31 جدول کې ځای پرځای شوی دی.

### د روغتيايي خدمتونو لپارمشارکتي قراردادونه (PCH)

د کوربه هيواد د روغتيايي خدمتونو لپارمشارکتي قراردادونه (PCH) پروګرام د عامې روغتيا وزارت له پروژو سره مرسته او همکاري کوي څو د هيواد په 13 ولايتونو کې خلکو ته د روغتيايي خدمتونو اساسي کڅوره (BPHS) د ميندو او نوي زيږيدلو ماشومانو روغتيايي خدمتونه، د ماشوم روغتيا او معافيت (واکسينونه) خدمتونه، د عامه تغذيې خدمتونه، د ساري انتاني ناروغيو د مخنيوی خدمتونه، رواني صحت خدمتونه، معلوليت او معيوبيت خدمتونه او د مهمو درملو د اکمالاتو خدمتونه او په پنځو ولايتونو کې د روغتون د خدمتونو اساسي کڅوره (EPHS) چمتو کړي.[848] PCH د 6,000 څخه زياتو روغتيايي کارکوونکو چې محدود معالجوي خدمتونه ترسره کوي او 600 مرکزونو سره چې په هغې کې روغتونونه او روغتيايی مرکزونه شامل دي، مرسته او همکاري کوي. همدارنګه PCH په پنځو

### د سيګار تفتيش

په دې ربع کې سيګار د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايی اداري (USAID) د پروژو تفتيش پيل کړه.څو د افغانستان روغتيايي خدمتونه ښه او اصلاح کړي. همدارنګه نوموړې پلټنه د امريکې متحده ايالاتو نړيوالې پرمختيايی اداري (USAID) له خوا د خپلو پروژو د ټولو اغيزو د ارزونې په اندازې او همدارنګه د USAID له خوا د روغتيايي خدمتونو د معلوماتو د راټولولو، تاييدولو اويوځای کولوپه اندازې څويې صحيحوالی په کوته کړی، متمرکز ده. د لا زياتو معلوماتو لپاره د 28 مخ دويمې برخې ته مراجعه وکړئ.

ولايتي او يو مرکزي روغتون کې دريمه درجه روغتيايي خدمتونه ترسره کوي. سربيره پردې PCH په ټولنه کې د قابله ګۍ د زده کړې پروګرام (CMEP) سره چې موخه يې د مور او ماشوم د مړينې د کچې راکمول دي، مرسته او همکاري کوي.[849]

USAID وايي چې د يادې اداري د روغتيا سکتور د ړومبيتوبونو موخه د څارنې سيستم له لارې د دې خبرې ريکارډ کول دي چې PCH څرنګه د روغتيايي خدمتونو د لېږد بهير، د عامې روغتيا وزارت او نړيوال بانک سره د زده شوو درسونو او د نړيوال بانک د لېږد په حال کې روغتيايي اقداماتو د سيستمونو د لوړولو پروګرام ته د PCH په نورمال توګه لېږدول په هکله ډاډ ترلاسه کولو په برخه کې مرسته او همکاري کوي. PCH به د مهال ويش سره سم د 2015 زېږديز کال د ډسمبر په مياشت کې پای ته ورسيږي.[850]

جدول 3.31

**د USAID د روغتيا فعال پروګرامونه**

| د پروژې نوم | د پيل نېټه | د پای نېټه | ټول ټال بودجه (امريکايي ډالر) | د 2015 زېږديز کال د مارچ د مياشتې تر 31 مې نېټې پورې شوي لګښتونه (امريکايي ډالر) |
|---|---|---|---|---|
| د فارمسي سيستم پياوړی کول | 8/28/2011 | 8/27/2015 | $24,499,936 | $19,320,374 |
| د فلج ناروغۍ د له منځه وړولو پروژې | 9/30/1996 | 9/30/2022 | 10,830,615 | 9,265,102 |
| توبرکلوز | 9/29/2010 | 9/28/2015 | 5,600,000 | 4,600,000 |
| د روغتيا تګ لارې پروژه | 9/25/2011 | 6/30/2015 | 29,732,652 | 26,475,988 |
| د اکمالاتو ځنځير د مديريت د همکارۍ پروګرام | 6/1/2009 | 9/26/2015 | 894,402 | 394,402 |
| د روغتيا لپاره د همکاريو ترونونو پروګرام | 7/20/2008 | 12/31/2015 | 259,663,247 | 210,034,769 |
| د څو ګونو سکتوري لارو چارو له لارې د تغذيه ښه کول او اصلاح کول | 11/7/2014 | 12/31/2017 | 5,610,012 | 5,408,826 |
| د ناروغيو په هکله د وختي خبرداری سيستم | 9/1/2008 | 6/30/2017 | 8,500,000 | 8,500,000 |
| د کورنۍ د تنظيم، مور، نوي زيږيدلي او ماشوم د روغتيا پروژه | 1/7/2015 | 1/6/2020 | 60,000,000 | 84,213 |
| لېږدول (انتقال) | 9/30/2010 | 9/29/2015 | 13,535,571 | 11,720,015 |
| د نفوس شميرنې او روغتيا سروې | 9/9/2013 | 9/8/2018 | 5,453,731 | 293,586 |
| د مشرتابه د مديريت او ښې حکومت ولۍ څخه د ملاتړ پروګرام | 9/25/2012 | 6/30/2015 | 37,853,384 | 32,007,979 |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د امريکې متحده اياالاتو نړيوالې پرمختيايي اداري (USAID) ځواب، 4/9/2015.

# 4
# د نورو ادارو له خوا ځارنه



# د نورو ادارو له خوا څارنه لړلیک


**د عملیاتو په آزادانه ډول څارنې لپاره مشر عمومي پلټونکی وګمارل شو** 187

**د څارنې یا نظارت بشپړې شوې پروژې** 188

**د څارنې یا نظارت روان (جاري) فعالیتونه** 194


**انځور په راتلونکي مخ کې**

د کندهار د منظرې انځور چې د الوتکې د کښته کیدو په حال کې اخیستل شوی (د الیکس برونسټن موفلي انځور چې د سیګار له خوا چمتو شوی)

# د نورو ادارو له خوا څارنه

سیګار د قانون سره سم مسؤلیت لري چي د امریکي متحده ایالاتو د بهرنیو چارو او دفاع وزیرانو ته د بیارغوني پروګرامونو د اداري او کنټرول په برخه کي د شته ستونزو په هکله خبر ورکړي او د هرې مالي ربعې په پای ته رسیدو سره تر 30 ورځو پورې د خپلو څارنیزو او نظارت د کارونو او د امریکي متحده ایالاتو د بیارغوني پروژو په هکله کانګرس ته راپور ورکړي. سیګار په هره ربع کي د نورو ادارو څخه د څارني د بشپړ شوو او روانو فعالیتونو په هکله تازه معلومات غواړي او یاد معلومات په دې برخه کي سره راغونډ او یوځای کیږي.

د بشپړ شوو راپورونو عمومي نسخې د یادو ادارو اړونده ویب پاڼو ته استول او هلته ځای پرځای کیږي. راپورونه لکه څرنګه چي استول شوي وي په هماغه بڼه ښکاري خو د دې راپور د نورو برخو سره د توافق او جوړښت په موخه په کي جزیی بدلون راوړل کیږي:د بشپړو نومونو پرځای مخففونه ځای پرځای کیږي: املا او انشاء په معیاری توګه په پام کي نیول کیږي: او د لومړي شخص پرځای د دریم شخص له خوا ترتیب او جوړیږي.

دغه اداري په افغانستان کي د څارني یا نظارت چارې پرمخ بیايي او پایلې یې سیګار ته چمتو او استوي:

- د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت دعمومي پلټونکي دفتر (DOD IG)
- د امریکي متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (State OIG)
- د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)
- د امریکي متحده ایالاتو د پوځ د تفتیش اداره (USAAA)
- د امریکي متحده ایالاتو د نړیوالي پرمختیایي اداري دعمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

## د عملیاتو په آزادانه ډول څارني لپاره مشر عمومي پلټونکی وګمارل شو

په دې ربع کي د بشپړتیا او اغیزمنتوب په برخه کي د عمومي پلټونکو د شورا مشر (CIGIE) د امریکي متحده ایالاتو دفاع وزارت عمومي پلټونکی (DOD IG) جان ټي رایمر د عملیاتو په آزادانه ډول څارني (OFS) لپاره د مشرعمومي پلټونکي په توګه وګمارل شو چي په افغانستان کي د امریکي متحده ایالاتو د پوځي ماموریت لپاره یوه نوې څېره او نوم دی.

د عملیاتو په آزادانه ډول څارنه (OFS) د 2015 زیږدیز کال د جنوري په لومړۍ نېټه وروسته له هغه پیل شوه چي د 2014 زیږدیز کال د ډسمبر په میاشت کي د امریکي متحده ایالاتو پوځي عملیات په افغانستان کي په رسمي ډول پای ته ورسیدل. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت OFS د هیواد څخه د باندي د نوو احتمالي او بیرنیو عملیاتوپه توګه طرحه او ټاکلي دي چي د جګړې په دوران کي د قراردادونو په تړون کي د

يوې مقررۍ د رامينځته کيدو سبب ګرځي او د امريکې متحده ايالاتو د دفاع، کورنيو چارو وزارتونو او امريکې متحده ايالاتو نړيواله پرمختيايي اداره (USAID) د عمومي پلټونکو څخه غواړي چې د نوو بيړنيو عملياتو په دوران کې خپلې د څارنې يا نظارت هلې ځلې سره همغږې کړي. همدارنګه قانون CIGIE مشر ته لارښوونه کوي چې له قانون سره سم، يو له دريو عمومي پلټونکو څخه د نوو احتمالي او بيړنيو عملياتو د څارنې يا نظارت لپاره د مشر عمومي پلټونکي په توګه ونوموي.

د هيواد څخه د باندې روانو احتمالي او بيړنيو عملياتو لپاره مشران عمومي پلټونکي له له وړاندې ګمارل شوي دي: په عراق کې د اسلامي دولت د مقابلې لپاره د ستونزې د اساسي او دايمي حل عمليات او په افريقا کې د ايبولا وايرس د شيوع په وړاندې د ګډو مرستو عمليات. لکه څرنګه چې د CIGIE مشر ښاغلي ميکايل اي هورويتز د امريکې متحده ايالاتو دفاع وزارت عمومي پلټونکي ښاغلي رايمر ته په خپل استولي ليک کې يادونه کړيده، د مشر پلټونکي او د هيواد څخه د باندې احتمالي او بيړنيو عملياتو د عمومي پلټونکو (مفتشينو) ګمارل به په افغانستان کې د رغيزو بودجو او پروګرامونو د کنټرول او مديريت په برخه کې د سيګار په واک (صلاحيت) کې کوم بدلون رامينځته نه کړي. هغه پخپل ليک يادونه کړې ده چې "په دې ټاکنو کې داسې هيڅ يو شی په پام کې نه دی نيول شوی چې د سيګار واک او مسؤليتونه محدود يا اغيزمن کړي." همدارنګه رايمر په يو ورته ليک کې سناتور کليرمک کاسکيل ((D-MO ته ليکي دي چې هغه به خپلې دندې د سيګار سره په همغږۍ ترسره کړي څو د پروژو د تکرار څخه مخنيوی وکړي او خبل کارونه د امکان ترحده د قانون سره سم ترسره کړي. دواړه ليکونه د دې راپور په E ضميمه کې پيداکولای شئ.

## د څارنې يا نظارت بشپړې شوې پروژې

په 4.1 جدول کې د څارنې يا نظارت هغه اته (8) پروژې ځای پرځای شوی چې د بيا رغونې چارو سره تړاؤ لري او د ګډون کوونکو ادارو د راپور سره سم، په دې ربع کې بشپړې شوې دي.

## د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) دفتر

په دې ربع کې د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) د افغانستان د بيا رغونې پروژو درې راپورونه خپاره کړي دي.

جدول 4.1

**د امريکې متحده ايالاتو د نورو ادارو له خوا د څارنې يا نظارت پروژې چې په دې وروستيو کې بشپړې شوې دي د 2015 زيږديز کال د مارچ د مياشتې تر 31 مې نېټې پورې**

| اداره | د راپور ګڼه | د خپريدلو نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| DOD IG | DODIG-2015-101 | 3/31/2015 | د احتمالي او بيړنيو او احتمالي قراردادونو ترسره کول: د سمون لپاره چوکاټ – د 2015 زيږديز کال تازه معلومات. |
| DOD IG | DODIG-2015-093 | 3/31/2015 | د زده شوو درسونو (لاسته راغلو تجربو) لنډيز – د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) له خوا په عراق او افغانستان کې د امريکې متحده ايالاتو او ائتلافي ځواکونو د عملياتو په دوران کې د روزنې، سلامشورې، مرستې او سمبالولو د د څارنې يا نظارت د بهير ارزونه کول |
| DOD IG | DODIG-2015-082 | 2/26/2015 | د امريکې متحده ايالاتو د نيغ په نيغه مرستو د قراردادونو د مديريت په بهير باندې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کنټرول ښه والي او اصلاح کولو ته اړتيا لري. |
| DOD IG | DODIG-2015-067 | 1/30/2015 | د افغان ملي پوليسو د لوجستيکي او ساتنې چارو د پايدارۍ د وړتيا لوړولو په موخه د امريکې متحده ايالاتو او ائتلافي ځواکونو د پروژو ارزونه. |
| DOD IG | DODIG-2015-059 | 1/9/2015 | د پوځ له خوا په احتمالي او بيړنيو حالاتو کې د رغنيزو قراردادونو ترسره کول: د 2008 زيږديز کال د جنورې د مياشتې له لومړۍ نېټې څخه د 2014 زيږديز کال د مارچ تر 31مې نېټې پورې خپرو شوو راپورونو کې د کمزورتياوو په هکله لنډ معلومات په ګوته شوي دي. |
| GAO | GAO-15-250 | 2/18/2015 | د بيړنيو قرادادونو ترسره کول: د قراردادي د کارکوونکو د تعقيبولو سيستم غوره پلانونو، نظارت او لارښوونو ته اړتيا لري. |
| GAO | GAO-15-285 | 1/29/2015 | د آزمايښي پروګرام د نا پراختيايي توکوڅخه د ګټې اخيستلو د کچې لوړولو لپاره ښايي قرصتونه شتون ولري. |
| GAO | GAO-15-200 | 12/22/2014 | د منظور شوو برياليو قراردادونو د څارنې يا نظارت بهير د ښه کولو په موخه لازياتو اقداماتو ته اړتيا ده |

سرچينه: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د DOD IG ځواب، 3/19/2015: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د State OIG ځواب، 3/17/2015: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د GAO ځواب، 3/19/2015: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAAA ځواب، 3/10/2015: د سيګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID OIG ځواب، 3/24/2015.

### د احتمالي او بیرنیو او احتمالی قراردادونوترسره کول: د سمون لپاره چوکاټ – د 2015 زیږدیز کال تازه معلومات.

(د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکی د 2015 زیږدیز کال – 101 ګڼه راپور چې د 2015 زیږدیز کال د مارچ په 31 مه نېټه خپور شوی دی).

د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکی په هغه روانو ستونزو باندې چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د مختیني عمومي پلټونکي د دفتر په راپورونو کې په ګوته شوې وې، یو ځل بیا ټینګار وکړ: د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د 2012 زیږدیز کال – 134 ګڼه راپور. "د احتمالي او بیرنیو او احتمالی قراردادونوترسره کول: د سمون لپاره چوکاټ – د 2012 زیږدیز کال تازه معلومات." د 2012 زیږدیز کال د سپټمبر د میاشتي 18 مه نېټه، او D-2010-059 په بیړني ډول د قراردادونو ترسره کول: د سمون لپاره چوکاټ." د 2010 زیږدیز کال د مئ 14 مه نېټه. دغه راپور قراردادي کارکوونکو ته یو چوکاټ او سامان آلات چمتو کوي څو د هغې څخه د خپلو قراردادی عملیاتو د ارزوني او د دې خبرې په هکله ډاډ تر لاسه کولو په موخه کار واخلي چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت غوره لارې چارې پلي او هغه کمزورتیاوې چې د درغلی، ناوړه ګټې اخیستني او ناوتریخوالي سبب ګرځي، په ګوته کوی. دغه راپور د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) د هغه 40 راپورونو د معلوماتو د یوځای کولو پربنسټ چمتو شوی دی چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) د کارکوونکو او د درغلی د 21 قضیو د څېړنو او تحقیقاتو اړوند مطبوعاتي اعلامیو چې د 2012 زیږدیز کال د مارچ له لومړی نېټي څخه د 2014 زیږدیز کال د ډسمبرمیاشتي تر 31 مي نېټي پورې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د احتمالي او بیرنیو او احتمالی قراردادونوپه هکله صادر او خپور شوي، چمتو شوي دي. دغه راپورونو او څېړنو د امریکي متحده یالاتو د دفاع وزارت کارکوونکو په هکله یو شمیر ستونزې په ګوته کړې دي هغه داچې نوموړې کارکوونکي احتمالي او بیرني او احتمالی قراردادونه د فدرالي او امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت تګلارو سره سم، په منظم ډول نه ورکوي او نه یې هم په منظم دول اداره او کنټرولوي.

### د زده شوو درسونو (لاسته راغلو تجربو) لنډیز– د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) له خوا په عراق او افغانستان کې د امریکي متحده ایالاتو او ائتلافي ځواکونو د عملیاتو په دوران کې د روزني، سلامشورې، مرستي او سمبالولو د څارني یا نظارت د بهیر ارزونه کول

(د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د 2015 زیږدیز کال – 093 ګڼه راپورچې د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتي په 31 مه نېټه خپور شوی دی).

دا د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي (DOD IG) لنډ راپور زده شوو درسونو (لاسته راغلوتجربو) ته چې بنایي په راتلونکي کې احتمالي او بیرنیو عملیاتو او همدارنګه د اساسي او دایمي حل عملیاتو (OIR) کې ورڅخه کار واخیستل شي، اړتیا لري. دا لنډ راپور د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت یوځي قوماندانانو او هغه دخیلو ادارو او کسانو ته چې د اساسي او دایمي حل عملیاتو مسؤلیت یې په غاړه دی، د زده شوو درسونو لنډیز چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي له خوا د عراقي آزادی او دوامداره آزادی عملیاتو په دوران کې د روزني، سلامشوری، مرستي، سمبالولو پروژو د څارني یا نظارت بهیر د ارزوني څخه راټول شوی، چمتو کوي. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي د ارزوني د 30 راپورونو بیا کتنه چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي له خوا د 2008 زیږدیز کال د جولای د میاشتي څخه د 2015 زیږدیز کال د جنوري تر میاشتي پورې خپاره شوي دی، ترسره کړې ده. دغه راپورونو کې د اعراق او افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د پراختیا په موخه د امریکي متحده ایالتو او ائتلافي ځواکونو اړونده پروژې شامل دي. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي بیا کتني د خپلو همکارانو لکه اعراق او افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د پراختیا په موخه د امریکي متحده ایالاتو او ائتلا في ځواکونو په پروژو کې د سیستمیکو ننګونو او ستونزو پنځه ساحي او اړونده زده شوي درسونه (لاسته راغلي تجربې) په ګوته کړې دي.

- د همکار هیواد ملي امنیتي ځواکونو او وزارتونو ته د روزنیزو پروګرامونو چمتو کول او د هغوی سمبالول.
- د همکار هیواد د ملي امنیتی ځواکونو او وزارتونو د ملاتړ په موخه د مشورتي مرستو چمتو کول.
- د لوجستیکی چارو پراختیا او پایداري.
- ځواب وینه او د امریکي متحده ایالاتو له خوا د اکمال شوي تجهیزاتو کنټرول
- د امریکي متحده ایالاتو د قرارداد کنټرول او مدیریت.

**د امریکي متحده ایالاتو د نیغ په نیغه مرستو د قراردادونو د مدیریت په بهیر باندې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کنترول ښه والي او اصلاح کولو ته اړتیا لري.**

(**راپور لمبر** DODIG-2015-082، د 2015 کال فبروري په 26 مه خپور شوی).

دغه راپور یوازې د رسمي استعمال لپاره دی. د دې راپور سانسور شوې نسخه له وړاندې د ادارې په ویب پاڼه کې ځای پرځای شوې ده: http://www.dodig.mil/pubs/documents/DODIG-2015-082.pdf

**د افغان ملي پولیسو د لوجستیکي او ساتنې چارو د پایدارۍ د وړتیا لوړولو په موخه د امریکي متحده ایالاتو او ائتلافي ځواکونو د پروژو ارزونه.**

(د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د 2015 زیږدیز کال – 067 ګڼه راپور چې د 2015 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې په 30 مه نېټه خپور شوی دی).

د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي د معلوماتو سره سم، د ائتلافي ځواکونو او افغان ملي پولیسو مشران معلومه کړې ده چې د لوجستیکي چارو پراختیا چې په هغې د اکمالاتو او ساتنې وړتیاوې شامل دي، د ملي پولیسو د اوږدمهاله بریالیتوب لپاره د زیات اهمیت وړ وه. د ائتلافي ځواکونو سلاکارانو د لوجستیکي چارو د لیږد د بهیر څخه د ملاتړ په موخه د تاکلو تګلارو د نوې کولو اړتیاوې په ګوته کړې دي او د کورنیو چارو وزارت او ملي پولیسو مشران یې د رامینځته شوو لوجستیکي تګلارو او بهیرونو د پلي کولو او جاري کولو په موخه هڅولي دي. ائتلافي ځواکونو او د کورنیو چارو وزارت او ملي پولیسو مشرانو په ډیره مینه او علاقه د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو لوجستیکي پراختیا، د غوښتنې پر بنسټ لوجستیکي تدارکاتو د پلي کولو اهمیت او د افغان ملي پولیسو د ماموریت د بریالیتوب په موخه د ساتنې سیستم په هکله معلومات وړاندې او یادې برخې یې تر تحلیل او شننې لاندې ونیولې. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي په دریو ساحو کې مهمې لوجستیکي ستونزې په ګوته کړې دي – سرچینې، د تګلارو پلي کول او جاري کول او د لوجستیکي چارو د بهیرونو رامینځته کول.

**د پوځ له خوا په احتمالي او بېړنیو حالاتو کې د رغنیزو قراردادونو ترسره کول: د 2008 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د 2014 زیږدیز کال د مارچ تر 31 مې نېټې پورې خپرو شوو راپورونو کې د کمزورتیاوو په هکله لنډ معلومات په ګوته شوي دي.**

(د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي د 2015 زیږدیز کال – 059 ګڼه راپور چې د 2015 زیږدیز کال د جنوري د میاشتې په 9 مه نېټه خپور شوی دی).

د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت عمومي پلټونکي د DOD IG او هوایي ځواکونو د پلټنې ادارې راپورونه چې په افغانستان او عراق کې د رغنیزو چارو د احتمالي او بېړنیو او احتمالي قراردادونو په برخه کې کمزورتیاوې په ګوته کړې دي، تر بیا کتنې لاندې نیولي دي. DOD IG په ځانګړې ډول 11 راپورونه چې 738 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت احتمالي او بېړنیو رغنیزو چارو قراردادونو د څارنې یا نظارت په هکله یې معلومات چمتو کړي دي، تر بیا کتنې لاندې نیولي دي.

په کمزورتیاوو کې د کیفیت د تضمین او کنټرول نیمګړې څارنه او نظارت، نیمګړې شرایط، د ټیټ کفیت لرونکو رغنیزو چارو قبلول، نا ځرګنده نظارت او لارښوونې، د قوماندانیو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی، د قرارداد د اسنادو او بودجې د منظورۍ د بهیر نشتوالی شامل دي. په عمومي ډول په اوو راپورونو کې 15 ځله د کیفیت د تضمین کمزورتیاوو یادونه شوې ده چې د کار په ساحو کې د کارکوونکو ژوند او خوندیتوب ته د خطر د کچې د لوړوالي په برخه کې همکاري کوی. د کیفیت د تضمین په کمزورتیاوو کې د قرارداد نیمګړې څارنه او نظارت او د کیفیت د تضمین اسنادو او کنټرول نشتوالی شامل دی. نورو کمزورتیاوو د لا زیاتو کارونو ترسره کولو په برخه کې مرسته او همکاري کړیده څو نوې ودانۍ په معیاري ډول جوړې کړي. د کمزورتیاوو تکرار په دې دلالت کوي چې د دې فرصت شته چې د پوځي رغنیزو پروژو څخه زده شوي درسونه (لاسته راغلي تجربې) تطبیق او په راتلونکو بیړنیو او احتمالي حالاتو کې یې په مکرر ډول رامینځته کیدو کچه راټیټه کړل شي.

## د امریکي متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر- د منځني ختیځ منطقوي عملیات

په دې ربع کې د امریکي متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د عمومي پلټونکي دفتر( OIG) د ا فغانستان د بیارغونې په هکله هیڅ یو راپور خپور نه کړ.

## د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)

په دې ربع کې د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO) د افغانستان د بیارغونې په هکله دری راپورونه خپاره کړي دي.

### د بیړنیو او احتمالي قراردادونو ترسره کول: د قراردادي د کارکوونکو د تعقیبولو سیستم غوره پلانونو، نظارت او لارښوونو ته اړتیا لري.

(د دولت د حساب ورکولو دفتر د 2015 زیږدیز کال – 250 ګڼه راپورچې د 2015 زیږدیز کال د فبرورۍ د میاشتې په 18 مه نېټه خپور شوی دی).

د امریکي متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) د هغه سرچینو ارزونه وکړه چې د خپلو قراردادونو د معلوماتو سیستم، د ترلاسه کولو او مرستو نړیوال سیستم (GLAAS) د پایدارۍ په موخه یې ورته اړتیا درلوده، خو د امریکي متحده ایالاتو دفاع وزارت ټولې هغه سرچینې چې د (SPOT-ES) د ساتنې لپاره ورته اړتیا لیدل کیږي، نه دي ارزولې. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID په بیړنیو عملیاتو کې له SPOT-ES څخه د قرارداد او قراردادي د کارکوونکو په هکله د معلوماتو د یوې ذخیرې په توګه کار اخلي. د امریکي متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې (USAID) هم د قراردادونو په هکله د معلوماتو د ثبتو کولو په موخه د GLAAS څخه کار اخلي. د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د بودجې بهیر څخه د خپلو پروژو د سرچینو د په ګوته کولو په موخه کار اخلي چې په راتلونکي مالي کال کې به د خپلو سیستمونو د عصري کولو او چارو د پرمخ بیولو په برخه کې ورته اړتیا ولري، خو د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د خپل د ژوند د دوران د لګښت اټکل نه دی نوی کړی یا یې د ټولو سرچینو د مشخص او په ګوته کولو په موخه چې د SPOT-ES د پایدارۍ لپاره ورته اړتیا لیدل کیږي، مشخص او ارزولي نه دي. د بیلګې په توګه، د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د 2010 زیږدیز کال راهیسې د خپل د ژوند دوران لګښت اټکل نوی کړی نه دی، سره له دې چې په مهال ویش کې د ځنډ راتللو له کبله په لګښتونو کې بدلونونه راغلي دي، ځکه چارواکي وایي چې سیستم خپل پایداروالی ثابت کړی دی. همدارنګه د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت خپل یو شمیر پلانونه چې د لګښت عناصر په کې شامل او باید د اټکل کولو په بهیر کې ورګډ شي، نه دي مشخص کړي، ځکه چې د سیستم د پخوانۍ پروګرام د مدیریت اټکلونه یې لکه څرنګه چې په راپور کې یادونه شوې وه، منلي او قبول کړي دي.

د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO) د لګښتونو د اټکل او ارزونې لارښود امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت په SPOT کې د قرارداد او قراردادی د کارکوونکو د معلوماتو داخلولو لپاره سوداګریز مقررات لري – د SPOT-ES د ډیټابیس برخه – خو د SPOT له خوا د کارکوونکو د ثابتو، پخپل وخت او باوري معلوماتو د چمتو کولو په برخه کې مناسبه ډاډګیرنه شتون نلري، ځکه چې د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قرارداد د اجرااتو د ارزونې لپاره د خپلو موجوده میکانیزمونو څخه کار نه اخلي څو د سوداګریزو مقرراتو سره سم، د قراردادونو داخل شوي معلومات ثبت کړي. سوداګریز مقررات، د امریکي متحده ایالاتو د دفاع وزارت لارښوونه اود دفاعي فدرالي د تحصیل مقررې بشپړونکي فقره بیانوي چې قراردادیان او د قرارداد مسؤلین څرنګه په SPOT کې معلومات داخلوي. د قراردادي د اجرااتو د تعقیبولو لپاره د موجوده میکانیزمونو څخه کار اخیستل به د امریکي متحده ایالاتو دفاع وزارت ته په مناسبه توګه ډاډ ورکړي چې قراردادیانو د سوداګریزو مقرراتو سره سم، پخپل وخت او د باور وړ معلومات په سیستم کې داخل او چمتو کوي او تاییدوي چې د لګښتونو اټکلول باید د پرمختګ په حال کې او بشپړ او جامع وي.

د سیستمونو د لګښت لپاره د یو بشپړ او جامع حسابدارۍ چمتو کولو په موخه د په منظمه توګه د ژوند دوران لګښتونو نوي کولو او د پلانونو د مشخص کولو او ارزونې څخه پرته به اداري ځانګه د پروګرام د سرچینو د اړتیاوو او پریکړو نیولو لپاره د پلان جوړولو په برخه کې ستونزه ولري. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د SPOT-ES د مرستو او همکاریو د وړتیا آزموینه بشپړ کړې ده، خو د سیستم معلومات په بشپړه ډول ثبت او منظور شوي نه دي. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت 8320.02 ګڼه فرمان د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د ځانګو مشرانو ته لارښوونه کوي څو د باور وړ معلوماتو سرچینې اوګروپی معلومات د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د معلوماتي خدمتونو چاپېریال (DSE) کې ثبت او راجستر کړي. DSE د ټولو جواز لرونکو کټه اخیستونو لپاره د معلوماتي ټکنالوجي او سیستمونو اړوند تخنیکي معلوماتو لومړنی آنلاین ذخیره ده او داسې تګلاره چې د هغې له مخې به معلومات د لیدلو او باور وړتیا ولري، چمتو کوي.

GAO د نورو شیانو ترمنځ د دې سپارښتنه کوي چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د -SPOT ES لپاره د خپل د ژوند دوران لګښت اټکل په منظمه توګه نوی کړي څو د SPOT-ES لپاره د خپلو پلانونو مشخص کول او ارزونه ترسره کړي: د SPOT-ES د معلوماتو د داخلولو سیستم د قرارداد د اجرااتو د تعقیبولو په موخه د میکانیزمونو څخه ګټه اخیستل: او په DSE کې د SPOT-ES په بشپړه توګه ثبتول. د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت د دې سپارښتنو او د دې د په ګوته کولو په موخه د پلان شوو ګامونو پورته کولو سره موافق دی.

## د آزمایښي پروګرام د نا پراختیايي توکوڅخه د ګټې اخیستلو د کچې لوړولو لپاره بنایي قرصتونه شتون ولري.

(د دولت د حساب ورکولو دفتر د 2015 زیږدیز کال – 285 ګڼه راپورچې د 2015 زیږدیز کال د جنورۍ د میاشتې په 29 مه نېټه خپور شوی دی).

د هغه وخته راهیسې چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت په 2011 زیږدیز کال کې د پوځې موخو د نا پراختیايي توکولپاره د قراردادونو ورکولو په موخه آزمایښي پروګرام پلي کړی دی، د هیڅ کوم قرارداد د ورکولو په برخه کې له واک او صلاحیت څخه کار نه دی اخیستل. په عمومي توګه MPNDI هغه توکي دي چې د معتبرو پوځې شرایطو سره سمون لري او په بشپړه ډول په شخصي لګښت چمتو شوي ده. د GAO تحلیل او شنني یو شمیر ستونزې چې بنایي د آزمایښي پروګرام څخه د کار نه اخیستلو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي، معلومي او په ګوته کړې دی چې په هغې کې لاندې شیان شامل دی: په زیاتره مواردو کې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د قوماندانیو او قراردادي پروژو چارواکي چې GAO ورسره مرکې کړي دی، د GAO سره د مرکې وړاندې د آزمایښي پروګرام په هکله معلومات نه درلودل: د دوی ځواکونو ویلي دی چې د دفاع وزارت دننه ټولو ته د پروګرام په هکله معلومات ورکړل شوي نه وه: د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د پروګرام او قراردادي چارو کو چې GAO ورسره قرارداد کړی دی، ویلي دي چې د ازمایښي پروګرام څخه د ګټې اخیستنې د معیارونو سره د سمون لپاره د وړاندیز شوو لاسته راوړنو په ګوته کول ستونزمن کار دی چې په هغې کې لاندې شرایط چې توکي باید په شخصي لګښت چمتو شي، د توکولومړنی مجموعه باید د قرارداد څخه وروسته د 9 میاشتو دننه ولیږدول شي. قراردادیان باید نا دودیزه دفاعي قراردادیان وي، د سیالي کوونکو کړنلارو څه باید کار واخیستل شي او قراردادونه باید د 50 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت یا د هغې څخه کم وي، شامل دی. د پوځې اداراتو قراردادي چارواکي چې GAO ورسره خبرې کړی دی، نورموجود صلاحیتونه په ګوته کړی دي – لکه د سوداګریزو توکو د لاسته راوړلو کړنلارې – چې دوی به یې د هغه توکو د لاسته راوړلو لپاره چې د آزمایښي پروګرام له لارې یې د بالقوه توکو په توګه په ګوته کړي دي.

GAO سپارښتنه کوي چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت باید معلومه کړی چې آزمایښي پروګرام څرنګه کولای شي چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت سره د ملي قراردادیاو د جلبولو په

برخه کې مرسته وکړي څو همکاري یا اغیزمنه کړنلارې و آزمويي چې پرته له دې د موجودو مقاماتوسره شتون نلري او هغه ستونزې په کې شامل دي چې د کانګرس ته یې پخپلو کلنیو راپورونو کې د هغې له استعمال څخه مخنیوی کوي. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د GAO له سپارښتنو سره موافق دی.

## د منظور شوو بریالیو قراردادونو د څارنې یا نظارت بهیر د ښه کولو په موخه لازیاتو اقداماتو ته اړتیا ده

(د دولت د حساب ورکولو دفتر د 2015 زیږدیز کال – 200 ګڼه راپورچې د 2014 زیږدیز کال د ډسمبرد میاشتې په 22 مه نېټه خپور شوی دی).

کانګرس د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID څخه غوښتنه کړې ده چې د هغه لارښوواو او مقرراتو په برخه کې اجراات وکړي څو ډاډ ترلاسه کړي چې د قراردادونو ترسره کولو مسؤلین د منظور شوو بریالیو قراردادونو د ورکولو څخه وړاندې د اضافي تحلیل او شنني چارې ترسره کوي – قراردادونه د معلومو معیارونو سره سمون لري په کوم کې چې لومړني قراردادیان په پام کې لري چې د پروژې د ټول تال لګښت 70% یا له هغې څخ زیات فرعي قراردادي ته ورکوي څو د 2013 زیږدیز کال د جولای ترمیاشتې پورې بشپړ او پای ته ورسیږي.

د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAIDد خپل 802 برخې د پلي کولو چارو په برخه کې سره توپیر لري. په ځانګړې ډول GAO د ادارو، تګلارو او مقرراتو د تحلیل او شنني په دوران کې لاندې شیان میندلي دي: USAID د 2013 زیږدیز کال د جون په میاشت کې د تګلارې فرمان صادر کړی چې د 802 برخې شرایط ا وغوښتنې تکراروي او هغه چک لستونه نوي کوي چې د قراردادونومسؤلین ترې کار اخلي. د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د 2014 زیږدیز کال د جولای په میاشت کې د تدارکاتو خبرونه خپاره کړي چې په هغې کې د 802 برخې شرایط تکرار شوي خو په دې برخه کې لا زیات ګامونه اخیستل شوی نه دي. نه USAID او نه هم د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د خپلو اړوند قراردادونو مسؤلینو ته اضافي معلومات نه دي چمتو کړي خو د هغوی سره د دې نوو شرایطو د پلي کولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي، لکه د دې خبرې معلومول چې څرنګه باید د بدیلو قراردادونو د تنظیمولو چارو ارزونه ترسره کړل شي یا داچې څرنګه د هغوی پریکړې تایید شي. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت لا تراوسه ګامونه نه دي پورته کړي او د فدرالي تحصیل مقررې نوې کولو ته په تمه دی – هیله ده چې د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر میاشتې پورې بشپړه شي – مخکې له دې چې کومه پریکړه ترسره شي که چیرې د هغې په لارښود کې کوم بدلون راوستلو ته اړتیا وي.

د 2014 زیږدیز کال د نومبر تر میاشتې پورې هیڅ یوې ادارې د 802 برخې د شرایطو د منعکس کولو په موخه د خپلو اداري چارو د بیاکتنې بهیرونه نوي کړي نه وه.

د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه کړل شي چې د قراردادونو مسؤلین د 802 برخې شرایط په ښه ډول ترسره او پرمخ بیایې، GAO د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت، د بهرنیو چارو وزارت او USAID ته سپارښتنې کړې دي چې دوه کارونه ترسره کړي: د هغه لارښوونو په هکله اجراات وکړي چې د قراردادونو د مسؤلینو سره د اضافي اړینو مرحلو د ترسره کولو په برخه کې مرسته او همکاري وکړي او د پلي کولو چارو د تایید په موخه د اداري چارو د بیاکتنې بهیرونه نوي کړي.

## د امریکې متحده ایالاتو د پوځ د تفتیش اداره (USAAA)

په دې ربع کې د امریکې متحده ایالاتو د پوځ د تفتیش ادارې (USAAA) د افغانستان د بیارغونې اړونده چارو په هکله تفتیش بشپړه کړې ده.

## د امریکې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې دعمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

په دې ربع کې د امریکې متحده ایالاتو د نړیوالې پرمختیایي ادارې دعمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG) د بیارغونې چارو په هکله هیڅ تفتیش نه ده ترسره کړې.

## د څارنې یا نظارت روان (جاري) فعالیتونه

د 2015 زیږدیز کال د مارچ د میاشتې تر 31 مې نېټې پورې ګډون کوونکو د افغانستان د بیارغونې په هکله د څارنې یا نظارت د 13 روانو فعالیتونو خبر ورکړی دی. د څارنې یا نظارت دغه فعالیتونه په 4.2 جدول کې ځای پرځای او د ادارې له خوا په لاندې برخو کې تشریح شوي دي.

## د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر (DOD OIG)

د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د هیواد څخه د باندې بیړنیو احتمالي عملیاتو (OCO) د ترسره کولو په برخه کې لا هم د زیاتو ننګونو سره لاس او ګریوان دی. د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د عمومي پلټونکي دفتر ((DOD OIG د یادو ننګونو او سترو خطرونو پربنسټ خپل ړومبیتوبونه په ګوته او معلوم کړي دی. د 2015 مالي کال لپاره د DOD IG څارنه یا نظارت د تحصیل او قراردادونو د بهیر د څارنې او نظارت په ساحو باندې متمرکز دی چې د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنیزو پروګرامونو، تجهیزاتو د چمتو کولو او د یادو ځواکونو د پایدارۍ په برخو کې مرسته او همکاري کوي. همدارنګه DOD IG د افغانستان ملي امنیتي ځواکونو د روزلو او سمبالولو په موخه د یادې ادارې د پروژو د بیاکتنې او ارزونې چارو ته ادامه ورکوي.

د DOD IG په مشرۍ د سویل لویدیځې آسیا د پلان جوړولو ګډه ډله به د فدرالي او DOD OCO پورې اړونده څارنې یا نظارت فعالیتونو همغږي کولو او ستونزو د حل په برخو کې مرسته او همکاري وکړي. DOD IG د سیګار او همدارنګه د نورو عمومي پلټونکو او د دفاعي څارنې یا نظارت د ټولنې غړو سره کار کوي او په افغانستان کې یې د پلټنې ټولنې لپاره د 2015 مالي کال استراتیژیک پلټنې پلان بشپړ کړي او په پام کې لري چې د سویل لویدیځې آسیا د 2015 مالی کال جامع پلان د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر په میاشت کې خپور کړي. د 2015 مالي کال د پلان جوړونې یوه ساسي برخه په افغانستان کې د ځواک بیا جوړښت/ د عملیاتو ترسره کیدلو وړاندوینه ده.

د OEF په هکله د DOD IG روانه څارنه په افغانستان کې د ملکیت حساب ورکول، نامناسب تادیات، د قرارداد کنټرول او مدیریت چې په هغې کې ودانیزې پروژې، د لیږد د بهیر لپاره د پلان جوړول او د لوجستیکی چارو ویشل شامل دی، او همدارنګه د افغانستان امنیتی ځواکونو لپاره د لاسته راوړلو پلان جوړول او د بودجې د کنټرول په ګوته کوي.

### د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت له خوا د افغانستان د ملي اردو له وجهي صندوق څخه د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندوق سره مرسته کولو آزموینه

(D2015-D000FL-0026.000 D2015-D000FL-0026.000 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د اکتوبر د میاشتې په 24 مه نېټه پیل شوې ده).

د حسابونو مرستیال کنټرولونکي (پروګرام/بودجه) دفتر چې د دفاع وزیر (حسابونو کنټرولوونکي) تر مشرۍ لاندې دنده ترسره کوی، د دې آزموینې د ترسره کولو غوښتنه کړې ده. د حسابونو مرستیال کنټرولونکی ادعا کوي چې 2014 زیږدیز کال د جون د میاشتې تر30 مې نیټې پورې د هغه پروژو رسیدونه او لګښتونه چې د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (ناتو) او په 2013 مالی کال کې یا د هغې څخه وړاندې د افغانستان امنیتی ځواکونو وجهي صندوق سره د افغانستان ملي اردو وجهي صندوق مالي مرستوله لارې په بشپړه توګه تمویل شوی دي، د موادو د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره په مناسب ډول وړاندې شوي دي. DOD IG باید معلومه کړي چې آیا د حسابونو مرستیال کنټرولونکي د شمالي اتلانتیک تړن سازمان (ناتو) او د افغانستان ملي اردو د وجهي صندوق مالي مرستو څخه ترسره شوي لګښتونه او د هغې رسیدونه په مناسب او عادلانه ډول وړاندې کړي دي او که نه. سربیره پردې DOD IG به د مالي راپورونو داخلي کنټرول او د قوانینو او مقرراتو سره د هغې سمون او مطابقت کره کتنه وکړي څکه چې دا کار د DOD IG د ګډون موخو سره تړاؤ لري. د DOD IG مکلف دی چې د آزموینې پربنسټ خپل نظر وړاندې کړي.

جدول 4.2

**د 2015 زیږدیز کال د مارچ تر 31 مې نېټې پورې د امریکې متحده ایالاتو د نورو ادارو له خوا د څارنې یا نظارت روان فعالیتونه**

| اداره | د پروژې ګڼه | د پیل نېټه | د پروژې نوم |
|---|---|---|---|
| DOD IG | D2015-D000FL-0026.000 | 10/24/2014 | د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت له خوا د افغانستان د ملي اردو له وجهي صندوق څخه د افغانستان امنیتي ځواکونو وجهي صندوق سره مرسته کولو آزموینه |
| DOD IG | D2014-D000JB-0219.000 | 9/4/2014 | د ملکیت د حساب ورکولو لپاره د افغانستان اسلامی جمهوري دولت د داخلي کنټرول پلټنه |
| DOD IG | D2014-D00SPO-0129.001 | 7/2/2014 | د مهماتو، چاودیدونکو توکو او سون موادو د مدیریت او حساب ورکولو په برخه کې د افغانستان ملِ امنیتي ځواکونو د تګلارو، بهیرونو او کړنلارو د اغیزمنتوب ارزونه |
| DOD IG | D2013-D00SPO-0181.000 | 6/13/2013 | د امریکې متحده ایالاتو د هغو هلو ځلو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ملاتړ په موخه د امنیتي همکاریو او مرستندویه فعالیتونو مسؤلیت د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت څخه د بهرنیو چارو وزارت ته لیږدوي. |
| DOS OIG | 14AUD034 | 2/11/2014 | د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د بسپنو (ګرنټونو) د مسؤل د استازو د ټاکلو، د کارځای معلومولو، روزنې او څارنې یا نظارت د مسؤلیتونو پلټنه |
| GAO | 321059 | 2/5/2015 | د افغانستان لپاره د مهاجرت د ځانګړې ویزې (SIV) پروګرام |
| GAO | 351991 | 11/21/2014 | په بیړنیو حالاتو کې د پوځي ودانیو جوړول |
| GAO | 321034 | 7/23/2014 | په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت کې د رغنیزو هلو ځلو (پروژو) دویمه برخه |
| GAO | 351951 | 7/16/2014 | د ځمکنیو او سمندري ځواکونو د ټول ټال تجهیزاتو جګړې ته دوباره آماده کولو (تنظیمولو) لګښتونه او اړتیاوې |
| GAO | 321031 | 7/9/2014 | د هیواد څخه د باندې دیپلوماتیکو (سیاسي) هستوګنځایونو او د تروریستی حملو تر هدف لاندې نورو ځایونو د امنیت ساتل |
| GAO | 100003 | 2/13/2014 | د داخلی ګمارل شوو کارکوونکو په وړاندې ګواښونو د کچې راټیټول |
| USAID OIG | FF100315 | 2/9/2015 | د USAID افغانستان د تشبثاتو د پراختیا له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته کولو (ABADE) پروګرام پلټنه |
| USAID OIG | FF101014 | 8/26/2014 | د USAID افغانستان، د افغانستان په ټولو برخو کې د څارنې او ارزونې کړنلارې (استراتیژي) پروګرام پلټنه |

سرچینه: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د DOD IG ځواب، 3/19/2015: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د State OIG ځواب، 3/17/2015: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د GAO ځواب، 3/19/2015: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAAA ځواب، 3/10/2015: د سیګار د معلوماتو غوښتنې په اړه د USAID OIG ځواب، 3/24/2015.

## د ملکیت د حساب ورکولو لپاره د افغانستان اسلامی جمهوري دولت د داخلي کنټرول تفتیش

(D2014-D000JB-0219.000 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د سپتمبر د میاشتې په 4 مه نېټه پیل شوې ده).
DOD IG دغه تفتیش د قانوني غوښتنو په ځواب کې ترسره کوي. DOD IG باید معلومه کړي چې آیا CSTC-A او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه د نقلیه وسایطو او ودانیو د حساب ورکولو بهیر په اغیزمنه توګه مدیریت باندې داخلي کنټرول لري او که نه، په ځانګړي ډول DOD IG به د ورکړل شوو ملکیتونو د موجودیت د تایید ، د ساتنې او تبدیلۍ (عوض کول) د عملیاتو شرایطو د وړاندوینې او د ملکیت د تبدیلۍ (عوض کولو) بهیر د پرګوته کولو شرایطو لپاره تګلارې او کړنلارې په بشپړ دول وارزوي.

## د مهماتو، چاودیدونکو توکو او سون موادو د مدیریت او حساب ورکولو په برخه کې د افغانستان ملِ امنیتي ځواکونو د تګلارو، بهیرونو او کړنلارو د اغیزمنتوب ارزونه

(D2014-D00SPO-0129.001 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د جولای د میاشتې په 2 مه نېټه پیل شوې ده).
DOD IG د قوماندانۍ له خوا غوښتنل شوې تعقیبیه بیا کتنې لپاره د سون توکو (دریمه درجه زیات) معمولي پوځي مهماتو او چاودیدونکو توکو (پنځمه درجه) د مدیریت او حساب ورکولو لپاره د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د تګلارو او کړنلاروځانګړې ارزونه ترسره کوي.

- د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو سره د تدارکاتو د قوانينو او کړنلارو، رسيدونو، حساب ورکولو او د مهماتو او سون توکو د لګښت په هکله د ايساف د امنيتي مرستو د دفتر اړيکي
- د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه د مرکز او ولايتونو په منطقوي قوماندانيو کې د مهماتو، چاوديدونکو توکو او سون موادو په برخه کې د حساب ورکولو د رامينځته شوو کړنلارو او داخلي کنټرول سره په مطابقت خپل چارې پرمخ بيايي.
- د پام وړ تشو او کمزورتياوو د له مينځه وړلو په موخه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د مهماتو، چاوديدونکو توکو او سون موادو د ويشلو او حساب ورکولو سيستمونه
- د امنيتي تشو او کمزورتياوو د له مينځه وړلو په موخه د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو د مهماتو، چاوديدونکو توکو او سون موادو د ذخيره کولو مرکزونه.

## د امريکې متحده ايالاتو د هغو هلو ځلو ارزونه چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د ملاتړ په موخه د امنيتي همکاريو او مرستندويه فعاليتونو مسؤليت د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت څخه د بهرنيو چارو وزارت ته ليږدوي.

(2013-D00SPO-0181.000، ګنه پروژه. د 2013 زيږديز کال د جون د مياشتې په 13 مه نېټه پيل شوې ده).
DOD IG هغه پلانونه او فعاليتونه چې په افغانستان کې د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت څخه د بهرنيو چارو وزارت ته د امنيتي همکاريو او مرستندويه فعاليتونو د مسؤليت د ليږد او د امريکې متحده ايالاتو بهرنيو چارو وزارت ته د موجوده لارښوونو او مرستندويه خدمتونو مقرراتو سره سم، د دې دندو د ليږدولو په موخه د لارې هوارولو سپارښتنو رامينځته کولو لپاره تر دې دمه ترسره شوي دي، ارزوي. د دې فعاليتونو ځانګړې موخې دادي چې معلومه کړي آيا:

- په افغانستان کې د امريکې متحده ايالاتو د دفاع وزارت څخه د بهرنيو چارو وزارت په چوکاټ کې د امنيتي همکاريو ادارې ته د CSTC-A امنيتي مرستندويه فعاليتونو د ليږد لپاره د امريکې متحده ايالاتو د دولت صادر شوې موخې، اهداف، پلانونه او لارښووني کافي او اغيزمني دی.
- په افغانستان کې د امريکې متحده ايالاتو ځواکونو (USFOR-A) د شمير او بودجې د کموالي پلانونو پلي کول او د ناټو په چوکاټ کې د قوماندانی ادارې ته د امنيتي مرستوا و همکاريو نړيوال ځواک (ISAF) او د ايساف ګډې قوماندانی (IJC) ليږد د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ته د امنيتي مرستو د چمتو کولو په موخه د امريکې متحده ايالاتو روانو هلو ځلو باندې منفي اغيزه کوي.

## په منځنی ختيځ کې د امريکې متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت د عمومي پلټونکی د سيمه ييزو عملياتو دفتر

State OIG په دې ربع کې د افغانستان د بيارغونې لپاره يوه روانه پروژه لري.

### د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د بسپنو (ګرنټونو) د مسؤل د استازو د ټاکلو، د کارځای معلومولو، روزنې او څارنې یا نظارت د مسؤلیتونو تفتیش

(14AUD034, ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په 11 مه نېټه پیل شوې ده).

موخې: د هغه اندازې معلومول چې د هغې له مخې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د بسپنو (ګرنټونو) د مسؤل استازې ټاکل، کارځای ورمعلوم او روزل کیږی څو د بسپنو (ګرنټونو) د ادارې او څارنې په برخه کې خپل ورسپارل شوې مسؤلیتونه په بریالیتوب سره ترسره کړی.

## د دولت د حساب ورکولو دفتر (GAO)

GAO په دې ربع کې د افغانستان د بیارغونې لپاره شپږ روانې پروژې لرې.

### د افغانستان لپاره د مهاجرت د ځانګړې ویزې (SIV) پروګرام

(321059, ګڼه پروژه. د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په 5 مه نېټه پیل شوې ده).

د افغانستان لپاره د مهاجرت د ځانګړې ویزې (SIV) پروګرام هغه افغانانو او د هغوی کورنیو ته ویزې چمتو کوي چې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایې ادارې (USAID) او د امریکې متحده ایالاتو له نورو ادارو سره د دندو ترسره کولو له کبله د ګواښ سره مخامخ دي.د افغان SIV پروګرام لپاره زیات شمیر غوښتن لیکونه او ورسره په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او USAID د متحده ایالاتو کارکوونکو لنډ مهاله سفرونه په دې هیواد کې د امریکې متحده ایالاتو د دولت د اداري معلوماتو، سیمه ییزه اړیکو او فرهنګي معلوماتو کچه راټیټولای شي. مهمې پوښتنې: (1) د مهاجرت د ځانګړې ویزې له لارې د هیواد څخه د افغانانو د وتلو بهیر په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او USAID کاري قوه څرنګه اغیزمنه کړې ده؟ (2) په افغانستان کې د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او USAID پروګرامونو ته د پراختیا ورکولو پلانونه به د مهاجرت د ځانګړې ویزې له لارې د هیواد څخه د افغانانو د وتلو کچه په کومه اندازه راټیټه کړی؟ (3) د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت او USAID باید د مهاجرت د ځانګړې ویزې له لارې د هیواد څخه د افغانانو د وتلو د کچې راټیټولو په موخه کوم اقدامات ترسره کړی؟

## په بیړنیو حالاتو کې د پوځي ودانیو جوړول

(351991، ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د نومبر د میاشتې په 21 مه نېټه پیل شوې ده).

په دې تفتیش کې به لاندې برخې و پلټل شي: (1) هغه پروسې چې د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت په اعراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو جوړولو په هکله د پریکړو نیولو په موخه ورڅخه کار اخلي چې په دې کې هغه کړنلارې چې معلومه کړي آیا نوموړې ودانۍ په دایمي یا مؤقت ډول جوړې کړل شي، شامل دي: (2) په اعراق او افغانستان کې د پوځي ودانیو د جوړولو په هکله د پریکړې نیولو لګښتونه چې په هغې کې تمویلوونکې سرچینې شامل دي: (3) د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا په اعراق او افغانستان کې د بیړنیو عملیاتو په دوران کې د پوځي ودانیو د جوړولو په هکله زده شوي درسونه (لاسته راغلي تجربې): او (4) په بیړنیو حالاتو کې د پوځي ودانیو د جوړولو اړوند ځینې نور مسایل چې د پلټنې په دوران کې رابرسیره کیږي.

### په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت کې د رغنیزو هلو ځلو (پروژو) دویمه برخه

(321034 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د جولای د میاشتې په 23 مه نېټه پیل شوې ده).

د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت د 2009 زیږدیز کال راهیسې په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو سفارت کې د کورنو او دفترونو لپاره د اضافي ودانیو د جوړولو په موخه ټول ټال 700 میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت دوه قراردادونه ترسره کړی دي. له هغه راهیسې چې د امریکې متحده ایالاتو لومړی قرارداد فسخه کړی دی، د دویم قرارداد په لایحې، بودجې او پلې کولو وخت کې زیاتوالی راوستی دی.

مهمي پوښتني: (1) د امریکې متحده ایالاتو دفاع وزارت د 2009 زیږدیز کال راهیسي په کابل کې د امریکې متحده ایالاتو په سفارت کې د نوو ودانو د جوړولو په برخه کې کوم پرمختګونه کړي دي او د پروژو په لایحې، لګښت او مهال ویش کې د بدلون راوستلو په برخه کې کومو لاملونو مرسته کړې ده؟ (2) موجوده پراختیا تر کومه حده اړتکل شوي اړتیاوې پوره کړې دي؟

## د ځمکنیو او سمندري ځواکونو د ټول ټال تجهیزاتو جګړې ته دوباره آماده کولو (تنظیمولو) لګښتونه او اړتیاوې

(351951 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د جولای د میاشتي په 23 مه نېټه پیل شوې ده).
د امریکې متحده ایالاتو ځمکني او سمندري ځواکونه به د افغانستان څخه د تجهیزاتو د بیرته راوړلو وروسته د نوموړو تجهیزاتو د جګړې ته دوباره آماده کولو (تنظیمولو) لپاره د څوګونه میلیاردو ډالرو په ارزښت څو کلنې پروژې په اړتیا ولري. د کانګرس د د فاعي چارو کمیټي په دې هکله اندېښنه لري چې په دې کار باندې به څومره لګښت راشي او GAO ته ییې ویلي دي څو په دې برخه کې څیړنه ترسره او په هکله یې راپور چمتو کړي. موخې: (1) دا چې ځمکنی او سمندري ځواکونه د تجهیزاتو جګړې ته دوباره آماده کولو (تنظیمولو) د لګښتونو د ټاکلو (براورد کولو) په برخه کې تر کومه حده د دوباره تنظیمولود یو ثابت تعریف څخه کار اخل. (2) د تجهیزاتو جګړې ته دوباره آماده کولو (تنظیمولو) نوعیت او لګښتونه دځمکنیو او سمندري ځواکونو د دوباره تنظیمولو په اټکل کې شامل دی. (3) د هغه فرضیو تحلیل او شننه چې د ځمکنیو او سمندری ځواکونو د براورد د بهیر رامینځته کولو په برخه کې ورڅخه کار اخیستل کیږي. (4) نور موضوعات او مسایل چې د GAO ته مناسب ښکاري.

## د هیواد څخه د باندې ډیپلوماتیکو (سیاسي) هستوګنځایونو او د تروریستی حملو تر هدف لاندې نورو ځایونو د امنیت ساتل

(321031 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د جولای د میاشتي په 9 مه نېټه پیل شوې ده).
د امریکې متحده ایالاتو هغه کارکوونکي چې د هیواد څخه د باندې په ډیپلوماتیکو مرکزونو کې خپلې دندې ترسره کوي د خپلو ځانونو د خوندیتوب او امنیت ساتلو په برخه کې له ګواښونو سره مخامخ دي چې په دې کې د وروستیو کلونو زیات شمیر حملې چې د لوړ خطر لاندې سیمو کې رامینځته شوي، شامل دی. په ځانګړې ډول هستوګنځایونه، تفریحی مرکزونه او هغه ښوونځي چې دوی او د دوی ماشومان په کې په زده کړه بوخت دی، ښایي زیات د تروریستي حملو تر هدف لاندې وي. مهمي پوښتني: (1) د امریکې متحده ایالاتو د دفاع وزارت څرنګه کولای شي چې د هیواد څخه د باندې د ماموریت د رئیس (سفیر) تر صلاحیت لاندې په هستوګنځایونو او نورو تروریستي حملو تر هدف لاندې ځایونو کې ګواښونه او خطرونه کنټرل او اداره کړي؟ (2) د هستوګنځایونو او نورو تروریستي حملو تر هدف لاندې ځایونو لپاره د امریکې متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت امنیتي معیارونه هغه ګواښونه او خطرونه چې نوموړي مرکزونه ورسره مخامخ دي، تر کومه حده په ګوته کولای شي؟ (3) د امریکې متحده ایالاتو تګلارې او کړنلارې په هستوګنځایونو او نورو تروریستی حملو تر هدف لاندې ځایونو کې امنیتی کمزورتیاوې تر کومه حده په ګوته کولای شي؟

## د داخلی ګمارل شوو کارکوونکو په وړاندې ګواښونو د کچې راټیټول

(100003 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د فبروري د میاشتي په 13 مه نېټه پیل شوې ده).
د امریکې متحده ایالاتو ادارو په ټوله نړۍ کې 44,000 داخلي ګمارل شوي کارکوونکي - بهرنی وګړي او د امریکې متحده ایالاتو وګړي په 270 څخه زیاتو پوستونو (کارځایونو) کې ګمارلي دي چې داخلي ګمارل شوی کارکوونکی په یادو کارځایونو کې د امریکې متحده ایالاتو د شتون مهم عنصر تشکیلوي او زیاتره د پروګرام اړونده چارو، امنیتي، څارنې، ساتنې چارو او نورو دندو د ترسره کولو مسؤلیت په غاړه لري. په هر حال داخلی کارکوونکي د امریکې متحده ایالاتو سره د مرستي او همکاریو له کبله د ځورولو،ویرولو او مرګ له ګواښونو سره مخامخ کیږي. د ا فغانستان، اعراق، پاکستان او یمن په شان هیوادونو کې چیرې چې د تروریستانو شبکې او د تاوتریخوالي څخه ډکې افراطي ډلې فعالیت لري،

د داخلی کارکوونکو په وړاندې ګواښونه په ځانګړې ډول د کار په ځایونو کې ډېر شدید وي. دا ډول ګواښونه د امریکې متحده یالاتو په پروژو کې د داخلي کارکوونکو د ګمارنې او ساتنې مخه نیسي.

د GAO څخه غوښتنه وشوه چې د امریکې متحده ایالاتو د هغه هلو ځلو دوباره کتنه وکړي چې په لوړ خطر لاندې کارځایونو کې داخلي کارکوونکو ته د ورپېښو ګواښونو په هکله د معلوماتو د شریکولو او د یادو ګواښونو د کچې کموالي څارنه یا نظارت وکړي. مهمې پوښتنې: (1) د داخلي کارکوونکو په وړاندې د تروریستی شبکو او نورو د تاوتریخوالي څخه ډکو افراطو ډلو د ګواښونوځرنګوالی او اندازه (د ګواښونو او حملو د شمیرپه ګډون) څومره ده؟ (2) د امریکې متحده ایالاتو ادارو د داخلي کارکوونکو به وړاندې ګواښونو په هکله د اغیزمنو او وختي معلوماتو راټولو او خپرولو په موخه کوم او په کومه اندازه میکانیزمونه رامینځته کړي؟ (3) د امریکې متحده ایالاتو ادارو په لوړ خطر لاندې کار ځایونو کې د داخلی کارکوونکو په وړاندې د ګواښونو د کچې ټیټوالي په موخه تر کومه حده اقدامات ترسره کړی او د ګواښونو د کچې راټیټولو په وړاندې موجود خنډونه کوم دي؟ (4) نوموړو ګواښونو او حملو په لوړ خطر لاندې کارځایونو کې د داخلي کارکوونکو د ګمارنې او پاتې کېدو بهیر څرنګه اغیزمن کړی دی؟

## د امریکې متحده ایالاتو د پوځ د تفتیش اداره (USAAA)

د امریکې متحده ایالاتو د پوځ د تفتیش اداره (USAAA) په دې ربع کې د افغانستان د بیارغونې په هکله کومه روانه پلټنه نلري.

## د امریکې متحده ایالاتو نړیوالې پرمختیایي ادارې د عمومي پلټونکي دفتر (USAID OIG)

USAID OIG په دې ربع کې د افغانستان د بیارغونې نوښتونو (پروګرامو) په هکله دوه رواني تفتیشونه لري.

### د USAID افغانستان د تشبثاتو د پراختیا له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته کولو (ABADE) پروګرام تفتیش

(FF100315 ګڼه پروژه. د 2015 زیږدیز کال د فبروري د میاشتې په 9 مه نېټه پیل شوې ده).

د تفتیش موخې:

- آیا د USAID افغانستان د تشبثاتو د پراختیا له لارې د افغانستان په ودانولو کې مرسته کولو (ABADE) پروګرام په خصوصی سکتور کې د پانګونې کچه لوړوي، نوې دندې رامینځته کوي او د پلان سره سم، د سوداګرۍ چاپیریال ښه او اصلاح کوي؟

### د USAID افغانستان، د افغانستان په ټولو برخو کې د څارنې او ارزونې کړنلارې (استراتیژي) پروګرام تفتیش

(FF101014 ګڼه پروژه. د 2014 زیږدیز کال د آګست د میاشتې په 26 مه نېټه پیل شوې ده).

د تفتیش موخې:

- آیا د USAID افغانستان، د افغانستان په ټولو برخو کې د څارنې او ارزونې کړنلارې (استراتیژي) پروګرام په افغانستان کې د USAID د پروګرامونو فعالیتونه په اغیزمنه توګه تر پوښښ لاندې راولي؟

# دضميمو او پایلیکونو محتويات


| | |
|---|---|
| ضميمه A | 202 |
| ضميمه B | 208 |
| ضميمه C | 210 |
| ضميمه D | 216 |
| ضميمه E | 222 |
| ضميمه F | 227 |
| پایلیکونه | 233 |


**د سیګار رسمي مهر**

د سیګار رسمي مهر د بیارغونې د فعالیتونو په برخه کې د څواب وینې او څارنې برابرولو په برخو کې د متحده ایالاتو او افغانستان تر منځ د هڅوهمغږي ښیي. د مهر د منځ په پورته برخه کې لیکلی ټکی په دری دی چې انګلیسي معنی یې سیګار ده. د مهر د منځ په ښکتنی برخه کې لیکلی ټکی په پښتو دی چې هغه هم په انګلیسي کې ورته معنی لري.

# ضميمې
# او پایلیکونه

# ضميمه A

## له قانوني شرايطو سره د دې راپور بياکتنه

دا ضميمه د دې راپور پاڼې د سيګار تر رامنځته کونکي قانون لاندې د درې مياشتنۍ راپور ورکوونې او اړوندو نورو مقرراتو، د 2008 مالي کال له پاره د ملي دفاع د منظورۍ د قانون، Pub. L. No. 110-181, § 1229 (جدول A.1)، او د عمومي مفتشينو له پاره د شپږمياشتنيو راپورونو له توضيح شويو مقرراتو او په عمومي توګه د عمومي مفتش د 1978 تر قانون لاندې، چې په (U.S.C. App. 3 5) (جدول A.2) بنه تعديل شوی دی، سره ګوري.

جدول A.1

| تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه | | | |
|---|---|---|---|
| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
| هدف | | | |
| برخه 1229(a)(3) | چې داسې خپلواکې او بې طرفه منابع برابرې شي چې د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير د داسې پروګرامونو او عملياتو د مديريت د اړوندو ستونزو او کمبو په هکله په پوره ډول او وخت په وخت سره خبر کړي او د سموونکيو يا اصلاحي اقداماتو اړتيا درک شي او اقدام پرې وشي. | جاري؛ درې مياشتنی راپور. | بشپړ راپور |
| نظارت | | | |
| برخه 1229(e)(1) | عمومي مفتش بايد نېغ په نېغه د بهرنيو چارو او دفاع وزير ته راپور ورکړي او د هغوی تر نظارت لاندې کار وکړي. | د بهرنيو چارو وزير او د فاع وزير ته راپور. | بشپړ راپور |
| وظايف | | | |
| برخه 1229(f)(1) | د افغانستان د بيارغوني څارنه –<br>دا بايد د عمومي مفتش وظيفه وي چې د افغانستان د بيارغوني له پاره د تخصيص شويو يا په بل ډول برابرو شويومبلغونو په وړاندې د چلند، انتقال او لګښت تفتيشونه او څېړنې ترسره کړي، وڅاري او سره همغږې کړي. همدارنګه دا هم بايد د نومړي وظيفه وي چې لاندې له (A) څخه تر (G) پورې فرعي برخو په شمول د داسې پيسو د لګولو له پاره ترسره شوي پروګرامونه، عمليات، او قراردادونه وڅېړي. | د تخصيص شويو/موجودو پيسو بياکتنه کوي.<br><br>د بياکتنې پروګرامونه، عمليات، قراردادونه چې تخصيص شوې/ موجودې پيسې استعمالوي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(1)(A) | د داسې پيسو يا فنډونو د تعهد او لګښت نظارت او محاسبه. | د تخصيص کړای شويو/موجودو فنډونو د تعهداتو او لګښتونو بياکتنه کوي. | د مالي تمويل په هکله د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(B) | د داسې فنډونو په واسطه د بيارغوني د تمويل شويو فعاليتونو څارنه او بياکتنه. | د تخصيص کړای شويو او مرسته شويو پيسو په واسطه د تمويل شويو فعاليتونو بياکتنه کوي. | د سيګار نظارت |
| برخه 1229(f)(1)(C) | د داسې فنډونو په واسطه د تمويل شويو قراردادونو څارنه او بياکتنه. | د تخصيص کړای شويو او موجودو فنډونو په کارولو سره د قراردادونو بياکتنه کوي. | يادښت 1 |
| برخه 1229(f)(1)(D) | د متحده ايالتونو د وزارتونو، ادارو، او موسساتو، او د خصوصي او غيرحکومتي موسساتو ترمنځ د داسې فنډونو د انتقال او اړوندو معلوماتو څارنه او بيا کتنه. | د تخصيص کړای شويو/موجودو فنډونو د داخلي او خارجي انتقالاتو بياکتنه کوي. | ضميمه B |
| برخه 1229(f)(1)(E) | د داسې فنډونو د کارولو په هکله د اسنادو ساتنه څو د داسې فنډونو د کارولو په هکله راتلونکو تفتيشونو او څېړنو ته لاره هواره کړي. | د تفتيش ريکارډونه ساتي. | د سيګار نظارت<br>ضميمه C<br>ضميمه D |

جدول A.1 (په تېرپسې)

| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| **تر 1229 § ,PUB. L. NO. 110-181 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه** | | | |
| برخه 1229(f)(1)(F) | د افغانستان د ترون او د افغانستان د ملي پرمختيايي ستراتيژۍ د تطبيق په برخه کې د افغانستان له حکومت او نورو مرستندويو هېوادونو سره د متحده ايالتونو د همغږۍ د مؤثريت څارنه او بياکتنه | څارنه او بياکتنه په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | تفتيشونه |
| برخه 1229(f)(1)(G) | د اضافي تادياتو لکه دوه ځلي تادياتو يا دوه ځلي د صورت حساب يا بل د صدور او د فدرالي کارمندانو، قراردادیانو، يا اړوندو موسساتو د نورو احتمالي غيراصولي يا غيرقانوني اقداماتو څېړنه، او په لازمه توګه د عدليې وزارت ته د داسې راپورونو وړاندې کول څو راتلونکې څېړنې، قانوني تعقيبونه، د نورو پيسو بېرته ترلاسه کول، يا نورې جبيري يقيني کړي. | د څېړنې ترسره کول او په هکله يې راپور ورکول په هغه بڼه چې شرحه شوې ده. | څېړنې |
| برخه 1229(f)(2) | د څارنې اړوند نور وظايف —<br>عمومي مفتش بايد تر (1) پاراګراف لاندې د ذکرشويو وظايفو د ترسره کولو له پاره دغه ډول سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه چې عمومي مفتش يې مناسب ګڼي جوړ کړي، ويې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | سيستمونه، کړنلارې، او کنټرولونه جوړ کړي، ويې ساتي او سرپرستي يې وکړي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(3) | د عمومي مفتش د 1978 تر مصوبې لاندې وظايف او مسؤليتونه —<br>سربېره پر دې، ... عمومي مفتش بايدهمدارنګه د عمومي مفتش د 1978 تر مصوبې لاندې د عمومي مفتشينو وظيفې او مسؤليتونه ولري. | وظايف په هغه ډول چې د عمومي مفتش په اړونده مصوبه کې مشخص شوي دي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(f)(4) | د هڅو همغږي —<br>عمومي مفتش بايد له لاندې کسانو سره همغږي ولري، او د هغوی له ډلې څخه د هر يوه همکاري ترلاسه کړي: (A) د دفاع وزارت عمومي مفتش، (B) د بهرنيو چارو د وزارت عمومي مفتش، او (C) او د متحده اياالتو د نړيوالې پرمختيايي ادارې عمومي مفتش | د DOD, DOS اوUSAID له عمومي منشيانو سره همغږي | د بلې ادارې څارنه |
| **فدرالي ملاتړ او نورې سرچينې** | | | |
| برخه 1229(h)(5)(A) | د فدرالي ادارو مرسته —<br>که عمومي مفتش د فدرالي حکومت له هر ډيپارټمنټ، ادارې، يا بلې موسسې څخه معلومات يا مرسته وغواړي، د اړوندې موسسې مشر بايد، تر هغه ځايه چې معمول وي او کوم موجود قانون نه نقض کوي، عمومي مفتش، يا د هغه يوه باصلاحيته استازي ته دغه ډول معلومات ورکړي يا مرسته ورسره وکړي. | له غوښتنې سره سم د ملاتړ تمه ولري. | بشپړ |
| برخه 1229(h)(5)(B) | د رد شوې مرستې په هکله راپور ورکول —<br>کله چې د عمومي مفتش له خوا غوښتل شوي معلومات يا مرسته، د عمومي مفتش د قضاوت له مخې، په نامناسب ډول رد کړای شي يا برابره نه کړای شي، عمومي مفتش بايد د دغسې حالاتو په هکله د بهرنيو چارو وزير يا د دفاع وزير ته، هغسې چې مناسبه وي، او د کانګرس اړوندو کميټو ته له ځنډ پرته راپور ورکړي. | هېڅ راپور نه دی ورکول شوی. | نه تطبيقيږي |
| **راپورونه** | | | |

جدول A.1 (په تېرپسې)

| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه | | | |
| برخه 1229(i)(1) | درې مياشتني راپورونه – عمومي مفتش بايد د مالي کال د هرې ربعې له پای ته رسېدلو څخه وروسته په 30 ورځو کې دننه، د کانګرس اړوندو کمېټو ته يو راپور وړاندې کړي چې د هغې ربعې او، تر ممکن حده پورې، د دغسې ربعې له پای څخه د راپور د تسليمولو تر وخته پورې، د دغسې دورې په جريان کې د عمومي مفتش د فعاليتونو او د افغانستان د بيارغونې له پاره د تخصيص شويو او يا په بل ډول برابرو کړای شويو پيسو په واسطه د تمويل شويو پروګرامونو اوعملياتو لاندې د فعاليتونوخلاصه برابروي. هر راپوربايد، د هغې دورې په هکله چې دغه راپور يې تر پوښښ لاندې نيسي، په افغانستان کې د بيارغونې او بياجوړونې فعاليتونو پورې د ترليو تولو وجايبو، لګښتونو، او لاسته راوړنو يو مفصل بيان ولري. | راپور – د هرې تقويمي ربعې له پای څخه 30 ورځې وروسته.<br><br>د عمومي مفتش فعاليتونه په خلاصه توګه وړاندې کړي.<br><br>د ټولو وجايبو، لګښتونو او لاسته راوړنو په هکله مفصل بيان. | بشپړ راپور<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(A) | وجايب او د تخصيص شويو/مرسته شويو فنډونو لګښتونه. | وجايب او د تخصيص شويو/مرسته شويو فنډونو لګښتونه. | ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(B) | د دفاع وزارت، د بهرنيو چارو د وزارت، او د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايي اداري له تخمين سره يوځای، هغسې چې د هرې پروژې او هر پروګرام د بشپړولو له پاره د اجرا وړ وي، د افغانستان د بيارغونې له پاره تر دې نېټې پورې د شويو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه. | د شويو لګښتونو پروژه په پروژه او پروګرام په پروګرام محاسبه. د هرې پروژې يا پروګرام له پاره غيرمتوقع فنډونه ذکر کوي. | تمويل<br>يادښت 1 |
| برخه 1229(i)(1)(C) | هغه عوايد او پيسې چې په داسې بسپنو باندې مشتملې وي چې د بهرنيو هيوادونو يا نړيوالو موسسو له خوا هغو پرورګرامونو او پروژو ته ورکول کيږي چې د متحده ايالاتو د کوم وزارت يا اداري له خوا تمويليږي، او د دغه ډول پيسو او عوايدو اړوند وجايب او لګښتونه. | د ډونرانو د فنډونو عوايد، وجايب او لګښتونه. | تمويل |
| برخه 1229(i)(1)(D) | بهرنيو اسعارو ته نسبت شوې يا پرې مشتمل عوايد چې نيول شوي يا کنګل شوي وي او د متحده ايالاتو د حکومت د کوم وزارت يا اداري له خوا تمويل شويو پروګرامونو او پروژو سره مرسته کوي، او د داسې عوايدو کوم وجايب يا لګښتونه. | له نيول شويو يا کنګل شويو اسعارو څخه د فنډونو عوايد، وجايب او لګښتونه. | تمويل |
| برخه 1229(i)(1)(E) | د هغو ادارو يا موسساتو عملياتي لګښتونه چې د افغانستان د بيارغونې له پاره تخصيص شوي يا په بل ډول برابر کړای شوي مبلغونه ترلاسه کوي. | د ادارو يا هرې موسسې عملياتي لګښتونه چې تخصيص کړای شوي فنډونه ترلاسه کوي. | تمويل<br>ضميمه B |
| برخه 1229(i)(1)(F) | په *(2) پاراګراف کې د تشريح شوي هر قرارداد، بسپنې، توافق، يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم په صورت کې –<br>(i) د قرارداد يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم مبلغ؛<br>(ii) د قرارداد يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم د کاري ساحې يوه لنډه مباحثه؛<br>(iii) په دې هکله يوه مباحثه چې د متحده ايالاتو د حکومت کوم وزارت يا اداري چې په قرارداد، بسپنه، توافق، يا د فنډ ورکولو په بل ميکانيزم کې دخيل ول، څنګه د قرارداد، بلاعوضه مرستې، توافق، يا د فنډ ورکولو د بل ميکانيزم د ترسره کولو له پاره د احتمالي قراردادیانو وړانديزونه په ګوته کړي او وړاندې کړي دي، د احتمالي افرادو يا موسساتو چې د وړانديزونو له پاره يې تقاضاوې صادرې شوې وي، له يوه لست سره يوځای؛ او<br>(iv) د توجيه او تاييد هغه اسناد چې د هغو په اساس د هغو کرنلارو چې د بشپړې او پرانستې سيالۍ له پاره لاره هواروي علاوه نورې کرنلارې وکاروي. | د قرارداد جزيات شرحه کوي. | يادښت 1 |

جدول A.1 (په تېرپسې)

**تر PUB. L. NO. 110-181, § 1229 لاندې د سيګار د درې مياشتنيو راپورونو د راپور ورکولو د شرايطو بياکتنه**

| د عامه قانون برخه | سيګار ته د ورتيا ورکولو ژبه | د سيګار اقدام | د راپور برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 1229(i)(3) | عامه موجوديت – <br>عمومي مفتش بايد د دې فرعي برخې تر(1) پاراګراف لاندې د عامو خلکو له خوا په کتل کېدونکي انټرنټ سايټ باندې هر راپور په انګليسي او نورو ژبو چې عمومي مفتش باور لري چې په افغانستان کې په پراخه کچه کارول کيږي او خلک پرې پوهيږي خپور کړي. | له لاربنووني سره سم راپور په www.sigar.mil ويب سايټ خپروي. پښتو او درى ترجمه په جريان کې ده. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(i)(4) | شکل – <br>تر دې فرعي برخې لاندې هرراپور بايد په غيرمحرم شکل وسپارل شي، خو که عمومي مفتش يې لازمه وګڼي کېداى شي چې يوه محرمه ضميمه هم په کې شامله وي. | له لاربنووني سره سم راپورخپروي. | بشپړ راپور |
| برخه 1229(j)(1) | عمومي مفتش بايد همدارنګه تر(i) فرعي برخې لاندې هر راپور له اړتيا سره سم د بهرنيو چارو وزير او د دفاع وزير ته تسليم کړي. | درې مياشتنى راپور سپاري | بشپړ راپور |

1 يادښت: که څه هم چې دا ارقام معمولا د سيګار په ويب سايټ (www.sigar.mil) موجود وي، هغه ارقام چې سيګار يې ترلاسه کوي په نسبتا خام حالت کې وي او دا مهال پرې بياکتنه کيږي، تحليل کيږي، او په راتلونکي کې د سيګار له خوا د کارولو له پاره ترتيب کيږى.

* تر پوښښ لاندې نيول شوي "قراردادونه، بلاعوضه مرستي، توافقات، او د فنډ برابرولو ميکانيزمونه" د Pub. L. 110-181 د 1229(i) برخې تر (2) پاراګراف لاندى تعريف شوي دي –

"هر لوى قرارداد، بلاعوضه مرسته، توافق، يا د فنډ برابرولو بل ميکانيزم چې د متحده ايالاتو د کوم وزارت يا ادارې له خوا عقد شوى وي چې د داسې مبلغونو کارول په بر کې نيسي چې په هر عمومي يا خصوصي سکټور کې د افغانستان د بيارغوني له پاره د لاندې هدفونو له جملې څخه د هر يوه له پاره تخصيص کړاى شوى يا په بل ډول برابر کړاى شوى وي:

چې د افغانستان فزيکي زېربنا جوړه يا بيا جوړه کړي.

چې د افغانستان يوه سياسي يا اجتماعي موسسه تاسيس يا بيا تاسيس کړي.

چې د افغانستان د خلکو له پاره توليدات يا خدمتونه برابر کړي."

جدول A.2

| د IG د مصوبې برخه | د IG د مصوبې ژبه | د سیګار اقدام | برخه |
| --- | --- | --- | --- |
| **د 1978 د عمومي مفتش (IG) د مصوبې تر 5 برخې لاندې چې په (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT") بڼه تعدیل شوی په شپږمیاشتنۍ سطحه د راپور ورکولو له شرایطو سره بیاکتنه** | | | |
| برخه 5(a)(1) | د پام وړ ستونزو، بدو استفادو او نیمګړتیاوو تشریح | د SWA/JPG د غړو له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br>د سیګار د تفتیش له راپورونو، څېړنو، او تفتیشونو څخه ستونزې، بدې استفادې، او نیمګړتیاوې را وباسي او لست کوي. | د بلې اداري څانګې<br><br>وګورئ استعلامونه په www.sigar.mil کې |
| برخه 5(a)(2) | د پام وړ ستونزو، بدو استفاد، یا نیمګړتیاوو په برخه کې د تصحیح کوونکي اقدام... له پاره د سپارښتنو تشریح | د SWA/JPG د 1 غړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي<br><br>د سیګار د تفتیش له راپورونو څخه د سپارښتنو لست برابروي. | د بلې اداري څانګې<br><br>وګورئ استعلامونه په www.sigar.mil کې |
| برخه 5(a)(3) | د هرې هغې پام وړسپارښتنې په ګوته کول چې په پخوانیو شپږمیاشتنیو راپورونو کې تشریح شوې او د هغو په هکله سموونکې یا تصحیحي اقدامات نه دي بشپړ شوي | له پخوانیو شپږ میاشتنیو راپورونو څخه د نه تکمیل شوي تصحیحي اقدام ټول موارد په یوه لست کې نیسي. | په جریان کې |
| برخه 5(a)(4) | د هغو موضوعاتو یوه خلاصه چې د قانوني تعقیب ادارو ته راجع شوي وي او هغه قانوني تعقیبونه او فیصلې چې د هغو په نتیجه کې شوې وي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار اړوندې څېړنې په یوه لست کې برابروي. | د بلې اداري څانګې |
| برخه 5(a)(5) | د هر راپور یوه خلاصه چې تر 6(b)(2) برخې لاندې [د دفاع وزیر] ته وړاندې کېږي (ښیي چې غوښتل شوي معلومات چېرته رد شوي یا نه دي برابر کړای شوي) | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>داسې موارد په ګوته کوي چې په هغو کې د سیګار آډیټورانو، څېړونکیو، یا مفتشینو ته د معلوماتو له ورکولو څخه ډډه شوې وي. | د بلې اداري څانګې |
| برخه 5(a)(6) | یو لست، چې د هر اډیټ د راپور، د تفتیش د راپور او د ارزونې د راپور د موضوع په اساس، په فرعي توګه تقسیم شوی وي.... د تریوښتنې لاندې لګښتونو ډالرې قیمتونه او په دې هکله سپارښتنې په ګوته کوي چې فنډونه باید په بهتره طریقه وکارول شي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار د راپورونو لست برابروي. | د بلې اداري څانګې |
| برخه 5(a)(7) | د هر په ځانګړې توګه مهم راپور یوه خلاصه | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار د مهمو راپورونو یوه خلاصه وړاندې کوي. | د بلې اداري څانګې<br>د مهمو راپورونو یو بشپړ لست کیدای شي په www.sigar.mil کې وموندل شي. |
| برخه 5(a)(8) | د شمېرنو جدولونه چې د آډیټ د راپورونو ټول شمېر او د تر پوښتنې لاندې قیمتونو ارزښت په ډالرو ښیي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د شمېرنو جدولونه جوړوي چې د سیګار له راپورونو څخه د اړوند قیمت ارزښت په ډالرو ښیي. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>په جریان کې |
| برخه 5(a)(9) | د شمېرنو جدولونه چې د آډیټ د راپورونو، د تفتیش د راپورونو، او د ارزونې د راپورونو ټول شمېر او د دې سپارښتنو ارزښت په ډالرو ښیي چې فنډونه باید د اداري له خوا د لا ښه استعمال له پاره په پام کې ونیول شي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار له راپورونو څخه د شمېرنو داسې جدولونه جوړوي چې د فنډونو اړوند ډالرې ارزښتونه ښیي او د مدیریت له خوا په بهتر ډول د کارونې له پاره برابریږي. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>په جریان کې |

جدول A.2 (په تېر پسې)

**د 1978 د عمومي مفتش (IG) د مصوبې تر 5 برخې لاندې چې په (5 U.S.C. APP. 3) ("IG ACT") بڼه تعدیل شوی په شپږمیاشتنی سطحه د راپور ورکولو له شرایطو سره بیاکتنه**

| د IG د مصوبې برخه | د IG د مصوبې ژبه | د سیګار اقدام | برخه |
|---|---|---|---|
| برخه 5(a)(10) | د هر آډیټ د راپور، تفتیش د راپور، او د ارزونې د راپور یوه خلاصه چې د راپور ورکولو د هغې دورې له پیل څخه مخکې صادره شوې وي چې د هغې له پاره د راپور ورکولو د دورې تر پایه پورې مدیریت هېڅ تصمیم نه وي نیولی، د هغو دلایلو یوه توضیح چې ولې د مدیریت دغسې یوه پرېکړه نه ده شوې، او د مدیریت د یوې پرېکړې له پاره د غوښتل شوي مهالوېش په هکله یوه څرګندونه | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار د آډیټ د راپورونو یوه خلاصه وړاندې کوي چې په هغې کې د سیګار سپارښتنې لا په پرانستې بڼه موجودې وي. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>هېڅ نه |
| برخه 5(a)(11) | د مدیریت له خوا د کوم بیاکتل شوي تصمیم په هکله د دلایلو شرحه او وضاحت | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار د آډیټ هغه راپورونه توضیح کوي چې په هغو کې د مدیریت له خوا د تصمیمونو د بیاکتنې په برخه کې د پام وړبیاکتنې شوې وي. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>هېڅ نه |
| برخه 5(a)(12) | د داسې کوم مهم اداري تصمیم په هکله معلومات چې عمومي مفتش ورسره موافق نه وي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د سیګار د آډیټ هغه راپورونه تشریح کوي چې په هغو کې سیګار د ادارې له تصمیم سره موافقه نه وي کړې. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>د راپور ورکولو په دوران کې جنجالي پرېکړې نه کیږي. |
| برخه 5(a)(13) | د فدرال د مالي مدیریت د انکشاف د 1996 د قانون تر [804(b) برخې] لاندې تعریف شوي معلومات (هغه موارد او دلایل چې کله یوې ادارې په هغو نېټو کار نه وي سرته رسولی چې د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو په پلان کې ټاکل شوي وي | د SWA/JPG دغړي له راپورونو څخه اړوند معلومات راټولوي.<br><br>د هغو ځایونو په هکله معلومات ورکوي چېرې چې مدیریت د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو د پلان هدفونه نه وي ترلاسه کړي. | د SWA/JPG د غړو راپورونه ګوري<br><br>د راپور ورکولو په دوران کې جنجالي پرېکړې نه کیږي. |
| برخه 5(a)(14)(A) | یوه ضمیمه چې د نورو کتونکیو د داسې بیاکتنې نتایج ښیي چې د راپور ورکولو په دوره کې د عمومي مفتش د بلې ادارې له خوا ترسره شوي وي؛ یا | سیګار د سیګار د سطحې د نورو کتونکیو له خوا د ترټولو وروستیو بیاکتنو بشپړنتایج او راپورونه (چې د 2010 په جولای کې، د راپور ورکولو له موجودې دورې څخه مخکې)، په خپل ویب سایټ خپاره کړي دي. | په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپورشوی دی. |
| برخه 5(a)(14)(B) | که د راپور ورکولو په هغې دورې کې د نورو کتونکیو بیاکتنه نه وي ترسره شوې، داسې یوه څرګندونه، چې د کتونکیو د هغې وروستۍ بیاکتنې چې د عمومي مفتش د بلې ادارې له خوا ترسره شوي وي، نېټه په ګوته کوي | د 2010 د جولای 15 | په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپورشوی دی. |
| برخه 5(a)(15) | د نورو کتونکیو له هرې بیاکتنې څخه چې د عمومي مفتش د بلې ادارې له خوا ترسره شوي وي د پاتې سپارښتنو یو لست چې هغه په بشپړ ډول نه وي تطبیق شوي، په شمول د داسې یوې څرګندونې چې د تطبیق حالت شرحه کوي او دا چې ولې تطیق بشپړ نه دی | هېڅ یو نه – د کتونکیو د بیاکتنې ټولې سپارښتنې په مؤثره توګه ځواب شوې، او د ستونزو د له منځه وړلو اقدامات د 2010 د سپتمبر پر 30 مه تطبیق شوي دي. | سپارښتنې او اړوند مواد په www.sigar.mil کې په بشپړ ډول خپاره شوي دي. |
| برخه 5(a)(16) | د کتونکیو هرې بیاکتنې چې د عمومي مفتش د بلې ادارې د سیګار له خوا د راپور ورکولو په دوره کې ترسره شوې وي، په شمول د هرو هغو سپارښتنو چې د نورو کتونکیو د کومې پخوانۍ بیاکتنې څخه پاتې وي... چې نیمګړې پاتې وي یا په بشپړ ډول تطبیق شوې نه وي | د اجرا وړ نه دی (سیګار د راپور ورکولو په دوره کې بیاکتنه نه ده ترسره کړې، یا یې د عمومي مفتش د بلې ادارې د نورو کتونکیو په بیاکتنه کې برخه نه ده اخیستې) | د سیګارڅارنه |

# ضميمه B

## د افغانستان د بيارغونې له پاره د متحده ايالاتو مرستې (میلیونه ډالر)

جدول B.1 هغه مالي مرستې ښيي چې د 2015 له مارچ راهيسې د پروګرام له خوا د افغانستان د هغه مرسته ښيي چې له 2002 کال راهيسې د B.2. بيارغونې له پاره په کلنۍ کچه تخصيص شوې دي مخدره موادو ضد نوښتونو له پاره تخصيص شوې دي

جدول B.1

| د متحده ایالاتو د پیسو ورکولو سرچینې | اداره | تول | FY 2002–03 |
|---|---|---|---|
| **امنیت** | | | |
| د افغانستان د امنيتي ځواکونو مرستندوی صندوق (ASFF) | DOD | 60,670.40 | 0.00 |
| روزنه او سمبالونه (DOD) | DOD | 440.00 | 0.00 |
| بهرنی نظامي مالي لګښت (FMF) | دولت | 1,059.14 | 248.26 |
| نړیواله نظامي ښوونه او روزنه (IMET) | دولت | 16.22 | 0.56 |
| د مخدره موادو کنټرول او د مخدره موادو پرضد د مبارزې فعالیتونه (DOD CN) | DOD | 2,982.18 | 0.00 |
| **تول - امنیت** | | **65,167.94** | **248.82** |
| **حکومتولي او انکشاف** | | | 0.00 |
| د قوماندان د چټک غبرګون پروګرام (CERP) | DOD | 3,679.00 | 0.00 |
| د افغانستان د بېخبنا مرستندويه اداره (AIF) | DOD | 1,043.50 | 0.00 |
| د سوداګرۍ او ثبات د عملياتو له پاره وظيفوي ځواک (TFBSO) | DOD | 822.85 | 0.00 |
| د اقتصادي ملاتړ مرستندويه اداره (ESF) | USAID | 18,612.11 | 341.51 |
| انکشافي مرسته (DA) | USAID | 885.55 | 60.84 |
| د افغانستان د ازادۍ ملاتړي اداره (AFSA) | DOD | 550.00 | 300.00 |
| د ماشوم پاینت او روغتیا (CSH + GHAI) | USAID | 554.55 | 57.20 |
| د اجناسو د ثبات او ملاتړ شرکت (CCC) | USAID | 31.65 | 8.80 |
| USAID (بل) | USAID | 52.07 | 0.50 |
| د نه خپرولو، ترهګرۍ ضد، ماين پاکۍ او اړوند نور **(NADR)** | دولت | 692.99 | 78.70 |
| د ولايتي بيارغوني د ټيم سلاکاران | USDA | 5.70 | 0.00 |
| د خزانې تخنيکي مرسته | خزانه | 4.45 | 1.90 |
| د مخدره موادو د کنټرول او د قانون د عملي کولو نړيواله اداره (INCLE) | دولت | 4,690.86 | 60.00 |
| د مخدره موادو پر ضد د مبارزې اداره (DEA) | DOJ | 226.05 | 3.45 |
| **تول – حکومتولي او انکشاف** | | **31,851.34** | **912.91** |
| **بشردوستانه** | | | 0.00 |
| P.L. 480 عنوان I | USDA | 5.00 | 5.00 |
| P.L. 480 عنوان II | USAID | 891.28 | 159.50 |
| د مصيبت پر وخت مرستندويه اداره (IDA) | USAID | 549.64 | 282.62 |
| د انتقال نوښتونه (TI) | USAID | 37.39 | 19.76 |
| د کډوالۍ او کډوالو مرستندويه اداره (MRA) | دولت | 1037.66 | 196.97 |
| پخپله خوښه د سوله ساتنې اداره (PKO) | دولت | 69.33 | 33.83 |
| د کډوالو او کډوالۍ له پاره چټکه مرسته (ERMA) | دولت | 25.20 | 25.00 |
| خواړه د پرمختګ له پاره | USDA | 109.49 | 4.96 |
| 416 (b) د خوړو مرسته | USDA | 95.18 | 60.60 |
| خواړه د ښوونې او روزنې په مقابل کې | USDA | 50.49 | 9.27 |
| ایمرسن ترسټ | USDA | 22.40 | 0.00 |
| **تول - بشردوستانه** | | **2,893.06** | **797.50** |
| **د نړیوالو چارو عملیات** | | | 0.00 |
| څارنه | | 362.55 | 0.00 |
| نور | | 9,500.81 | 190.90 |
| **تول – د نړیوالو چارو عملیات** | | **9,863.36** | **190.90** |
| **تولې پيسې** | | **109,775.70** | **2,150.14** |

جدول B.2

| د مخدره موادو ضد، وخت په وخت ډېرېدونکی مبلغ چې له 2002 راهیسې تخصیص شوی دی (میلیونه ډالر) | |
|---|---|
| ASFF | $1,574.29 |
| DOD CN | 2,982.18 |
| ESF | 1,493.04 |
| INCLE | 2,092.35 |
| DEA | 226.05 |
| **تول** | **$8,367.92** |

B.2 جدول يادښت: شمېرې په ورته نژدې عدد سره ښودل کيږي. د مخدره موادو پرضد د مبارزې فنډونه د امنيت او حکومتولۍ او پرمختګ د لګښتونو له دواړو کټګوريو څخه اخيستنه کوي؛ دغه فنډونه همدارنګه په B.1 جدول کې د لګښت په کټګوريو کې هم نيول شوي دي. دغه عددونه هغه وخت په وخت زياتېدونکي مبلغونه چې په افغانستان کې له 2002 کال راهيسې د مخدره موادو پرضد د مبارزې د اقداماتو له پاره تخصيص شوي دي، ښيي. په دغو اقداماتو کې له منځه وړل، مخنيوی، د افغانستان د ځانګړي ماموريت د ځانګې ملاتړ، د مخدره موادو پر ضد د مبارزې له پاره ظرفيت جوړونه، او د کرنيز انکشاف متبادلې هڅې شامل دي. د INCLE او ESF، ASFF ارقام هغه وخت په وخت زياتېدونکي مبلغونه ښيي چې له يادو شويو فنډونو څخه د مخدره موادو پر ضد د مبارزې د هڅو له پاره تخصيص شوي دي

B.2 جدول منبع: د مخدره موادو پر ضد د مبارزې له پاره د فنډونو په هکله د سيګار د، DOD د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/15/2015؛ INL تحليلونه. دولت USAID سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/10/2015 او 10/15/2014؛ د سيګار د ارقامو ادعاوو، DOJ د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب؛ 4/9/2015؛ ته ځواب، 4/9/2015

B.1 جدول يادونه: شمېرې په ورته نژدې عدد سره ښودل کيږي. د دولت او USAID د اکثرو حسابونو له پاره د FY 2015 د تخصيص مبلغونه د افغانستان له پاره د تخصيصاتو مسودې ښيي او د کانګريس په وروستي تصويب پورې مشروطې دي. DOD له FY 2011 ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا په پلان کې ونيول. DOD له FY 2012 ASFF څخه 1 ميليارد ډالر بيا په پلان کې ونيول. Pub. L. 113-6 له FY 2012 ASFF څخه 1 ميليارد ډالر فسخه کړل. DOD بيا له FY 2013 ASFF څخه 178 ميليون ډالر په پلان کې ونيول. Pub. L. 113-235 له FY 2014 ASFF څخه 764.38 ميليون ډالره فسخه کړل. DOD له FY 2011 AIF څخه 101 ميليون ډالر او له FY 2013 AIF څخه 179.5 ميليون ډالر ESF ته انتقال کړل څو هغه بېخبنايي يا زېربنايي پروژې تمويل کړي چې د USAID له خوا تطبيقيږي.

B.1 جدول منبع: DOD، د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/21/2015، 4/17/2015، 4/10/2015، 10/22/2012، 10/14/2009، او 10/1/2009؛ دولت، د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/15/2015، 3/30/2015، 1/16/2015، 4/15/2014، 6/27/2013، 10/5/2012 او 6/27/2012؛ خزانه، د سيګار د ارقامو ادعا ته ځواب، 4/6/2015؛ OMB، د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/16/2015، 7/14/2014، 7/19/2013 او 1/4/2013؛ USAID، د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/9/2015، 10/15/2010، 1/15/2010 او 10/9/2009؛ DOJ، د سيګار د ارقامو ادعاوو ته ځواب، 4/9/2015 او 7/7/2009؛ USDA، د سيګار د ارقامو ادعا ته ځواب، 4/2009؛ DFAS، « د 2015 په مارچ کې د FY د پروګرام او فرعي حسابونو له خوا د AR(M) 1002 د تخصيص حالت» 4/17/2015؛ Pub. L. Nos. 113-235, 113-76, 113-6, 112-74 ،112-10 ،111-212 ،111-118.

| FY 2015 | FY 2014 | FY 2013 | FY 2012 | FY 2011 | FY 2010 | FY 2009 | FY 2008 | FY 2007 | FY 2006 | FY 2005 | FY 2004 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | |
| 4,109.33 | 3,962.34 | 4,946.20 | 9,200.00 | 10,619.28 | 9,166.77 | 5,606.94 | 2,750.00 | 7,406.40 | 1,908.13 | 995.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 290.00 | 150.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 396.80 | 414.08 |
| 1.40 | 1.50 | 1.42 | 1.18 | 1.56 | 1.76 | 1.40 | 1.66 | 1.19 | 0.98 | 0.95 | 0.67 |
| 147.60 | 215.46 | 255.81 | 472.99 | 379.83 | 392.27 | 230.06 | 192.81 | 290.97 | 108.05 | 224.54 | 71.80 |
| **4,258.33** | **4,179.30** | **5,203.44** | **9,674.16** | **11,000.67** | **9,560.80** | **5,838.40** | **2,944.47** | **7,698.57** | **2,017.17** | **1,907.28** | **636.55** |
| | | | | | | | | | | | |
| 10.00 | 30.00 | 200.00 | 400.00 | 400.00 | 1,000.00 | 550.67 | 488.33 | 209.00 | 215.00 | 136.00 | 40.00 |
| 0.00 | 199.00 | 145.50 | 400.00 | 299.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 3.72 | 122.24 | 138.20 | 245.76 | 239.24 | 59.26 | 14.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 900.00 | 852.00 | 1,802.65 | 1,836.76 | 2,168.51 | 3,346.00 | 2,077.49 | 1,399.51 | 1,224.75 | 473.39 | 1,283.00 | 906.55 |
| 0.00 | 0.00 | 0.35 | 0.00 | 0.00 | 0.30 | 0.40 | 149.43 | 166.81 | 185.08 | 169.21 | 153.14 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 100.00 | 150.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.25 | 0.00 | 69.91 | 92.30 | 58.23 | 63.04 | 100.77 | 41.45 | 38.00 | 33.40 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.55 | 3.09 | 4.22 | 4.22 | 10.77 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.82 | 0.80 | 1.84 | 7.18 | 6.26 | 4.90 | 2.81 | 21.96 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.00 |
| 43.50 | 43.20 | 52.60 | 65.32 | 69.30 | 70.74 | 59.92 | 29.72 | 36.72 | 35.72 | 40.65 | 66.90 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.47 | 0.75 | 0.13 | 0.19 | 0.95 | 0.06 |
| 250.00 | 225.00 | 593.81 | 357.92 | 400.00 | 589.00 | 493.90 | 307.56 | 251.74 | 232.65 | 709.28 | 220.00 |
| 6.38 | 18.70 | 17.00 | 18.70 | 18.70 | 19.20 | 18.80 | 40.59 | 20.38 | 23.66 | 16.77 | 3.72 |
| **1,214.42** | **1,490.94** | **2,952.19** | **3,332.19** | **3,674.00** | **5,185.92** | **3,287.06** | **2,511.66** | **2,010.30** | **1,207.14** | **2,493.85** | **1,578.76** |
| | | | | | | | | | | | |
| 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 0.00 | 66.00 | 46.20 | 0.00 | 112.55 | 58.13 | 177.00 | 60.00 | 60.00 | 56.60 | 49.20 | 46.10 |
| 5.40 | 28.22 | 21.51 | 56.11 | 66.39 | 29.71 | 27.13 | 16.87 | 0.03 | 0.04 | 4.23 | 11.39 |
| 0.31 | 0.88 | 0.32 | 0.63 | 1.08 | 0.85 | 0.75 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.60 | 11.22 |
| 85.00 | 107.44 | 76.07 | 99.56 | 64.65 | 80.93 | 76.79 | 44.25 | 53.80 | 41.80 | 47.10 | 63.30 |
